لذا شریکی که سرمایه متعهدهٔ خود را به شرکت در موعد معینه نه پردازد، مسئول جبران ضرر و جبران خساره ایست که ازین رهگذر به شرکت عاید می گردد.

**مادهٔ ۱۲۲:**

سرمایهٔ که در ادای آن تأخیر واقع شده اگر از قبیل سرمایهٔ نقدی باشد بر علاوهٔ جبران خسارهٔ عایدهٔ که در مادهٔ (۱۲۱) ذکر شده، از روز لازم التادیهٔ

ورځې څخه تاجر په قانوني ټکټ پولې ورکولو باندې هم مجبور دی.

**۱۲۳ ماده:**

که کوم شریک د هغې پانګې په عوض چه شرکت ته یې په غاړه اخیستي ده داسې پورونه چه په خلکو یې لري، شرکت ته ورحواله کړي، تر څو چه دپورونو تحصیل شرکت لخوا ونشي، هغه بري الذمه نه کیږي، که دا پورونه په وعده وي، په داسې حال کښې چه د هغو په خلاف مقاوله موجوده نه وي نو وروسته د وعدې له پوره کیدو او که سمدستي وي د شرکت د تأسیس له نېټې څخه تر یوې میاشتې پورې باید تحصیل شي او که په یوه میاشت کښې نه تحصیلیږي، هر څومره ورځې چه زیاتي ورڅخه تیریږي، د ټکټ پولې په ورکړه مجبور دی.

او که یوه برخه پورونه تحصیل شوی وي، د پاتي برخې په خصوص کښې همدغه حکم د اعتبار وړ دی.

**۱۲۴ ماده:**

د هغو شیانو قیمت چه دپانګې په

بودن آن تاجر به تأدیهٔ تکت پولی قانونی مجبور است.

**مادهٔ ۱۲۳:**

اگر شریکی عوض سرمایهٔ که به شرکت تعهد کرده است طلباتی را که بالای اشخاص دارد به شرکت حواله نماید، تا تحصیل طلبات از طرف شرکت بری الذمه شده نمی‌تواند. اگر طلبات مذکور مؤجل باشد، در حالیکه بر خلاف آن مقاولهٔ موجود نباشد پس از بسر رسیدن موعد و اگر معجل باشد، از تاریخ تأسیس شرکت الی مدت یکماه باید تحصیل شود. اگر در ظرف یکماه تحصیل نمی‌گردد، هرقدر روزیکه اضافه از آن بگذرد، مجبور به تادیهٔ تکت پولی است.

اگر یک قسمت طلبات تحصیل شده باشد، راجع به قسمت متباقی همین حکم مدار اعتبار است.

**مادهٔ ۱۲۴:**

قیمت اشیائیکه به صورت سرمایه

صورت راوړل کیږي، باید په مقاوله کښې وټاکلي شي. او که ټاکلي شوی نه وي نو هغه قیمت به چه د شیانو د ورکړې په ورځ په بازار یا (بورس) کښې جاري وي، د اعتبار وړ وی. او که شیان په بورس یا بازار کښې جاري قیمت ونلري نو هغه قیمت چه د پوهو کسانو له خوا ټاکل کیږي، د دواړو خواوو په نزد د اعتبار وړ ګڼل کیږي.

**۱۲۵ ماده:**

د هغو ما لونو ملکیت چه د پانګې په صورت راوړل کیږي که د هغو په خلاف په مقاوله کښې کوم حکم موجود نه وي، په شرکت پورې اړه لري.

**۱۲۶ ماده:**

د ټکټ پولۍ د ضرر او زیان د جبران په خصوص کښې چه په (۱۲۱-۱۲۲-۱۲۳) مادو کښې بیان شویدی مقابل جانب ته وړاندی خبر ورکول ضرور نه دی. دا مدعیات د شریکانو د فسخ د هغه حق چه په (۱۷۵) ماده کښې مقرر شویدی، نشي مانع کیدلي.

آورده می‌شود، در مقاوله باید تعیین شود. اگر تعیین نشده باشد، قیمتی‌که در روز دادن اشیاء در بازار یا بورس جاریست، معتبر خواهد بود و در صورتی‌که اشیاء در بورس و بازار قیمت جاریه نداشته باشد، قیمتی‌که از طرف اهل خبره تعیین می‌گردد، نزد جانبین معتبر شمرده می‌شود.

**مادهٔ ۱۲۵:**

ملکیت اموالیکه به صورت سرمایه آورده می‌شود اگر خلاف آن در مقاولهٔ حکمی موجود نباشد، عاید به شرکت است.

**مادهٔ ۱۲۶:**

راجع به ادعای جبران ضرر و خسارهٔ تکت پولی که در مواد (۱۲۱- ۱۲۲-۱۲۳) بیان شده اطلاع قبلی بجانب مقابل ضروری نیست. این مدعیات مانع حق فسخ شرکاء که در مادهٔ (۱۷۵) مقرر شده نمی باشد.

**۱۲۷ ماده:**
هر شریک مؤظف دی چه د شرکت د چارو د اجراء کولو په ترڅ کښې داسې په ښه نیت او اخلاص او بیداري سره رفتار وکړی لکه چه د خپلو شخصي چارو په اجراء کښې يې کوي.

**۱۲۸ ماده:**
هيڅ يو شريک د خپل کار په نسبت له شرکت څخه د اجرت غوښتلو حق نلري. مګر که په مقاوله کښې د اجرت اخيستل مقرر شوی وي نو مانع به ونه لری چه اجرت و اخلي.

**۱۲۹ ماده:**
هر شریک د هغه زيان مسئول او ضامن دی چه په حيله، چل، له اختياراتو څخه د تجاوز او يا په وظيفه کښې د بي پروائي له ليارو څخه يي شرکت ته پيښ کړی وي او نشي کولای چه دا زيان په هغو ګټو کښې چه دی شريک په نورو چارو کښې شرکت ته اړولی وي مجرا کړی.

**۱۳۰ ماده:**
هغه اجرت چه د شرکت ماموريـنو او مستخدمينو ته د

**مادهٔ ۱۲۷:**
هر شریک مؤظف است که در اثنای رسیدگی به امور شرکت مثل امور شخصی خود با نهایت حسن نیت و دقت و بصیرت رفتار نماید.

**مادهٔ ۱۲۸:**
هیچ یکی از شرکاء به نسبت کار خود از شرکت حق طلب اجرت را ندارد. ولی اگر در مقاوله اخذ اجرت مقرر شده باشد مانعی نخواهد داشت که اجرت بگیرد.

**مادهٔ ۱۲۹:**
هر شریک مسئول و ضامن ضرریست که به حیله، خدعه و تجاوز از صلاحیت و یا اهمال وظیفهٔ خویش به شرکت وارد نموده باشد و این ضرر را نمی‌توان با منافعیکه شریک مذکور در امور دیگر به شرکت تأمین نموده باشد مجرا نمود.

**مادهٔ ۱۳۰:**
اجرتیکه به مامورین و مستخدمین شرکت در مقابل

دوی د خدمت په مقابل کښې ورکاوه کیږي که ددغه اجرت یوه برخه یا ټول په ګټه کښې د اشتراک په صورت مقرر شوی وي نودا وضعیت دوي ته د شریک صفت نه ورکوی.

**۱۳۱ ماده:**

که د شرکت په مقاوله کښې د ګټې او زیان صورت نه وي ځرګنده شوی نو د هر شریک ګټه او زیان د پانګې د برخې په تناسب سره ویشل کیږي.

**۱۳۲ ماده:**

که په مقاوله کښې یوائې د ګټې دویشلو صورت ټاکلي شوی وي او د زیان د ویشلو په ډول کوم بحث نه وي شوی نو زیان هم لکه ګټه غوندی ویشل کیږي.

او که د ضرر په ویشلو باندی څیړنه شوی وي او د ګټې ویشلو صورت تر څیړنې لاندی نه وي راغلي، په دی صورت ګټه هم لکه زیان غوندی ویشله کیږي.

**۱۳۳ ماده:**

که د شرکت په مقاوله کښې د شرکت ګټه په یوه یا څو شریکانو

خدمت ایشان پرداخته می‌شود اگر تادیهٔ آن قسماً و یا تماماً بصورت اشتراک در نفع مقرر شده باشد، این وضعیت به ایشان صفت شریک را نمی بخشد.

**مادهٔ ۱۳۱:**

اگر صورت تقسیم نفع و ضرر در مقاوله شرکت تصریح نگردیده باشد، نفع و ضرر هر شریک به تناسب حصهٔ سرمایه تقسیم می‌شود.

**مادهٔ ۱۳۲:**

اگر در مقاوله تنها صورت تقسیم نفع تعیین و از طرز تقسیم ضرر بحث نشده باشد، ضرر هم مانند نفع تقسیم می‌شود.

اگر از تقسیم ضرر بحث شده، صورت تقسیم نفع مسکوت عنه گذاشته شده باشد، نفع هم مانند ضرر تقسیم می‌شود.

**مادهٔ ۱۳۳:**

اگر در مقاوله شرکت نفع شرکت تنها به یکی و یا چندی از شرکاء

پورې حصره وي او يا د شرکت په ضرر کښې د يوه يا څو تنو شريکانو نه شريکېدل درج وي، دا شرط اعتبار نه لري. په دې حال کښې ويشنه مجهوله بلله کېږي ګټه او زيان د (۱۳۱) مادې په حکم د شريکانو په منځ کښې ويشله کېږي.

يوازې د هغه شريک په خصوص کښې چه خپل زيار او مساعي يې د پانګې په حيث شرکت ته راوړي وي او د شرکت په ضرر کښې د ده نه ګډول په مقاوله کښې مشروط وي نو دا شرط معتبر دی.

**۱۳۴ ماده:**

که کوم شرکت د خپلې ټاکلې مودې له پای ته رسيدلو څخه زيات دوام وکړی، داسې اعتبار ورکاوه کېږي چه د هغه دوام تر يوې ټاکلې مودې پورې اوږد شوی وی.

حصر و يا عدم اشتراک يکی و يا بعضی از شرکاء در ضرر شرکت درج باشد، شرط مذکور کان لم يکن است. درين حال، صورت تقسيم مجهول شمرده شده نفع و ضرر بموجب مادهٔ (۱۳۱) در بين شرکاء تقسيم می‌گردد.

تنها راجع به شريکی که مساعی خود را بحيث سرمايه به شرکت آورده و عدم اشتراک آن بضرر شرکت در مقاولهٔ شرکت مشروط باشد، اين شرط معتبر است.

**مادهٔ ۱۳۴:**

اگر يک شرکت از اختتام موعد معينه خود زيادتر دوام کند، چنان اعتبار داده می‌شود که دوام آن برای يک مدت غير معين تمديد شده است.

## دوهم فصل
## تضامني شرکتونه
## لومړۍ برخه

**۱۳۵ ماده:**

تضامني شرکت هغه شرکت دی چه تر ټاکلي عنوان لاندی د تجارو د پاره د دوو یا څو تنو په منځ کښې په تضامني مسئولیت سره جوړیږی. که د شرکت ټول شته د ټولو پورونو د پاره کافي نه وي نو د شرکت د ټولو پورونو ورکولو مسئول هر یو شریک دی.

**۱۳۶ ماده:**

تضامني شرکتونه باید تحریري قرارداد ولري.

**۱۳۷ ماده:**

د تضامني شرکتونو په قرارداد کښې دا لاندی فقري درج کیږي:

۱- د قرارداد نېټه.

۲- د شریکانو نوم، شهرت، د استوګنې ځای او د پیژند ګلوۍ صفتونه او که پدی شرکت کښې بل شرکت داخل شوی وي نو د هغه شرکت پخواني عنوان.

۳- د شرکت د تجارت مرکز.

۴- د شرکت تضامني والی.

## فصل دوم
## شرکت های تضامنی
## حصۀ اول

**مادۀ ۱۳۵:**

شرکت تضامنی شرکتی است که در تحت عنوان معین برای امور تجارتی بین دو یا چند نفر با مسئولیت تضامنی تشکیل می‌شود. اگر دارائی شرکت برای تادیۀ تمام قروض کافی نباشد، هر یک از شرکاء مسئول پرداخت تمام قروض شرکت است.

**مادۀ ۱۳۶:**

شرکت های تضامنی باید دارای قرارداد تحریری باشند.

**مادۀ ۱۳۷:**

در قرارداد شرکت های تضامنی فقرات ذیل درج می شود:

۱- تاریخ قرارداد.

۲- اسم، شهرت، اقامتگاه و دیگر اوصاف ممیزۀ شرکاء و اگر شرکت دیگری به شرکت داخل شده باشد، عنوان شرکت مذکور.

۳- مرکز تجارت شرکت.

۴- تضامنی بودن شرکت.

۵- د شرکت عنوان.
۶- د هغو شریکانو نومونه چه د شرکت په نامه د لاسلیک واک لري، په دی ډول چه دا خبره پکښې ښکاره شوی وي چه دوي په منفرد او یا په مشترک ډول دلاس لیک صلاحیت لری.
۷- د شرکت موضوع.
۸- د پانګې برخه چه هر شریک په غاړه اخیستي ده او د غیر نقدی پانګې اټکلی قیمت د هغې د قیمت د ټاکلو د صورت سره.
۹- د هر شریک د اشتراک برخه په ګټه او زیان کښې.
۱۰- د شرکت د تأسیس او ختم نېټه برسیره پدی شریکان کولای شي چه نوري داسي فقري چه ګټوري یې وبولي هم په قرارداد کښې درج کړی.

**۱۳۸ ماده:**
هغه کسان چه تضامني شرکت جوړوی مجبوردی چه د شرکت د قرارداد یو نقل د شرکت د تشکیل له ورځې څخه تریوي میاشتي پورې په داسي ځای کښې چه د شرکت مرکز ګرزیدلي دی د تجارت د ثبت په دائره کښې ثبت او

۵- عنوان شرکت.
۶- اسامی شرکائیکه بنام شرکت حایز صلاحیت امضاء می باشند با تصریح این که منفرداً و یا مشترکاً صلاحیت امضاء را دارند.
۷- موضوع شرکت.
۸- حصهٔ سرمایهٔ را که هر شریک تعهد کرده و قیمت های تخمینی قسمت سرمایهٔ غیر نقدی با صورت تعیین قیمت آن.
۹- حصهٔ اشتراک هر شریک در نفع و ضرر.
۱۰- تاریخ تأسیس و ختم شرکت، علاوه ازین شرکاء می‌توانند فقرات دیگری را که مفید بدانند هم در قرارداد درج کنند.

**مادهٔ ۱۳۸:**
اشخاصی‌که شرکت تضامنی را تشکیل می‌دهند مجبور اند که یک نقل قرارداد شرکت را از روز تشکیل شرکت تا یکماه در محلیکه مرکز شرکت واقع است به دایرهٔ ثبت تجارت، ثبت و اعلان

اعلان کړی.

**۱۳۹ ماده:**

که تضامني شرکت د خپل تجارت د ثبت د محکمي له حوزي څخه دباندی کومه څانګه تأسیس کړی نو ښايي چه د خپل قرارداد خصوصیات ددغي څانګې د تأسیس د ځای د ثبت په دائره کښې هم په ثبت ورسوي.

**۱۴۰ ماده:**

که په یوه تضامني شرکت کښې وروسته له ثبت او اعلان څخه په عنوان او د استوګنې په ځای کښې او یا په موضوع کښې کوم تبدلات پیښ شي او یا هغه شریکان چه د لاس لیک واک لري بدل شي یاځینی شریکان له شرکت څخه ووزی یا ځینې نور شریکان داخل شي یا د شرکت پانګه زیاته یا لږه شي او یا پخوا د ټاکلي مودی له تیریدو څخه د شرکت قرارداد منحل شي او یا د مودی له تیریدو څخه وروسته اوږد شي یا په بل شرکت پورې وتړلي شي، ددی خصوصیاتو په باره کښې د شرکت له خوا یوه بیان نامه چه د ټولو شریکانو په لاس لیک رسیدلي وي

کنند.

**مادۀ ۱۳۹:**

شرکت تضامنی اگر خارج از حوزۀ محکمه ثبت تجارت خود شعبه تأسیس کند، باید خصوصیات قرارداد خود را در دایرۀ ثبت محل تأسیس شعبه نیز به ثبت برساند.

**مادۀ ۱۴۰:**

اگر در یک شرکت تضامنی بعد از ثبت و اعلان، تبدلاتی در عنوان و اقامتگاه و یا موضوع تولید شود و یا شرکائیکه صلاحیت امضاء دارند تغییر نمایند و یا بعضی از شرکاء از شرکت خارج یا بعض شرکای دیگری داخل شوند و یا سرمایۀ شرکت تزئید و یا تنقیص شود و یا قبل از انقضای مدت معینه، قرارداد شرکت منحل و یا بعد از انقضای مدت، تمدید گردد و یا با شرکت دیگری ملحق شود، راجع به این خصوصیات از طرف شرکت یک بیان نامه که به امضای تمام شرکاء رسیده باشد ترتیب و

ترتیبږي او له هغو اسنادو سره چه ددی تعدیلاتو اثبات کوي وروسته د مربوطی محکمي له تصدیق څخه ثبت او اعلانولي شي.

**۱۴۱ ماده:**

هغه خصوصیات چه د (۱۳۸-۱۳۹او۱۴۰) مادی په حکم د هغو ثبت او اعلانول غواړی نوکه د شریکانو له خوا ثبت او اعلان شوی نه وي، نو ددی دا خصوصیات په ثالثو کسانو نشي استعمالولی او که له ثبت او اعلان څخه پخوا د شرکت په نامه په معاملاتو باندی پیل کړی شوی وي نو شرکت د ثالثو کسانو په مقابل کښي مسئول دی او که د شرکت د ثبت او اعلان مراتب د شریکانو له خوانه وي اجراء شوی او شریکان د شرکت له وجود څخه انکار وکړی نو ثالث کسان کولای شي چه په هر ډول شاهدانو او نښو باندی د شرکت وجود اثبات کړی.

**۱۴۲ ماده:**

که د یوه تضامني شرکت ثبت او اعلان په هغي مودی کښي چه په (۱۳۸) ماده کښي ذکر شویدی اجراء شوی نه وي او پس له هغه هم

با اسنادیکه مثبت این تعدیلات است بعد از تصدیق محکمه مربوطه، ثبت و اعلان می‌شود.

**مادهٔ ۱۴۱:**

خصوصیاتی‌که به موجب مواد (۱۳۸، ۱۳۹ و ۱۴۰) ثبت و اعلان آنها مقتضی است اگر از طرف شرکاء ثبت و اعلان نشده باشد، این خصوصیات را نمیتوان بر علیه اشخاص ثالث استعمال نمود. قبل از ثبت و اعلان اگر بنام شرکت به معاملات مبادرت ورزیده شده باشد، شرکت بمقابل اشخاص ثالث مسئول است. در صورتی‌که مراتب ثبت و اعلان شرکت از طرف شرکاء اجراء نگردیده باشد و شرکاء از وجود شرکت انکار ورزند، اشخاص ثالث می‌توانند که با هر نوع بینه و قرائن وجود شرکت را اثبات کنند.

**مادهٔ ۱۴۲:**

اگر ثبت و اعلان یک شرکت تضامنی در ظرف مدتیکه در مادهٔ (۱۳۸) ذکر شده اجراء نگردیده و بعداً هم ثبت

نه وي ثبت شوی نو هر یو شریک حق لري چه له مربوطی محکمي څخه د شرکت انحلال وغواړی. انحلال غوښتونکی شریک بایـد لومړی د ثبت د څانګې په ذریعه کیفیت شریکانو ته اخبار کړی. په دی حال کښې چه محکمه د شرکت په انحلال باندی فیصله وکړی، د انحلال حکم د انحلالو غوښتونکي شریک په باره کښې د اعلان له نېټې څخه جریان مومي.

که شرکت په دی سبب منحل کیږي، د انحلال د ثبت او اعلان تر پای ته رسیدو پوري هغه معاملي چه د شرکت په نامه اجراء کیږي، د ثالثو کسانو حقوقو ته خلل نه پېښوی.

نشده باشد، هر یکی از شرکاء حق دارند انحلال شرکت را از محکمهٔ مربوطه مطالبه کنند. شریک طالب انحلال بایست اولاً توسط شعبهٔ ثبت، کیفیت را به شرکاء اخبار نماید. در حالیکه محکمه به انحلال شرکت قرار دهد، حکم انحلال دربارهٔ شریک طالب انحلال از تاریخ اعلان جریان می یابد.

اگر شرکت بدین سبب منحل میگردد، تا ختم ثبت و اعلان انحلال معاملاتیکه بنام شرکت اجراء میگردد، به حقوق اشخاص ثالث خلل وارد نمی سازد

## دوهمه برخه
## د شریکانو ترمنځ مناسبات

**۱۴۳ ماده:**

د تضامني شرکت د شریکانو ترمنځ مناسباتو کښې د مقاولي مقررات معتبر دی.

او په هغو خصوصیاتو کښې چه صراحتاً یا ضمناً په قرارداد کی

## حصهٔ دوم
## مناسبات بین شرکاء

**مادهٔ ۱۴۳:**

در مناسبات بین شرکاء شرکت تضامنی مقررات مقاوله معتبر است.

و در خصوصیاتی که صراحتاً و یا ضمناً در قرارداد مندرج

مندرج نه وي، ددی فصل احکام تطبیق کیږي.

**۱۴۴ ماده:**

د شرکت اداره کیدای شي چه د قرارداد په موجب او که په قرارداد کښې کوم صراحت موجود نه وي نو د شریکانو د آراوو په زیاتوالی یوه تن یا څو تنو ته او یا ټولو شریکانو ته اویا له شرکت څخه دباندی یوه تن یا څو کسانو ته وسپارلی شي.

که له پاس مقرراتو سره سم د اداری حق چاته نه وي ورکړی شوی نو د شرکت د اداری دپاره هر یو شریک د صلاحیت خاوند ګڼلي شي.

**۱۴۵ ماده:**

هر وخت چه د مدیر د اداری واک د شرکت د قرارداد په موجب وټاکلي شي نو شریکان نشي کولای چه هغه محدود او یا مدیر موقوف کړی.که محققه اسباب موجود شي نو د یوه تن شریک په غوښتنې سره د محکمې په فیصله د اداری واک تحدید او یا مدیر موقوفیدلای شي. مقصد له محققه اسباب څخه په وظیفه کښې د مدیر بي پروائي او لوي غفلت او یا د اداری په

نباشد ، احکام این فصل تطبیق می گردد .

**مادۀ ۱۴۴:**

اداره شرکت را به موجب قرارداد و اگر در قرارداد صراحتی موجود نباشد به موجب اکثریت آرای شرکاء می‌توان به یکی و یا چندین و یا تمام شرکاء و یا خارج شرکت به شخصی و یا اشخاص متعدد تفویض نمود .

اگر حق اداره مطابق مقررات فوق به کسی داده نشده باشد ، برای ادارۀ شرکت، هر یکی از شرکاء صلاحیت دار شمرده می‌شود .

**مادۀ ۱۴۵:**

وقتی‌که صلاحیت اداره مدیر به موجب قرارداد شرکت تعیین شود ، شرکاء نمی‌توانند آنرا محدود و یا مدیر را عزل کنند .اگر اسباب محققه موجود شود ، در اثر خواهش یکی از شرکاء با قرار محکمه صلاحیت اداره تحدید و یا مدیر عزل شده می‌تواند . مقصد از اسباب محققه اهمال و غفلت بزرگ مدیر در ایفای وظیفه و یا عدم اقتدار

چارو کښې بې اقتداري ده.

**۱۴۶ ماده:**
هغه مدیر چه وروسته د قرارداد له لیکلو څخه د تصویب په حکم ټاکلي شویدی، د شریکانو د آراوو په اکثریت سره موقوفېدلای شي، او که د هغه د موقوفی دپاره د شریکانو د آراوو اکثریت حاصل نشي، هر شریک حق لري چه محکمې ته ورشي او په محققه اسبابو د هغه موقوفي وغواړي.

**۱۴۷ ماده:**
که د شرکت د چارو اداره ټولو یا څو تنو شریکانو ته سپارلی شوی وي، دوي هر یوه ته بیل بیل د شرکت د چارو اداره جواز لري.
که ځینې هغه شریکان چه د شرکت په اداره باندی مکلف دی د کومې معاملي د اجراء په خصوص کښې مخالفت وکړی، نور هغه شریکان چه د شرکت د اداری حق لري کولای شي چه د آراوو په اکثریت هغه معامله اجراء کړی.
که د شرکت په مقاوله کښې څرګنده وي چه د هغو شریکانو قرار چه د شرکت په اداره باندی

در امور اداره است.

**مادهٔ ۱۴۶:**
مدیریکه بموجب تصویب بعد از تحریر قرارداد تعیین شده باشد، با اکثریت آراء شرکاء عزل شده می‌تونند و اگر برای عزل آن اکثریت آراء شرکاء حاصل نشود، هر شریک حق دارد به محکمه مراجعه و با اسباب محققه عزل آنرا مطالبه کند.

**مادهٔ ۱۴۷:**
اگر ادارهٔ امور شرکت به تمام و یا چندی از شرکاء تفویض شده باشد، هر یکی از ایشان منفرداً به ادارهٔ امور شرکت مجاز است.
اگر بعضی از شرکائیکه مکلف به ادارهٔ شرکت می‌باشند راجع به اجرای کدام معامله مخالفت کنند، شرکاء دیگریکه حق اداره شرکت را حایز می-باشند، می‌توانند با اکثریت آراء معاملهٔ مذکور را اجراء کنند.
اگر در مقاولهٔ شرکت مصرح باشد که قرار شرکائیکه به ادارهٔ شرکت مکلف هستند باید

مکلف دی باید بالاتفاق وي، نو پرته له هغو احوالو چه په پای کښې یې خطر ملحوظ وي، نو په هره چارو کښې یې اتفاق لازم دی. په دی حال کښې چه د مدیرانو په منځ کښې د آراوو اتفاق را نشي نو کیفیت به د شریکانو عمومي هیئت ته وړاندی کیږي او هغه تصویب چه عمومي هیئت یې کوي د اعتبار وړ دی.

**۱۴۸ ماده:**

هغه چاري چه د شرکت په اداره پوري اړه لری عبارت له هغو عادی چارو او معاملاتو څخه دی چه د شرکت مقصد او موضوع د هغو د اجرا مقتضي وي. مدیر ته پدی صورت کښې چه د شرکت د پاره ګټه ولیدله شی، د مصالحي او حکمیت اجازه هم شته.
مګر مهم معاملات لکه اعانه، بیع، د غیر منقولو مالونو انتقال او ضمانت چه له عادی معاملاتو څخه دباندی دی، د شریکانو په اتفاق اجراء کیږي.

**۱۴۹ ماده:**

که یوه شریک له شرکت څخه پور اخیستي وي او یا یې یو مبلغ د

بالاتفاق باشد، به استثنای احوالیکه در تأخیر آن خطر ملحوظ است، در هر امر اتفاق آراء لازم است. در حالیکه بین مدیران اتفاق آراء حاصل نشود، کیفیت به هیئت عمومی شرکاء تقدیم و تصویبی که هیئت عمومی میدهد، معتبر می‌باشد.

**مادۀ ۱۴۸:**

اموریکه به اداره شرکت مربوط است عبارت از امور و معاملات عادی می‌باشد که اجرای آن برای مقصد و موضوع شرکت مقتضی است. مدیر در صورتی‌که برای شرکت فایده ملاحظه کند، در مصالحه و حکمیت هم مجاز می‌باشد.
مگر معاملات مهم امثال اعانه، بیع و انتقال اموال غیر منقول و ضمانت که خارج از معاملات عادی است، به اتفاق شرکاء اجراء می‌گردد.

**مادۀ ۱۴۹:**

اگر یک شریک از شرکت استقراض نموده و یا مبلغی را

شرکت په نامه تحصیل کړی وي ( په دی صورت چه د هغه په خلاف قرارداد موجود نه وی) او په مناسب وخت کښې یې اداء او تسلیم نکړی، برسیره په اصلوپیسو ورکولو د معطلۍ د ورځو د ټکټ پولۍ په ورکولو هم مجبور دی.

بنام شرکت تحصیل کرده باشد (در صورتیکه بر خلاف آن قرارداد موجود نباشد) و در زمان مناسب تأدیه و تسلیم ننماید، علاوه از تادیهٔ اصل پول، مجبور به اعطای تکت پولی ایام معطلی نیز می‌باشد.

**۱۵۰ ماده:**

هیڅ شریک نشي کولای چه بي د نورو شریکانو له موافقي څخه د خپل حصي یوه برخه یا ټوله، له شرکت څخه دباندی بل شخص ته منتقله کړی. د انتقال په صورت کښې د شریکانو او ثالثو کسانو په مقابل کښې کوم تاثیر نلري او هغه مسئولیت چه له دی لاري څخه پیدا کیږي یواځې نقل کوونکی ته راجع دی.

**مادهٔ ۱۵۰:**

هیچ یکی از شرکاء نمی‌تواند بدون موافقه شرکاء دیگر حصهٔ خود را به شخص خارج شرکت قسماً و یا کلاً منتقل سازد. در صورت انتقال، در مقابل شرکاء و اشخاص ثالث تاثیری ندارد و مسئولیت ناشیه از این عمل تنها به نقل دهنده راجع است.

**۱۵۱ ماده:**

هغه شریک چه د شرکت په اداره کښې مامور وي، بي د نورو شریکانو له رضا او موافقي نشي کولای چه بل شخص په شرکت کښې د شریک په صفت داخل کړی او یا خپل عوض په اداره کښې ودروی.

**مادهٔ ۱۵۱:**

شریکی که در ادارهٔ شرکت مامور باشد، بدون رضا و موافقت شرکای دیگر نمی‌تواند شخص دیگری را به صفت شریک در شرکت داخل و یا عوض خود در اداره منصوب نماید.

**۱۵۲ ماده:**

که د شرکت د تشکیل په قرارداد کښې د ورکړې شوې پانګې دپاره د ټکټ پولې د ورکړې شرط موجود وي، دا شرط معتبر دی.

**مادهٔ ۱۵۲:**

اگر در قرارداد تشکیل شرکت برای سرمایهٔ تأدیه شده شرط تأدیه تکت پولی موجود باشد، این شرط معتبر است.

**۱۵۳ ماده:**

د شرکت موده د شریکانو تر ژوندانه پورې معتبره ده مګر داچه په قرارداد کښې بل ډول ټاکلې شوې وي. سره له دې، هغه شرکت چه موده یې ټاکلې شوې نه وي نظر د هغه کار ماهیت ته چه د مصروفیت موضوع یې تشکیلوي د هغه د دوام موده د تحدید وړ وی نو دا شرکت د هغه کار تر پایه پورې د اعتبار وړ بلل کیږي.

**مادهٔ ۱۵۳:**

مدت شرکت تا حیات شرکاء معتبر شمرده می‌شود، مگر اینکه در قرارداد طور دیگری تعیین گردیده باشد. معهذا، شرکتی که مدت آن غیر معین است، اگر نظر به ماهیت کاریکه موضوع اشتغال آنرا تشکیل میدهد مدت دوام آن قابل تحدید باشد، شرکت مذکور تا انجام آن کار معتبر شمرده می‌شود.

**۱۵۴ ماده:**

یو شریک که مدیر هم نه وي حق لري چه د شرکت د چارو له جریان او د هغه له مالي وضعیت څخه معلومات لاس ته راولي او داسي قرارداد چه دا حق ساقط کړي، معتبر نه دی.

**مادهٔ ۱۵۴:**

یک شریک اگر مدیر هم نباشد، حق دارد که از جریان امور شرکت و وضعیت مالی آن معلومات بگیرد. قراردادیکه این حق را ساقط نماید، معتبر نیست.

**۱۵۵ ماده:**

د قرارداد د تبدیل او تعدیل په باره کښې تصویبونه د شریکانو د آراوو

**مادهٔ ۱۵۵:**

تصویبات راجع به تبدیل و تعدیل قرارداد به اتفاق آراء

په اتفاق او د نورو چارو په تصویب کمپنۍ د شریکانو د آراوو زیاتوالی معتبر دی، مګر داچه په قرارداد کښې بل ډول مقرر شوی وی.

**۱۵۶ ماده:**

مدیر د شرکت د حسابي کال په پای کښې د بیلانس په اساس د ګټې او ضرر حسابونه ترتیبوي او له هغه سره سم د هر شریک برخه ټاکي.

**۱۵۷ ماده:**

یو شریک بی دشریکانو له اتفاق څخه د هغي برخي په پوره کولو چه د پانګې له تناقص څخه پدی پورې اړه لري نشي مجبورولی. مګر که په قرارداد کښې بل ډول مقرر شوی نه وي نو د شریکانو د پانګې د تناقص اندازه د راتلونکو کالو له ګټې څخه پوره کیدای شي.

**۱۵۸ ماده:**

شریک نشي کولای چه د هغه شرکت له تجارتي معاملو څخه کومه ځانګړې معامله چه دی یې غړی دی (بې د شریکانو له موافقي څخه) په خپل یا د بل په حساب اجرا کړی.

شرکاء و در تصویب باقی امور اکثریت آراء شرکاء معتبر است، مگر اینکه در قرارداد طور دیگر مقرر شده باشد.

**مادهٔ ۱۵۶:**

مدیر در انتهای سنهٔ حسابیهٔ شرکت به اساس بیلانس، حسابات نفع و ضرر را ترتیب و مطابق آن حصهٔ هر شریک را تعیین می‌نماید.

**مادهٔ ۱۵۷:**

یک شریک را نمی توان بدون اتفاق شرکاء به اکمال حصهٔ که از تناقص سرمایه به او تعلق می‌گیرد مجبور نمود. ولی اگر در قرارداد طور دیگری مقرر نشده باشد، مقدار تناقص سرمایه شرکاء از مفاد سال های آتیه تکمیل شده می‌تواند.

**مادهٔ ۱۵۸:**

شریک نمیتواند معامله جداگانهٔ را از نوع معامله تجاریهٔ شرکتی که عضو آنست (بدون موافقه شرکاء) به حساب خود و یا دیگری اجراء کند.

په همدی صورت، په یوه بل داسي شرکت کښې چه کټ مټ په هم هغه تجارتي معامله باندی بوخت وي د مسئول غړی په صفت هم نشي داخليدای.

که د يوه نوي تأسيس شوی شرکت شريکان خبر شي چه يوشريک په شرکت کښې د مسئول غړی په حيث د داخليدو په وخت کښې په يو بل شرکت کښې شامل دی، په دی حال کښې که شريکان صراحتاً له بل شرکت څخه دده د غړيتوب د رابطي د قطع کېدو په خصوص کښې کوم تصويب ونکړی، داسي بلل کيږي چه په بل شرکت کښې دده اشتراک قبول شوی دی.

بهمين صورت، در شرکت دیگریکه به عین همان معاملهٔ تجارتی مشغول باشد، به صفت عضو مسئول نیز داخل شده نمی‌تواند.

اگر شرکای یک شرکت جدید التأسیس مطلع شوند که یکی از شرکاء در حین داخل شدن به شرکت به حیث عضو مسئول در یک شرکت دیگر شامل است، دریں حال، اگر شرکاء صراحتاً راجع به قطع رابطه عضویت او از شرکت دیگر تصویبی نکنند، چنان محسوب می‌شود که اشتراک او در شرکت دیگر مورد قبول واقع شده است.

**۱۵۹ ماده:**

که يو شريک د (۱۵۸) مادی له حکم څخه چپ حرکت وکړی، شرکت کولای شي چه له دغه شريک څخه خساره وغواړی او يا دخسارو په عوض هغه معاملي چه ددی شريک په خپل نامه يا د ثالثو کسانو په نامه اجرا کړی دی د شرکت په نامه حساب کړی. له دی دوو مطلبو څخه د يوه ترجيح د

**مادهٔ ۱۵۹:**

اگر یک شریک مخالف حکم مادهٔ (۱۵۸) حرکت کند، شرکت می‌تواند که از شریک مذکور طلب خسارت کند و یا در عوض خسارات، معاملاتی را که شریک مذکور بنام خود و یا اشخاص ثالث اجراء کرده است، بنام شرکت حساب کند. ترجیح یکی ازین دو مطالب موقوف بر فیصلهٔ

شریکانو په فیصله پورې اړه لري.
که شریکان په بل شرکت کښې د شریک له شراکت څخه له خبرېدو نه او یا دده د معاملاتو له انجامولو نه شپږ میاشتې وروسته اعتراض ونکړي، د دوی د اعتراض حق ساقطیږي.
له پاس حق څخه استفاده د شرکت د انحلال په نسبت د مطالبې د حق نه مانع کیږي.

شرکاء است.
اگر شرکاء بعد از حصول اطلاع از شرکت شریک به شرکت دیگری و یا انجام معاملات او بعد از مرور ششماه اعتراض ننمایند، حق اعتراض شان ساقط می‌شود.
استفاده از حق فوق مانع حق مطالبه نسبت به انحلال شرکت نمی‌شود.

## درېیمه برخه
## له ثالثو کسانو سره د شریکانو مناسبات

## حصهٔ سوم
## مناسبات شرکاء با اشخاص ثالث

**۱۶۰ ماده:**
تضامني شرکت د دریمو کسانو په مقابل کښې د ثبت او اعلان له نېټې څخه موجود بلل کیږي.

**مادهٔ ۱۶۰:**
شرکت تضامنی در مقابل اشخاص ثالث از تاریخ ثبت و اعلان، موجود شمرده می‌شود.

**۱۶۱ ماده:**
د شریکانو او د دریمو کسانو په مقابل کښې د شرکت د تمثیل حق په هغو کسانو پورې اړه لري چه د اداري واک لري، مګر دا چه په هغه قرارداد چه ثبت او اعلان شویدی د دی قرار داد په خلاف دی.

**مادهٔ ۱۶۱:**
حق تمثیل شرکت به مقابل شرکاء و اشخاص ثالث متعلق به اشخاصی است که واجد صلاحیت اداره می‌باشند، مگر اینکه در قراردادیکه ثبت و اعلان گردیده بر خلاف آن ذکر شده باشد.

**۱۶۲ ماده:**

هغه څوک چه د شرکت د تمثیل واک ولري کولای شي چه د شرکت په نامه هر ډول حقوقي معاملي اجراء کړي او د شرکت په نامه لاس لیک وکړي. هر شرط چه دا حق تحدید کړي، د دریمو کسانو (دښه نیت خاوندانو) په باره کښې معتبر نه دی. مګر که د شرکت په قرارداد کښې چه ثبت او اعلان شویدی د شرکت په نامه د متعددو شریکانو دلاس لیک اعتبار شرط ایښی شوی وي، دا شرط معتبر دی.

**مادهٔ ۱۶۲:**

شخصی که صلاحیت تمثیل شرکت را داشته باشد، میتواند بنام شرکت هرگونه معاملات حقوقیه را اجراء و بنام شرکت امضاء نماید. هر شرطیکه این حق را تحدید نماید، دربارهٔ اشخاص ثالث (صاحب حسن نیت) معتبر نیست. لیکن اگر در قرارداد شرکت که ثبت و اعلان گردیده است اعتبار امضای شرکای متعدد بنام شرکت شرط گذاشته شده باشد، این شرط معتبر است.

**۱۶۳ ماده:**

په هغو معاملاتو کښې چه د مدیرانو له خوا د شرکت په نامه شوی وي شرکت د پور وړی او پوروال صفت مومي. دا معاملي د شرکت په نامه که صراحتاً واقع شوی وي او که ضمناً کوم تو پیر نلري.

**مادهٔ ۱۶۳:**

در معاملاتیکه از طرف مدیران بنام شرکت به عمل آمده باشد، شرکت صفت دائن و مدیون را اکتساب می‌نماید. این معاملات بنام شرکت، چه صراحتاً واقع شده باشد و چه ضمناً، فرق ندارد.

**۱۶۴ ماده:**

شریکان د شرکت د پورونو او تعهداتو په ګډه او له خپلو ټولو شتو سره مسئول دی. هغه شرط چه له دی اساس څخه مخالف وي،

**مادهٔ ۱۶۴:**

شرکاء از دیون و تعهدات شرکت جمعاً و با تمام دارائی خود مسئول اند. و هر شرطیکه مخالف این اساس باشد،

(د دریمو کسانو په مقابل کښې) معتبر نه دی.

**۱۶۵ ماده:**

د شرکت د پورونو او تعهداتو په نسبت دعوي اقامه کول لومړی په خپله په شرکت باندی کیږي او که شرکت منحل شوی وي او یا له قانونیه تعقیباتو څخه چه په شرکت باندی اجراء شوی وي کومه ګټه وانه خیستله شي نو په شریکانو باندی هم دعوي کیږي. په عین حال کښې پوروال کولای شي چه د محکمې په ذریعه د شریکانو د شخصي مالونو د تر مراقبت لاندی نیولو ادعا وکړی.

**۱۶۶ ماده:**

کومه فیصله چه له خاصي محکمي څخه پر شرکت باندی صادره شي، د شریکانو په باره کښې به تطبیق نشي.

**۱۶۷ ماده:**

د تضامني شرکت د تصفيي یا افلاس په صورت د شرکت پوروالا د خپلو حقوقو په اخیستلو کښې د شریکانو له شخصي پوروالاوو څخه وړاندی دی.

(به مقابل اشخاص ثالث) معتبر نیست.

**مادۀ ۱۶۵:**

به نسبت دین و تعهدات شرکت اقامۀ دعوی اولاً بر علیه خود شرکت می‌شود، اگر شرکت منحل گردیده و یا از تعقیبات قانونی ایکه بر علیه شرکت اجراء شده باشد کدام ثمره حاصل نشود، بر علیه شرکاء هم اقامۀ دعوی می‌شود. در عین حال دائن می‌تواند ذریعه محکمه ادعای تحت مراقبت گرفتن اموال شخص شرکاء را بنماید.

**مادۀ ۱۶۶:**

فیصلۀ که از محکمه خاص بر علیه شرکت صادر شود، دربارۀ شرکاء تطبیق نخواهد شد.

**مادۀ ۱۶۷:**

در صورت تصفیه و یا افلاس شرکت تضامنی دائنین شرکت در اخذ حقوق خود از دائنین شخصی شرکاء مقدم می‌باشند.

**۱۶۸ ماده:**

د شرکت افلاس د شریکانو د افلاس موجب نه کيږي مګر په هغه صورت چه د مفلس شرکت شته د شرکت د پوروالاوو طلبات پوره نکړی، پور والا کولای شي چه خپل پاتي طلبات له شريکانو څخه و غواړی، او که د شریکانو شته هم د پوروالاوو طلبات پوره نکړی، محکمه کولای شي چه د شريکانو په افلاس حکم صادر کړی.

د شخصي پوروالاوو په منځ کښې هغه کسان چه قانوناً د ترجیح حق لري، د شریکانو له شتو څخه په ګټه اخيستلو کښې هم وړاندی دی.

**۱۶۹ ماده:**

شريکان د خپلې پانګې له بابته نشي کولای چه د مفلس شرکت له شتو څخه ګټه واخلي مګر کولای شي چه خپل نور طلبات لکه د شرکت د پوروالا دغه تول له شرکت څخه وغواړی.

**۱۷۰ ماده:**

د شرکت پور وړی شخص نشي کولای چه خپل پور په هغه پور

**مادهٔ ۱۶۸:**

افلاس شرکت موجب افلاس شرکاء محسوب نمی‌شود لیکن در صورتی‌که دارائی شرکت مفلس طلبات دائنین شرکت را کفایت نکند، دائنین می‌توانند باقی طلبات خود را از شرکاء مطالبه کنند، و اگر دارائی شرکاء نیز طلبات دائنین را کفایت نکند، محکمه می‌تواند حکم بر افلاس شرکاء صادر نماید.

در بین دائنین شخصی کسانیکه قانوناً حق ترجیحی دارند، در استفاده از دارائی شرکاء هم مقدم می‌باشند.

**مادهٔ ۱۶۹:**

شرکاء از بابت سرمایه خود نمی‌توانند از دارائی شرکت مفلس استفاده کنند، ولی می‌توانند طلبات دیگر خود را مثل دائنین شرکت مطالبه نمایند.

**مادهٔ ۱۷۰:**

شخص مدیون شرکت نمی‌تواند دین خود را با طلبی که بالای

کښې چه په یوه شریک باندې یې لري مجرا کړي. همدا ډول یو شریک داهم نشي کولای چه هغه پور چه په شرکت یې لري، د شرکت په پور وړی مجرا کړي.
مګر د شرکت پوروالاکه د (۱۶۵- ۱۶۸) مادو په حکم له شرکت څخه پور وانه خیستلاي شي او شریکانو ته مراجعت وکړي نو هغه شریک چه دده پور په هغه باندې اوړي نو که په همدغه پور والایې پور درلود، نو ممکن دی چه دده پور د شرکت په مقابل کښې په شریک مجرا کړی شي.

یکی از شرکاء دارد، مجرا کند. همچنین، یکی از شرکاء هم نمی‌تواند که دین خود را که در نزد شرکت دارد با طلبی که در نزد مدیون شرکت داراست، مجرا نماید.
لیکن دائن شرکت اگر بموجب مواد (۱۶۵- ۱۶۸) از شرکت به استحصال طلب موفق نگردد و به شرکاء مراجعت کند، شریکی که طرف مطالبه دائن واقع می‌شود اگر از دائن مذکور طلبی داشته باشد، ممکن است دین او در مقابل شرکت به مدیونینش در برابر شریک محسوب و مجرا شود.

## څلورمه برخه
## د انحلال، تجزیي، د شریکا نو ایستلو او په بل شرکت پورې تړلو په باره کښې

## حصهٔ چهارم
## راجع به انحلال، تجزیه، اخراج شرکاء و الحاق به شرکت دیگر

**۱۷۱ ماده:**
تضامني شرکت په لاندې صورت منحل کیږي:
۱- د شرکت د مودی له پای ته رسیدلو سره.
۲- د شریکانو په اتفاق (پدی

**مادهٔ ۱۷۱:**
شرکت تضامنی بصورت های ذیل منحل می‌شود:
۱- با ختم مدت شرکت.
۲- باتفاق شرکاء (در صورتی‌که

صورت چه په قرارداد کښې د آراوو
په زیاتوالی تصریح نه وي شوی).
۳- د محکمې له خوا د افلاس د
اعلان په صورت او یا په افلاس
کښې د پوروالاوو او شریکانو په
توافق.
۴- د هغو محققو او مهمو
اسبابو له مخې چه د یوه یا
څو تنو له خوایي ادعا شوی وي
د محکمې د حکم په موجب.
۵- د شرکت د موضوع پای
ته په رسیدلو.
۶- د یوه شریک له خوا د شرکت د
انحلال په اعلام چه هغه
تاکلي واک ولري او په
مقاوله کښې داخل وي.
۷- په هغو شرکتو کښې چه موده
یې نه وي ټاکلي شوی دیوه شریک
له خوا د شرکت د انحلال په اعلام.
۸- د شرکت د پانګې د دوو ثلثو د
ضیاع په صورت (په دی حال
کښې چه شریکان د پانګې په
پوره کولو او یا په هغه پاتې
پانګه باندی جوړښت سره ونکړی).
۹- په بل شرکت ورګډول.

در قرارداد به اکثریت آراء
تصریح نشده باشد).
۳- در صورت اعلان افلاس
از طرف محکمه و یا
توافق دائنین و شرکاء در
افلاس.
۴- به موجب قرار محمکه
مبنی بر اسباب محققه و مهمه
که از طرف یک و یا چند
نفر شرکاء ادعاء شده باشد.
۵- با انجام یافتن
موضوع شرکت.
۶- با اعلام انحلال شرکت از
طرف یکی از شرکاء مستند
بصلاحیت معیین که در
مقاوله شرکت مندرج باشد.
۷- در شرکتهایی که مدت آن غیر
معین است با اعلام انحلال
شرکت از طرف یکی از شرکاء.
۸- در صورت ضیاع دو ثلث
سرمایه شرکت (در حالیکه از
طرف شرکاء به اکمال سرمایه
و یا اکتفاء به سرمایه متباقیه
تصمیم اتخاذ نشود).
۹- الحاق به شرکت دیگر.

**۱۷۲ ماده:**

وروسته د شرکت له انحلال څخه مدیران نشي کولای چه د منحل شوی شرکت په نامه معامله او حساب اجراء کړی او که یې اجراء کړی، کوم مسئولیت چه ورڅخه پیدا کیږي، په غیر محدود ډول د شرکت مدیرانو ته راجع کیږي.

ترهغه وخته پورې چه د انحلال کیفیت اصولاً ثبت او اعلان نشي، د ټولو شریکانو مسئولیت د دریمو کسانو په مقابل کښې پاتي دی.

**مادۀ ۱۷۲:**

بعد از انحلال شرکت مدیران نمی‌توانند بنام و حساب شرکت منحل شده اجرای معامله کنند اگر اجرا کنند، مسئولیت متولده از آن بطور غیر محدود به مدیران شرکت راجع می‌شود.

تا زمانیکه کیفیت انحلال اصولاً ثبت و اعلان نشود، مسئولیت کافۀ شرکاء در مقابل اشخاص ثالث باقی است.

**۱۷۳ ماده:**

که د شرکت په قرارداد کي داسي شرط وي چه یو یا څو د انحلال موجبه علتونه بې اثره وبولي، معتبر دی مګر که بې له تعیین څخه یې په مطلق ډول د انحلال علتونه او اسباب بې اثره بللي وي، اعتبار نلري.

**مادۀ ۱۷۳:**

اگر در قرارداد شرکت شرطی باشد که یک یا چند علل موجب انحلال را بی اثر بداند، معتبر است ولی اگر بدون تعیین بطور مطلق علل و اسباب انحلال را بی اثر دانسته باشد، اعتبار ندارد.

**۱۷۴ ماده:**

په هغو شرکتو کښې چه د غیر ټاکلي مودی له مخې تأسیس شوی وي هر شریک کولای شي چه د معاملي د کال

**مادۀ ۱۷۴:**

در شرکت هاییکه برای مدت غیر معینه تأسیس شده باشند، هر شریک می‌تواند که اقلاً ششماه

له پای ته رسیدلو څخه لږ ترلږه (۶) میاشتي پخوا شریکانو ته د اطلاعیې په ذریعه چه د ثبت د څانګې په لاړ صادریږی خبر ورکړی او شرکت منحل کړی.

**۱۷۵ ماده:**

په هغو شرکتو کښې چه موده یي ټاکلي یا غیر ټاکلي وي محکمه کولای شي چه د یوه شریک په غوښتنه د محققه اسباب په واسطه سره د شرکت په انحلال باندی حکم و کړی.

محققه اسباب چه د شرکت د انحلال موجب کیږي په لاندی ډول دی:

۱- د ځینو علتو د پیښیدو په واسطه د شرکت د مقصد نه حاصلیدل.

۲- د یوه شرکت خیانت که په اداری چارو کښې وي او که د حسابونو په تنظیم کښې.

۳- د هغو اصلي وظیفو عدم اجراء چه یوه شرکت ته سپارلی شوی وي.

۴- د شخصي ګټې دپاره د یوه شریک له خوا د شرکت د عنوان یا مالونو بد استعمالول.

۵- په هغه صورت چه د

قبل از ختم سال معامله، شرکاء را به ذریعه اطلاعیهٔ که توسط شعبهٔ ثبت صادر می‌شود اطلاع داده و شرکت را منحل کند.

**مادهٔ ۱۷۵:**

در شرکتهائیکه مدت آنها معین یا غیر معین باشد، مطابق خواهش یک شریک بواسطه اسباب محققه، محکمه می‌تواند به انحلال شرکت قرار دهد.

اسباب محققهٔ که موجب انحلال شرکت می‌گردد، قرار ذیل است:

۱- عدم امکان وصول به مقصد شرکت بنابر پیش آمدن بعضی علل.

۲- خیانت یک شریک چه در امور اداره و چه در تنظیم حسابات.

۳- عدم ایفای وظایف اصلی که به یک شریک تفویض شده است.

۴- سؤ استعمال عنوان و یا اموال شرکت از طرف یک شریک برای منافع شخصی.

۵- عدم قابلیت و اهلیت یک

ناروغۍ یا بل علت په اثر یو شریک د شرکت د چارو په اجراء کښې قابلیت او اهلیت ونه لري.

**۱۷۶ ماده:**

لپاره ددې چه د پانګې ورکولو د تعهد د نه په ځای کېدو په نسبت د انحلال تقاضا واوریدله شي، لازمه ده هغه شریک ته چه دا وظیفه یې نه ده په ځای کړې پخوا اخطار ورلیږلي شوی وي.

**۱۷۷ ماده:**

هغه شرکت چه موده یې ټاکلي او یا د یوه شریک تر ژوند پورې محدوده وي، وروسته د شریک له مرګه یا د ټاکلي مودی له تیریدونه، پدی صورت چه معاملې ادامه ولري، د یوې غیر ټاکلي مودی د پاره متشکل ګڼل کیږي.

**۱۷۸ ماده:**

که په مقاوله کښې دا شرط داخل وي چه د یوه شریک د مرګ یا افلاس او یا محجوریت په صورت شرکت منحل ګڼل کیږي، د مړي وارث یا قانوني قایم مقام دی د مفلس شته او د محجور قانوني وکیل دی بې له ځنډه واقعه

شریک در اثر مرض دائمی و یا علل دیگری در اجرای امور شرکت.

**مادهٔ ۱۷۶:**

برای اینکه تقاضای انحلال به نسبت عدم ایفای تعهد تأدیه سرمایه مسموع شده بتواند، لازم است به شریکی که این وظیفه را ایفا نکرده قبلاً اخطار فرستاده شده باشد.

**مادهٔ ۱۷۷:**

شرکتی که مدت آن معین و یا با حیات یک شریک محدود باشد، بعد از فوت شریک و یا انقضاء مدت معین، در صورتی‌که معاملات ادامه یافته باشد، برای مدت غیر معینی متشکل محسوب می‌شود.

**مادهٔ ۱۷۸:**

اگر در مقاوله مندرج باشد که در صورت وفات یا افلاس و یا محجوریت یکی از شرکاء شرکت منحل شمرده می‌شود، وارث متوفی و یا قایم مقام قانونی دارائی مفلس و یا وکیل قانونی محجور بلا تأخیر باید واقعه را به

شریکانو ته تبلیغ کړي.
که دکارو په ځنډولو کښې خطر موجود وي نو د شرکت د چارو قانوني واک لرونکی دی ترهغه وخته پورې چه شریکان په اتفاق سره تصویب وکوي د شرکت د چارو اداری ته ادامه ورکړي.
په همدی صورت هر شریک مجبور دی هغه چارې چه دوی ته سپارلی شویدی موقتاً اجراء کړي. پدی صورت تر هغې مودی پورې چه مؤقتي اداره دوام وکړي، شرکت موجود بلل کیږي.

**۱۷۹ ماده:**

که د یوه شریک د مړینې په صورت کښې د شرکت د دوام په خصوص کښې د مړه له ورثې سره په قرارداد کښې صراحت نه وي نو شریکان کولای شي چه د مړه د ورثې په اتفاق د شرکت د کار ادامه تصویب کړي. که ورثه د هغه له اشتراک څخه تیر شي، نور شریکان کولای شي چه د هغو پانګه او حقوق اداء او شرکت ته ادامه ورکړي.

**۱۸۰ ماده:**

که د یوه شریک د مړینې په صورت کښې د مړه د وارثانو او نورو

شرکاء تبلیغ کند.
اگر در تأخیر کار ها خطری موجود باشد، متصدیان قانونی امور شرکت تا وقتی‌که شرکاء متفقاً تصویب اتخاذ می نمایند با ادارهٔ امور شرکت ادامه دهند.
به همین صورت، هر یک از شرکاء مجبور اند اموری را که به آنها سپرده شده موقتاً اجراء نمایند. درین صورت تا مدتیکه ادارهٔ مؤقتی دوام کند، شرکت موجود شمرده می‌شود.

**مادهٔ ۱۷۹:**

در صورت وفات یک شریک اگر راجع به دوام شرکت با ورثه متوفی در قرارداد صراحت نباشد، شرکاء می‌توانند به اتفاق ورثه متوفی ادامه کار شرکت را تصویب کنند. اگر ورثه از اشتراک آن صرف نظر نمایند، دیگر شرکاء می‌توانند سرمایه و حقوق آنها را پرداخته به ادامه شرکت بپردازند.

**مادهٔ ۱۸۰:**

در صورت وفات یک شریک اگر دوام شرکت بین وارثین

شریکانو په منځ کښې په قرارداد کښې د شرکت دوام تصریح شوی وي نو ورثه په شرکت کښې د تضامني شریک په صفت په خپل دوام او نه دوام کښې مختار دی او که خپل اشتراک په شرکت کښې قبول کړي، نور شریکان د هغه په قبلولو مجبوردي.
مګر که د مړه ورثه په شرکت کښې د تضامني شریک په صفت په خپلو داخلیدو موافقت ونکړي، دا غوښتنه کولي شي چه د خپل مورث د پانګې او حقوقو په اندازه د محدود المسئولیت شریک په صفت قبول شي. ددی د غوښتنې په منلو او نه منلو کی نور شریکان آزاد دی.

متوفی و سایر شرکاء در قرارداد تصریح شده باشد، ورثه به دوام و عدم دوام خود به صفت شریک تضامنی در شرکت مختار اند و اگر اشتراک خود را به شرکت قبول کنند، شرکاء دیگر به قبول آن مجبوراند.
لیکن اگر ورثه متوفی بودن خود را بصفت شریک تضامنی در شرکت موافقه ننمایند، می‌توانند خواهش نمایند تا به اندازه سرمایه و حقوق مورث خود بصفت شریک محدود المسئولیت قبول شوند. در قبول و رد این خواهش شرکاء دیگر آزاد هستند.

**۱۸۱ ماده:**

دمړه ورثه مجبور دی چه د وفات له نیټې څخه تر یوي میاشتي پورې په شرکت کښې د تضامني شریک په صفت خپل شمول او نه شمول څرګند کړي. پدی موده کښې ورثه په شرکت کښې د محدودالمسئولیت شریک په صفت پیژندل کیږي.
که ددی مودی له پای ته رسیدو نه

**مادۀ ۱۸۱:**

ورثه متوفی مجبورند در ظرف یکماه از تاریخ وفات شمول و عدم شمول خود را به صفت شریک تضامنی در شرکت اظهار نمایند. در ظرف مدت مذکور ورثه به صفت شریک محدود المسئولیت در شرکت شناخته می‌شود.
اگر بعد از ختم این مدت ورثه

وروسته ورثه د محدودالمسئولیت شریک په صفت شامل شوی نه وي نو د تضامني شریک په صفت پیژندل کیږی.

د مړه د صغیرانو په نسبت، که په قرارداد کښې مقرر شوی وي که نه، د تضامني شریک په صفت نه پیژندل کیږی مګر د صغیر د ولي یا وصي په غوښتنه که نور شریکان یې قبوله کړی، د محدود المسئولیت شریک په صفت شاملیږي.

**۱۸۲ ماده:**

د یوه شریک د محجوریت په حال کښې هم له (۱۷۹ تر ۱۸۱) مادو پورې احکام تطبیقیږی.

**۱۸۳ ماده:**

د یوه شریک د افلاس په حال کښې (پدی صورت چه د شرکت په قرارداد کښې په بل صورت نه وي مقرر شوی) مفلس شریک له شرکت ځخه ایستل کیږي او په دی ډول د مفلس یا دده د قانوني وکیل د حقوقو په خصوص کښې فیصله کیږی.

بصفت شریک محدود المسئولیت شامل نشده باشند، به صفت شریک شناخته می‌شوند.

نسبت به ورثهٔ صغار متوفی چه در قرارداد مقرر شده باشد یا نباشد، بصفت شریک تضامنی شناخته نمی‌شود. اما در صورت مطالبه ولی و یا وصی صغیر، اگر شرکاء دیگر قبول کنند، بصفت شریک محدود المسئولیت شامل می‌شوند.

**مادهٔ ۱۸۲:**

در حال محجوریت یکی از شرکاء هم احکام مواد (۱۷۹ الی ۱۸۱) تطبیق می‌شود.

**مادهٔ ۱۸۳:**

در حال افلاس یکی از شرکاء (در صورتی که در قرارداد شرکت طور دیگری مقرر نشده باشد) شریک مفلس از شرکت اخراج میگردد و درین صورت راجع به حقوق مفلس یا وکیل قانونی او تسویه می‌شود.

**۱۸۴ ماده:**

که د هغو علتو په نسبت چه په یوه ځانګړي شریک پورې اړه لري د شرکت د انحلال تقاضا شوی وي، د نورو شریکانو د غوښتنې په اثر محکمه کولای شي چه وروسته له تدقیق نه ددی شریک په ایستلو او د شرکت په دوام حکم صادر کړی.

**۱۸۵ ماده:**

که یو شریک دداسي شرکت چه موده یې ټاکلي شوی نه وي د انحلال تقاضا وکړی، نور شریکان کولای شي چه انحلال قبول نکړی او هغه شریک وباسي او شرکت ته په خپل منځ کښې دوام ورکړی.

**۱۸۶ ماده:**

په هغو شرکتو کښې چه موده یې ټاکلي وي که شریک د هغو حقوقو په استناد چه د (۱۷۵) مادی په حکم یي لري د شرکت انحلال د ثبت د دائري په ذریعه شریکانو ته اعلان کړی، د (۱۷۹) مادی احکام هم په دی خصوص کښې تطبیق کیږي.

**مادۀ ۱۸۴:**

اگر به نسبت عللی که متعلق به شخص یک شریک باشد انحلال شرکت تقاضا شده باشد، در اثر خواهش شرکاء دیگر محکمه می‌تواند پس از تدقیق به اخراج شریک مذکور و دوام شرکت قرار خود را صادر نماید.

**مادۀ ۱۸۵:**

اگر یکی از شرکاء انحلال شرکتی را که مدت آن غیر معین است تقاضا نماید شرکای دیگر می‌توانند انحلال را قبول نکرده، آن شریک را اخراج و شرکت را بین خود ادامه بدهند.

**مادۀ ۱۸۶:**

در شرکت هائیکه مدت آن معین است اگر یک شریک باستناد حقوقیکه به موجب مادۀ (۱۷۵) دارد، انحلال شرکت را توسط دایرۀ ثبت به شرکاء اعلام کند، احکام مادۀ (۱۷۹) دراین مورد نیز تطبیق می‌شود.

**۱۸۷ ماده:**
که شرکت له دوو تنوڅخه جوړوی او یوتن وایستل شي محکمه کولای شي چه د پاتي شریک په غوښتنه د موجبه اسبابو له مخ ئي د انحلال له حکم او یا د ټولي دارائي او پورونو له تصفیي شرکت پاتي شریک ته تخصیص کړي په دی صورت د هغه شریک په باره کښي چه ایستل شوی دی د (۱۹۰) مادی احکام تطبیقیږی.

**مادهٔ ۱۸۷:**
اگر شرکت متشکل از دو نفر باشد و یکنفر اخراج گردد، محکمه می‌تواند بموجب خواهش شریک باقیمانده مستند به اسباب موجبه بدون حکم انحلال و یا تصفیه تمام دارائی و دیون، شرکت را به شریک باقیمانده تخصیص بدهد. درین صورت دربارهٔ شریکی که خارج شده احکام مادهٔ (۱۹۰) تطبیق میگردد.

**۱۸۸ ماده:**
که په یوه شرکت کښي چه له دوو تنو څخه جوړ وي دیوه شریک شخصي پوروال دداسي انحلال حق چه د (۱۹۵) مادی له مخي یي لري استعمال کړي او یا یو شریک افلاس وکړي، بل شریک کولای شي چه د (۱۸۷) مادی د اجازي په حدود کښي د شرکت چارو او معاملاتو ته په خپل حساب دوام ورکړي.

**مادهٔ ۱۸۸:**
اگر در یک شرکتی که مرکب از دو نفر باشد دائن شخصی یکی از شرکاء حق انحلال را که به موجب مادهٔ (۱۹۵) حایز است استعمال کند و یا یکی از شرکاء افلاس نماید شریک دیگر می‌تواند در حدود اجازهٔ مادهٔ (۱۸۷) امور و معاملات شرکت را به حساب خود ادامه بدهد.

**۱۸۹ ماده:**
که د شرکت د انحلال سبب پرته له افلاس څخه په بل سبب وي نو ټول شریکان مکلف دی چه د (۱۷۴)

**مادهٔ ۱۸۹:**
اگر انحلال شرکت بنا بر سببی غیر از افلاس باشد، تمام شرکاء مکلف اند که به موجب

مادي په حکم د شرکت د انحلال ټول کیفیت ثبت او اعلان کړي. دا حکم له شرکت څخه دیوه شریک دو تلو په صورت کښې هم د اعتبار وړ دی.
که د شرکت انحلال یا د شریک وتل له وفات څخه پیښ شوی وي نو دا مراسم د ټولو شریکانو له خوا د مړه د ورثي په ګډون اجراء کیږي.

**۱۹۰ ماده:**
د هغه شریک برخه چه له شرکت څخه ایستل کیږي یا دی په خپله وزي، که په خلاف د هغه په مقاوله کښې کوم صراحت موجود نه وي نو له هغي نېټې څخه چه دایستلو تقاضا وشي، د شرکت له شتو څخه ټاکله کیږي.

**۱۹۱ ماده:**
په هغه صورت چه د (۱۹۰) مادی په حکم دیوه شریک برخه وټاکله شي نو وجه نقده ورکوله کیږي.

**۱۹۲ ماده:**
د هغه شریک برخه چه ایستل کیږي او یا پخپله د وتلو غوښتنه کوي که په قرارداد کښې برابر والی ټاکلی

مادهٔ (۱۷۴) کیفیت انحلال شرکت را ثبت و اعلان کنند. این حکم در صورت خارج شدن یک شریک از شرکت هم معتبر است.
اگر انحلال شرکت و یا خروج شریک ناشی از وفات باشد، مراسم مذکور از طرف تمام شرکاء با اشتراک ورثه متوفی اجراء می‌شود.

**مادهٔ ۱۹۰:**
حصهٔ شریکی که از شرکت اخراج می‌گردد و یا خود خارج می‌شود، اگر بر خلاف آن در مقاوله صراحتی موجود نباشد، از تاریخیکه تقاضای اخراج بعمل می آید، از دارائی شرکت تعیین می‌شود.

**مادهٔ ۱۹۱:**
در صورتی‌که به موجب مادهٔ (۱۹۰) حصهٔ شریکی معین شود، وجه نقد تأدیه می گردد.

**مادهٔ ۱۹۲:**
حصهٔ شریکی که اخراج می‌گردد و یا خود طلب خروج می‌کند اگر وقت تسویه در

وي، په همغه وخت کښې او که تاکلي نه وي نو د هغه لمړی بیلانس د ترتیب په وخت کښې چه د شریک له وتلو څخه وروسته جوړیږی، تصفیه کیږي.

**۱۹۳ ماده:**

هغه شریک چه ایستل کیږي او یا په خپله وزي، په هغو حقوقو او تکالیفو کښې چه دده له وتلو څخه پخوا معاملاتو نه منځ ته راوزي ګډون کوي مګر نشي کولای د هغو معاملاتو چه پخوا تثبیت شوی او شریکانو د هغو په اکمال تصویب کړیدی، د اجراء مانع شي.

که تصفیه ژر تر ژره ممکنه نه وي، د حسابي کال په پای کښې کولای شي د هغو چارو حسابونه چه د کال په منځ کښې پای ته رسیدلي دی، وغواړی. همدارنګه کولای شي چه د جاري معاملاتو د وضعیت په باره کښې د حسابي کال په پای کښې له شریکانو څخه معلومات واخلي.

**۱۹۴ ماده:**

له شرکت څخه د یوه شریک ایستل او یا وتل د دریمو کسانو په مقابل

قرارداد معین باشد، در همان وقت و اگر معین نباشد در وقت ترتیب اولین بیلانس که بعد از خروج شریک بعمل می آید، تصفیه می‌گردد.

**مادهٔ ۱۹۳:**

شریکی که اخراج می‌گردد و یا خود خارج می‌شود، به حقوق و تکالیفی که از معاملات قبل از خروج بوجود می آید اشتراک می‌کند ولی نمی- تواند اجرای معاملاتی را که قبلاً بان تثبیت شده و شرکاء به اکمال آن تصویب کرده اند، مانع شود.

اگر تصفیه امور فوراً ممکن نباشد، در اخیر سنه حسابیه میتواند حسابات امور را که در ظرف سال ختم شده، طلب کند. همچنین میتواند دربارهٔ وضعیت معاملات جاریه در ختم سنه حسابیه از شرکاء کسب معلومات نماید.

**مادهٔ ۱۹۴:**

اخراج و یا خروج یک شریک از شرکت در مقابل اشخاص

کښې د ثبت او اعلان له نېټې څخه د اعتبار وړ دی او د ثبت او اعلان له نېټې څخه پخوا د هغو مسئولیت د دریمو کسانو په مقابل کښې پاتي دی.

**۱۹۵ ماده:**

د یوه شریک شخصي پوروال په دی صورت چه دده له شخصي مالونو څخه خپل پور پوره نشي کړاي، کولای شي چه د تصفیي په وخت کښې د خپل پوروړي شریک برخه د محکمې په ذریعه تر مراقبت لاندی ونیسي او د شرکت انحلال (په دی شرط چه (۶) میاشتي پخوا یې خبر ورکړی وي) د حسابي کال په پای کښې وغواړی.

پخوا له هغه چه د انحلال په خصوص کښې حکم صادر شي، شرکت یا نور شریکان کولی شي چه د پوروال حق ورکړی او د انحلال حکم ساقط کړی.

**۱۹۶ ماده:**

که د یوه شریک شخصي پوروال له (۱۹۵) مادی سره سم د انحلال حق استعمال کړی، نور شریکان کولای شي چه د شرکت د دوام په خصوص کښې د پوروړی شریک په ایستلو

ثالث از تاریخ ثبت و اعلان معتبر است و قبل از تاریخ ثبت و اعلان مسئولیت آن در مقابل اشخاص ثالث باقی است.

**مادۀ ۱۹۵:**

دائن شخصی یک شریک در صورتی‌که از اموال شخصی مدیون استحصال حق نتواند، می‌تواند عندالتصفیه، حصۀ شریک مدیون را ذریعۀ محکمه تحت مراقبت گرفته و انحلال شرکت را (مشروط بر اینکه ششماه قبل اخبار نموده باشد) در اخیر سنه حسابیه تقاضا نماید.

قبل از آنکه دربارۀ انحلال حکم صادر شود، شرکت و یا سائر شرکاء می‌توانند حق دائن را اداء کرده حکم انحلال را ساقط نمایند.

**مادۀ ۱۹۶:**

اگر دائن شخصی یک شریک مطابق مادۀ (۱۹۵) حق انحلال را استعمال بکند، شرکاء دیگر می‌توانند به اخراج شریک مدیون راجع به دوام شرکت

تصمیم ونیسي او پوروال ته خبر ورکړي.

پدی صورت کښې پوروړي شریک د حسابي کال په پای کښې ایستل کیږي.

**۱۹۷ ماده:**

دوه شرکتونه یا څو تضامني شرکتونه کولي شي چه یو له بله سره ګډ شي او یو نوي تضامني شرکت جوړ کړی او یا په موجود یوه تضامني شرکت ورګډ شي.

**۱۹۸ ماده:**

د تضامني شرکتونو د پیوستون دپاره باید د مربوطو شرکتونو له خوا ځانګړی تصویبونه وشي او ثبت او اعلان شي.

**۱۹۹ ماده:**

هر یو له ګډ شویو شرکتو څخه مجبور دی چه خپل بیلانس په یو شکل ترتیب او اعلان کړی او په عین حال کښې هغه ترتیب چه د پورونو ورکولو د پاره یي نیسي، تصویب او له بیلانس سره یي ضمیمه کړی.

تصمیم گرفته به دائن ابلاغ نمایند.

درین صورت، شریک مدیون در اخیر سال حسابیه از شرکت اخراج می‌شود.

**مادۀ ۱۹۷:**

دو شرکت و یا شرکتهای متعدد تضامنی می‌توانند با یک دیگر ملحق و یک شرکت جدید تضامنی تشکیل کنند و یا به یک شرکت تضامنی موجود ملحق گردند.

**مادۀ ۱۹۸:**

برای الحاق شرکتهای تضامنی باید تصاویب جداگانه از طرف شرکتهای مربوطه به عمل آمده وثبت و اعلان گردد.

**مادۀ ۱۹۹:**

هر یکی از شرکتهای ملحقه مجبور اند بیلانس خود را بصورت متحدالشکل ترتیب و اعلان کنند و درعین حال ترتیبی را که برای تأدیه دیون اتخاذ می‌نمایند، تصویب و با بیلانس ضمیمه نمایند.

**۲۰۰ ماده:**

هغه تصویب چه د ګډون په خصوص کښې کیږي، د اعلان له نېټې څخه تر دریو میاشتو وروسته د اعتبار وړ کیږي.

که ګډ شوی شرکتو نه خپل پورونه ورکړی او یا هغه مبلغ چه د دوی له پورونو سره برا بر وي یوه معتبر بانک ته وسپاري او یا د پورو خاوندان د شرکتونو په ګډون راضي شي نو لازمه نده چه درې میاشتې انتظار وایستل شي.

هغه رسید چه د پورونو د معادل مبلغ په مقابل کښې له بانک څخه اخیستل کیږي هم باید ثبت او اعلان شي. د ګډو شرکتونو هر یو پوروال د دریو میاشتو په موده کښې د الحاق په خصوص کښې په مربوطې محکمې کښې اعتراض کولای شي او ترهغه وخته پورې چه د اعتراض له حق څخه تیر نشي او یا د معترض پوروال په خصوص کښې د محکمې قطعي حکم صادر نشي، الحاق به عملي نشي.

**۲۰۱ ماده:**

که په هغې مودې کښې چه په (۲۰۰) ماده کښې ټاکلې شوې ده

**مادهٔ ۲۰۰:**

تصویبی که راجع به الحاق به عمل می‌آید، از تاریخ اعلان تا سه ماه بعد نافذ می‌گردد.

اگر شرکت های ملحقه دیون خود را تأدیه یا مبلغی را که معادل دیون شان باشد به یک بانک معتبری تودیع کنند و یا دائنین به الحاق شرکتها راضی شوند، لازم نیست که مدت سه ماه انتظار کشیده شود.

رسیدیکه در مقابل مبالغ معادل دیون از بانک اخذ می‌شود نیز باید ثبت و اعلان گردد. هر یکی از دائنین شرکت های ملحقه در ظرف سه ماه در خصوص الحاق به محکمه مربوطه اعتراض کرده می‌تواند و تا زمانیکه از حق اعتراض صرف نظر نکنند و یا قرار محکمه دربارهٔ دائن معترض کسب قطعیت ننماید، الحاق صورت نخواهد گرفت.

**مادهٔ ۲۰۱:**

اگر در ظرف مدتیکه در مادهٔ (۲۰۰) تعیین شده است اعتراض

اعتــراض واقــع نــشي، د الحــاق معامله قطعيت مومي. هغه شرکت چه باقي پاتي کيږي او يا نوي تشکيليږي، د پخواني شرکت قايم مقام دی ټول حقوق او پورونه به هغه ته نقليږی.

که د شرکتو له ګډون څخه نوي شرکت جوړ شوی وي، د هغه ثبت او اعلان ضروري دی.

واقع نشود، معامله الحاق کسب قطعیت می‌نماید. شرکتی که باقی می‌ماند و یا جدید تشکیل می‌شود، قایم مقام شرکت سابق بوده، کافه حقوق و دیون به آن انتقال می یابد.

اگر از الحاق شرکتها شرکت جدیدی بوجود آمده باشد، ثبت و اعلان آن ضروری است.

## پنځمه برخه
## د تضامني شرکتو تصفيه

## حصهٔ پنجم
## تصفیه شرکتهای تضامنی

**۲۰۲ماده:**

که د تصفيي په خصوص کښې د شرکت په قرارداد کښې کوم صراحت موجود نه وي، ددی برخي له احکامو سره سم تصفيه کيږي.

**مادهٔ ۲۰۲:**

اگر در قرارداد شرکت راجع به تصفیه صراحتی موجود نباشد، تصفیه مطابق احکام این قسمت به عمل می آید.

**۲۰۳ ماده:**

د يوه تضامني شرکت تصفيه د تصفيي په هغو مامورينو پوري اړه لري چه د هغو انتخابات په لاندنيو موادو کښې ښوولي شوی دی.

**مادهٔ ۲۰۳:**

تصفیه یک شرکت تضامنی عاید به مامورین تصفیه است که صورت انتخابات آنها در مواد آتیه نشان داده شده است.

**۲۰۴ ماده:**

د تصفيي مامورين ممکن دی چه له پخوا څخه د شريکانو له خوا انتخاب او د شرکت په قرارداد

**مادهٔ ۲۰۴:**

مامورین تصفیه ممکن است قبلاً از طرف شرکاء انتخاب و در قرارداد شرکت

کمپنۍ درج شي یا وروسته په تصویب سره انتخاب شي. په همدی شان وروسته له انحلال څخه هم د شریکانو د اتفاق له مخې کولای شي چه وټاکلي شي، او غیر له دی نه ټول شریکان او یا د دوی قانوني وکیلان په تصفیه مامور بلل کیږي. د انحلال په صورت کمپنۍ د هر شریک په مراجعه ممکنه ده چه د تصفیي مامورین د مربوطی محکمي له خوا وټاکلي شي.

درج شود و یا بعداً با تصویب انتخاب شوند. همین طور بعد از انحلال هم به اتفاق نظر شرکاء می‌توانند تعیین شوند، در غیر آن تمام شرکاء و یا وکیل قانونی ایشان مامور به تصفیه شمرده می‌شوند. در صورت انحلال با مراجعه هر یکی از شرکاء ممکن است مامورین تصفیه از طرف محکمهٔ مربوطه تعیین شوند.

**۲۰۵ ماده:**

د تصفیي مامورین که د شریکانو له خواوي او که د محکمي له خوا ممکن دی چه د شریکانو له خوا او یا له باندی وټاکلي شي.

**مادهٔ ۲۰۵:**

مامورین تصفیه، چه از طرف شرکاء باشند و چه از طرف محکمه، ممکن است از بین شرکاء و یا از خارج انتخاب شوند.

**۲۰۶ ماده:**

په تصفیه کمپنۍ د مامورینو تعدد جائز دی. که د شرکت د مقاولي یا د هغه تصویب له مخې چه وروسته شویدی په تصفیه کمپنۍ په منفرد ډول مجاز نه وي نو لازم دی چه په اتفاق سره اقدام وکړی او که په انفرادی اقدام مجاز وي لازم دی چه کیفیت ثبت او اعلان شي.

**مادهٔ ۲۰۶:**

تعدد مامورین تصفیه مجاز است. اگر حسب مقاوله شرکت یا با تصویبی که بعداً بعمل آمده در تصفیه منفرداً مجاز نباشند، لازم است که متفقاً اقدام کنند. اگر به اقدام انفرادی مجاز باشند، لازم است کیفیت ثبت و اعلان شود.

۲۰۷ ماده:
د تصفيي يو مامور خپله وظيفه د تصفيي بل مامور ته او يا دريم شخص ته نشي سپارلی. مگر د ځينو ټاکليو چارو د معاملاتو د په ځای کولو دپاره کولای شي چه يوه يا څو تنو او يا يوه دريم سري ته واک ورکړی.

مادهٔ ۲۰۷:
یک مامور تصفیه وظیفهٔ خود را به مامور تصفیه دیگر و یا به شخص ثالث سپرده نمی‌تواند ولی برای ایفای بعضی امور معاملات معینه می‌توانند از بین خود یکی یا چندی را و یا یک شخص ثالث را صلاحیت بدهند.

۲۰۸ ماده:
که په يوه شرکت کښې چه معاملات يې د تصفيي په حال کښې وي د تصفيي د مامورينو يوه مامور ته دريمو کسانو له خوا ابلاغ او مراجعات کافي دی. په هغو ځايو کښې چه د شرکت د گټو دپاره د کوم خطر پيښيدل متصور نه وي نو هغه چاري او معاملي چه د تصفيي کوم مامور يې اجراء کړی، معتبر دی.

مادهٔ ۲۰۸:
در شرکتی که معاملات آن در حالت تصفیه می‌باشد ابلاغ و مراجعات از طرف اشخاص ثالث به یکی از مامورین تصفیه کافی است. در مواردیکه برای منافع شرکت وقوع خطری متصور نباشد، امور و معاملاتی را که یکی از مامورین تصفیه اجراء کند، معتبر است.

۲۰۹ ماده:
تضامني شرکتونه وروسته له انحلال څخه هم د تصفيي د معاملاتو تر پای ته رسيدلو پورې د تصفيي د چارو دپاره موجود گڼل کيږي.

مادهٔ ۲۰۹:
شرکت های تضامنی بعد از انحلال هم الی ختم معاملات تصفیه برای امور تصفیه موجود شناخته می‌شوند.

**۲۱۰ ماده:**
یو تضامني شرکت چه د تصفیي په حال کښې وي باید په ټولو هغو پاڼو او اسنادو کښې چه د شرکت په نامه تنظیمیږی (د تضامني شرکت تصفیه....) جمله زیاته شي او په پای کښې یې د تصفیي واک لرونکی مامور یا مامورین لاسلیک کړی. غیر له دی به شرکت ته کوم مسئولیت متوجه نشي.

**مادهٔ ۲۱۰:**
یک شرکت تضامنی که در حال تصفیه می‌باشد باید در تمام اوراق و اسنادیکه بنام شرکت تنظیم می‌گردد جمله (تصفیه شرکت تضامنی....) علاوه شده و در ذیل آن مامور و یا مامورین صلاحیت دار تصفیه امضاء نمایند. در غیر آن مسئولیت به شرکت متوجه نخواهد شد.

**۲۱۱ ماده:**
د شرکت له انحلال نه وروسته د شرکت د مالونو په نسبت د شریکانو د شخصي پوروالو په مقابل کښې د شرکت د پوروالو د ترجیح حق محفوظ دی.

**مادهٔ ۲۱۱:**
حق رجحان دائنین شرکت تضامنی به اموال شرکت بالمقابل دائنین شخصی شرکاء بعد از انحلال شرکت هم محفوظ است.

**۲۱۲ ماده:**
که د شرکت شته د تصفیي په حالت کښې د پورونو د تسویي دپاره کافي نه وي او د افلاس موجبات موجود شي، محکمه کولای شي چه په داسي حالت کښې په افلاس حکم صادر کړی.

(ظهر نویسی) یا پخپله پر چک باندی یا په یوه بل چک سره پیوسته پاڼې باندی کیږي. ظهر نویسی باید د (ظهر نویس) له خوا لاس لیک شي. که (ظهر نویس) یواځې بی د حامل له ذکره په لاس لیک کفایت کړی وی (ظهر نویسی) صحیح ده. سپینه (ظهر نویسی) د چک دظهر نویسی په خصوص کښې د (۴۸۳ تر ۴۸۸) مادو پوری مقررات د تطبیق وړ دی.

نیست.
ظهر نویسی اگر از طرف مخاطب به عمل آید، باطل است. ظهر نویسی بنام مخاطب حکم رسید را دارد.

**مادۀ ۵۶۱:**
ظهر نویسی یا بر خود چک یا بر یک ورقۀ ملحقۀ دیگر چک نوشته می‌شود. ظهر نویسی لازم است از طرف ظهر نویس امضاء شود. اگر ظهر نویس بدون ذکر حامل تنها به امضاء اکتفا نموده باشد، ظهر نویسی صحیح است (ظهر نویسی سفید) راجع به ظهر نویسی چک مقررات مواد (۴۸۳ الی ۴۸۸) قابل تطبیق است.

## درېيمه برخه
## ضمانت

**۵۶۲ ماده:**
د چک ضمانت په خصوص کښې د برات د ضمانت په باره کښې د ثلورمی برخی د (۴۹۹) تر (۵۰۱) مادو مقررات هم معتبر دی.

## حصۀ سوم
## ضمانت

**مادۀ ۵۶۲:**
مقررات مادۀ (۴۹۹) الی (۵۰۱) حصۀ چهارم راجع به ضمانت برات در خصوص ضمانت چک هم معتبر است.

## څلورمه برخه
## ښکارونه او ورکړه

**۵۶۳ ماده:**
چک د ضرورت له مخې د ورکړې وړ دی. هر هغه شرط چه په خلاف يې وی معتبر نه دی.

**۵۶۴ ماده:**
که چک په همغه ځای کښې چه صادر شويدی د ورکړې وړ وی نو چک لرونکی مکلف دی چه د صدور له نېټې څخه په پنځلسو ورځو کښې دهغه وجه وغواړی او که دمملکت له يوی نقطی څخه بلی نقطی ته صادر شوی وی نو ښايې چه د چک دصدور له نېټې څخه په موده د دوو مياشتو کښې وغوښتل شي.
د هغو چکانو په خصوص کښې چه له خارجه صادر شوی او بايد په افغانستان کښې ورکړل شي، هغه مقررات به چه په افغانستان کښې د صادر شويو چکونو په خصوص کښې وی رعايت شي مګر هغه موده چه ددی ډول چکانو لرونکی په هغې مودی

## حصهٔ چهارم
## ارائه و تأديه

**مادهٔ ۵۶۳:**
چک عند الرويت قابل تأديه است هر شرطيکه بر خلاف آن باشد، غير معتبر است.

**مادهٔ ۵۶۴:**
اگر چک در همان مکانيکه صادر شده قابل تأديه باشد، دارندهٔ چک مکلف است که در ظرف پانزده روز از تاريخ صدور وجه آنرا مطالبه کند و اگر از يک نقطه به نقطه ديگر مملکت صادر شده باشد، بايد در ظرف دو ماه از تاريخ صدور چک مطالبه شود.
در مورد چک هاييکه از خارج صادر شده و بايد در افغانستان پرداخته شود، مقررات راجعه به چک هاييکه در افغانستان صادر شده رعايت خواهد شد، ولی مدتيکه در ظرف آن دارنده اين چنين چک ها

کښې کولای شي د هغو وجه وغواړي، د صدور له نېټې څخه څلور میاشتې دی.

**۵۶۵ ماده:**
که د چک د صدور د محل او د ورکړې د محل تقویم مختلف وي نو د صدور د نېټې ورځ به هغه ورځ وګڼله شي چه د ورکړې د محل د تقویم له ورځې سره برابر وي.

**۵۶۶ ماده:**
که د چک لرونکی په قانوني مودو کښې د چک د وجه ورکړه ونه غواړي نو دعوی به یې ظهر نویس باندې وانه وریدله شي او که د چک وجه یو داسې سبب چه په مخاطب پورې اړه لري له منځه لاړه شي نو د چک لرونکی دعوی په صادرونکی هم مسموع نه ده مګر مخاطب وروسته د مودې له ختم څخه هم کولای شي چه چک ورکړي.

**۵۶۷ ماده:**
که د چک صادروونکی وروسته د هغه له صادرولو فوت یا بې اهله او بې واکه شي، د چک په

می‌تواند وجه آنرا مطالبه کند، چهار ماه از تاریخ صدور است.

**مادۀ ۵۶۵:**
اگر محل صدور و محل تأدیه چک تقویم مختلف داشته باشد، تاریخ صدور همان روز دانسته خواهد شد که با روز تقویم محل تأدیه مطابق باشد.

**مادۀ ۵۶۶:**
اگر دارندۀ چک در ظرف مواعد قانونی پرداخت وجه چک را مطالبه نکند، دعوی او علیه ظهر نویس مسموع نخواهد بود و اگر وجه چک به سببی که مربوط به مخاطب است از بین برود، دعوی دارندۀ چک علیه صادر کننده نیز مسموع نیست، ولی مخاطب بعد از اختتام موعد چک هم می‌تواند تأدیه کند.

**مادۀ ۵۶۷:**
اگر صادرکننده چک بعد از اصدار آن فوت یا واجد عدم صلاحیت و اهلیت شود، در

اعتبار کوم تأثیر نلری.

**۵۶۸ ماده:**
د هغه څوک چه د چک وجه په لاس راوړی، باید شایې رسید کړی. لرونکی کولای شي چه یوه برخه یې قبوله کړی، په دی صورت کښې هر څومره مبلغ چه لاس ته راوړی، د چک په شا رسید کړی.

**۵۶۹ ماده:**
که کوم چک د ورکړې وړ داسی پولونو باندی ولیکل شي چه د ورکړی د مملکت پول نه وی، د ورکړی وړ پولونه دمملکت په پولونو د ورکړې په ورځ کښې دهغه قیمت سره (دحامل په غوښتنه) په عمل راوړی.
که دښکاره کولو په وخت کښې پول تأدیه شوی نه وی، دچک خاوند کولای شي چه دخپل میل په اساس تقاضا وکړی چه زما پیسی دی د مملکت له پیسو څخه د ورځې دنرخ له مخه ارائه او یا تأدیه شي. دخارجي پیسو قیمت دهغه ځای له دود سره سم ټاکل کیږي.
سره له دی صاروونکی کولای شي چه شرط کیږدی چه د ورکړی وړ

اعتبار چک تأثیر ندارد.

**مادۀ ۵۶۸:**
کسیکه وجه چک را دریافت می‌کند باید ظهر آنرا رسید نماید. دارنده می‌تواند تأدیه قسمی را قبول نماید، دراین صورت، به اندازه مبلغیکهٔ دریافت داشته در ظهر چک رسید نماید.

**مادۀ ۵۶۹:**
اگر چکی به پولی قابل تأدیه نوشته شود که پول مملکت تأدیه نباشد، مبلغ قابل تأدیه را می‌توان به پول مملکت مطابق به قیمت آن در روز تأدیه (بخواهش حامل) بعمل آورد.
اگردر وقت ارائه پول تأدیه نشده باشد دارندۀ چک می تواند بر حسب میل خود تقاضا کند که تأدیه به پول آن مملکت از روی نرخ روز ارائه و یا نرخ روز تأدیه به عمل آید. قیمت پول خارجی بر طبق رواج محل تعیین می‌شود.
معذالک صادر کننده می‌تواند شرط گذارد که مبلغ قابل

مبلغ دی له هغه نرخ سره سم چه په چک کښې لیکل شوی دی، حساب شي.

## پنځمه برخه
## مخطط (کراس) او په حساب سره دانتقال وړ چکونه

**۵۷۰ ماده:**
صادروونکی یا چک لرونکی کولای شي چه په چک باندی خط (کراس) وکاږی. خط کښل عبارت دی دچک پر مخ له دوو متوازی کرښو څخه چه یا عام دی یا خاص.
که ددوو خطونو په منځ کښې څه شي ذکر شوی نه وی او یا د (بانکدار) یا د هغې معادله کومه بله کلمه لیکل شوی وی، دا خط کښل عام دی او که د (بانک لرونکی) نوم د دوو خطونو ترمنځ لیکل شوی وی نو دا خط کښل خاص دی. عام خط په خاص خط باندی تحویلیدای شي مگر د هغه عکس یا د خط او د بانک لرونکی او یا د بانک لرونکی دنوم محو کول جائز نه دی.

تأدیه بر طبق نرخی که در چک نوشته شده است، حساب شود.

## حصۀ پنجم
## چک های مخطط (کراس) و چک های قابل انتقال به حساب

**مادۀ ۵۷۰:**
صادر کننده و یا دارندۀ چک می‌تواند چک را خط (کراس) بکشد. خط کشیدن عبارت است از کشیدن دو خط متوازی بر روی چک که یا عام است یا خاص.
اگر در بین دو خط چیزی ذکر نشده باشد و یا کلمۀ (بانکدار) و یا کدام کلمۀ دیگری معادل آن نوشته باشد، این خط کشیدن عام است و اگر اسم (بانکدار) در بین دو خط نوشته شده باشد، این خط کشیدن خاص است. خط عام را می‌توان به خط خاص تحویل داد، مگر عکس آن و یا امحای خط و بانکدار و یا اسم بانکدار جایز نیست.

**۵۷۱ ماده:**

یو چک چه په عام طور خط وربانـدی کـښل شـوی وی نـو مخاطب یواځې (بانک لرونکی) یا خپل مشتری ته انتقال ورکولای شي. هغه چک چه په خاص ډول خط کش شوی وی نو مخاطب یې فقط هغه بانک لرونکی ته چه نوم یې لیکلی شوی او که بانک لرونکی مخاطب وی فقط خپل مشتری ته انتقال ورکولای شي. هغه بانک لرونکی چه نوم یې ذکر شوی دی کولای شي چه چک یو بل بانک لرونکی ته دتحصیل دپاره ور وسپاری. بانک لرونکی مخطط چک بیرته دخپلو مشتریانو یا بل بانک لرونکی په حساب کښې معامله کولای نشي مخاطب یا بانک لرونکی چه دپورتنیو مقرراتو رعایت ونه کړی، هر هغه ضرر چه پیدا کیږي دچک مبلغ ترانـدازی پوری مسئول دی.

**۵۷۲ ماده:**

صادروونکی یا چک لرونکی کولای شي چه د چک نقدی ورکړه په دی صورت منع کړی چه د چک پر مخ عرضاً (په حساب کی د

**مادهٔ ۵۷۱:**

یک چک که بطور عام خط کشیده شده باشد، مخاطب تنها به (بانکدار) و یا مشتری خود انتقال داده می‌تواند. چکی که بصورت خاص خط کشیده شده باشد، مخاطب فقط به بانک داریکه اسم او نوشته شده و یا اگر بانکدار مخاطب باشد فقط به مشتری خود انتقال داده می‌تواند. بانکداریکه اسم او ذکر شده است، می تواند چک را به بانکدار دیگری برای تحصیل تسلیم کند، بانکدار چک مخطط را به جز در حساب مشتریان خود و یا بانکدار دیگر نمی‌تواند معامله کند. مخاطب یا بانک داریکه مقررات فوق را رعایت نکند، برای ضرریکه تولید می‌شود تا به اندازهٔ مبلغ چک مسئول است.

**مادهٔ ۵۷۲:**

صادر کننده یا دارنده چک می‌تواند تأدیهٔ نقدی چک را به این صورت منع کند که بر روی چک عرضاً عباره (قابل معامله به

معاملی وړ دی) عبارت ولیکی (په حساب کی د ورکړی وړ دی) عبارت محوکول له چک څخه جائز نه دی.

## شپږ مه برخه
## دنه ورکړی له امله مراجعه

**۵۷۳ ماده:**

له ورکړی څخه دمنع راوړلو په صورت کښې چک لرونکی کولای شي چه شالیکونکو صادروونکو او نورو مسئولو کسانو ته مراجعه وکړي. لرونکی کولای شي چه له لاندنیو دلایلو څخه په یو دلیل سره له د ورکړی څخه امتناع په اثبات ورسوی:

۱- د یوی رسمی پاڼې په ذریعه اعتراض.

۲- د مخاطب له خوا دچک په شالیکنه سره دنېټې له قید سره.

۳- د تجارتی محکمی تصدیق چه د نېټې په قید د چک په ښکاره کولو مبنی وی.

**۵۷۴ ماده:**

اعتراض باید پخوا له هغې مودی تیریدلو څخه چه دښکاره کولو

حساب است) را بنویسد. محو عباره (قابل تأدیه به حساب است) از چک جایز نیست.

## حصۀ ششم
## مراجعه بنا بر عدم تأدیه

**مادۀ ۵۷۳:**

در صورت امتناع از تأدیه، دارندۀ چک می‌تواند به ظهر نویسان صادر کننده چک و اشخاص مسئول دیگر مراجعه کند. دارنده می‌تواند با یکی از دلایل ذیل امتناع از تأدیه به اثبات برساند:

۱- اعتراض توسط یک ورقه رسمی.

۲- تحریر در ظهر چک از طرف مخاطب با قید تاریخ.

۳- تصدیق محکمۀ تجارتی مبنی بر ارایۀ چک به قید تاریخ.

**مادۀ ۵۷۴:**

اعتراض باید قبل از انقضای مدتیکه برای ارائه مقرر

دپاره مقرره ده، عملي شي.
که چک په وروستنۍ مقرره ورځ ښکاره کړی شي نو اعتراض ممکن دی چه د کار په هغه ورځ چه وروسته له هغه راځي، عملي کړی.

**۵۷۵ ماده:**

له اعتراض څخه وروسته له ورکړې څخه دامتناع په صورت کښې چک لرونکی کولای شي چه خپل شاليکونکی يا صادروونکی ته د هغه کار په څلورو ورځو کښې چه د اعتراض له ليکلونه وروسته راځي، اطلاع ورکړي. هرشاليکونکی بايد ده نه کار په څلورو ورځو کښې چه وروسته له اطلاع اخيستلو څخه راځی، له نه ورکړې څخه خپل پخواني شاليکونکی ته خبر ورکړي او په دې اطلاع کښې دې د هغو کسانو نوم او ادرس ذکر کړي چه پخوانۍ اطلاع يې ورکړې ده. په همدې صورت دې په مسلسل ډول تر صادروونکي پورې ورسيږي.
که چک ضمانت شوی وي، بايد په همغه موده کښې

است، عملی شود.
اگر چک در آخرين روز مقرره ارائه شود، اعتراض را ممکن است در روز کاری که بعد از آن می آيد، عملی ساخت.

**مادۀ ۵۷۵:**

در صورت امتناع از تأديه پس از اعتراض دارندۀ چک می‌تواند به ظهر نويس خود و يا صادر کننده در داخل چهار روز کاری که بعد از تحرير اعتراض می آيد اطلاع بدهد. هر ظهر نويس بايد در داخل چهار روز کاری که بعد از گرفتن اطلاع می آيد، از عدم تأديه به ظهر نويس ماقبل خود خبر بدهد. و درين اطلاع اسم و آدرس اشخاصی را که اطلاع سابق را داده اند، ذکر نمايد و به همين صورت، مسلسلاً تا به صادر کننده برسد.
اگر چک ضمانت شده باشد، بايد در داخل همان مدت به

ضامن ته هم خبر ورکړ شي.
اطلاع ممکنه ده چه د چک په اعاده او یا په راجستری لیک سره د پوستی په ذریعه اجراء شي.
د پوستې د رسید نېټې ته د اطلاع د مودی په ټاکلو کښې اعتبار ورکاوه کیږي.
هغه څوک چه په ټاکلی موده کښې اطلاع ورنکړي، خپل حقوق له لاسه نه ورکوی، مگر که دده دغفلت له مخې کوم ضرر پیښ شوی وی، د هغه دجبران مسئول دی.
سره له هغه هم، دده د مسئولیت اندازه د چک له مندرجه مبلغ څخه زیاتیدای نشي.

**۵۷۶ ماده:**

د چک حامل کولای شي چه پر ټولو هغو کسانو باندی چه په چک کښې مسئولیت لری، په گډه سره یا په یواځې صورت دعوی اقامه وکړی او پدی کار کښې دشالیکونکی د ترتیب په رعایت مکلف نه دی او همدغه حق هر یو بل تأدیه کوونکی شخص هم لری.
له مسئولو اشخاصو څخه چه پر یوه شخص باندی دعوی کول پر نورو اشخاصو باندی ددعوی کولو

ضامن هم خبرداده شود.
اطلاع ممکن است با اعادۀ چک و یا با مکتوب راجستری توسط پوسته اجراء شود.
تاریخ رسید پوسته در تعیین موعد اطلاع اعتبار داده می‌شود.
شخصیکه در داخل مدت معینه اطلاع ندهد، حقوق خود را از دست نمی دهد ولی اگر بنابر غفلت او کدام ضرری عاید شده باشد، مسئول جبران آن میباشد.
معذالک، اندازه مسئولیت او از مبلغ مندرجه چک اضافه تر شده نمی‌تواند.

**مادۀ ۵۷۶:**

حامل چک می‌تواند بر علیه تمام اشخاصی‌که در چک مسئولیت دارند، مجتمعاً یا منفرداً اقامۀ دعوا نماید و درین کار مکلف به رعایه ترتیب ظهر نویسی نمی‌باشد و همین حق را هر شخص تأدیه کننده دیگر نیز دارا می‌باشد
دعوی بر علیه یکی از اشخاص مسئول، مانع دعوی بر علیه اشخاص دیگر

مانع نه گرځي.

**۵۷۷ ماده:**

دچک حامل یا تأدیه کوونکی کولای شي چه له مسئول شخص څخه لاندنی مصارف وغواړي:

۱- د چک نه ورکړی شوی مبلغ.

۲- ټکټ پولی.

۳- د اعتراض او نورو مصارف چه متحمل شوی وی.

**۵۷۸ ماده:**

هر مسئول شخص چه د مراجعی مورد واقع شوی وی، کولای شي چه د ورکړی په بدل کښې چک سره له اعتراضه او رسیده وغواړي. هغه شالیکونکی چه چک یې اخیستی او تأدیه کړی وی، کولای شي چه خپله شالیکنه او د وروستیو شالیکونکو شالیکنی باطله کړی.

**اوومه برخه**

**د چک د نسخو تعدد**

**۵۷۹ ماده:**

په متعددو نسخو د چک صدور ممکن دی.

پدی صورت کښې باید هره نسخه

نیست.

**مادۀ ۵۷۷:**

حامل چک یا تأدیه کننده می‌تواند از شخص مسئول مصارف ذیل را مطالبه کند:

۱- مبلغ تأدیه ناشده چک.

۲- تکت پولی.

۳- مصارف اعتراض و غیره که متحمل شده باشد.

**مادۀ ۵۷۸:**

هر شخص مسئول که مورد مراجعه واقع شده باشد، می‌تواند در بدل تأدیۀ چک را با اعتراض و رسید تقاضا نماید. ظهر نویسی که چک را گرفته و تأدیه نموده باشد، می‌تواند ظهر نویسی خود و ظهر نویسی ظهر نویسان مابعد را ابطال نماید.

**حصۀ هفتم**

**تعدد نسخه های چک**

**مادۀ ۵۷۹:**

صدور چک به نسخه های متعدد ممکن است.

دراین صورت باید هر نسخه

واحده نمره ولری او په هغه کښې تصریح شي چه د نسخو شمیر څو دی او د لومړۍ نسخې په موجب وجه د ورکړې وړ ده.

**۵۸۰ ماده:**
څرنګه چه د لومړۍ نسخې په ذریعه ورکړه اجراء شي، نورې نسخې یې له اعتباره وتلې دي.

### اتمه برخه
### ساخته کاري او تحریفات

**۵۸۱ ماده:**
د (**۵۳۶** او**۵۳۷**) مادو احکام چه په ساخته کاري او تحریفاتو پورې اړه ولري د چک په باره کښې هم مرعی الاجراء دي.

### نهمه برخه
### د زمانې تېریدل

**۵۸۲ ماده:**
هغه دعوی چه حامل یې په شالیکونکو او صادروونکو باندې کوي د ښکارونې د مودې له تیریدو څخه شپږ میاشتې وروسته ساقطیږي. همدا ډول د هر یوه

دارای نمرۀ واحد بوده و در آن تصریح شود که تعداد نسخه چند است و به موجب نسخه اول وجه قابل تأدیه می‌باشد.

**مادۀ ۵۸۰:**
چون تأدیه بذریعه نسخۀ اول صورت گرفته، نسخه های دیگر از اعتبار ساقط است.

### حصۀ هشتم
### ساخته کاری و تحریفات

**مادۀ ۵۸۱:**
احکام مواد (**۵۳۶** و **۵۳۷**)که مربوط ساخته کاری و تحریفات می‌باشد در بارۀ چک نیز مرعی الاجراء است.

### حصۀ نهم
### مرور زمان

**مادۀ ۵۸۲:**
دعاوی ای‌که حامل علیه ظهر نویس ها و صادر کنندۀ اقامه می‌کند، شش ماه بعد از انقضای مدت ارائه ساقط است. همچنین دعوی هر یک از

مسئول دعوی د وجه د ورکړې له نېټې څخه شپږ میاشتې وروسته ساقطیږي. د (**۵۳۹**)مادی حکم د چک په باره کښې هم معتبر دی.

**۵۸۳ ماده:**
د (**۵۴۰** او **۵۴۱**) مادو عمومی احکام چه د برات او حجت په خصوص کښې دی، د چکونو په باره کښې هم د تطبیق وړ دی.

## څلورم فصل
## د تجارتی اسنادو ضیاع

**۵۸۴ ماده:**
که د یوه تجارتی سند حامل خپل مالکیت د بلا انقطاع شالیکنو په ذریعه په اثبات ورسوی، مجبور نه دی چه هغه وجه چه اخیستی یې ده اعاده کړی، مگر دا چه ثابت شي چه هغه یې په غیر قانونی ذریعو په لاس راوړی دی.

**۵۸۵ ماده:**
تجارتی سند چه له حامل څخه ورک شوی وی، کولای شي چه دهغه بطلان په مربوطه محکمه

مسئولین از تاریخ تأدیه وجه بعد از انقضای شش ماه ساقط می‌شود. حکم مادهٔ (**۵۳۹**) دربارهٔ چک نیز معتبر است.

**مادهٔ ۵۸۳:**
احکام عمومی مواد (**۵۴۰** و **۵۴۱**) که راجع به برات و حجت می‌باشد، درباره چک ها نیز قابل تطبیق است.

## فصل چهارم
## ضیاع اسناد تجارتی

**مادهٔ ۵۸۴:**
اگر حامل یک سند تجارتی مالکیت خود را ذریعهٔ ظهر نویسی های بلا انقطاع به اثبات برساند، مجبور نیست وجه آنرا که اخذ نموده اعاده بدارد، مگر این که ثابت شود که آنرا به ذرایع غیر قانونی بدست آورده است.

**مادهٔ ۵۸۵:**
سند تجارتی ایکه از نزد حامل مفقود شده باشد، می‌تواند بطلان آنرا در محکمهٔ مربوطه که مکلف

کښې چه تجارتی دعوو په اوریدو مکلفه دی، وغواړی.
د تملک او ورکړی سند او کیفیت ته دی تر وسی پورې شرح ورکړی.
پدی صورت چه محکمه د درخواست کوونکی دلائل کافی وبولی، که د برات ورک شوی سند قبول شوی وی نو هغه قبلوونکی ته، او که دچک یا برات سند قبول شوی نه وی نو هغه صادروونکی او مخاطب ته، او که سند د حامل په وجه کی وی نو مخاطب ته د هغه د وجه د نه ورکړی امر په تحریری ډول ورکوی.
دسند محتویات او دهغه د ښکارونی لزوم په دوو میاشتو کښې درسمی اوغیر رسمی جریدو په ذریعه درې کرته اعلانوی.
ددی مودی په پای کښې به د سند په ابطال کښې لازم تصمیم ونیسی.
دا موده د هغه سند په باره کښې چه موده یې پوره شوی وی په رسمی جریدو کښې د نشر شوی اعلان د نېټې له سره او د هغه سند په باره کښې چه موده یې له دریم اعلان څخه وروسته پوره کیږي، د هغه د مودی د پوره کیدو له سره او

به استماع دعاوی تجارتی است، ادعاء نماید.
سند و کیفیت به تملک و فقدان راحتی الامکان شرح دهد.
در صورتی که محکمه دلائل درخواست کننده را کافی بداند، اگر سند مفقود برات قبول شده باشد، آنرا به قبول کننده و اگر سند چک یا برات قبول ناشده باشد، به صادر کننده و مخاطب اگر سند در وجه حامل باشد، به مخاطب عدم تأدیه وجه آنرا تحریراً امر می‌دهد.
محتویات سند و لزوم ارائه آنرا در ظرف دو ماه توسط جراید رسمی و غیر رسمی سه مرتبه اعلان می نماید.
در ختم این مدت تصمیم لازم را در ابطال سند اتخاذ خواهد نمود.
این مدت راجع به سندیکه موعد آن به سر رسیده باشد، سر از تاریخ اعلان منتشرهٔ در جریدهٔ رسمی و درباره سندیکه موعد آن بعد از اعلان سوم بسر می‌رسید، سر از تاریخ به

دهغه سند په باره کښې چه ورکړه يې په ښکارونه پورې مشروطه وي او ددريم اعلان په نېټه کښې دهغه دښکاروني موده لانه وي رسيدلې، د ښکاروني د مودې د وروستۍ ورځې له سره معتبر دی.

**۵۸۶ ماده:**

هغه څوک چه د سند بطلان غواړي، کولای شي چه د سند د اساسي محتوياتو په خصوص کښې يوه بيانيه ترتيب کړي او په هغه موده او محل کښې چه قانوناً ټاکلې شوې وي، مخاطب ته ورولېږي همدغه پاڼه د ورکړې او نه ورکړې او ښکاروني په خصوص کښې د اعتراض په منزله ګڼل کيږي.

**۵۸۷ ماده:**

که سند د هغې مودې په پای کښې چه ټاکلې شوې ده ښکاره نشي نو محکمه کولای شي چه د مدعی د غوښتنې په اثر دسند دابطال په باره کښې حکم صادر کړي او هغو کسانو ته يې چه په (۵۸۵) ماده کښې ذکر شوې دي ابلاغ کړي.

د حکم د ابطال په موجب مدعی

سر رسيدن موعد آن و راجع به سنديکه تأديه آن مشروط به ارائه بوده و در تاريخ اعلان سوم مدت ارائه آن هنوز نرسيده باشد، سر از روز اخير مدت ارائه معتبر است.

**مادۀ ۵۸۶:**

شخصی‌که خواهش بطلان سند را می‌نمايد، می‌تواند بيانيۀ مبنی بر محتويات اساسی سند ترتيب و در مدت و محليکه قانوناً تعيين شده باشد، به مخاطب ارسال نمايد. همين ورقه راجع به تأديه و عدم تأديه و رؤيت به منزله اعتراض تلقی می‌شود.

**مادۀ ۵۸۷:**

اگر سند در خاتمۀ مدتی که تعيين شده ارائه نشود، محکمه می‌تواند در اثر تقاضای مدعی، راجع به ابطال سند حکم صادر و به اشخاصی‌که در مادۀ (۵۸۵) ذکر شده ابلاغ نمايد.

به موجب حکم ابطال، مدعی مثل

د ضایع شوی اصل سند د خاوند په توگه خپل حقوق د برات له قبلوونکی او که برات قبول شوی نه وی او یا حجت او چک وی نو له صادروونکی څخه وغواړی.
هغه څوک چه په ده باندی دعوی کیږی حق لری چه د حکم د صدورله نېټې څخه تر یوې میاشتې پورې محکمی ته رجوع وکړی او د محکوم له نه استحقاق په اثبات ورسوی.

اینکه اصل سند ضایع شده را مالک باشد، حقوق خود را از قبول کننده برات و اگر برات قبول نشده باشد و یا حجت و چک باشد، از صادرکننده مطالبه نماید.
شخصی‌که علیه او دعوی می‌شود حق دارد که از تاریخ صدور حکم تا یک ماه به محکمه رجوع و عدم استحقاق محکوم له را به اثبات برساند.

**۵۸۸ ماده:**

که سند د اعلان د مودی تر پایه پوری ټاکلی محکمی ته ښکاره کړی شي نو محکمه د ابلاغ په خصوص کښې د (**۵۸۵**) مادی هدایت اجراء کوی او له اصول سره سم په دعوی رسیدگی کوی او حکم صادروی.

**مادۀ ۵۸۸:**

اگر سند الی ختم مدت اعلان به محکمۀ معین ارائه شود، محکمه هدایت مادۀ (**۵۸۵**) راجع به ابلاغ را اجراء و مطابق اصول به دعوی رسیدگی نموده؛ حکم صادر می نماید.

## څلورم باب
## تجارتی تعهدات
## لومړی فصل- عمومي احکام

## باب چهارم
## تعهدات تجارتی
## فصل اول- احکام عمومی

**۵۸۹ ماده:**

که دوه تنه یا زیات کسان د یوی

**مادۀ ۵۸۹:**

اگر دو شخص و یا اشخاص

معاملی په ضمن کښې چه که یو تن ته یا دوی ټولو ته تجارتی ماهیت ولری د دریم کس په مقابل کښې په ګډه سره تعهد وکړی، په دی صورت چه دهغه په خلاف په قرارداد کښې تصریح شوی نه وی نو په ګډه سره مسئول بلل کیږي. عین همدغه حکم پرهغو کسانو باندی چه د پورونو ضمانت کوی هم تطبیقیږی.

**۵۹۰ ماده:**

هغه پیسې چه دکوم تجارتی عقد په نتیجه کښې یې ورکړه ضروری وګرځي او په دننه د مملکت کښې قانونی رواج ونه لری نو د هغو د وعدی په تیریدو کښې نظر د ورځې نرخ ته د هغو تبدیل په افغانی سره جائز دی.

مګر د خارجی پیسو د ورکړی د عقد په وخت کښې چه قانوني رواج ونه لری تصریح شي او یا په دی معنی کوم بل عبارت استعمال شوی وی نو د عین خارجی پیسو د ورکړی شرط معتبر دی.

**۵۹۱ ماده:**

هغه څوک چه خپل تجارتی تعهد د

متعدد در ضمن یک معاملهٔ که خواه برای یک نفر و یا همه ایشان ماهیت تجارتی را دارا باشد در مقابل شخص ثالثی مشترکاً داخل تعهد شوند، درصورتی‌که خلاف آن در قرارداد تصریح نشده باشد، مجتمعاً مسئول شمرده می‌شوند. عین همین حکم بر اشخاصی‌که ضمانت دیون را می نمایند نیز تطبیق می‌شود.

**مادهٔ ۵۹۰:**

پولیکه در نتیجهٔ کدام عقد تجارتی واجب التأدیه شود و در داخل مملکت رواج قانونی نداشته باشد، در انقضای وعده تبدیل آن نظر به نرخ روز به پول افغانی جائز است.

لیکن اگر در حین عقد تأدیه پول خارجی که رواج قانونی نداشته باشد تصریح شود و یا به این معنی کدام عبارت دیگری استعمال شده باشد شرط تأدیه عین پول خارجی معتبر است.

**مادهٔ ۵۹۱:**

شخصی‌که تعهد تجارتی

حیلی او تقصیر په اثر په ځای نکړی او یایې په ځای کولو کښې ځنډ وکړی نو وروسته له هغه چه رسما یا د راجستری لیك په لیږلو هغه ته اخطار کیږي، مجبور دی چه هغه خساره چه متعهدله ته پیښه شوی ده سره له هغې ګټې چه ورڅخه محروم شوی دی، جبران کړی.
مجبره اسباب (فورس ماژور) له دی حکم څخه وتلی دی.

**۵۹۲ ماده:**
که متعهد خپل تعهد مات کړی او یا کوم تعهد چه په مطلق صورت په یوه ټاکلی وخت او یا په یوه ټاکلی موده کښې لازم الاجراء وی په ځای نکړی او یا د تعهد موضوع د یوه عمل له نه کولو څخه عبارت وی او هغه اجراء کړی، بی له اخطاره د خساری د جبران دعوی کیدلی شي.

**۵۹۳ ماده:**
که هغه مبلغ چه په تعهد کښې د خساری د جبران په نامه ټاکلی شوی وی د هغې ګټې له اندازی څخه چه متعهد له د تعهد په ځای کولو په صورت کښې

خود را در اثر حیله و تقصیر ایفاء نکند و یا در ایفای آن تأخیر نماید، بعد از اینکه رسماً و یا به ارسال مکتوب راجستری به او اخطار می‌شود مجبور است که خسارهٔ را که متعهدله دچار شده با مفادیکه از آن محروم گردیده جبران کند.
اسباب مجبره (فورس ماژور) ازین حکم مستثنی است.

**مادهٔ ۵۹۲:**
اگر متعهد تعهد خود را نقض نماید یا تعهدی را که بصورت مطلق در یک وقت معین و یا در ظرف یک مدت معین لازم الاجراء باشد ایفاء ننماید و یا موضوع تعهد عبارت از نکردن یک عمل باشد و آنرا اجراء نماید، بدون اخطار دعوی جبران خساره شده می‌تواند.

**مادهٔ ۵۹۳:**
اگر مبلغی که در تعهد بنام جبران خساره معین شده باشد از مقدار منفعتی که متعهدله در صورت ایفای تعهد حاصل می‌نمود اضافه

حاصلوله زیات هم شي، محکمه کولای نشي چه اندازه یې ټیټه کړي.
پدې صورت چه په قرارداد کښې د هغه په خلاف کوم صراحت نه وی نو متعهدله د هغه مبلغ په اخیستلو چه د خسارې د جبران په نامه یې مقرر کړیدی د تعهد د په ځای کولو په عوض نه مجبوریږي.
که هغه ضرر چه متعهدله په هغه باندې اخته شي، له هغه مبلغ څخه چه د خسارې د جبران په نامه ټاکل کیږي زیات وی نو په دې صورت که په قرارداد کښې د هغه په خلاف کوم صراحت موجود نه وی نو متعهد مجبور دی چه هغه اضافه مبلغ هم تأدیه کړي.

**۵۹۴ ماده:**

که د تعهد نه په ځای کېدل دداسې علت په اثر وی چه له پخوا څخه د پیش بینی وړ نه وی او یا د پوروال له تقصیر څخه پیدا شوی وی او یا د تعهد په اجراء کښې د متعهدله له خوا د احتراز قید قبول شوی وی، متعهد په هیڅ ډول د خسارې په جبران مکلف

هم شود، محکمه نمی‌تواند اندازۀ آنرا تنزیل دهد.
در صورتی‌که برخلاف آن در قرارداد صراحت نباشد، متعهدله به اخذ مبلغی‌که بنام جبران خساره مقرر داشته است به عوض ایفای تعهد مجبور نمی‌شود.
اگر ضرری‌که متعهد له به آن دچار شود از مبلغی که بنام جبران خساره معین می‌شود زیادتر باشد، در صورتی‌که در قرارداد صراحتی بر خلاف آن موجود نباشد، متعهد مجبور است مبلغ اضافی را هم تأدیه کند.

**مادۀ ۵۹۴:**

اگر عدم ایفای تعهد در اثر علتی باشد که قبلاً قابل پیش بینی نبوده و یا از تقصیر دائن تولید شده و یا در اجرای تعهد قید احترازی از جانب متعهدله قبول شده باشد، متعهد به هیچ نوع به جبران خساره

کیدای نشي.

**۵۹۵ ماده:**

د بیعانی ورکول د عقد دلیل بلل کیږي. د طرفینو د تعهد په ځای کولو په حال کښې بیعانه محاسبه کیږي.

که عقد د طرفینو په رضا او یا نظر کوم بل سبب ته چه د خساری د جبران موجب نه وی فسخ شي نو بیعانه بیرته خپل خاوند ته ورکوله کیږي.

**۵۹۶ ماده:**

په دی صورت چه دهغه په خلاف په قرارداد کښې او یا په تجارتی عرف کښې مقررنه وی نو هغه طرف چه د خپل تقصیر په اثر تعهد نه په ځای کوی که یې بیعانه ورکړی وی د هغې د غوښتنې حق نه لری او که کوم شخص د خپل تقصیر له مخې تعهد په ځای نکړی نو د بیعانی اخیستونکی برسېره په بیعانی بیرته ورکولو مجبور دی چه د هغې معادل هم مقابل جانب ته ورکړی.

په دواړو صورتونو هغه طرف چه خپل تعهد په ځای نکړی، مجبور دی چه د هغه بل طرف

مکلف شده نمی‌تواند.

**مادهٔ ۵۹۵:**

دادن بیعانه دلیل عقد شمرده می‌شود درحال ایفای تعهد طرفین بیعانه محاسبه می‌شود.

اگر عقد در اثر رضای طرفین ویا نظر به سبب دیگریکه موجب جبران خساره نباشد فسخ گردد، بیعانه به صاحب آن اعاده می‌شود.

**مادهٔ ۵۹۶:**

درصورتیکه برخلاف آن در قرارداد ویا عرف تجارتی مقرر نباشد، طرفیکه در اثر تقصیر خود به ایفای تعهد نمی پردازد، اگر بیعانه داده باشد، حق مطالبهٔ آنرا ندارد و اگر شخصی تعهد را بنابر تقصیر خود ایفاء نکند، گیرنده بیعانه علاوه از اعادهٔ بیعانه مجبور است که معادل آنرا هم بجانب مقابل بپردازد.

در هردو صورت طرفیکه تعهد خود را ایفاء نکند، مجبور است خساره طرف دیگر

خساره که څه هم د بیعانی له پیسو څخه زیاتی وی، ورکړی.

**۵۹۷ ماده:**

که یو له طرفینو څخه د ټاکلی مبلغ د ورکړی یا د ورکړی د وعدی په مقابل کې له عقد څخه د رجوع حق ځان ته شرط ایښی وی نو د مقابل طرف د تعهد په ځای کولو شروع او یا د تعهد په ځای کولو قبول د رجوع د حق د اجراء مانع ګرځي.

**۵۹۸ ماده:**

د تجارتی پور ټکټ پولی وروسته له ټاکلیو ورځو تیریدو څخه او دټاکلی مودی د تعیین په صورت کښې د اخطار له نېټې څخه حسابیږی.

**۵۹۹ ماده:**

هغه څوک چه تجارتی اوصاف ولری او یوه تن تاجر یا غیر تاجر ته داسی یو کار وکړی چه دده له تجارتی ایجاباتو څخه وی او یا یې په بل صورت ګټه په لاس راوړی وی، حق لری چه د هغه کار عوض وغواړی او وایې خلی.

برسیره پر دی، حق لری هغه مبلغ

را ولو اینکه از پول بیعانه اضافه هم باشد، جبران کند.

**مادۂ ۵۹۷:**

اگر یکی از طرفین در مقابل تأدیه و یا وعده تأدیه مبلغ معین، حق رجوع از عقد را برای خود شرط گذاشته باشد، شروع ایفای تعهد و یا قبول ایفای تعهد طرف مقابل مانع اجرای حق رجوع می گردد.

**مادۂ ۵۹۸:**

تکت پولی دین تجارتی بعد از انقضای ایام معین و در صورت تعیین موعد معین از تاریخ اخطار حساب میشود.

**مادۂ ۵۹۹:**

شخصی که واجد اوصاف تجارتی بوده برای یکنفر تاجر و یا غیر تاجر عملی را انجام دهد که از ایجابات تجارتی وی باشد و یا بصورت دیگری تحصیل منفعت نموده باشد، حق دارد عوض آن عمل را مطالبه و اخذ نماید.

علاوه بر این حق دارد مبلغی

چه دکار د اجراء او یا د ګټې په لاس راوړلو د پاره یې په پیشکی ډول ورکړی وي او هغه مصارف چه لګولي یې وي د لګښت لـه نېټې څخه سره له ټکټ پولۍ وغواړي.

**۶۰۰ ماده:**

ټکټ پولي په تجارتي چاروکښې د دواړو خواوو په موافقه په آزاد ډول ټاکل کیدای شي.

**۶۰۱ ماده:**

تجارتي تعهد په داسي محل کښې چه په قرارداد کښې ټاکلی شوی وی او کـه پـه قرارداد کـښې ټاکـل شوی نه وی نو په داسي محل کښې چه نظر د تجارت ماهیت او مقصد تـه ضـمناً ټاکـل کیـدای شي، لازم الاجـراء دی. کـه د اجـراء محـل پـه قرارداد کښې تصریح شوی نـه وی او ضـمناً هـم ونـشي ټاکلیـدای نـو متعهـد مجبور دی چه خپل تعهد په هغه محل کښې چه دده تجارت خانـه وی او کـه تجـارت خانـه ونـه لـری نـو د خپلی استوګنې پـه ځـای کښې اجراء کړی.

**۶۰۲ ماده:**

د یـوه مبلـغ د تـسویی تعهـد کـه د

---

را کـه بـرای اجـرای کـار و یـا تحـصیل منفعـت بـطور پیـشکی داده و مـصارفی را کـه بـعمـل آورده باشد، از تـاریخ مصرف بـا تکت پولی طلب نماید.

**مادۀ ۶۰۰:**

تـکـت پـولی در امـور تجارتی بـه اسـاس موافقـۀ جانبیـن آزادانـه تعیین شده می‌تواند.

**مادۀ ۶۰۱:**

تعـهد تجـارتی در محلـی کـه در قـرارداد معـین شـده و اگـر در قـرارداد معـین نـشده بـاشد، در مـحلی کـه نـظر بـه مـاهیت و مـقـصد تجـارت ضـمناً مـعین شـده می‌توانـد، لازم الاجـراء است. اگر محـل اجـراء در قـرارداد تـصریح نشده و ضمناً نـیز معـین شـده نتوانـد، متعهـد مـجبور اسـت تعهد خود را بـه محلیکه تـجارت خانه او مـی‌باشد و اگـر تـجارت خـانه نداشـته باشـد، در مـحل اقامت خویش اجراء کند.

**مادۀ ۶۰۲:**

تعـهد تـسویـه یـک مبلـغ اگر

هغه په خلاف په صريح يا ضمني ډول په قرارداد کښې ذکر شوی نه وی د پوروال د تجارتخانی په محل کښې او که تجارت خانه موجوده نه وی نو دده د استوګنې په شخصی ځای کښې په ځای کيږي او پوروړی د تسويی د لګښت او خسارې د غوښتنې حق نه لری.

بر خلاف آن بطور صريح يا ضمنی در قرارداد ذکر نشده باشد، در محل تجارت خانهٔ دائن و اگر تجارت خانه او موجود نباشد، در اقامتگاه شخصی او ايفاء می‌شود و مديون حق مطالبه مصارف و خساره تسويه را ندارد.

**۶۰۳ ماده:**

د يوه تعهد د په ځای کولو غوښتنه چه د اجراء وخت يې په مقاوله کښې ټاکلی شوی نه وی، په هر وخت کښې ممکن دی. مګر هغه تعهد چه نظر و عرف او د معاملی څرنګوالی ته له عقد څخه د يوې ټاکلی مودی له تيريدو څخه وروسته د اجراء وړوی نشي کولای چه متعهد ددی مودی له تيريدو څخه پخوا په اجراء باندی مجبور کړی.

**مادهٔ ۶۰۳:**

خواهش ايفای يک تعهد که زمان اجرای آن در مقاوله تعيين نگرديده باشد، در هر زمان ممکن است وليکن تعهدی‌که نظر به عرف و يا چگونگی معامله بعد از مرور يک مدت معين از عقد قابل ايفاء باشد، نمی‌توان متعهد را قبل از انقضای مدت مذکور به ايفاء مجبور ساخت.

**۶۰۴ ماده:**

که شرط شوی وی چه تعهد د هغې مودی په منځ کښې چه صراحتاً يا ضمناً ټاکلی شويده اجراء شي نو لازم دی چه د هغې مودی له ختم نه

**مادهٔ ۶۰۴:**

اگر شرط شده باشد که تعهد در بين مدتيکه صراحتاً و يا ضمناً تعيين شده ايفاء گردد، لازم است قبل از ختم آن مدت اجراء

پخوا اجراء شي.
او کــه د ختــم مــوده د عمومــی تعطیل له ورځې سره سمه وی نو د ختم له ورځې څخه دی لږ تر لږه یــوه ورځ پخــوا اجــراء شــي. کــه پوروړی د مودی له ختم څخه پخوا د پور د ورکړې اجازه ولری په دی صورت چه د هغه په خلاف کوم عرف او عادت وجود ونلری، نشي کولای چه بی د پوروال له رضا څخه پور ټیټ کړی.

**۶۰۵ ماده:**
که د هغو شیانو چه تسلیم یې تعهد شوی دی د ډول او وصف په خصوص کښې په مقاوله کښې کومه تصریح موجوده نه وی، متعهد کولای شي چه له هغو شیانو څخه چه وصف او نوعیت یې متوسط وی ورکړی؛ مګر په هغه شان چه متعهد د اعلی جنس په ورکولو باندی مجبور ندی، د ادنی جنس ورکول هم ورته مجاز نه دی.

**۶۰۶ ماده:**
هغه عقد چه پر دواړو طرفو باندی الزام ږدی ترڅو یو طرف خپل تعهد په ځای نکړی، بل طرف د تعهد په

شــود.
اگــر خــتــم مــدت مــصادف بــا روز تــعطیل عــمومی بــاشد، اقــلاً یکروز قــبل از روز خــتــم ایفاء گــردد. اگــر مدیون قبل از خــتم موعــد اذن تأدیــهٔ دیــن را داشــته بــاشد، در صورتــی‌کــه عرف و عادتی بــر خلاف آن وجود نداشته باشد، نمی‌تواند بدون رضــای دائــن دیــن را تنزیــل کند.

**مادهٔ ۶۰۵:**
اگــر در مقاوله راجع بــه نــوع و وصف اشــیایی کــه تسلیم آن تــعهد شــده اســت تــصریحی موجود نباشد، متعهد می‌تواند از اشیایــی کــه دارای وصــف و نــوعیت متوسط باشند بدهد؛ ولی همانطوریکه متــعهد مجبور بــه دادن جــنس اعــلــی نیــست، بــه دادن جنس ادنــی هــم مــجــاز نمی باشد.

**مادهٔ ۶۰۶:**
عــقدیــکه طرفیــن را الــزام مــی‌نماید تــا یک طــرف تــعهد خــویش را ایــفاء نــکند، طــرف

اجراء کولو باندی مجبور نه دی، مگر که یو طرف نظر د قرارداد صراحت او یا د معاملی ماهیت او یا نظر و جاری عرف ته یو طرف د تعهد په اجراء باندی تر بل طرف له پخوا څخه مکلف وی که څه هم بل طرف خپل تعهد نه وی اجراء کړی، د هغه تعهد په اجراء باندی مکلف دی.

**۶۰۷ ماده:**

په دی صورت چه یو طرف خپل تعهد اجراء کړی او بل طرف یې اجراء نکړی نو اجراء کوونکی کولای شي چه یوه اطلاعیه ولیږی په دی شان چه که بل طرف په مناسبه موده کښې تعهد اجراء کولو ته اقدام ونکړی نو عقد به فسخ شي او پس له هغه محکمی ته مراجعه او د قرارداد فسخ غوښتلی شي. هغه طرف چه د فسخ دپاره محکمی ته مراجعه کوی، د تعهد د اجراء تقاضا نشي کولای د فسخ د دعوی له اقامی نه وروسته څرنگه چه محکمه نشي کولای مدعی علیه ته د تعهد د اجراء دپاره مهلت ورکړی، په همغه صورت نشي کولای هغه پیشنهاد

دیگر به ایفای تعهد مجبور نیست، لیکن اگر یکطرف نظر به صراحت قرارداد و یا ماهیت معامله و یا نظر به عرف جاریه مقدمتر از طرف دیگر به اجرای تعهد مکلف باشد ولو که طرف دیگر تعهد خود را ایفاء ننموده باشد، به اجرای تعهد مذکور مکلف است.

**مادۀ ۶۰۷:**

در صورتی‌که یکی از طرفین تعهد خود را ایفاء نماید و طرف دیگر اجراء نکند، اجراء کننده می‌تواند یک اطلاعیه ارسال کند مبنی بر اینکه اگر طرف دیگر به ایفای تعهد در ظرف مدت مناسب اقدام نکند، عقد فسخ خواهد شد و پس از آن به محکمه مراجعه و فسخ قرارداد را مطالبه می‌تواند. طرفیکه به محکمه برای فسخ مراجعه می‌کند ایفای تعهد را تقاضا نمی‌تواند. بعد از اقامه دعوی فسخ همان طوریکه محکمه نمی‌تواند به مدعی علیه برای ایفای تعهد مهلت بدهد، به همان صورت نمی‌تواند پیش

چه دمدعی علیه له خوا د تعهد د اجراء په نسبت کیږي، قبول کړی. که د عقد فسخ په یوه شرط پوری معلقه وی او یا د هغه د اجراء دپاره صراحتاً یا ضمناً یوه موده ټاکلی شوی وی، د شرط له تحقق او یا دبل طرف د مودی له تیریدو څخه وروسته د هغې غوښتنې په قبلیدو چه د تعهد د اجراء په خصوص کښې د متعهد له خوا کیږی، نه مجبوریږی.

نهادی را که از جانب مدعی علیه به نسبت ایفای تعهد می‌شود، قبول کند. اگر فسخ عقد معلق به یک شرط باشد و یا برای اجرای آن صراحتاً و یا ضمناً مدتی معین شده باشد، بعد از تحقق شرط و یا مرور مدت طرف دیگر به قبول خواهشی که از جانب متعهد راجع به ایفای تعهد می‌شود مجبور نمی گردد.

## دوه یم فصل
## تجارتی عقدونه
## لومړی برخه
## د انعقاد صورت

## فصل دوم
## عقود تجارتی
## حصهٔ اول
## صورت انعقاد

**۶۰۸ ماده:**

د تجارتی عقدونو د پاره د دواړو خواوو رضا او موافقت کافی دی. د قرارداد تنظیم او د نورو مراسمو اجراء کول لزوم نلری.

**مادهٔ ۶۰۸:**

برای عقود تجارتی رضاء و موافقت طرفین کافیست. تنظیم قرارداد و یا ایفای مراسم دیگر لزوم ندارد.

**۶۰۹ ماده:**

که د قانون له مخې د عقد دپاره د یوه مخصوص شکل رعایت په تحریری ډول لازم وی او یا دواړه خواوې عقد د ځینو مراسمو د

**مادهٔ ۶۰۹:**

اگر قانوناً برای عقد رعایت شکل مخصوص تحریراً لازم باشد و یا طرفین عقد را به ایفای بعضی مراسم مانند

اجراء پوری لکه د مقاولی تنظیم موقوف پری ایښی وی نو ترهغه وخته پورې چه ددی شکل رعایت ونشي او یا ټاکلی مراسم اجراء نشي، عقد نه اجراء کیږي. په دی صورت چه دواړو خواوو د قرارداد په تنظیم باندی موافقت سره کړی وی داسی بلل کیږي چه د عقد تړل یې د قرارداد په تنظیم پورې موقوف پری ایښی دی.

که قرارداد تنظیم شوی هم نه وی مګر ثابت شي چه دواړو خواوو عقد تړلی بللی دی نو د قرارداد نه تنظیم د عقد د نه تړلو سبب نه ګڼل کیږي.

**۶۱۰ ماده:**

که ایجاب د قبول دپاره د یوې ټاکلی مودی د تعیین په صورت شوی وی نو په دی صورت چه دواړه خواوی حاضر هم وی ایجاب کوونکی نشي کولای چه د ټاکلی مودی له تیریدو څخه پخوا له ایجاب څخه تیر شي.

که ایجاب بی د مودی له ټاکلو نه شوی وی نو اعتبار یې نه پاتی کیږي په دی شرط چه د دواړو خواوو د حاضر والی په صورت

تنظیم مقاوله موقوف گذاشته باشند، تا زمانیکه شکل مذکور رعایت و یا مراسم معینه اجراء نشود، عقد صورت نمی گیرد. درصورتیکه طرفین به تنظیم قرارداد موافقت نموده باشند، چنان دانسته می‌شود که انعقاد عقد را به تنظیم قرارداد ملتوی گذاشته اند.

اگر قرارداد تنظیم هم نگردیده ولی ثابت شود که طرفین عقد را منعقد دانسته اند، عدم تنظیم قرارداد سبب عدم انعقاد عقد شمرده نمی‌شود.

**مادۀ ۶۱۰:**

اگر ایجاب بصورت تعیین یک مدت معین برای قبول بعمل آمده باشد، در صورتیکه طرفین حاضر هم باشند، ایجاب کننده نمی‌تواند قبل از انقضای مدت معینه از ایجاب منصرف شود.

اگر ایجاب بدون تعیین مدت بعمل آمده باشد اعتبار آن باقی نمی‌ماند؛ مشروط به اینکه در صورت حاضر بودن طرفین قبول

کښي قبول فوراً نه وی واقع شوی.
د هغه عقد چه د مخابراتی وسیلو په ذریعه لکه په تیلفون سره وشي، د هغه عقد حکم لری چه په حضور سره شوی وی.

**۶۱۱ ماده:**

د هغه ایجاب دپاره چه دلیکنی په صورت واقع کیږي که موده نه وی ټاکلی شوی نو ایجاب کوونکی نشي کولای پخوا له هغې مودی تیرېدو څخه چه دعرف له مخې قبول کوونکې ته د فکر کولو او د قبول د جواب ورکولو دپاره د هغې تېرېدل لازم دی له ایجاب څخه تیرشي.

**۶۱۲ ماده:**

د قبول ځواب باید په یوه ټاکلی موده کښي چه ایجاب کوونکی ته ورسیدای شي ولیږل شي.
او که ځواب د مودی له تیریدونه وروسته ورسیږی، عقد نه تاړه کیږي. مګر که معلوم شي چه د قبول جواب په ټاکلی لازمه موده کښي ور رسول شوی دی نو ایجاب کوونکی مجبور دی چه د ځواب د ځنډیدو په خصوص کښي فوراً مقابل جانب ته دعقد د نه تړلو خبر

فوراً واقع نشده باشد.
عقدیکه ذریعه وسایل مخابراتی از قبیل تیلفون وقوع می‌یابد، در حکم عقدیست که حضوراً به عمل آمده باشد.

**مادۀ ۶۱۱:**

برای ایجابی‌که بصورت تحریر واقع می‌شود اگر مدت تعیین نشده باشد، ایجاب کننده نمی‌تواند قبل از انقضای مدتی‌که عرفاً برای تفکر و دادن جواب قبول از جانب قبول کننده مرور آن لازم است از ایجاب منصرف شود.

**مادۀ ۶۱۲:**

جواب قبول باید در ظرف مدت معینی که به ایجاب کننده رسیده بتواند فرستاده شود.
اگر جواب بعد از مرور این مدت توصل ورزد، عقد صورت نمی‌گیرد ولی در صورتی‌که معلوم شود که جواب قبول در ظرف مدت معین لازمه داده شده است، ایجاب کننده مجبور است راجع به تأخیر جواب فوراً بجانب مقابل از عدم انعقاد عقد خبر دهد و الا

ورکړي او که نه دا عقد تاړه کيږي.

**۶۱۳ ماده:**

د مقابل جانب محض سکوت قبول نه بلل کيږي، مګر په دې صورت چه دوه تاجران يوله بله سره دائمي تجارتي مناسبات ولري او يا يوله دې دوو تاجرانو څخه بل خپل ته مراجعه او هغه يې په خپل نامه د ځينو معاملاتو د اجراء دپاره وکيل ګرځولی وي هغه ايجاب چه له دوی څخه د يوه له خوا بل ته واقع کيږي نو مقابل طرف بايد ژر تر ژره هغه ايجاب ته ځواب ورکړي او که نه سکوت يې قبول بلل کيږي. هغه طرف چه ايجاب ردوي، د هغو مالونو په باره کښې چه د ايجاب د تبليغ په وخت کښې هغه ته ليږل شوي دي مکلف دی هغه تدبيرونه چه په (۷۶۲ - ۷۶۳) مادو کښې بيان شوي دي ونيسي.

**۶۱۴ ماده:**

که د قبول ځواب له ايجاب سره موافق نه وي عقد نه تاړه کيږي. په دې صورت قبول د نوي ايجاب تقاضا کوي.

عقد مذکور منعقد مي‌گردد.

**مادهٔ ۶۱۳:**

سکوت محض جانب مقابل قبول گفته نمی‌شود، ولیکن درصورتی‌که دو تاجر با هم دیگر مناسبات تجارتی دائمی داشته باشند و یا یکی از این دو تاجر بدیگر خود مراجعه و او را بنام خود به اجرای بعضی معاملات به وکالت گماشته باشد، ایجابی‌که از طرف یکی از ایشان بدیگری واقع می‌شود، باید طرف مقابل فوراً به ایجاب مذکور جواب بدهد و الا سکوت او قبول شمرده می‌شود. طرفی‌که ایجاب را رد می‌کند، راجع به اموالیکه در اثنای تبلیغ ایجاب به او فرستاده شده است، مکلف است تدابیری را که در مواد (۷۶۲ – ۷۶۳) بیان شده است اتخاذ کند.

**مادهٔ ۶۱۴:**

اگر جواب قبول موافق به ایجاب نباشد عقد منعقد نمی‌گردد. درین صورت قبول ایجاب جدید را اقتضاء می‌کند.

**۶۱۵ ماده:**

لپاره ددی چه په ایجاب یا قبول پوری مربوط تلگرام داعتبار وړ و بلل شي نو لازم دی چه په اثبات ورسیږی چه د لیږونکی شخص لاس لیک وربانـدی شته دی او یا تلګرام دهغه په اجازه صادر شوی دی.

**مادهٔ ۶۱۵:**

برای اینکه تلگراف مربوط به ایجاب یا قبول معتبر شده بتواند لازم است به اثبات برسد که دارای امضای شخص فرستنده است و یا تلگرام به اجازه او صادر شده است.

**۶۱۶ ماده:**

هغه ایجاب چه په لیکنه سره کیږي ایجاب کوونکی ته د قبول د ځواب د رسیدو له نېټې څخه عقد تاړه کیږي. مګر که ایجاب کوونکی د قبول د ځواب له رسیدو څخه پخوا او یا په عین زمان کښې د قبول کوونکی له اوونښتو څخه خبر شي، ایجاب بی اثره کیږي.

**مادهٔ ۶۱۶:**

ایجابیکه تحریراً به عمل می آید، از تاریخ وصول جواب قبول به ایجاب کننده عقد منعقد میشود. لیکن اگر ایجاب کننده قبل از رسیدن جواب قبول و یا در عین زمان از انصراف قبول کننده واقف شود، ایجاب بلا اثر می‌شود.

**۶۱۷ ماده:**

هغه عقد چه د مخابري په ذریعه وشي، د قبول د ځواب د لیږلو له نېټې څخه تړل کیږی او د اعتبار وړ بلل کیږی. لکه چه په (۶۱۳) ماده کښې مقرره شویده، په هغه صورت چه قبول په صراحت سره لازم نه دی، عقد مخاطب ته د

**مادهٔ ۶۱۷:**

عقدیکه ذریعهٔ مخابره واقع شود از تاریخ ارسال جواب قبول منعقد و معتبر دانسته می‌شود. طوریکه در مادهٔ (۶۱۳) مقرر شده، در صورتی‌که قبول به صراحت لازم نباشد، عقد از تاریخ رسیدن ایجاب

ایجاب د رسیدو له نېټې څخه د اعتبار وړ دی.

**۶۱۸ ماده:**
د یوه تاجر فوت یا د اهلیت سلبیدل دده د تجارتی معاملاتو په خصوص کښې په ایجاب او قبول کښې د بطلان مستلزم نه کیږي، مګر داچه د هغه په خلاف دوی تصریح کړی وی او یا د معاملی له ماهیت څخه استدلال وشي.

## دوه یمه برخه
## د تجارتی عقودو تفسیر

**۶۱۹ ماده:**
که د عبارت معنی چه په یوه تجارتی معامله کښې لیکل کیږي واضح او منطقي وی، د هغه ظاهری معنی ته اعتبار ورکاوه کیږي او که د مقصد منافی عبارت څرګنده وی نو پدی صورت مقصد ته اعتبار ورکاوه کیږي.

**۶۲۰ ماده:**
په دی صورت چه عبارت د متعددو تعبیرونو امکان ولری نو د طرفینو مشترک مقصد د بلی مقاولی له مندرجاتو یا له هغه

به مخاطب معتبر است.

**مادهٔ ۶۱۸:**
فوت و یا سلب اهلیت یک تاجر در ایجاب یا قبول او راجع به معاملات تجارتی اش مستلزم بطلان نمی گردد، مگر اینکه بر خلاف آن تصریح نموده باشند و یا از ماهیت معامله استدلال شود.

## حصهٔ دوم
## تفسیر عقود تجارتی

**مادهٔ ۶۱۹:**
اگر معنی عبارتیکه در یک معامله تجارتی تحریر می‌شود واضح و منطقی باشد، بمعنای ظاهری آن اعتبار داده می‌شود. اگر عبارتی منافی مقصد بدیهی باشد، در این صورت به مقصد اعتبار داده می‌شود.

**مادهٔ ۶۲۰:**
درصورتی‌که عبارت امکان تعبیرات متعددی را داشته باشد، مقصد مشترک طرفین از مندرجات دیگر مقاوله با عرف

عرف او عاداتو او احوالو څخه چه د مقاولې د تنظیم په وخت کښې موجود وی او یا نظر د پخوانیو تطبیقاتو سوابقو ته ټاکل کیږي.

و عادات و تعاملات و احوالیکه در زمان تنظیم مقاوله موجود باشد و یا نظر به سوابق تطبیقات در گذشته، تعیین می‌شود.

**۶۲۱ ماده:**

په دی صورت چه عبارت متعدده او مشترکه معنی ولری، د هری معنی افاده کولو ته چه نژدی وی، تفسیر یې په همغی معنی سره کیږي.

**مادۀ ۶۲۱:**

در صورتی‌که عبارت معنی متعدد و مشترک داشته باشد، به هر معنی که قرینه افاده نماید، به همان معنی تفسیر می‌شود.

**۶۲۲ ماده:**

په دی صورت چه د مقاولې عبارت په ډیرو معنی ګانو سره تعبیر شي او له (۶۲۰) مادی سره سم حقیقی مقصد و نه ټاکل شي نو مقاوله د متعهد بر له او د متعهدله بر علیه تفسیر کیږي.

**مادۀ ۶۲۲:**

در صورتیکه عبارت مقاوله به معنی متعددی تعبیر شود و مطابق حکم مادۀ (۶۲۰) مقصد حقیقی طرفین تعیین شده نتواند، مقاوله به له متعهد و علیه متعهد له تفسیر می‌گردد.

**۶۲۳ ماده:**

د قانونی احکامو او تجارتی عرف اعتبار په تجارتی معاملاتو کښې مؤثر دی بیله هغه وخته څخه چه صراحتاً دواړو خواوو د هغه په خلاف موافقت کړی وی.

**مادۀ ۶۲۳:**

اعتبار عرف تجارتی و احکام قانونی در معاملات تجارتی مؤثر است مگر اینکه صراحتاً جانبین بر خلاف آن موافقت نموده باشند.

## درېیمه برخه
## د تجارتی عقودو د ثبوت وسیلی

**۶۲۴ ماده:**
محکمه د تجارتی اسنادو او مقالاتو په استناد دعقد په ثبوت حکم صادر وی او په دی صورت چه په دی قانون کښې بل حکم موجود نه وی دشاهدانو له شاهدی نښو او اماراتو څخه استفاده کولای شي. د مدعی به اندازه په دی قاعده کښې د محکمی په نزد فرق نه کوی.

**۶۲۵ ماده:**
پوروړی ته د یوه سند اعاده په دی صورت چه د هغه په خلاف ثابت نشي دسند دبدل دور کړی دلیل بلل کیږي.

**۶۲۶ ماده:**
که د یوی تجارتی معاملی سند یا مقاوله چه اثبات ئی په سند پوری اړه ونه لری ابهام ولری محکمه کولای شي چه د شهادت دقرینو او اماراتو له مخې حکم صادر کړی.

**۶۲۷ ماده:**
اقرار دتجزیې وړ نه دی نوځکه لازم دی هغه بیان چه مدعی علیه ئی

## حصهٔ سوم
## وسائل ثبوت عقود تجارتی

**مادهٔ ۶۲۴:**
محکمه با استناد به اسناد و مقاولات تجارتی بر ثبوت عقد، حکم صادر می نماید ودر صورتی‌که حکم دیگری در این قانون موجود نباشد، از شهادت شهود، قراین و امارات استفاده میتواند. اندازه مدعی به درین قاعده نزد محکمه فرقی نمیکند.

**مادهٔ ۶۲۵:**
اعادهٔ یک سند به مدیون درصورتی‌که خلاف آن ثابت نشود، دلیل تأدیه بدل سند محسوب می‌شود.

**مادهٔ ۶۲۶:**
سند یا مقاوله یک معامله تجارتی ایکه اثبات آن لازم به سند نبوده ابهام داشته باشد، محکمه می‌تواند از روی شهادت قرائن و امارات اصدار حکم نماید.

**مادهٔ ۶۲۷:**
اقرار قابل تجزیه نیست بنابرآن لازم است بیانیکه مدعی علیه

کوی یادی تړول رد او یا دی تړول ومنلی شي.

**۶۲۸ ماده:**

په دی صورت چه تحریری مقاوله موجوده نه وی نو هغه څوک چه صراحتاً یا ضمناً بیجک قبلوی، داسی ګڼل کیږي چه د هغه مندرجات یې هم قبول کړی دی. هغه څوک چه بیجک اخلی نو که د هغه د اخیستلو له نېټې څخه د شلو ورځو په موده کښې د هغه په محتویاتو اعتراض ونکړی، داسی معلومیږی چه د هغه محتویات یې قبول کړی دی.

می‌کند یا تماماً رد یا قبول شود.

**مادۀ ۶۲۸:**

درصورتی‌که مقاولۀ تحریری وجود نداشته باشد، شخصی‌که یک بیجک را صراحتاً یا ضمناً قبول می‌کند، چنان شمرده می‌شود که مندرجات آنرا هم قبول نموده است. شخصی‌که بیجک می‌گیرد، اگر از تاریخ گرفتن آن در مدت بیست روز اعتراضی در محتویات آن نکند، چنان تلقی می‌شود که مندرجات آن را قبول نموده است.

## دریم فصل
## تجارتی بیع
## لومړۍ برخه
## عمومی احکام

## فصل سوم
## بیع تجارتی
## حصۀ اول
## احکام عمومی

**۶۲۹ ماده:**

د مبیعی او قیمت په نسبت د طرفینو رضا د بیع انعقاد بلل کیږي. د جاری قیمت اطلاع او د کتلاک لیږل او یا د پلورنی عرضه چه بی د شیانو د ماهیت او اندازی او قیمت له ټاکلو کیږي ایجاب نه

**مادۀ ۶۲۹:**

رضای طرفین به نسبت مبیعه و قیمت انعقاد، بیع دانسته می‌شود. اطلاع قیمت جاریه و ارسال کتلاک و یا عرضه فروش که بدون تعیین ماهیت و مقدار و قیمت اشیاء بعمل می آید،

بلل کیږي.

**۶۳۰ ماده:**

که بایع د بل چا مال پلورلی وی پیرودونکی د هغه مالک کیدای نشي مګر بایع مکلف دی چه مال وپیری او پیرودونکی ته یې ورتسلیم کړی او یا که زیانونه زیات پېښ شوی وی، هغه دی ورکړی.

**۶۳۱ ماده:**

که یو تاجر د بل چا منقوله مال خرڅ او تسلیم کړی، په دی صورت چه پیرودونکی د هغه په حقیقت علم ونلری، د مبیعی مالک بلل کیږي.

که دا ثابت شي چه مبیعه ورک شوی یا غلا شوی مالونه دی، د پیرودونکی مالکیت سلبیږی.

**۶۳۲ ماده:**

د هغو تجارتی مالونو بیع چه د عقد په وخت کښې موجود نه وی او د تسلیم په وخت کښې د تدارک وړ وی، معتبر دی.

**۶۳۳ ماده:**

که د عقد په وخت کښې د

ایجاب شمرده نمی‌شود.

**مادۀ ۶۳۰:**

اگر بایع مال غیر را فروخته باشد، مشتری مالک آن شده نمی‌تواند، ولی بایع مکلف است که یا مال را خریداری و به مشتری تسلیم نماید و یا اگر خساراتی بیشتری وارد شده باشد، آنرا جبران کند.

**مادۀ ۶۳۱:**

اگر یک تاجر اموال منقوله شخص دیگری را فروش و تسلیم نماید، در صورتی‌که مشتری بر حقیقت آن علم نداشته باشد، مالک مبیعه دانسته می‌شود.

اگر ثابت شود که مبیعه اموال مفقوده و یا مسروقه بوده باشد، مالکیت مشتری سلب می‌گردد.

**مادۀ ۶۳۲:**

بیع اموال تجارتی که در زمان عقد موجود نبوده و در وقت تسلیم قابل تدارک باشد، معتبر است.

**مادۀ ۶۳۳:**

اگر در حین عقد احتمال

دوارو خواوو نه د مال د اتلاف احتمال په نظر کښې نیولی شوی وی دهغه بیع جائزه ده د احتمال د تحقیق په صورت پیرودونکی د قیمت د استراداد حق نه لری.

اتلاف مال از طرف جانبین در نظر گرفته شده باشد، بیع آن جایز است در صورت تحقق احتمال مشتری حق استرداد قیمت را ندارد.

**۶۳۴ ماده:**

ټول هغه مصارف چه د بیعی په تسلیم پورې اړه لری لکه وزن او اندازه پلورونکي پورې مربوط دی او تسلیم پورې مربوط مصارف لکه د تحویل او حمل او نقل، پیرودونکی پورې اړه لری مگر داچه په مقاوله او یا تجارتی عرف او تعامل کښې د هغه په خلاف قبول او معمول وی.

**مادهٔ ۶۳۴:**

تمام مصارف متعلق به تسلیم مبیعه مثل وزن و اندازه به بایع مربوط و مصارف متعلق به تسلیم از قبیل مصارف تحویل و حمل و نقل به مشتری عاید است مگر این‌که در مقاوله و یا عرف و تعامل تجارتی بر خلاف آن قبول و معمول باشد.

**۶۳۵ ماده:**

که پیرودونکی ته له بل محل څخه د مبیعی لیږل لازم وی او د لیږلو د صورت په باره کښې د پیرودونکی له خوا کوم شرط نه وی ایښودل شوی، پلورونکی به په دی حال کښې د مالونو د حمل او نقل د وسیلو په ټاکلو او د هغو په ساتنه کښې لکه پیرودونکی اقدام کوی.

**مادهٔ ۶۳۵:**

اگر ارسال مبیعه از محل دیگری به مشتری لازم باشد و راجع به صورت ارسال از طرف مشتری شرطی گذاشته نشده باشد، بایع درین حال در انتخاب وسایل حمل و نقل اموال و حفاظهٔ آن مثل مشتری اقدام می نماید.

**۶۳۶ ماده:**

د پیرودونکی د استوګنې ځای ته او یا بل ځای ته د پلورونکی له خوا د مبیعی لیږل چه په مقاوله کښې تصریح شوی دی، د تسلیم په حکم کښې دی مګر که پلورونکی مبیعه د بل چاپه لاس لیږلی وي او هغه ته یې امر کړی وی چه که پیرودونکی د هغه لازمه قیمت او یا تأمینات ورنکړی نو مبیعه دی نه ورتسلیموی، نو یوائې د مبیعی لیږل تسلیم نه بلل کیږي.

**مادهٔ ۶۳۶:**

ارسال مبیعه از طرف بایع به اقامتگاه مشتری و یا ارسال آن در یک محل دیگریکه درمقاوله تصریح شده است، در حکم تسلیم است ولی اگر بایع مبیعه را توسط شخص فرستاده و به او امر نموده باشد که اگر مشتری قیمت آنرا و یا تأمینات لازمه را ندهد مبیعه را تسلیم نکند، صرف فرستادن مبیعه تسلیم دانسته نمی‌شود.

**۶۳۷ ماده:**

د مبیعی د کنسانمینت (محموله) لیږل او یا نظر د پلورونکی موافقی ته په مبیعه باندی د پیرودونکی د مارک لګول په دی صورت چه مال د وچی، بحر، سیند او کول له لاری د حمل او نقل په حال کښې وی، د تسلیم په حکم کښې دی.

**مادهٔ ۶۳۷:**

ارسال محموله (کنسانمینت) مبیعه و یا نظر به موافقه بائع وضع مارک مشتری بالای مبیعه در صورتی‌که امتعه از طریق خشکه، بحر، دریا و کول در حال حمل و نقل باشد، در حکم تسلیم است.

**۶۳۸ ماده:**

که پیرودونکی مالونه چه د عمده فروشي له حیثه د هغو اندازه ټاکلی وی، پیرودلی وي د هغو د

**مادهٔ ۶۳۸:**

اگر مشتری اموالی را که از حیث عمده فروشی مقدار آن معین باشد، خریده باشد، به تسلیم یک

یوی برخی په تسلیم نشي مجبور کیدلای مګر که پیرودونکی تدریجی تسلیم قبول کړی وی نو پلورونکی د پاتی برخی په تسلیم مجبورولی شي او د پاتی مال د نه تسلیمیدو پواسطه عقد فسخ کړی او هغه خساره چه له دی لاری ورته اوونښتی ده وغواړی.

قسمت آن اجبار شده نمی‌تواند ولی اگر مشتری تسلیم تدریجی را قبول نموده باشد، بایع را به تسلیم قسم باقیمانده مجبور می‌تواند و یا بواسطه عدم تسلیم باقیمانده مال عقد را فسخ و خسارهٔ را که ازین حیث متحمل شده است، مطالبه نماید.

**۶۳۹ ماده:**

پیرودونکی کولای شي چه د مبیعی انوایس او که قیمت ورکړی شوی وی په انوایس کښې د هغه درج وغواړی.

**مادهٔ ۶۳۹:**

مشتری می‌تواند که انوایس مبیعه را و اگر قیمت تأدیه شده باشد، درج آن را در انوایس تقاضا نماید.

**۶۴۰ ماده:**

د عقد له تکمیل څخه وروسته کومه خساره چه مبیعی ته پیښېږی که څه هم اتفاقاً وی په پیرودونکی پوري اړه لری او که خساره دپلورونکی له تقصیر او حیلی او یا د مبیعی له عیبونو څخه پیدا شوی وی نو په پلورونکی پوري اړه لری.

**مادهٔ ۶۴۰:**

بعد از تکمیل عقد خسارهٔ که به مبیعه واقع می‌شود، ولو اتفاقاً باشد، عائد به مشتری است. اگر خساره ناشی از تقصیر و یا حیلهٔ بایع و یا معایب مبیعه باشد، مربوط به بایع است.

**۶۴۱ ماده:**

د عقد له تکمیل څخه وروسته په لاندینو احوالاتو کښې کومه خساره چه مبیعی ته ورسیږی په

**مادهٔ ۶۴۱:**

در احوال ذیل بعد از تکمیل عقد خسارهٔ که به مبیعه برسد، به بایع

پلورونکی پوری اړه لري:
**اول:** کـه مبیعه مشخصه او ټاکلی نه وي او د هغې د ماهیت دپاره کومې داسې علامې چه له نورو همجنس شیانو څخه تفریق او بیلې شي، وضع شوې نه وي.
**دوهم:** هغه مبیعه چه د تسلیم دپاره د هغې تول شمیر او اندازه کول لازم دي پخوا له تول شمیر څخه تغییر او یا تلف شوې وي (مګر که پیرودونکی سره له اخطاره په تول شمیر او اندازه کولو کښې حاضر شوی نه وي او یایې کوم شخص له خپلې خوا لیږلی نه وي، خساره په پیرودونکی پوری اړه لري).
**دریم:** کـه د مبیعې تسلیم پـه راتلونکی آینده پوری شرط شوی وي.
**څلورم:** د مبیعې د تسلیمولو دپاره د پیرودونکی د آماده ګۍ په حال کښې که پلورونکی سره له اخطاره مبیعه نه وي ور تسلیم کړې.

**۶۴۲ ماده:**
هغه خساره چه د نقلیه کمیسه کار یا د حمل او نقل ورکوونکی په

مربوط است:
**اول:** اگر مبیعه مشخص و معین نبوده و برای اثبات ماهیت آن علائمی که از دیگر اشیای هم جنس تفریق و تمیز شود، وضع نشده باشد.
**دوم:** اگر مبیعهٔ که برای تسلیم وزن، تعداد و اندازه نمودن آن لازم است قبل از وزن تعداد تغییر و یا تلف شده باشد (ولی اگر مشتری با وجود اخطار در وزن تعداد و اندازه نمودن حاضر نشده باشد و یا شخصی را از طرف خود نفرستاده باشد خساره عاید به مشتری است).
**سوم:** اگر تسلیم مبیعه به آینده شرط شده باشد.
**چهارم:** در حال آمادهٔ بودن مشتری برای تسلیم گرفتن مبیعه، اگر بایع با وجود اخطار مبیعه را تسلیم نداده باشد.

**مادهٔ ۶۴۲:**
خسارهٔ که از رهگذر حمل و نقل مبیعه ذریعهٔ کمیسه کار

ذریعه د مبیعی د حمل او نقل له لاری پیښیږی، هغو ته د پلورونکی له خوا د مبیعی د تسلیم نېټې له سره په پیرودونکی پوري اړه لری.
که د مبیعی د حمل او نقل د طرز په خصوص کښې کوم شرط موجود وی، پلورونکی مکلف دی چه ددی شرط مراعات وکړی.
بی د معقول او مستند عذر څخه د تخلف په صورت کښې د هغه ضرر چه پیرودونکی ته رسیږی، مسئول دی.
که د مال د لیږلو محل نظر د طرفینو مقصد ته د تسلیم محل ګڼل شوی وی، په دی صورت کوم زیان چه د حمل او نقل په وخت کښې پیښیږی، په پلورونکی پوری اړه لری.
که پلورونکی یوائې د حمل او نقل مصارف په غاړه اخلی نو هغه محل چه مبیعه هلته وړله کیږي، د تسلیم محل نه ګڼل کیږي.

**۶۴۳ ماده:**

د قیمت معلوم والی یا د هغه د معلومولو صورت لازم دی په داسی حال کښې چه په دی صورت کښې

نقلیه یا حمل و نقل دهنده عاید می‌گردد، سر از تاریخ تسلیم مبیعه از طرف بایع به آنها مربوط به مشتری است.
اگر راجع به طرز حمل و نقل مبیعه کدام شرط موجود باشد، بایع مکلف است این شرط را مراعات کند.
در صورت تخلف بدون عذر معقول و مستند از ضرری‌که به مشتری میرسد، مسئول خواهد بود.
اگر محل ارسال امتعه نظر به مقصد طرفین؛ محل تسلیم شمرده شده باشد، در این صورت خسارهٔ که در اثنای حمل و نقل وقوع می یابد، مربوط به بایع است.
اگر بایع محض مصارف حمل و نقل را به عهده می‌گیرد؛ محلیکه مبیعه به آنجا نقل داده می‌شود، محل تسلیم محسوب نمی‌شود.

**مادهٔ ۶۴۳:**

معین بودن قیمت و یا صورت تعیین آن لازم است. در حالیکه قیمت به این صورت تعیین

بیعه نه وی ټاکلې شوی او مبیعه هم تسلیم شوی نه وی نو د عقد په محل او زمان کښې مروجه نرخ د قیمت په حیث اساس ګرځول کیږي. که د عقد په محل او زمان کښې مروجه نرخ متعدد وی، پیرودونکی مجبور دی چه اوسط نرخ تأدیه کړی.

**۶۴۴ ماده:**

د مقاولې په ذریعه د قیمت د ټاکلو د حق سپارل دریم کس ته مجاز دی. او که دریم کس د کوم علت له مخې قیمت ونه ټاکه، پیرودونکی مجبور دی چه دپلورلو د ورځې مروج نرخ او که د هغې ورځې نرخ متعدد وی، منځنۍ نرخ ورکړی. که مروج نرخ وجود ونه لری نو قیمت د محکمې له خوا ټاکل کیږي.

**۶۴۵ ماده:**

پیرودونکی چه قیمت نه وی ورکړی او د عقد د نیټې او د تسلیم په منځنۍ موده کښې افلاس وکړی، سره له دی چه پلورونکی مال په وعده ورکړی وی (مګر معتبر تأمینات یې نه وی اخیستی) حق لری چه مبیعه

نشده و مبیعه هم تسلیم نشده باشد، نرخ مروجه در محل و زمان عقد بحیث قیمت اساس قرار داده می‌شود. اگر نرخ مروجه در زمان و محل عقد متعدد باشد، مشتری مجبور است که اوسط نرخ را تأدیه کند.

**مادۀ ۶۴۴:**

تفویض حق تعیین قیمت ذریعۀ مقاوله به شخص ثالث مجاز است. اگر شخص ثالث نظر به علتی قیمت را تعیین ننمود، مشتری مجبور است که نرخ رایج روز فروش را و اگر نرخ همان روز متعدد باشد اوسط آن را بپردازد. اگر نرخ رایجه وجود نداشته باشد، قیمت از طرف محکمه تعیین می‌شود.

**مادۀ ۶۴۵:**

مشتری ایکه قیمت را تأدیه ننموده و در ظرف مدت بین تاریخ عقد و تسلیم ورشکست شود، با آنکه بایع تأدیه وجه را تأجیل کرده باشد (ولی تأمینات معتبر نگرفته باشد) حق دارد مبیعه را تسلیم

تسلیم نکړي.

**۶۴۶ ماده:**

که د قیمت ټاکل د مبیعی په تول پورې مشروط وی (په دی صورت چه د هغه په خلاف مقاوله یا عرف او عادات موجود نه وی)، د ظرف تول له هغه وضع کیږي.
غرض پوروال ته حواله کړی او هغه اندازه چه باید له پور څخه یې وضع شي تاکلی نه وی نو هغه څوک چه حواله ورکړی شوی ده مکلف دی چه هغه مبلغ چه حقیقتاً یې له پوروړی څخه اخیستی دی په خپل پور کښې محسوب کړی.

**۷۲۰ ماده:**

هغه څوک چه د پور حواله ورکوی که د حواله اخیستونکی په مقابل کښې ضامن وی، باید چه د پور د طلب بدل او ټکټ پولۍ چه د حوالی په مقابل کښې یې اخیستې دی سره د حوالی او ددعوی له مصارفو (که یې په پور وړی کړی وی او بی نتیجې پاتی شوی وی) بیرته ورکړی.

### اووم فصل
### جاری حساب

**۷۲۱ ماده:**

جاری حساب عبارت له هغې مقاولې څخه دی چه د هغې په اساس عاقدین طرفونه په متقابل ډول داسی قبلوی چه خپل هغه پورونه چه نقدو پولونو څخه یا له

دین به دائن خود حواله داده و مقداری را که باید از دینش وضع شود تعیین نکرده باشد، کسیکه طلب به او حواله داده شده مکلف است مبلغی را که حقیقتاً از مدیون اخذ نموده به دین خود محسوب کند.

**مادهٔ ۷۲۰:**

شخصی‌که طلب را حواله می‌دهد اگر در مقابل حواله گیرنده ضامن باشد، باید بدل طلب و تکت پولی را که در مقابل حواله گرفته با مصارف حواله و دعوی (اگر علیه مدیون اقامه نموده و بی نتیجه مانده باشد) اعاده کند.

### فصل هفتم
### حساب جاری

**مادهٔ ۷۲۱:**

حساب جاری عبارت از مقاوله ایست که به اساس آن طرفین عاقدین متقابلاً قبول می‌کنند که طلبات خود را از یکدیگر چه ناشی از پول نقد و چه متولد از

هغو مالونو څخه پیدا کیږي چه ملکیت یې د انتقال وړ وی، په انفرادی صورت یو له بله نه غواړی بلکه حساب قلم په قلم په دبت او کریدت کی معامله کوی او د حساب پاتی یوله بله غواړی.

**۷۲۲ ماده:**

د جاری حساب د مقاولی احکام په لاندی ډول دی:

۱- د هغو مالونو ملکیت چه دجاری حساب په ضمن کښې د ورکړی (دبت) په حساب قیدیږی اخیستونکی ته منتقل کیږي.

۲- په دی حال کښې چه ددواړو خواوو ترمنځ د جاری حساب د مقاولی له عقد څخه پخوا کومه معامله چه په جاری حساب قید شوی وی ( ترهغه وخته پورې چه د هغه په خلاف شرط شوی نه وی) پخوانۍ معامله تجدید شوی ګڼله کیږي.

۳- تجارتی سند په جاری حساب په هغه وخت کښې اجرا کېدای شي چه ورکړه یې مسلمه وی.

۴- د کریدت او دبت پاتې حسابونه چه یو له بله وضع کیږي، د هغو ورکړه ضروری ده.

اموالی‌که ملکیت آن قابل انتقال باشد، بصورت انفرادی از همدیگر مطالبه نمی نمایند، بلکه حساب را قلم به قلم به دبت و کریدت معامله و بقیه حساب را از یکدیگر تقاضا می‌کنند.

**مادهٔ ۷۲۲:**

احکام مقاوله حساب جاری قرار ذیل است:

۱- ملکیت اموالیکه در ضمن حساب جاری به حساب داد (دبت) قید می‌گردد بطرف گیرنده منتقل می‌شود.

۲- در حالیکه قبل از عقد مقاوله حساب جاری در بین طرفین معامله به حساب جاری قید شده باشد (تا وقتی‌که خلاف آن شرط نشده باشد) معاملهٔ سابقه تجدید شده محسوب می‌گردد.

۳- سند تجارتی به حساب جاری وقتی صورت گرفته می‌تواند که تأدیه آن مسلم باشد.

۴- بقیه حسابات کریدت و دبت که از هم وضع می‌گردد، واجب التأدیه می‌باشد.

**۵-** هغه مبلغ چه دیوه تن دکریدت په ستون کښې قید شوی وی له همغی نېټې څخه د کریدت کوونکی په ګټه او د دبت په ضرر چه د ټکټ پولۍ تابع دی محسوبیږی.

**۷۲۳ ماده:**

که د هغه تجارتی سند بدل چه د (۷۲۲) مادی په دریمه فقره کښې ذکر دی تحصیل نشي، مالک ته بیرته ورکول کیږي او قید یې حذفیږی.

**۷۲۴ ماده:**

ددواړو خواوو په منځ کښې جاری حساب د کمیشن او د هغه د متفرعه مصارفو د غوښتنې نه مانع کیږي.

**۷۲۵ ماده:**

جاری حساب په هغې نېټې کښې چه د مقاولی یا عرف له مخې ټاکلی دی، تاړه کیږي او د دبت او کریدت ترمنځ توپیر تثبیتیږی.

که په دی باره کښې مقاوله یا تجارتی عرف موجود نه وی، د هر کال د حوت په پای کښې ددواړو خواوو دپاره د جاری حساب تړلو

**۵-** مبلغیکه در ستون کریدت یک نفر قید شده باشد، از همان تاریخ به مفاد کریدت کننده وبه ضرر دبت که تابع تکت پولی می‌باشد محسوب می‌گردد.

**مادۀ ۷۲۳:**

اگر بدل سند تجارتی‌که در فقرۀ سوم مادۀ (۷۲۲) ذکرا ست تحصیل نشود به مالک اعاده وقید آن حذف می‌شود.

**مادۀ ۷۲۴:**

موجودیت حساب جاری بین طرفین، مانع تقاضای کمیشن و مصارف متفرعه آن نمی‌گردد.

**مادۀ ۷۲۵:**

حساب جاری در تاریخی‌که به اساس مقاوله و یا عرف معین است، بسته شده و تفاوت بین دبت و کریدت تثبیت می‌شود.

اگر دراین باره مقاوله و یا عرف تجارتی موجود نباشد، اخیر حوت هر سال برای جانبین بحیث تاریخ بسته شدن حساب

د نېټې په حیث اعتبار لري.

**۷۲۶ ماده:**

پاتي حساب چه د دبت او کریدت په نتیجه کښې تثبیت کیږي له همغې نېټې څخه د ټکټ پولي تابع دی.

**۷۲۷ ماده:**

دواړه خواوی کولای شي چه په پانګه باندی د ټکټ پولي په تبدیل او د ټکټ پولي او د جاری حساب د وخت په ټاکلو او دکمیشن په اندازه کښې مقاوله وکړي.

**۷۲۸ ماده:**

هغه روپۍ او مالونه چه د ټاکلي کار او ځانګړی کار کښې د مصرف په مقصد ورکول کیږي په جاری حساب کښې نه داخلیږي.

**۷۲۹ ماده:**

د دبت او کریدت ټول قلمونه چه په جاری حساب کښې داخل دی، د تجزیې وړ نه دی.

د حساب له تړلونه پخوا هیڅ یو طرف پوروال او پوروړی نه ګڼل کیږي.

د دواړو خواوو حقوقي وضعیت

جاری اعتبار دارد.

**مادۀ ۷۲۶:**

باقی حساب که در نتیجه دبت و کریدت تثبیت می‌شود، از همان تاریخ تابع تکت پولی می‌باشد.

**مادۀ ۷۲۷:**

طرفین می‌توانند در تبدیل تکت پولی به سرمایه و تعیین زمان میزان حساب جاری و تکت پولی و اندازۀ کمیشن مقاوله نمایند.

**مادۀ ۷۲۸:**

نقود و اموالی‌که به مقصد صرف در کار معین و یا جداگانه تسلیم داده می‌شود داخل حساب جاری نمی‌گردد.

**مادۀ ۷۲۹:**

تمام اقلام دبت و کریدت که در حساب جاری داخل است، قابل تجزیه نمی‌باشد.

قبل از بسته شدن حساب هیچ یکی از طرفین داین و مدیون شمرده نمی‌شود.

وضعیت حقوقی طرفین را تنها

یوائې د حساب قطع ټاکې.

**۷۳۰ ماده:**

د هغو نقودو او مالونو حجر چه په جاری حساب کښې داخل وی هغه وخت اعتبار لری چه پاتی حساب د قطع کیدو په وخت کښې د محجور د حساب په ګټه څرګند شوی وی.

**۷۳۱ ماده:**

د جاری حساب مقاولی نظر لاندنیو علتو ته اصولاً فسخ بلل کیږي:

۱- د مقاولی د ټاکلی مودی ختم.

۲- د دواړو خواوو په موافقه.

۳- د یوه طرف له خوا د مقاولی فسخ په دی صورت چه په مقاوله کښې نه وی منع شوی.

۴- د یوه طرف افلاس.

**۷۳۲ ماده:**

د یوه طرف د فوت یا محجوریت په صورت کښې بل طرف حق لری چه محکمی ته په مراجعي سره د جاری حساب د مقاولی فسخ وغواړی.

**۷۳۳ ماده:**

د جاری حساب مقاوله یوائې له تجارتی اسنادو سره اثباتیدای شي.

قطع حساب تعیین می نماید.

**مادهٔ ۷۳۰:**

حجر نقود و اموال داخل حساب جاری وقتی اعتبار دارد که بقیهٔ حساب در وقت قطع شدن به نفع حساب محجور ظهور کرده باشد.

**مادهٔ ۷۳۱:**

مقاولات حساب جاری نظر به علل ذیل قانوناً فسخ شمرده می‌شود:

۱- ختم مدت معینه مقاوله.

۲- به موافقه طرفین.

۳- فسخ مقاوله از جانب یکی از طرفین در صورتی‌که در مقاوله منع نشده باشد.

۴- افلاس یکی از طرفین.

**مادهٔ ۷۳۲:**

در صورت فوت و یا محجوریت یکی از طرفین، طرف دیگر حق دارد که با مراجعه به محکمه فسخ مقاوله حساب جاری را تقاضا نماید.

**مادهٔ ۷۳۳:**

مقاوله حساب جاری تنها با اسناد تجارتی اثبات شده می‌تواند.

**۷۳۴ ماده:**
په جاری حساب کښې د دبت او کریدت قید د هغه عقد حق چه دبت او کریدت پیدا کوی او یا هغه حقوق چه طرفین یې ددی معاملې د دعوی او مدافعې په متعلق لری نه ساقطوی.
که عقد یا معامله باطله کړه شي نوهغه قلم چه په هغې پوری اړه لری له حساب څخه وضع کیږي که په عقد کښې په خلاف ددی کوم شرط موجود وی له هغه سره سم تګ کیږي.

**۷۳۵ ماده:**
د ټکټ پولۍ د پاتو او د جاری حساب د تصفیې چه ددواړو خواوو په رضا او یا د قانون په حکم ټاکلی کیږي او یا سهو او تکرار او د حقیقت په خلاف د قلمونو درجولو دعوی له پنځو کالو له تیریدونه وروسته ساقطیږی.

## اتم فصل
## عمومي ګدامونو ته سپارنی

**۷۳۶ ماده:**
هغه محلونه چې د خلقو ذخیرې او

**مادهٔ ۷۳۴:**
قید دبت و کریدت در حساب جاری حق عقدیکه دبت و کریدت را بوجود می آورد و یا حقوقی را که طرفین متعلق به دعوی و مدافعه این معامله دارند، ساقط نمی‌سازد.
اگر عقد و یا معامله ابطال شود قلم مربوط به آن از حساب وضع می‌شود. اگر در عقد بر خلاف شرطی وجود داشته باشد مطابق آن رفتار می‌شود.

**مادهٔ ۷۳۵:**
دعاوی تصفیهٔ حساب جاری و بقایای تکت پولی که به رضای جانبین و یا حکم قانون تعیین می‌شود و یا سهو و تکرار و درج اقلام خلاف حقیقت بعد از مرور پنج سال ساقط می‌شود.

## فصل هشتم
## تودیعات به گدام های عمومی

**مادهٔ ۷۳۶:**
محل هائی‌که ذخایر و امتعه مردم

مالونه د ودیعی یا رهن په صورت قبلوی او په مقابل کښې یې اصولي رسیدونه خپلو معامله لرونکو ته ورکوی عمومی ګدامونه بلل کیږي.

**۷۳۷ ماده:**

د عمومی ګدامو نو احکام د هغو محلونو په باره کښې چې بی د سند، له ورکولو یوائې د مالونو د ودیعې د قبلولو د پاره افتتاح کیږي نه تطبیقیږي.

**۷۳۸ ماده:**

د قبض سند چې عمومی ګدامونو ته د مودوعه ذخیرو او مالونو په مقابل کښې ورکول کیږي باید دا لاندی تشریحات ولری:

۱- د تودیع کوونکی نوم او کسب او د استوګنې ځای.

۲- د هغه ګدام نوم چې شیان ورته سپارلی شوی دی.

۳- د سپارل شویو شیانو د جنس د پیژندلو او اندازې او قیمت دپاره لازمه خصوصیات.

۴- د سپارل شویو شیانو د مالیو محصولات او د ګمرک د رسومو ورکول او یا نه ورکول او هغه توضیحات چې آیا مالونه

را بصورت ودیعه یا رهن قبول کرده ودر مقابل آن رسیدهای اصولی بمعامله داران خود می‌دهند گدام های عمومی نامیده می‌شوند.

**مادۀ ۷۳۷:**

احکام گدام های عمومی دربارۀ محل هائیکه بدون دادن سند تنها برای قبول ودیعه اموال افتتاح می‌گردد تطبیق نمی‌شود.

**مادۀ ۷۳۸:**

سند قبض که در مقابل امتعه و ذخایر مودوعه به گدام های عمومی داده می‌شود باید دارای تشریحات ذیل باشد:

۱- اسم و شغل و اقامتگاه تودیع کننده.

۲- اسم گدام که اشیا به آن تودیع شده است.

۳- خصوصیات لازمه برای فهمیدن جنس، مقدار و قیمت اشیاء مودوعه.

۴- تأدیه و یا عدم تأدیۀ مالیات و محصولات و رسوم گمرک اشیاء مودوعه و توضیحاتی که آیا اموال بیمه

بیمه شوی دی که نه، د بیمې په صورت د هغو د خصوصیاتو ذکر.

**۷۳۹ ماده:**

د رهن (ورانت) سند هم کټ مټ د (۷۳۸) مادی داخل تشریحات لری او د قبض له سند سره ضمیمه کیږي.

**۷۴۰ ماده:**

د معاملاتو د سندونو کاپی په اصولی صورت د عمومی گدامونو د پاڼو په جمله کښې په مرتب ډول ساتلی کیږي.

**۷۴۱ ماده:**

د قبض او ورانت سند د تودیع کوونکی یا دریم شخص په نامه چې د تودیع کوونکی له خوا ټاکل کیږي جوړیږي.

**۷۴۲ ماده:**

د قبض او ورانت د سند حامل کولای شي چې سپارلی شوی شیان د رسید په تفریق وغواړی او یا د هر جنس په تفریق خپل عمومی رسید وغواړی په دی صورت د اسنادو جوړولو مصارف د تقاضا کوونکی په غاړه دی او هغه عمومی رسید چې پخوا یې په لاس

شده است یا نه، در صورت بیمه ذکر خصوصیات آن.

**مادۀ ۷۳۹:**

سند رهن (ورانت) نیز عیناً دارای تشریحات مندرجۀ مادۀ (۷۳۸) بوده وبه سند قبض ضمیمه می‌شود.

**مادۀ ۷۴۰:**

کاپی اسناد معاملات بصورت اصولی در جمله اوراق گدام های عمومی مرتب و حفظ می گردد.

**مادۀ ۷۴۱:**

سند قبض و ورانت به نام تودیع کننده و یا شخص ثالث که از طرف تودیع کننده تعیین می‌گردد تنظیم می‌شود.

**مادۀ ۷۴۲:**

حامل سند قبض و ورانت می‌تواند اشیاءمودوعه را به تفریق رسید مطالبه نماید و یا رسید عمومی خود را به تفریق هر جنس رسید تقاضا کند دراین صورت مصارف تهیۀ اسناد بذمه تقاضا کننده است و رسید عمومی که قبلاً اخذ داشته است

راوړی دی باطلیږي.

**۷۴۳ ماده:**

د قبض او (ورانت) سند ځانځانته او یا په ګډه سره د شالیکنې (ظهر نویسی) په صورت د انتقال وړدی. شالیکنه باید د هغې ورځې نېټه ولری چې اجراء شوی ده.

**۷۴۴ ماده:**

له شالیکنې څخه لاندینی احکام پیدا کیږي:

۱- د قبض او (ورانت) د سند ګډه شالیکنه د مالونو ملکیت منتقل کوی.

۲- یواځې د ورانت په شالیکنه د مالونو د ګروی باعث هغه چاته کیږي چې ورانت ورته نقل شوی دی.

۳- یواځې د قبض د سند په شالیکنه (په دی شرط چې د ورانت د حامل حق محفوظ پاتی شي) د سپارل شویو مالونو او ذخیرو ملکیت انتقالوی.

**۷۴۵ ماده:**

د ورانت په شالیکنه باید د پور او د ټکټ پولی اندازه او د

باطل می‌شود.

**مادۀ ۸۴۳:**

سند قبض و (ورانت) علیحده علیحده و یا مشترکاً بصورت ظهر نویسی قابل انتقال است ظهر نویسی باید دارای تاریخ همان روزی باشد که اجرأ شده است.

**مادۀ ۷۴۴:**

از ظهر نویسی احکام ذیل بوجود می آید:

۱- ظهر نویسی مشترک سند قبض و (ورانت) ملکیت اموال را منتقل می‌سازد.

۲- تنها ظهر نویسی ورانت باعث گروی اموال به شخصی می‌گردد که ورانت باو انتقال یافته است.

۳- تنها ظهر نویسی سند قبض (بشرطیکه حق حامل ورانت محفوظ بماند) ملکیت امتعه و ذخایر مودوعه را انتقال می دهد.

**مادۀ ۷۴۵:**

ظهر نویسی ورانت باید محتوی مقدار دین و تکت پولی و

مودی د راتګ نېټه ولري.

**۷۴۶ ماده:**

د ورانت د په شالیکنی تشریحات کټ مټ د قبض په سند کښې هم داخل او په شالیکونکی یې لاس لیکوی.

**۷۴۷ ماده:**

ورانت او د قبض سند په ګډه سره د سپینی شالیکنی په صورت ظهر نویسی کیدای شي.

دا ډول په شالیکنه د په شالیکونکی حقوق حامل ته منتقل کوی.

**۷۴۸ ماده:**

په عمومی ګدامونو کښې د سپارل شویو ذخیرو او مالونو تر مراقبت لاندی نیول، توقیف یا رهن جائز نه دی. مګر د ورانت او د قبض د سند د ضیاع او یا د میراث او افلاس له مخې د اختلاف په صورت چې په دی حال کښې د محکمی په امر او قرار رفتار کیږي.

**۷۴۹ ماده:**

د قبض د یوه سند حامل چې له ورانت څخه جلا شوی وی کولای

تاریخ حلول موعد باشد.

**مادۀ ۷۴۶:**

تشریحات ظهر نویسی ورانت عیناً در سند قبض نیز درج و ظهر نویس امضا می نماید.

**مادۀ ۷۴۷:**

ورانت و سند قبض مشترکاً بصورت ظهر نویسی سفید می‌تواند ظهر نویسی شود.

اینگونه ظهر نویسی حقوق ظهر نویس را به حامل منتقل می سازد.

**مادۀ ۷۴۸:**

تحت مراقبت گرفتن توقیف و یا رهن اموال و ذخائر مودوعه به گدام های عمومی جایز نمی باشد، مگر در صورت ضیاع ورانت و سند قبض و یا اختلاف از رهگذر میراث و افلاس که دراین صورت به امر و قرارمحکمه رفتار می‌شود.

**مادۀ ۷۴۹:**

حامل یک سند قبض که از ورانت تفریق گردیده باشد می

شي هغه پور چې د ورانت په ذریعه تأمین شوی وی سره د هغو له ټکټ پولیو د مودی تر رسیدلو عمومی ګدامونوته وسپاری او د وعدی له رسید لونه پخوا شیان له ګدامونو ځخه وباسی.

هغه مبلغ چې سپارل کیږي د ورانت د اعادی په مقابل کښې حامل ته ورکول کیږي.

**۷۵۰ ماده:**

د قبض هغه سند چې له ورانت ځخه جلا شوی وی حامل یې که وغواړي کولای شي عمومی ګدام ته د سپارل شویو مالونو او ذخیرو یوه برخه سره د یوی متناسبی اندازی پیسو له سپارنې هغو ټولو پورونو ته چې د مالونو له همغی برخی ځخه په لومړۍ مرحله کښې د ګدامونو تر مسئولیت لاندی تأمین شوی دی بیرته واخلی.

**۷۵۱ ماده:**

د ورانت حامل په دی صورت چې د ده د طلب د مودی په پسر رسیدلو کښې تسویه نه وی شوی لکه د برات د حامل غوندی کولای شي ګرو مال د تجارتی رهن له احکامو سره سم له اعتراض ځخه لس

تواند دینی را که ذریعهٔ ورانت تأمین گردیده با تکت پولی های آن تا حلول موعد به گدام های عمومی تودیع و قبل از حلول وعده اشیا را از مکازین خارج نماید.

مبلغی‌که تودیع میشود در مقابل اعادهٔ ورانت به حامل آن داده می‌شود.

**مادهٔ ۷۵۰:**

سند قبضی‌که از ورانت تفریق شده حامل آن اگر بخواهد می‌تواند یک قسمتی از اموال و ذخایر مودوعه به گدام عمومی را با تودیع یک مقدار پول متناسب به مجموع دیونی که از همان قسمت اموال در اول مرحله تحت مسئولیت مکازین تأمین شده است واپس بگیرد.

**مادهٔ ۷۵۱:**

حامل ورانت در صورتی‌که در بسر رسیدن موعد طلب او تسویه نشده باشد مانند حامل برات می‌تواند مال مرهون را طبق احکام رهن تجارتی ده روز بعد از اعتراض

ورځې وروسته وپلوري.

**۷۵۲ ماده:**

په (۷۴۸) ماده کښې داخل احوال د پلورنې مانع نه کېږي. مګر قيمت تر قطعي قرار پورې په ګدام کښې د وديعې په حيث پاتې کېږي.

**۷۵۳ ماده:**

د ګدام اجوره او هغه مصارف چې د مالونو او ذخيرو د ګمرکي او نورو محصولاتو د ورکړې د پاره د عمومي ګدامونو له خوا کيږي له مرهون مال څخه په استيفا کښې د اولیت حق لري.

**۷۵۴ ماده:**

هغه پول چې له مرهون مال څخه په لاس راځي وروسته د (۷۵۳) مادې د ذکر شويو مصارفو او اجورې له وضع نور د سند له حامل سره د معاملې د تسويې د پاره په ګدام کښې پاتې کيږي.

**۷۵۵ ماده:**

د ورانت حامل هغه وخت کولای شي پوروړي او يا د هغه په شاليکونکي ته مراجعه وکړي چې

بفروش برساند.

**مادۀ ۷۵۲:**

احوال مندرجه مادۀ (۷۴۸) مانع فروش نمی‌شود اما قیمت الی قرار قطعی بحیث ودیعه در گدام می ماند.

**مادۀ ۷۵۳:**

اجورۀ گدام و مصارفیکه برای تأدیه محصولات گمرکی و یا سائر محصولات اموال و ذخایر از جانب گدام های عمومی می‌شود در استیفا از مال مرهون حق اولیت دارد.

**مادۀ ۷۵۴:**

پولی که از مال مرهون بدست می آید بعد از وضع مصارف و اجورۀ متذکرۀ مادۀ (۷۵۳) بقیه برای تسویۀ معامله با حامل سند در گدام می ماند.

**مادۀ ۷۵۵:**

حامل ورانت وقتی می تواند به مدیون و یا به ظهر نویس های آن مراجعه نماید که فروش مال

د مرهون مال پلورنه د هغه د پور بسه ونکړي.

**۷۵۶ ماده:**

د قبض او (ورانت) حامل د هغې زمانی د تیریدو تابع دی چې د برات په خصوص کښې مقرر شویده په شالیکونکی ته د مراجعی د پاره د ذخیرو او مالونو د پلورنی ورځ د زمانی د تیریدو مبدأ حسابیږي.

**۷۵۷ ماده:**

د هغه ورانت حامل چې اعتراض يې نه دی کړی او یا یې په قانونی موده کښې د مرهونو مالونو په پلورنه اقدام نه وی کړی د شالیکونکو په مقابل کښې خپل ټول حقوق له لاسه باسی مګر د پوروړی په برابر دده د دعوی حق پاتی کیږي.

**۷۵۸ ماده:**

هغه حامل چې د قبض سند یا ورانت ضایع کوی د ملکیت د اثبات او ضمانت ورکولو په شرط کولای شي چې د تجارتی واک لرونکی محکمې له اجازې او په محلی جریدو کښې له اعلان او له

مرهون طلب او را کفایت نکند.

**مادۂ ۷۵۶:**

اسناد قبض و (ورانت) تابع آن مرور زمانی می باشد که در خصوص برات مقرر شده است برای مراجعه به ظهرنویس ها مبدأ مرور زمان روز فروش اموال و ذخایر حساب می‌شود.

**مادۂ ۷۵۷:**

حامل ورانتی‌که اعتراض ننموده و یا در مدت قانونی بفروش اموال مرهون اقدام نکرده باشد همه حقوق خود را در مقابل ظهر نویس ها ضایع می‌کند اما در برابر مدیون حق دعوی او باقی می ماند.

**مادۂ ۷۵۸:**

حاملی‌که سند قبض و یا ورانت را ضایع می‌کند بشرط اثبات مالکیت و دادن ضمانت می تواند پس از اجازه محکمۂ صلاحیتدار تجارتی و بعد از اعلان به جراید محلی و مرور مدتی‌که برای

هغې موده، تیریدو نه وروسته چې د اعتراض د پاره ټاکلې شوی ده د هغو مثنی وغواړی که د له لاسه وتلې ورانت وعده سرته رسیدلی وی د حامل د غوښتنې په اساس محکمه کولای شي چې د پور د تسویې د پاره اجازه ورکړی. که اجازه په ګدام اوورانت پورې اړه ولری نو کیفیت هم ګدام او هم لمړنی پورورړی ته ابلاغیږي. د ګدام خاوند او پوورړی کولای شي چې د محکمی د اجازې په مقابل کښې اعتراض وکړی.

په دی صورت محکمه د اعتراض په باره کښې فوراً حکم صادروی، که حکم د پور وا ل په ګټه وی په مؤقت ډول تر اجرأ لاندی نیول کیږي مګر ترهغه وخته پوری چې د محکمی اعلان قطعیت مومی هغه مبلغ چې د مرهون مال له پلورنې څخه په لاس راځی د محکمې په امر په یوه مصئون محل کښې اینبودلی کیږي.

**۷۵۹ ماده:**

د عمومی ګدامونو د تأسیس او د سپارنی وړمالو نو اصول او شرطونه د مخصوصو لایحو او

اعتراض تعیین شده مثنی آنرا مطالبه نماید اگر وعده ورانت ضایع شده بسر رسیده باشد به اساس تقاضای حامل محکمه می‌تواند دربارهٔ تسویه دین اجازه بدهد اگر اجازه متعلق به گدام و ورانت باشد کیفیت هم بگدام وهم به مدیون اولی ابلاغ می‌شود مالک گدام و مدیون می توانند در مقابل اجازه محکمه اعتراض نمایند.

در این صورت محکمه دربارهٔ اعتراض فوراً حکم صادر می‌کند اگر حکم به نفع دائن باشد مؤقتاً تحت اجرأ گرفته می‌شود ولی تاوقتی‌که اعلام محکمه کسب قطعیت می‌کند مبلغیکه از فروش مال مرهون حاصل می‌شود بامر محکمه به محل مصؤن تودیع می‌شود.

**مادۀ ۷۵۹:**

اصول و شرایط تأسیس گدام های عمومی و اموال قابل تودیع به اساس هدایت یا لایحه های

هدایت په اساس ټاکل کیږي.

## نهم فصل
## تجارتي وکالت

**۷۶۰ ماده:**
د تجارتی وکالت موضوع د مؤکل په نامه او حساب سره د تجارتی معاملاتو اجرا ده تجارتی وکالت بی اجرته اجرأ کیدای نشي.

**۷۶۱ ماده:**
تجارتی وکالت که څه هم عمومی الفاظ او تعبیرات ولری ترهغه وخته چې مخصوص صراحت موجود نه وی په غیر تجارتی معاملاتو کښې شاملیدای نشي.
که وکیل د ځینو مربوطو کارونو په باره کښې له خپل مؤکل څخه په یوه کار کښې هدایت اخیستی وی د هغه کار په پاتی برخو کښې د هغه وکالت پخپل اعتبار پاتی دی.
وکالت د یوه ټاکلی کار دپاره ورکول کیږی ټول هغه معاملات چې د دی کار د اجرا د پاره لازم دی بی له ځانګړی یادونی په دغه وکالت کښې شامل دی.

مخصوصه تعیین می‌شود.

## فصل نهم
## وکالت تجارتی

**مادهٔ ۷۶۰:**
موضوع وکالت تجارتی اجرای معاملات تجارتی است بنام و حساب مؤکل وکالت تجارتی بلا اجرت اجراء شده نمی‌تواند.

**مادهٔ ۷۶۱:**
وکالت تجارتی ولو اینکه محتوی الفاظ و تعبیرات عمومیه باشد تا وقتیکه صراحت مخصوص موجود نباشد نمی تواند شامل معاملات غیر تجارتی باشد.
اگر وکیل دربارهٔ بعضی از امور مربوطه به یک کار از مؤکل خود هدایت گرفته باشد وکالت در قسمت های متباقیه همان کار بر اعتبار خود باقی است.
وکالت برای یک کار معین داده می‌شود همه معاملاتی را که برای اجرای این کار لازم است بدون تذکر جداگانه در بر می گیرد.

**۷۶۲ ماده:**
تاجر کولای شي هغه وکالت چې ده ته سپارل کیږي قبول یا رد کړي مګر د تردید په حال کښې مجبور دی چې:
**اول:** بې د وخت له فوته د کیفیت اطلاع ورکړي.
**دوهم:** مؤکل ته د تردید د خبر تر رسیدلو پوري د مال د ساتنې او له خساري څخه د مؤکل د ګوښې دپاره لازم تدبیرونه ونیسي. د دې په عکس د پېښې شوی خساری په جبران مجبور دی.

**مادهٔ ۷۶۲:**
تاجر می‌تواند وکالتی را که باو سپرده می‌شود قبول و یا تردید کند ولی در حال تردید مجبور است:
**اول:** کیفیت را بدون فوت وقت اطلاع دهد.
**دوم:** الی وصول خبر تردید به مؤکل تدابیر لازمه را برای محافظه اموال و وقایه مؤکل از خساره اتخاذ نماید بر عکس آن مجبور به جبران خساره متولده است.

**۷۶۳ ماده:**
که مؤکل د تردید د خبر رسیدلو نه وروسته په یو زمان کښې چې متناسبه مسافه وی کوم بل شخص ونه ټاکي وکیل کولای شي چې له (۶۵۵) مادی سره سم محکمې ته مراجعه وکړي او د مالونو د ساتنې د پاره د یوه امین شخص ټاکل وغواړي برسیره په هغه تقاضا وکړي چې د مصارفو په اندازه له مربوطو مالونو څخه د پلورنې اجازه ورکړي.

**مادهٔ ۷۶۳:**
اگر مؤکل بعد از وصول خبر تردید در یک زمانیکه بمسافه متناسب باشد شخص دیگری را تعیین ننماید وکیل می تواند بر طبق مادهٔ (۶۵۵) به محکمه مراجعه و تعیین شخص امین را برای محافظهٔ اموال خواهش نماید و علاوتاً تقاضا کند که اندازه مصارف اجازهٔ فروش را از اموال مربوطه اعطا کند.

**۷۶۴ ماده:**

که وکیل واضحی علامی ووینی چې په سفر کښې د مالونو په خساره دلالت کوی مکلف دی ترخو د شیانو په نقل ورکوونکی باندی د مؤکل د دعوی د تأمین د پاره خساری کشفی کړی او د مالونو د ساتنې د پاره تر وسی پوری لازم تدبیرونه ونیسی. د شیانو د کامله تلفیدو د خطر د وجود په صورت دی د محکمی په اجازه له (۶۵۵) مادی سره سم هغه وپلوری او کیفیت دی بی له ځنډه مؤکل ته اطلاع ورکړی که نه وکیل د خپلی بی پروایی له کبله د پیښې شوی خساری په ورکړه مجبور دی.

**۷۶۵ ماده:**

که چیرې هغه مالونه چې د پلورنی په مقصد وکیل ته ورلیږل کیږي ژر فاسدیږی یا تغییر مومی چې د قیمت د ټیټوالی خطر ایجاب کړی او له مؤکل څخه د اجازی غوښتلو وخت مساعد نه وي او یا پخپله مؤکل په اجازه ورکولو کښې ځنډ وکړی وکیل د واک لرونکی محکمی په امر له

**مادهٔ ۷۶۴:**

اگر وکیل علائم واضحی مشاهده نماید که دال بر خسارهٔ اموال در اثنای سفر باشد مکلف است تا برای تأمین دعوی مؤکل علیه نقل دهندهٔ اشیاء خسارات را کشف و تدابیر لازمه را حتی الامکان برای محافظه اموال اتخاذ نماید در صورت وجود خطر تلف شدن کامل اشیاء مطابق مادهٔ (۶۵۵) به اجازهٔ محکمه آنرا بفروش رسانیده و کیفیت را بلا معطلی به مؤکل اطلاع بدهد بر عکس وکیل به جبران خساره متولده از اهمال خود مسئول است.

**مادهٔ ۷۶۵:**

هرگاه اموالیکه بمقصد فروش بوکیل فرستاده می‌شود سریع الفساد و یا معروض به تغییراتی باشد که خطر تنزیل قیمت ایجاب کند و برای استیذان از مؤکل وقت مساعد موجود نباشد و یا خود مؤکل در دادن اذن معطلی کند وکیل باساس امر محکمه ذی صلاحیت مطابق

(۶۵۵) مـادی سره سم د مالونو په پلورنه کښې اقدام کوی.

**۷۶۶ ماده:**

وکیـل مجبـور دی د ټـولـو هغـو احـوالو څخـه چـې د وکـالت د تـعديل او يا رفع بـاعـث شـوی وی مـؤکل ته اطلاع ورکړی.

**۷۶۷ ماده:**

وکـیـل په هغـو شیـانـو کـښې لـه پيښو شويـو خسارو څخـه چې د مؤکل په حساب لـه ده سـره وی پـه دی صـورت مـسئول دی چـې پېښې شـوی خـساری د فـوق العاده احوالو او يا د مجبره اسبابو او يا پخپلـه په شيانـو کـښې د موجوده نقـصانو پـه اثـر نـه وی پيدا شـوی.

**۷۶۸ ماده:**

وکـيـل مؤظـف دی چـې پـه مناسـب او مـعقـول وخـت کـښې د مؤکـل روپـۍ واخلـی او ورويې لـيږي او کـه دا وظيفـه اجـراء نکړی نو مجبور دی چې لـه همغـی نـېټـې څخـه ټکـټ پـولی ورکـړی او د ايجـاب لـه مخـې پيښـه شوی خساره جلا ورکړی.

مـادهٔ (۶۵۵) در فـروش امـوال اقدام می نماید.

**مادهٔ ۷۶۶:**

وکیل مـجبور است تمام احـوالی را که بـاعث تعدیل و یا رفـع وکالت شده بـاشد بـه مؤکل اطلاع دهد.

**مادهٔ ۷۶۷:**

وکـيـل از خـسارات وارده در اشيائی‌که بحساب مـؤکل در نـزد او مـی‌باشـد در صـورتـی مـسئول است کـه خـسارات وارده در اثـر احـوال فـوق الـعاده و يـا اسـباب مجبـره و يـا نـقائص موجوده در خـود اشياء بوجود نیامده بـاشـد.

**مادهٔ ۷۶۸:**

وکـيـل مـؤظف است در زمـان معقـول و مناسـب پول مـؤکل را تـسليم و ارسال نمايـد و اگـر ايـن وظـيفـه را ايـفا نکنند مجبـور است از همـان تـاريخ تکت پـولی تأديـه و عنـد الايجـاب خـسارهٔ وارده را جداگانـه جبـران نـمايد.

**۷۶۹ ماده:**
وکیل نشي کولای چې د مؤکل له صریح او قطعي امرونوڅخه مخالفت وکړي او که نه په هغې خساري ورکولو باندی مجبوریږی چې له دی لارې پیدا کیږي مګر که د وکالت اجراء نظر د مؤکل امریې ته د مؤکل د پاره کلی خساره پیښوی د مؤکل په اجازه معامله ځنډولی شي.

**مادهٔ ۷۶۹:**
وکیل نمی‌تواند به اوامر صریح و قطعی مؤکل مخالفت کند بر عکس مجبور به جبران خسارهٔ می‌شود که ازین حیث تولید می‌گردد ولی اگر اجرای وکالت نظر به امریه مؤکل خساره کلی را برای مؤکل محقق می‌گرداند به استیذان مؤکل معامله را تأخیر داده می‌تواند.

**۷۷۰ ماده:**
په هغو معاملاتو کښې چې د مؤکل صریح هدایت موجود نه وی وکیل معامله د مؤکل تر هدایت پورې ځنډولی شي مګر که د کار فوریت د مؤکل تر استیذان پوری وخت ونه لری او یا وکیل اجازه ولری ترڅو د ګټورو شرایطو په دائره کښې حرکت وکوی په دی حال کښې کولای شي چې په ډیر فکر سره خپله معامله اجراء کړي.

**مادهٔ ۷۷۰:**
در معاملاتی‌که هدایت صریح مؤکل موجود نباشد وکیل معامله را تا هدایت مؤکل تأخیر داده می‌تواند ولی اگر فوریت کار برای استیذان مؤکل مساعد نباشد ویا وکیل اجازه داشته باشد تا در دائره شرایط مفیده حرکت کند درین حال می‌تواند با بصیرت معامله را اجراء نماید.

**۷۷۱ ماده:**
وکیل مجبور دی چې وروسته د وکالت له اجراء کولونه بی له ځنډه مؤکل ته اطلاع ورکړي که وکیل د خپل وکالت له حدودو څخه تیری

**مادهٔ ۷۷۱:**
وکیل مجبور است بعد از ایفای وکالت کیفیت را بلا تأخیر به مؤکل اطلاع دهد اگر وکیل از حدود وکالت خود

کړې وي نوکه مؤکل له معاملې څخه له اطلاع وروسته په لازم وخت کښې ځواب ورنکړي داسې ګڼل کيږي چې موافقه يې کړې ده.

تجاوز کرده باشد در صورتیکه مؤکل بعد از اطلاع از معامله در زمان لازمه جواب ندهد مثل این است که موافقه کرده است.

## ۷۷۲ ماده:

که وکيل هغه مبلغ چې د مؤکل په حساب يې اخيستی دی د ټاکلي مقصد د پاره استعمال نکړي په هغه ډول چې د روپو د اخيستلو له نېټې نه د ټکټ پولي په ورکړې مجبور دی په همدې شان د وکالت د نه اجراء کولو د خسارې له جبران څخه هم مسئول دی او که حيله او چل يې کړی وی تر جزائې تعقيباتو لاندې به هم راشي.

## مادهٔ ۷۷۲:

اگر وکیل مبلغی را که بحساب مؤکل گرفته برای مقاصد معینه استعمال ننماید طوریکه از تاریخ گرفتن پول مجبور به پرداخت تکت پولی است همچنین مسئول جبران خساره عدم ایفای وکالت هم می‌باشد و اگر حیله و خدعه بکار برده باشد مورد تعقیبات جزائیه نیز قرار خواهد گرفت.

## ۷۷۳ ماده:

که دريم کسان چې له وکيل سره مقاوله ترلې ده وکالت نامه وغواړي وکيل مجبور دی چې هغه ورته ښکاره کړي او که نه دريم کسان کولای شي چې له عقد څخه رجوع وکړي که وکيل اثبات کړي چې دريم کسان د عقد په وخت کښې د مؤکل له هدايت څخه خبر وو نو له عقد څخه رجوع نشي کولای.

## مادهٔ ۷۷۳:

اشخاص ثالث که با وکیل مقاوله عقد نموده اند وکالت نامه مطالبه نمایند وکیل مجبور است آنرا ارائه نماید و الا اشخاص ثالث می توانند از عقد رجوع کنند اگر وکیل اثبات کند که اشخاص ثالث در حین عقد از هدایات مؤکل بوکیل مطلع بوده اند از عقد رجوع نمی توانند.

**۷۷۴ ماده:**
که د هغه چا وکالت چې د یوه شخص د وکیل یا ممثل په حیث حرکت کوی حقیقت پیدا نکړی او یا هغه معامله چې له واک څخه د باندی یې اجراء کړی ده د مؤکل له خوا تصویب نشي پخپله دی د هغې معاملی مسئول دی.

**مادهٔ ۷۷۴:**
اگر وکالت کسیکه بحیث وکیل و یا ممثل یک شخص حرکت می‌کند حقیقت پیدا نکند و یا معامله را که خارج صلاحیت انجام نموده است از طرف مؤکل تصویب نشود بالذات مسئول همان معامله است.

**۷۷۵ ماده:**
مؤکل مکلف دی چې وکیل د پاره د وکالت د اجراء لاژم وسایل راغونډ کړی مګر دا چې په مقاوله کښې د هغه په خلاف قبول شوی وی.

**مادهٔ ۷۷۵:**
مؤکل مکلف است و سائل لاژمه اجرای وکالت را برای وکیل فراهم سازد مگر اینکه خلاف آن در مقاوله قبول شده باشد.

**۷۷۶ ماده:**
د وکالت اجرت په دی صورت چې مقاوله ترمنځ نه وی د محکمی له خوا نظر د وکالت عرف او احوالو او شرایطو ته ټاکل کیږي.

**مادهٔ ۷۷۶:**
اجرت وکالت در صورت عدم وجود مقاوله از طرف محکمه نظر به عرف و احوال و شرایط وکالت تعیین می شود.

**۷۷۷ ماده:**
د وکالت د اجراء په ضمن کښې له مؤکل څخه د وکیل طلبات په دی صورت مرجح دی چې دا طلبات د وکالت موضوع د مال او یا د وکالت د اجرت په مقابل کښې پیشکی روپۍ استقراض او برات

**مادهٔ ۷۷۷:**
طلبات وکیل از مؤکل در ضمن اجرای وکالت در صورتی مرجح است که این طلبات پول پیشکی استقراض و برات صادر شده در مقابل مال موضوع وکالت و یا اجرت

صادر شوی وی او هغه روپۍ چې د وکالت د موضوع په خصوص کښې په نورو شکلونو پور اخیستل کیږي پیدا شوی وی. که د مؤکل شیان د وکیل له خواپلورل شوی وی کولای شي چې مربوط مصارف د شیانو له قیمت څخه مرجحاً تحصیل کړی.

**۷۷۸ ماده:**

لپاره د دی چې په (۷۷۷) ماده کښې ذکر شوی ترجیح صورت ونیولی شي لازم دی ترڅو خپل طلبات چې په مؤکل یې لری د محکمی په ذریعه مؤکل ته تبلیغ کړی او په تبلیغ کښې زیات کړی چې که مؤکل په پنځو ورځو کښې خپل پور تسویه نکړی د هغو مالونو په پلور نه کښې چې د ترجیح حق لری اقدام کوی مؤکل حق لری چې په دی تبلیغ اعتراف وکړی او وکیل محکمی ته وغواړی، مؤکل مجبور دی له هغې نېټې څخه چې ده ته یې تبلیغ شوی دی دا اعتراض په موده د درې ورځو کښې د محکمی په ذریعه وکیل ته ورسوی.

که مؤکل د وکیل د استوګنې په

وکالت و مبالغیکه به اشکال دیگر راجع بموضوع وکالت قرض گرفته می‌شود تولید شده باشد. اگر اشیای مؤکل از طرف وکیل فروخته شده باشد مصارف مربوط را می‌تواند از قیمت اشیا مرجحاً تحصیل نماید.

**مادهٔ ۷۷۸:**

برای اینکه ترجیح متذکره مادهٔ (۷۷۷) صورت گرفته بتواند لازم است تا وکیل طلبات خود را که بالای مؤکل دارد ذریعهٔ محکمه به مؤکل تبلیغ بدارد و در تبلیغ علاوه نماید که اگر در ظرف پنج روز مؤکل دین خود را تسویه ننماید بفروش اموالیکه حق ترجیح دارد اقدام می ورزد مؤکل حق دارد بااین تبلیغ اعتراض و وکیل را به محکمه دعوت نماید. مؤکل مجبور است این اعتراض را در ظرف سه روز از تاریخ تبلیغی که به او شده توسط محکمه به اطلاع وکیل برساند.

اگر مؤکل در محل اقامتگاه وکیل

محل کښې استوګنځی ونه لری د اعتراض موده په لاندې ډول اوږدیږي:

که د مؤکل د استوګنې ځای د محکمې په حوزه کښې وی د اعتراض موده شل ورځې او که مؤکل په کوم یوه ولایت کښې اوسیږي د اعتراض موده یې څلوېښت ورځې ده.

که مؤکل په د باندینو ملکونو کښې استوګنه ولری د اعتراض موده یې عبارت له هغو مودو څخه ده چې د حقوقی محاکماتو په اصولو کښې مقرره شوی ده.

د مودی د تیریدو یا د اعتراضاتو د تردید په صورت وکیل کولای شي چې د څېړنې موضوع مالونه د (۶۵۵) مادی له احکامو سره سم وپلوری.

**۷۷۹ ماده:**

د یوه معین کار د پاره د متعددو وکیلانو د ټاکلو په حال کښې که د هغو د عمل اشتراک د ټاکلو په حال کښې که د هغو د عمل اشتراک تصریح شوی نه وی نوهریود بل د نشتوالی په صورت د معاملی د اجرأ واک لری او که د

کدام اقامتگاهی نداشته باشد مدت اعتراض قرار ذیل تمدید می‌شود:

هرگاه محل اقامت مؤکل در حوزۀ محکمه باشد مدت اعتراض بیست روز و اگر مؤکل در یکی از ولایات مقیم باشد مدت اعتراض چهل روز است.

اگر مؤکل در ممالک اجنبیه اقامت داشته باشد مدت اعتراض عبارت از مدت های است که در اصول محاکمات حقوقی مقرر شده است.

در صورت مرور مدت و یا تردید اعتراضات وکیل می‌تواند اموال موضوع بحث را بر طبق احکام مادۀ (۶۵۵) بفروش رساند.

**مادۀ ۷۷۹:**

در حال تعیین وکلای متعدد برای کار معین هرگاه اشتراک عمل آنها تصریح نشده باشد هر کدام در صورت عدم وجود دیگری صلاحیت اجرای معامله را دارد اگر اشتراک عمل

وکیلانو د کار اشتراک تصریح شي او د هغو د ځینو له خوا وکالت قبول نشي هغه وکیلان چې اکثریت لری کولای شي چې وکالت قبول کړی او معامله پای ته ورسوی.

**۷۸۰ ماده:**

که مؤکل بی له معقول سبب څخه وکیل عزل کړی او یا هغه کارچې د وکیل له خوا تعهد شوی دی د وکیل د ګوښه توب او استعفی په اثر تکمیل نشي نو هغه طرف چې د دی امر باعث کیږي مکلف دی چې د مقابل طرف د خساری تاوان ورکړی.

**۷۸۱ ماده:**

که د وکیل او یا مؤکل د افلاس، وفات او یا تقصیر په اثر وکالت خاتمه ومومی نو وکیل یا هغه چاته چې د هغه قایم مقام کیږي د کار د تکمیل د اجرت په تناسب حق الزحمه ورکوله کیږي.

وکلاء تصریح شود و از طرف بعضی آنها وکالت قبول نگردد وکلائیکه اکثریت دارند می‌توانند وکالت را قبول و معامله را انجام دهند.

**مادهٔ ۷۸۰:**

در صورت عدم سبب معقول اگر مؤکل وکیل را عزل نموده و یا کاریکه از طرف وکیل تعهد گردیده است در اثر کناره گیری و استعفای وکیل تکمیل نشود طرفیکه باعث این امر می‌شود مکلف است خسارهٔ طرف مقابل را جبران نماید.

**مادهٔ ۷۸۱:**

اگر در اثر افلاس یا وفات و یا تقصیر مؤکل و یا وکیل وکالت خاتمه یابد به وکیل و یا کسیکه قایم مقام آن می‌شود به تناسب اجرت تکمیل کار حق الزحمه داده می‌شود.

## لسم فصل
## کمیشن کاری

**۷۸۲ ماده:**
هغه څوک چې تجارتی معاملات په خپل نامه او د معاملی د خاوند (آمر) په حساب د یو اجرت په مقابل کښې د عادتی کسب په حیث اجرأ کوی (کمیشن کار) او هغه مقاوله چې د معاملی د خاوند او د کمیشن کار ترمنځ ترله کیږي (دکمیشن مقاوله) بلله کیږي.

**۷۸۳ ماده:**
که د معاملې خاوند د هغې اجراء په خپل نامه صراحتاً شرط ایښی وی دا مقاوله د تجارتی وکالت د احکامو تابع ده.

**۷۸۴ ماده:**
که په دی فصل کښې د آمر او کمیشن کار د متقابله حقوقو او وجایبو په خصوص کښې مخصوص احکام موجود نه وی نود وکالت احکام تطبیق کیږي.

**۷۸۵ ماده:**
د کمیشن له معاملی څخه پیدا شوی حقوق او وجایب

## فصل دهم
## کمیشن کاری

**مادۀ ۷۸۲:**
شخصی که معاملات تجارتی را بنام خود و بحساب صاحب معامله (آمر) در مقابل یک اجرت بحیث کسب معتاده اجرأ می‌کنند (کمیشن‌کار)و مقاوله که در بین صاحب معامله و کمیشن کار منعقد می‌گردد (مقاوله کمیشن) نامیده می‌شود.

**مادۀ ۷۸۳:**
اگر صاحب معامله اجرای آنرا بنام خود صراحتاً شرط گذاشته باشد این مقاوله تابع احکام وکالت تجارتی است.

**مادۀ ۷۸۴:**
هرگاه در این فصل احکام مخصوصه راجع به حقوق و وجائب متقابله آمر و کمیشن کار موجود نباشد احکام وکالت تطبیق می‌شود.

**مادۀ ۷۸۵:**
حقوق و وجائب ناشی از معامله کمیشن منحصراً

خاص په کمیشن کار پوری اړه لری نه په آمر او دریم شخص پوری.

متعلق به کمیشن کار است نه آمر و اشخاص ثالث.

**۷۸۶ ماده:**

کمیشن کار مکلف دی هغه کارونه چې صراحتاً یا ضمناً یې قبول کړی دی اجرأ او ترسره کړی.هغه کمیشن کار چې بی د (۷۸۹ او ۷۹۰) مادو داخلو قانونیه اسبابو له استناده محول شوی چاری نه اجرأ کوی مجبوردی چې د آمر د خسارو تاوان ورکړی.

**مادۀ ۷۸۶:**

کمیشن کار مکلف است اموری را که صراحتاً و یا ضمناً قبول کرده است اجرأ و اکمال نماید کمیشن کاریکه بدون استناد به اسباب قانونیه مندرجۀ مواد (۷۸۹ و ۷۹۰) امور محوله را اجرأ و انجام نمی کند مجبور است خسارات آمر را جبران کند.

**۷۸۷ ماده:**

د آمر فوت د کمیشن د مقاولی د فسخ باعث نګرځي حقوق او وجایب ورثی ته منتقل کیږي.

**مادۀ ۷۸۷:**

فوت آمر باعث فسخ مقاوله کمیشن نمی‌گردد حقوق و وجایب به ورثه منتقل می‌شود.

**۷۸۸ ماده:**

آمر نشي کولای د کمیشن له داسی مقاولی څخه چې د کمیشن کار له خوا قبوله شوی وی رجوع وکړی.

**مادۀ ۷۸۸:**

آمر نمی‌تواند از چنان مقاوله کمیشن که از طرف کمیشن کار قبول شده رجوع نماید.

**۷۸۹ ماده:**

که محققه وی چې د کمیشن د موضوع اجرأ د بل چاپه ذریعه ممکن نه ده او یا د بل شخص په ذریعه د آمر د پاره مشکلات او

**مادۀ ۷۸۹:**

اگر محقق باشد که اجرای موضوع کمیشن بذریعۀ کسی دیگر ممکن نباشد و یا توسط شخص دیگر برای آمر مشکلات و

خساره پیدا کړي نوکمیشن کار نشي کولای چې له خپلی مقاولی څخه رجوع وکړي.

**۷۹۰ ماده:**

په دی صورت چې د کمیشن د مقاولی د مقرراتو اجرأ په روپوپوری تړلی وی او آمر په پوره اندازه نه وی لیږلی او یا دا چې بیان یې کړی وی چې مقتضی روپۍ دی د کمیشن کار له خوا ورکړلی شي مګر د هغو د ورکړې کیفیت د کمیشن کار د آمر له خوا تصریح شوی نه وی کمیشن کار کولای شي چې تل د کمیشن له مقاولی څخه رجوع وکړی او یا د مقاولی اجرأ ځنډ کړی.

**۷۹۱ ماده:**

که د کمیشن د مقاولی د مالونو اټکلی قیمت په دومره اندازه لږ وی چې د نقلیه وسایلو بسنه ونکړی نو کمیشن کار مجبور دی چې بی له ځنډه آمر ته د دغه کیفیت اطلاع ورکړی برسېره په دی د دی مالونو د تسلیمی د پاره کولای شي چې له (۶۵۵) مادی سره سم له محکمی څخه د یوه امین شخص ټاکل وغواړی.

خساره تولید کند کمیشن کار نمی‌تواند از مقاوله خود رجوع نماید.

**مادهٔ ۷۹۰:**

در صورتیکه اجرای مقررات مقاولهٔ کمیشن وابسته به پول بوده و آمر به اندازه کافی نفرستاده باشد و یا اینکه بیان نموده باشد که پول مقتضی از طرف کمیشن کار داده شود ولی چگونگی تأدیه آن از طرف آمر کمیشن کار تصریح نشده باشد کمیشن کار می‌تواند همیشه از مقاوله کمیشن رجوع و یا اجرای مقاوله را به تعویق اندازد.

**مادهٔ ۷۹۱:**

اگر قیمت تخمینی اموال موضوع مقاوله کمیشن به اندازه کم باشد که مصارف نقلیه را تکافو نکند کمیشن کار مجبور است کیفیت را بدون معطلی به آمر اطلاع دهد. بر علاوه برای تسلیمی اموال مذکور می‌تواند تعیین شخص امین را از محکمه بر طبق مادهٔ (۶۵۵) مطالبه نماید.

**۷۹۲ ماده:**

کمیشن کار مکلف دی په هغو معاملاتو چې د هغو د اجرأ تعهد کوي داسي دقت او بیداری په کار واچوي چې له یوه ښه تاجر څخه په خپلو شخصي چارو کښې څرګندیږي د مؤکل د ګټو ساتنه، د امرونو په ځای کول مؤکل ته د تصمیم نیولو د پاره په مناسب وخت او زمان کښې د معاملې د مقتضی مطالبو اطلاع او په تیره بیا د کمیشن او په اسنادو او تسلیمی باندې د مستند حساب د ورکولو په خصوص کښې اطلاع او د حاصلو ګټو بې له ټاله لیږل د کمیشن کار د وظیفو جزء دی.

**مادهٔ ۷۹۲:**

کمیشن کار مکلف است در معاملاتیکه اجرای آن را تعهد می نماید دقت و بصیرتی را بکار ببرد که یک تاجر خوب در امور شخصی خویش ابراز می دارد حفظ منافع مؤکل، ایفای اوامر اطلاع مطالب مقتضی معامله در وقت و زمان منافع برای اتخاذ تصمیم به مؤکل و بالخاصه اطلاع راجع به کمیشن و اعطای حساب مستند به اسناد تسلیمی و یا ارسال بلا معطلی منافع حاصله جزء وظایف کمیشن کار است.

**۷۹۳ ماده:**

که کمیشن کار سره له دا ډول تیری او د صلاحیت د بد استعماله معامله پایته ورسوی چې د مؤکل په ضرر تمامه شي دا معامله په خپله د کمیشن کار په باره کښې اعتبار لری مګر هغه دی ته نشي اړ کولای چې د (۷۹۶ او ۷۹۷) مادو د ذکر شویو شرایطو په اساس معامله په خپل حساب قبوله کړي.

**مادهٔ ۷۹۳:**

اگر کمیشن کار با تجاوز و یا سوء استعمال صلاحیت معامله را انجام دهد که به ضرر مؤکل تمام شود این معامله در مورد خود کمیشن کار اعتبار دارد ولی آمر را وادار ساخته نمی‌تواند که باساس شرایط متذکره مواد (۷۹۶ و ۷۹۷) معامله را بحساب خود قبول کند.

**۷۹۴ ماده:**

د مؤکل له امرونو او هدایاتو څخه د کمیشن کار د تخلف په اثر د عقد د باطلو ادعا خاص په آمر پوری اړه لری په کمیشن کار او دریمو کسانو پوری تعلق نه لری.

**۷۹۵ ماده:**

تر هغه وخته پوری چې آمر امر نه وی ورکړی کمیشن کار مجبور نه دی چې د کمیشن د مقاولې د موضوع مالونه بیمه کړی.

**۷۹۶ ماده:**

که کمیشن کار د هغو مالونو چې پیرودل کیږي د جنس او تاکلیو اوصافو په خصوص کښې د آمر له هدایاتو څخه تخلف وکړي آمر مجبور ندی چې هغه قبول کړی.
که د کمیشن کار له خوا له هغې اندازی څخه چې آمر تاکلی ده په پیرودلو کښې زیات مخالفت وکړي مؤکل کولای شي چې هغه زیادت کمیشن کار ته پریږدی او تاکلی اندازه قبوله کړی.

**مادهٔ ۷۹۴:**

ادعای بطلان عقد در اثر تخلف کمیشن کار از اوامر و هدایات مؤکل منحصر به آمر بوده به کمیشن کار و اشخاص ثالث تعلق ندارد.

**مادهٔ ۷۹۵:**

تا وقتیکه آمر امری نداده باشد کمیشن کار مجبور نیست اموال موضوع مقاوله کمیشن را بیمه بنماید.

**مادهٔ ۷۹۶:**

اگر کمیشن کار از هدایات آمر در بارهٔ جنس و اوصاف معینه اموالیکه خریداری میشود تخلف ورزد آمر مجبور نیست آنرا قبول کند.
اگر تخلف در خریداری زیاد تر از آنچه آمر معین کرده از طرف کمیشن کار بعمل آید مؤکل میتواند زیادتی را به کمیشن کار واگذاشته و مقدار معینه را قبول نماید.

**۷۹۷ ماده:**

که کمیشن کار د مقاولي د موضوع مالونه له ټاکلي قیمت څخه ټیټ وپلوري اویا یې له ټاکلي قیمت څخه لوړ وپیري او آمر ونه غواړي چې دا معامله په خپل حساب کښې قبوله کړي پدې صورت کښې مکلف دی چې د خبر د رسید لو سره سم د خپلې قبولي یا نه قبولي څخه کمیشن کار ته اطلاع ورکړي او که داسې ونکړي داسې ګڼل کیږي چې معامله یې قبول کړې ده، سره له دې کمیشن کار د اجرأ په ترڅ کښې ووایې چې د قیمت تفاوت جلاور کوي، آمر د اجرأ شوي معاملې په قبلولو مکلف دی.

که کمیشن کار د آمر له ټاکلي قیمت څخه مخالفت وکړي او آمر له دې لارې په خساره اخته شوی وي آمر کولای شي چې د خسارې تاوان وغواړي.

**۷۹۸ ماده:**

که کمیشن کار نظر د آمر ټاکليو شرایطو ته معامله په مساعدو شرایطو پای ته رسولې وي اضافه ګټې په آمر پورې اړه

**مادهٔ ۷۹۷:**

اگر کمیشن کار اموال موضوع مقاوله را نازل تر از قیمت معینه فروش و یا بلندتر از قیمت معینه خریداری کند آمر نخواهد این معامله را بحساب خود قبول نماید در این صورت مکلف است به مجرد وصول خبر قبول و یا عدم قبول خود را به کمیشن کار اطلاع دهد اگر چنین نکند طوری محسوب می‌شود که معامله را قبول کرده است، معذلک اگر کمیشن کار در ضمن اجرای عمل اظهار نماید که تفاوت قیمت را علیحده می پردازد آمر مکلف به قبول معامله اجراء شده است.

اگر کمیشن کار از قیمت معینهٔ آمر مخالفت کرده آمر از این حیث دچار خساره شده باشد آمر می‌تواند جبران خساره را مطالبه نماید.

**مادهٔ ۷۹۸:**

هرگاه کمیشن کار نظر بشرایط معینه آمر معامله را با شرایط مساعد تری انجام داده باشد منافع اضافی متعلق به آمر

لری.

**۷۹۹ ماده:**

هغه حسابو نه چې کمیشن کار یې ورکوی باید د دفترونو له مندرجاتو سره مطابقت ولری.هغه کمیشن کار چې خپل آمرته د حقیقت په خلاف د حساب پاڼه ورکوی او یا په دی پاڼه کښې د شیانو نرخ او د منعقده مقاولاتو شرایطوته د بدنیت له مخې تغییر ورکوی او غیر واقعی مصارف او یا له حقیقی اندازی څخه زیات مخارج قید وی د ده د اجرت غوښتنې حق ساقط او د اجرأ شویو معاملاتو له نتایجو څخه شخصا مسئولیږي.

**۸۰۰ ماده:**

هغه کمیشن کار چې بی د آمر له اجازی دریمو کسانوته پیشکی پیسی او یا اعتبار ورکوی داسی ګڼل کیږي چې قبوله کړی یې ده چې ګټه او ضرر د معاملی په ده پوری اړه لری.

که د معاملی د اجراء په محل کښې تجارتی عرف مقتضی وی چې د قیمت د ورکړې د پاره دی پیرودونکی ته مهلت ورکړشي

است.

**مادۀ ۷۹۹:**

حساباتی را که کمیشن کار می‌دهد باید با مندرجات دفاتر مطابقت داشته باشد. کمیشن کاریکه به آمر خود بر خلاف حقیقت ورقه حساب داده و یا در این ورقه نرخ اشیا و شرایط مقاولات منعقده را با سوء نیت تغییر می‌دهد و مصارف غیر و یا مخارج اضافه از مقدار حقیقی را قید می نماید حق مطالبۀ اجرت او ساقط و از نتایج معاملات اجرا شده شخصاً مسئول می‌شود.

**مادۀ ۸۰۰:**

کمیشن کاریکه بدون اجازۀ آمر به اشخاص ثالث پول پیشکی و یا اعتبار می دهد چنان محسوب می‌گردد که قبول کرده که نفع و ضرر معامله به او متعلق است.

اگر در محل اجرای معامله عرف تجارتی مقتضی باشد که برای تأدیه قیمت بمشتری مهلت داده شود در حالیکه

په دی حال کښې چې د هغه په خلاف د آمر امرنه وی کمیشن کار کولای شي چې پخپله مهلت ورکړی.

**۸۰۱ ماده:**
کمیشن کار که څه هم په پور ورکولو اجازه ولری نشي کولای په هغو کسانو چې په ناتوانی او بد معامله گی مشهور دی د آمر مال وپلوری.

**۸۰۲ ماده:**
هغه کمیشن کار چې د آمر په اجازه د هغه مالونه په پور سره پلوری مکلف دی چې د معاملی له اجراء نه وروسته د پیرودونکو د نومونو څخه آمر ته اطلاع ورکړي او که داسی ونکړی نو دا پلورنه نقدی بلله کیږي.

**۸۰۳ ماده:**
هغه کمیشن کار چې د برات پیرودنه یې په غاړه اخیستی وی باید د برات د شالیکنې په وخت کښې بی له کوم قید او شرط څخه هغه آمر ته منتقل کړی.

**۸۰۴ ماده:**
کمیشن کار له دریمو کسانو سره

بر خلاف آن امر آمر نباشد کمیشن کار می تواند مهلت را بالذات اعطا نماید.

**مادۀ ۸۰۱:**
کمیشن کار اگر بفروش نسیه مجاز هم باشد نمی تواند به اشخاصی‌که به عدم اقتدار مالی و بد معامله گی معروف اند مال آمر را به فروش برساند.

**مادۀ ۸۰۲:**
کمیشن کاریکه به اجازۀ آمر اموال او را به صورت نسیه می فروشد مکلف است به تعقیب اجرای معامله اسامی مشتریان را به آمر اطلاع نمایند و بر عکس فروش مذکور نقدی محسوب می‌شود.

**مادۀ ۸۰۳:**
کمیشن کاریکه خرید برات را بذمه گرفته باشد باید حین ظهر نویسی برات بدون کدام قید و شرط آنرا به آمر منتقل سازد.

**مادۀ ۸۰۴:**
کمیشن کار از لحاظ دیون

د مربوطو پور ونو له وجې چې د ده معامله ورسره ده د آمر په مقابل کښې مسئول نه دی. مګر که د هغه په خلاف تجارتی عرف یا مقاوله موجوده وی نوکمیشن کار د دریمو کسانو په درجه مسئول دی په دی صورت کمیشن کار د دی مسئولیت په مقابل کښې د یوه ځانګړی اجرت د اخیستلو مستحق دی.

**۸۰۵ ماده:**

کمیشن کار وروسته د تعهد کړی معاملی له اکمال څخه د اجرت د غوښتنې حق لری په هغې معاملی کښې چې د کمیشن کار له خوا اداره شوی وی مګر په خپله په آمر پوری د مربوطو عواملو په اثر نتیجی ته نه رسیږي هم د اجرت د غوښتنې حق لری د هغو معاملاتو د پاره چې د نورو علتونو په نتیجه کښې بی اجرأ پاتی کیږي کمیشن کار کولای شي د هغه زیار په اندازه چې ایستلی یې دی نظر محلي عرف سره سم تاوان وغواړی.

**۸۰۶ ماده:**

کمیشن کار کولای شي چې پخوا د کمیشن کاری د وظیفی له اکمال

مربوط به اشخاص ثالث که طرف معامله اش می‌باشد در مقابل آمر مسئول نیست ولی اگر بر خلاف آن مقاوله و یا عرف تجارتی موجود باشد کمیشن کار بدرجۀ اشخاص ثالث مسئول می‌باشد در اینصورت کمیشن کار در برابر این مسئولیت باخذ یک اجرت علیحده مستحق می‌باشد.

**مادۀ ۸۰۵:**

کمیشن کار بعد از اکمال معامله متعهده حق مطالبۀ اجرت را دارد در معامله ای که از طرف کمیشن کار اداره شده ولی در اثر عوامل مربوط به شخص آمر به نتیجه نمی رسد نیز حق طلب اجرت را دارا می‌باشد برای معاملاتیکه در نتیجۀ علل دیگری عقیم می ماند کمیشن کار می تواند باندازۀ زحمتی که متحمل شدۀ نظر به عرف محلی تقاضای جبران نماید.

**مادۀ ۸۰۶:**

کمیشن کار می تواند پول های پیشکی و مصارف را با تکت

نه پیشکي پیسي او مصارف سره د هغو له ټکټ پولي وغواړي په دی صورت کښې دی مجبور دی چې په اسنادو مستند حساب آمر ته ورکړي.
د نقلیه او ګدام مصرف د کمیشن کار د مصارفو په جزء کښې د قلمداد وړ دی، مګر د مستخدمینو (مامورینو) اجرت په هغه کښې شاملیدای نشي.

**۸۰۷ ماده:**

هغه کمیشن کار چې د بیه لرونکو پاڼو او یا د ټاکلی نرخ لرونکو مالونو پلورونه او پیرودنه یې په بورس یا بازار کښې په غاړه اخیستی وی په دی حال کښې چې د هغه په خلاف د آمر امر موجود نه وی کولای شي کوم شي چې پیری د پلورونکی په صفت له خپل مال څخه ورکړي او کوم شي چې پلوری د پیرودونکی په حیث یې ځانته واخلی په دی صورت کمیشن کار مجبور دی چې د بورس یا بازار د ټاکلی نرخ له مخې حساب ورکړي په دی صورت آمر ته د کمیشن کاری د وظیفی په ځای کولو د اطلاع نېټه د معاملی د اجراء نېټه

پولی آن قبل از اکمال وظیفۀ کمیشن کاری مطالبه کند در این صورت مجبور است حسابی مستند به اسناد به آمر بدهد.
مصرف نقلیه و گدام در جزء مصارف کمیشن کار قابل قلمداد است، ولی اجرت مستخدمین (مامورین) در آن شامل شده نمی‌تواند.

**مادۀ ۸۰۷:**

کمیشن کار یکه بیع و شرای اوراق بهادار و یا امتعه دارای نرخ معین در بورس و یا بازار را متعهد شده باشد در حالیکه بر خلاف آن امر آمر موجود نباشد می تواند چیزی را که می خرد به صفت بایع از مال خود اعطاء و شی را که می فروشد به حیث مشتری برای خود اخذ نماید دراین صورت کمیشن کار مجبور است که نظر به نرخ معینه بورس و یا بازار حساب بدهد تاریخ اطلاع ایفای وظیفۀ کمیشن کاری به این صورت به آمر تاریخ اجرای معامله محسوب

بلله کیږي د نورو خصوصیاتو په باره کښې د تجارتی بیعې احکام تطبیق کیږي.
د مقاولې په ذریعه د دی مادی حکم په آمر باندی تعدیلیدای نشي.

**۸۰۸ ماده:**

په دی صورت چې د کمیشن کاری معامله د (۸۰۷) مادی په ترتیب اجرأ شي کمیشن کار د کمیشن او عادی مصارفو اخیستلو مستحق دی.

**۸۰۹ ماده:**

کمیشن کار کولای شي چې خپل طلب د (۷۷۷) مادی له مخې له هغو پیسو څخه چې د معاملې د اجرا په نتیجه کښې یې د آمر په حساب په لاس راوړی دی (دده د آمر د پوروالاتو په مقابل کښې) ترجیحاً پوره کړی.

**۸۱۰ ماده:**

که کمیشن کار د کمیشن معامله چې له (۸۰۷) مادی سره اجرأ کړی ده بې د هغه شخص له تصریح څخه چې معامله یې ورسره کړی ده آمر ته اطلاع ورکړی آمر حق لری

می‌شود. دربارهٔ خصوصیات دیگر احکام بیع تجارتی تطبیق می‌شود.
حکم این ماده توسط مقاوله بر علیه آمر تعدیل شده نمی‌تواند.

**مادهٔ ۸۰۸:**

در صورتی‌که معامله کمیشن کاری به ترتیب مادهٔ (۸۰۷) اجرأ شود کمیشن کار مستحق اخذ کمیشن و مصارف عادی می‌باشد.

**مادهٔ ۸۰۹:**

کمیشن کار می تواند طلب خود را به اساس مادهٔ (۷۷۷) از مبالغیکه در نتیجهٔ اجرای معامله به حساب آمر تحصیل می کند (در مقابل آمر و دائنین او) ترجیحاً استیفاء نماید.

**مادهٔ ۸۱۰:**

اگر کمیشن کار معامله کمیشن را که بر طبق مادهٔ (۸۰۷) اجرأ نموده بدون تصریح شخص طرف معامله به آمر اطلاع نماید آمر حق دارد این

چې دا د پلورنې او پیرودنې معامله د کمیشن کار په حساب اجرأ شوې وګڼي.

**۸۱۱ ماده:**
ترهغه وخته پورې چې کمیشن کار ته صریحاً اجازه نه وي، نشي کولای چې د خپل آمر د مال مارک تبدیل کړي.

**۸۱۲ ماده:**
که یوه معامله د متعددو آمرینو د مالونو په باره کښې اجرأ شي کمیشن کار مؤظف دی چې خپلو دفترونو کښې د مالونو مالک په صریح صورت قید کړي.

## یوولسم فصل
## د نقلیاتو کمیشن کاري

**۸۱۳ ماده:**
هغه څوک چې په خپل نامه او د آمر په حساب یې د تجارت د مال د حمل او نقل کسب غوره کړی وي د نقلیاتو کمیشن کار بلل کیږي.
د نقلیاتو په کمیشن کارۍ کښې په هغو حالاتو کښې چې په دی فصل کښې تصریح شوی نه وي د کمیشن په مقاوله پورې مربوط

معاملهٔ بیع و شراء را به حساب کمیشن کار اجراء شده تلقی کند.

**مادهٔ ۸۱۱:**
تا وقتیکه کمیشن کار صریحاً مجاز نباشد نمی تواند مارک امتعهٔ آمر خویشرا تبدیل کند.

**مادهٔ ۸۱۲:**
اگر یک معامله دربارهٔ اموال آمرین متعدد اجراء گردد کمیشن کار مؤظف است در دفاتر خویش مالک اموال را بصورت صریح قید نماید.

## فصل یازدهم
## کمیشن کاری نقلیات

**مادهٔ ۸۱۳:**
شخصی‌که بنام خود و حساب آمر حمل و نقل مال التجاره را بحیث پیشه اتخاذ کرده باشد کمیشن کار نقلیات نامیده می‌شود.
در کمیشن کاری نقلیات در حالاتیکه دراین فصل تصریح نشده باشد مقررات مربوط به مقاوله کمیشن و بالخاصه

مقررات او خاص بیا د مالونو د قبض او ساتنې او بیمې په خصوص کښې احکام تطبیق کیږي.

**۸۱۴ ماده:**

د نقلیاتو کمیشن کار نشي کولای چې له هغه اجرت نه زیات چې له وړونکی سره یې قرارداد کړی دی د آمر په حساب قید کړي.

**۸۱۵ ماده:**

د نقلیاتو کمیشن کار د اجرت د غوښتنې حق هغه وخت پیدا کوي چې مالونه یې نقل کوونکی ته تسلیم کړي وي.

**۸۱۶ ماده:**

د نقلیاتو د سند یا د هغه علم او خبر چې د نقلیاتو د سند قایم مقام وي او دغه رنګه ګدام او مکازینو ته د مالونو د سپارنې د قبض درسید ښکاره کول د کمیشن کار په لاس کښې د مالونو د اثبات وسیله ده دغه مالونه د نقلیاتو د لګښتونو او د کمیشن د اجرت او د پیشکی پیسو له حیثه له کمیشن کار سره د ګروي په حیث ګڼل کیږي.

احکام راجع به قبض و محافظه و بیمه اموال تطبیق می‌گردد.

**مادۀ ۸۱۴:**

کمیشن کار نقلیات نمی‌تواند بیش از اجرتی را که با نقل دهنده قرارداد کرده به حساب آمر قید کند.

**مادۀ ۸۱۵:**

کمیشن کار نقلیات وقتی حق مطالبه اجرت را پیدا می‌کند که اموال را به نقل دهنده تسلیم کرده باشد.

**مادۀ ۸۱۶:**

ارایۀ سند نقلیات علم و خبری که قایم مقام سند نقلیات باشد رسید قبض تودیع اموال به گدام و مکازین وسیله اثبات اموال بدست کمیشن کار است از حیث مصارف نقلیات و اجرت کمیشن کار است از حیث مصارف نقلیات و اجرت کمیشن و پولهای پیشکی این اموال در نزد کمیشن کار بحیث گروی دانسته می‌شود.

**۸۱۷ ماده:**

که متعددو کمیشن کارانو یوله بل نه وروسته د مالونو په نقل کښې وساطت کړی وی نو هغه کمیشن کاران چې وروسته یې وساطت کړی دی مجبور دی چې له دوی نه د پخوا کمیشن کارانو حقوق او خاص بیاد هغوی د رهن حق په هغو مالونو باندی چې نقل ورکړی شوی دی تأمین کړی.

که د یوه کمیشن کار طلب د وروستی کمیشن کار له خوا تأمین شي د لومړی کمیشن کار د رهن حق وروستی کمیشن کار ته نقل کیږی.

**مادۀ ۸۱۷:**

هرگاه کمیشن کاران متعدد یکی بعد دیگر در نقل اموال وساطت نموده باشند کمیشن کارانیکه مؤخراً وساطت نموده اند مجبورند حقوق کمیشن کاران پیش تر از خود را مخصوصاً حق رهن آنها را بر اموالیکه نقل داده شده تأمین نمایند.

اگر طلب یک کمیشن کار از طرف کمیشن کار متعاقب تأمین شود حق رهن کمیشن کار اولی به کمیشن کار متعاقب انتقال می یابد.

**۸۱۸ ماده:**

په دی صورت چې د نقلیاتو کمیشن کار د نقل ورکوونکی اجرت ورکړی حقوق یې په خپله ده ته نقلیږي.

**مادۀ ۸۱۸:**

در صورتی‌که کمیشن کار نقلیات اجرت نقل دهنده را تأدیه نماید حقوق او بخودش انتقال می‌کند.

**۸۱۹ ماده:**

په دی صورت چې د هغه په خلاف کومه مقاوله موجوده نه وی د نقلیاتو کمیشن کار کولای شي چې مالونه د خپلو وسایلو په ذریعه نقل کړی.

**مادۀ ۸۱۹:**

در صورتی‌که بر خلاف آن مقاولۀ موجود نباشد کمیشن کار نقلیات میتواند اموال را ذریعۀ وسایل خود نقل دهد.

که د آمر د غوښتنې له امله د نقلیاتو کمیشن کار علم او خبر د هغه په نامه سره تنظیم او صادر کړی وی او یا د نقلیي اجرت او مصارف یې په یوه ټاکلی مبلغ په مقطوع صورت فیصله کړی وی په دی حال کښې د خپل آمر په مقابل کښې حقوقاً د نقل ورکوونکی حیثیت پیدا کوی.

**۸۲۰ ماده:**

د نقلیاتو د کمیشن کار مسئولیت وروسته له هغې نېټې څخه چې مالونه د مرسل الیه له خوا اخیستل شوی وی له یوکال نه وروسته ساقطیږی.

که هغه ټول مالونه چې د نقل تعهد یې شوی وی ضایع شوی وی نود زمانی تیریدل له هغې نېټې څخه شروع کیږی چې ما لونه سپارل کیده.

که مالونه د کمیشن کار دچم او حیلی په اثر ورک شوول شوی وی او یا خراب او ناقص شي یا ناوخته ورسپارل شوی وی د کمیشن کار مسئولیت په پورتنیو ټاکلیو مودو کښې نه ساقطیږي.

هرگاه کمیشن کار نقلیات علم و خبر را نظر به تقاضای آمر بنام او تنظیم و صادر نموده باشد و یا اجرت نقلیه و مصارف را بیک مبلغ معین بصورت مقطوع فیصله کرده باشد درین حال در مقابل آمر خود حقوقاً حیثیت نقل دهنده را پیدا می‌کند.

**مادۀ ۸۲۰:**

مسئولیت کمیشن کار نقلیات یک سال بعد از تاریخیکه اموال از طرف مرسل الیه تسلیم گرفته می‌شود ساقط می‌گردد.

اگر اموالیکه نقل آن تعهد شده کاملاً ضایع شده باشد مرور زمان از تاریخیکه اموال تسلیم داده میشد آغاز می‌گردد.

هرگاه اموال در اثر حیلۀ کمیشن کار گم شده وانمود شده و یا ناقص و خراب گردد ویا ناوقت تر تسلیم داده شده باشد مسئولیت کمیشن کار در ظرف مدتهای معینه فوق ساقط نمی‌گردد.

## دوولسم فصل
## نقلیات
## لومړۍ برخه
## عمومي احکام

**۸۲۱ ماده:**
د نقل ورکوونکی له خوا د اجرت په مقابل کښې په وچه او دریاب او فضا کښې د مالونو او یا اشخاصو د حمل او نقل تعهد د نقلیاتو د مقاولې په نامه بلل کیږي.

**۸۲۲ ماده:**
د دی فصل مقررات په هغو کسانو چې د نقلیاتو معاملې یې خپل کسب نه وی ګرځولی او په عارضی صورت د مالونو او اشخاصو په نقلولو کښې تعهدونه وکړي هم تطبیق کیږي.

**۸۲۳ ماده:**
ټولې هغه دعوې چې د نقل له مقاولې څخه پیدا کیږي د نقلیاتو د خلاف حقیقت اجرت د استرداد د دعوی په شمول د یوه کال له تیریدلو څخه وروسته ساقطیږي.
دا موده د مالونو په نقل کښې د سپار لوله ورځې او د اشخاصو په نقل کښې د رسیدلوله نېټې

## فصل دوازدهم
## نقلیات
## حصهٔ اول
## احکام عمومی

**مادهٔ ۸۲۱:**
تعهد حمل و نقل اموال و یا اشخاص در خشکه و دریا و فضاء در مقابل اجرت از طرف نقل دهنده بنام مقاولهٔ نقلیات خوانده می‌شود.

**مادهٔ ۸۲۲:**
مقررات این فصل بر اشخاصی‌که معاملات نقلیات را پیشه خود نساخته و بصورت عارضی در نقل اموال و اشخاص تعهداتی بنمایند نیز تطبیق می‌گردد.

**مادهٔ ۸۲۳:**
تمام دعاوی ناشی از مقاولهٔ نقل با شمول دعوی استرداد اجرت خلاف حقیقت نقلیات بعد از مرور یک سال ساقط می‌گردد.
این مدت در نقل اموال از روز تسلیم و در نقل اشخاص از تاریخ مواصلت شروع

ثخه شروع کیږي.که مالونه ټول ضایع شوي وي او یا اشخاص نه وي رسیدلي نودمودي تېرېدل له هغې نېټې ثخه چې مالونه تسلیمیدل او اشخاص رسیدل حسابیږي.
که ثابت شي چې مالونه د نقل ورکوونکی د چم او د حیلی له مخې ضایع شوي دي یایې نقص کړي دي یا ناوخته سپارل شوي دي نو د نقل د ورکوونکی مسئولیت په پورتنیو مودو کښې نه ساقطیږي.

می‌شود اگر اموال تماماً ضایع گردیده و یا اشخاص مواصلت ننموده باشند مدت مرور زمان از تاریخیکه اموال تسلیم و اشخاص مواصلت می نمود حساب می گردد.
اگر ثابت شود که اموال از رهگذر حیله نقل دهنده ضایع شده یا نقص نموده و یا ناوقت تر تسلیم شده مسئولیت نقل دهنده در ظرف مدتهای فوق ساقط نمی‌شود.

## دوه یمه برخه
## دمالونو نقل

**۸۲۴ ماده:**
په دی صورت چې نقل ورکوونکی تقاضا کړي وي لیږونکی مکلف دی چې د نقلیې سند په دوو نسخو کښې ورکړي ممکن دی چې د نقلیې مقاوله د دواړو خواوو په موافقه بی د نقلیې له سنده نقل ورکوونکی ته د مالونو په تسلیمی سره وشي.

## حصهٔ دوم
## نقل اموال

**مادهٔ ۸۲۴:**
در صورتی‌که نقل دهنده تقاضا کرده باشد مرسل مکلف بدادن سند نقلیه در دو نسخه می‌باشد ممکن است مقاولهٔ نقلیه بموافقه طرفین بدون سند نقلیه با تسلیمی اموال به نقل دهنده بعمل آید.

**۸۲۵ ماده:**
د نقلیاتو سند باید دا لاندی

**مادهٔ ۸۲۵:**
سند نقلیات باید محتوی

شرایط ولری:
۱- د مرسل الیه آدرس د مالونو د لېږنې ځای، د مال د تحویلی په خصوص کښې شرح مبنی په (امر) او یا د اقتضا له مخې (حامل ته).
۲- د ظرفیت د تول قید او د مالونو شمیر او که مالونه د پاکټ په صورت وی د پاکټ لمبرونه سره د باربندۍ له علامو او وصف.
۳- د مرسل هویت او د استوګنې ځای.
۴- د نقل ورکوونکی هویت او د استوګنې ځای.
۵- د نقلیاتو د اجرت اندازه او که اجرت یې ورکړی وی د هغه توضیح.
۶- د نقل ورکولو د اجراء موده.
۷- نورهغه خصوصیات چې د طرفینو په منځ کښې تاکل شوی وی.
۸- هغه ضرر او مسئولیت چې د دی شرایطو د کوم یوه له نه درجېدو څخه پیښ شي او یاله دی پاس موادو څخه یو سهواً درج نشي او یا له حقیقت څخه مخالف قید شي په لیږونکی پوری اړه لری.
که هغه مالونه چې نقل کول کیږي

شرایط ذیل باشد:
۱- آدرس مرسل الیه محل ارسال اموال شرحی دایر بر تحویلی مال مبنی بر (امر) و یا عند الاقتضاء به (حامل).
۲- قید وزن ظرفیت، و عدد اموال، و اگر اموال بصورت پاکت باشد نمبرهای پاکت با علامات و وصف باربندی.
۳- هویت و اقامتگاه مرسل.
۴- هویت و اقامتگاه نقل دهنده.
۵- مقدار اجرت نقلیات و اگر اجرت پرداخته شده باشد توضیح آن.
۶- مدت اجرای نقل دادن.
۷- خصوصیات دیگریکه در بین طرفین قرارداده شده باشد.
۸- ضرر و مسئولیتی که از رهگذر عدم درج یکی از ین شرایط وارد شود و یا یکی از مواد فوق سهواً درج نشود و یا مخالف حقیقت قید شود عاید به مرسل است.
اگر اموالیکه نقل داده می‌شود

لکه باروت او نور چاودیدونکی مواد خطرناک وی نو هغه لیږونکی چې د کیفیت اطلاع نه ورکوی د هغې خسارې په تاوان ورکولو باندې مجبور دی چې ددې له امله پېښیږي.

**۸۲۶ ماده:**

لیږونکی مجبور دی چې ګمرکی پاڼې او نور اسناد چې د مالو نو د نقل د پاره په کار کیږي نقل کوونکی ته وسپاری که چېرې دا پاڼې او اسناد منظم او له حقیقت سره سم تکمیل نه وی نو لیږونکی یې مسئول دی.

**۸۲۷ ماده:**

که د نقلیاتو سند تنظیم شوی نه وی نقل ورکوونکی د لیږونکی د غوښتنې په صورت کې مکلف دی هغه علم او خبر چې په هغه کښې د نقلیاتو د سند خصوصیات درج وی ترتیب اولاس لیک کړی او لیږونکی ته یې وروسپاری .

**۸۲۸ ماده:**

د نقلیاتو د سند یوه نسخه د لیږونکی ترلاسلیک وروسته نقل ورکوونکی ته سپارل کیږي

خطرناک از قبیل باروت و مواد انفلاقیه باشد مرسلیکه این کیفیت را به اطلاع نمی رساند مجبور به جبران خساره است که ازین رهگذر وارد می‌شود.

**مادۀ ۸۲۶:**

مرسل مجبور است اوراق گمرکی و اسناد دیگریرا که برای نقل اموال بکار می آید به نقل دهنده تودیع کند هرگاه این اوراق و اسناد منظم و به حقیقت موافق و تکمیل نباشد مرسل از آن مسئول است.

**مادۀ ۸۲۷:**

اگر سند نقلیات تنظیم نگردیده باشد نقل دهنده در صورت درخواست مرسل مکلف است علم وخبری که در آن خصوصیات سند نقلیات درج باشد ترتیب و امضاء نموده بمرسل تسلیم نماید.

**مادۀ ۸۲۸:**

یک نسخه سند نقلیات بعد از امضاء از طرف مرسل به نقل دهنده تودیع و با

او لـه مـالونو سره یو ځـای لیږل کیـږي بلـه نـسخه یـې د نقــل ورکوونکــی پــه لاس لیــک سـره لیږونکی ته اعاده کیږي.
که د نقلیاتو سند په امر او یا حامل لیکلـی شـوی وی د هغــه پــه شالیکنــه او یــا تــسلیمی د مالونو د ملکیت د نقل حکم لری.
په شا د لیکنی شکل او نتیجی د هغــو احکــامو تــابع دی چــې د تجارتی اسنادو په باره کښې وضع شوی دی.

امــوال یکجــا فـرســتـــاده مـی‌شـود نـســخه دیگر بامضای نـقـل دهنـده بـه مـرســل اعـاده میگردد.
اگر سند نقلیات محرر بـه امـر و یــا حامــل بـــاشد ظـهـــر نویـسی و یا تسلیمی آن حـکم نـقـل ملکیت اموال را دارد.
شکل و نتـایج ظهـر نویـسی تـابع همـان احکـامی است کـه دربـارۀ اسـناد تجــارتی وضــع شــده است.

**۸۲۹ ماده:**

کــه نقــل کــوونکی د مــالونو د وضعیت او د شیانو د اخیستلو په باره کښې د نقلیاتو په سند او یا په بیله پاڼه کښې چې د هغو له مخې یې شیان قبول کړی وی کومه شرح نه وی قید کړی داسی ګڼل کیږي چې د مالونو د ظاهری نقص نشتوالی یې تصدیق کړی دی.
سره له دی که نقل کوونکی مـالونه بی لـه اعتراضه هم قبول کړی وی کولای شي چې دا دعوی او اثبات وکـړي چـې پـټ او نـه لیـدونکی نقـصانونه پـه هغـو کـښې موجـود

**مادۀ ۸۲۹:**

اگــر نقل دهنده دربارۀ وضعیت امــوال و اخــذ اشـیـاء در سـند نقلیات و یــا در ورقه علیحده که بـه موجب اشـیــاء را قبـول کـرده شرحی قیـد نکرده باشـد چنیـن محسوب می شود که عدم وجود نقـص ظـاهری امـوال را تـصدیق کرده است.
معـذالک اگر نقل دهندۀ امـوال را بـدون اعتـراض هـم قبـول کـرده بــاشـد می‌تواند ادعا و اثبات کند که نقایص غیر ظاهر و غیر قابـل ادراک در آن وجـود داشـته

دی.

**۸۳۰ ماده:**

نقل ورکوونکی مجبور دی له هغه امر سره سم چې د مالونو د لیږنې په باره کښې ده ته ورکړی شوی دی تګ وکړي پرته له فوق العاده او مجبره احوالو چې پخپله دی د احوالو په اقتضا سره اقدام کولای شي.

**۸۳۱ ماده:**

که چیرې د شیانو نقل د هغه فوق العاده حالت او مجبره سبب په اثر چې په دوارو خواوو پوری اړه نلری امکان ونه لری او یا وځنډیږی نو نقل ورکوونکی ته اطلاع ورکړی.

پدی صورت کی لیږونکی کولای شي چې د نقلیاتو د سند نسخه چې نقل ورکوونکی لاس لیک کړیدی اعاده کړی او هغه تسویه چې په (۸۳۴) ماده کښې پیش بینی شوی ده معموله کړی او مقاوله فسخ کړی.

**۸۳۲ ماده:**

لیږونکی لکه چې له (۸۳۴) او

باشد.

**مادهٔ ۸۳۰:**

نقل دهنده مجبور است مطابق امری که در بارهٔ ارسالی اموال باو داده شده است رفتار نماید باستثنای احوال فوق العاده و مجبره که خودش باقتضای احوال اقدام می‌تواند.

**مادهٔ ۸۳۱:**

هرگاه نقل اشیاء باثر حالت فوق العاده و سبب مجبره که بطرفین ارتباط نداشته باشد ممکن نگردد و یا بتأخیر افتد نقل دهنده مجبور است کیفیت را فوراً بمرسل اطلاع دهد.

در این صورت مرسل می‌تواند نسخه سند نقلیات را که نقل دهنده امضاء کرده است اعاده کند و تسویه را که در مادهٔ (۸۳۴) پیش بینی شده معمول داشته و مقاوله را فسخ نماید.

**مادهٔ ۸۳۲:**

مرسل چنانچه (مطابق مواد-

(۸۳۵) مادی سره سم حق لری (د تاوان ورکولو سره) نقلیات تہال او شیان مسترد کړی همدا ډول واک لری چې بی له مرسل الیه څخه شیان بل ته تسلیم کړی او یا په بل ډول په هغو کښې تصرف وکړي. مګر نقل ورکوونکی له هغې نېټې څخه چې شیان مطلوبه محل ته رسیدلی او مرسل الیه د هغو د تسلیمی تقاضا کړی وی او یا له هغې ورځې څخه چې مرسل الیه د نقلیاتو سند تسلیم کړی او یا نقل ورکوونکی مرسل الیه خبر کړی وی نو نقل ورکوونکی د لیږونکی د امرونو په اجرا مکلف نه دی.
که د نقلیاتو سند د حامل په وجه یا محرر په امر وی نو نقل ورکوونکی یوائې د هغه شخص د امرونو په اجرأ مکلف دی چې د نقلیاتو لاس لیک شوی سند د نقل ورکوونکی له خوا ښکاره او تسلیم کړی.

۸۳۴ و ۸۳۵) حق دارد با پرداخت غرامت نقلیات را معطل و اشیاء را استرداد کند همچنان صلاحیت دارد بدون از مرسل الیه اشیاء را بدیگری تسلیم و یا طور دیگری در آن تصرف نماید ولی نقل دهنده از تاریخیکه اشیاء به محل مطلوبه واصل شده و مرسل الیه تقاضای تسلیمی آن را کرده باشد یا از روزیکه مرسل الیه سند نقلیات را تسلیم شده و یا نقل دهنده مرسل الیه را مطلع نموده باشد نقل دهنده مکلف باجرای اوامر مرسل نمی‌باشد.
اگر سند نقلیات در وجه حامل و یا محرر بامر باشد نقل دهنده تنها مکلف به اجرای اوامر شخصی است که سند نقلیات امضا شده از طرف نقل دهنده را ارائه و تسلیم نماید.

**۸۳۳ ماده:**

که د مرسل یا مرسل الیه د نویو هدایاتو له مخې هغه مسافه چې وهله کیږي او یا د نقل موده زیاته شي نقل ورکوونکی حق لری چې د

**مادۀ ۸۳۳:**

اگر نظر به هدایات جدید مرسل و یا مرسل الیه مسافۀ که طی می‌شود و یا مدت نقل زیاد شود نقل دهنده حق دارد

مسافي او مودي د زیاتو الي په تناسب هغه کرأیه او مصارف وغواړي چې په دې لاره کښې یې ګاللي وي.

**۸۳۴ ماده:**

که سفر د فوق العاده احوالو او مجبره اسبابو له مخې چې په دې دواړو طرفو باندې اړه نه لري قطع شي نو نقل ورکوونکي د مسافی د قطع د باړي د هغو مصارفو لاس ته راوړلو په نسبت چې ګاللی یې دی د غوښتنې حق لري.

که د فوق العاده احوالو او مجبره اسبابو له امله په وړلو سره پیل نه وي شوي نو وړونکی د اجرت حق نلري لیکن حق لري چې د وړلو، تشونو او نورو هغو ضروري لګښتونو غوښتنه وکړي چې ګاللي یې دي.

**۸۳۵ ماده:**

که باریدل د مرسل الیه په تقاضا قطع شوي وي لاندني مواد اجرأ کیږي:

۱- که د نقلیې وسیله پخوا له حرکت څخه توقیف شي مرسل د مقرره اجوری نیمایې او د باریدو او خالي کولو مصارف سره له هغو

به تناسب زیادت مسافه و مدت اجرت کرأیه و مصارفی را که در این راه متحمل شده است تقاضا نماید.

**مادۀ ۸۳۴:**

اگر سفر نظر به احوال فوق العاده و اسباب مجبره که به هیچ یکی از طرفین مربوط نباشد قطع گردد نقل دهنده حق طلب کرأیه را نسبت به قطع مسافه و استیفاء مصارفی را که متحمل گشته دارا می باشد.

اگر در اثراحوال فوق العاده و اسباب مجبره به نقل شروع نشده باشد نقل دهنده مستحق اجرت نمی‌گردد ولی حق دارد مصارف حمل و نقل و غیره مصارف ضروریه را که متحمل شده مطالبه نماید.

**مادۀ ۸۳۵:**

اگر حمل به تقاضای مرسل الیه قطع شده باشد مواد ذیل اجرأ می‌شود:

۱- اگر وسیلۀ نقلیه قبل از حرکت توقیف شود مرسل نصف اجورۀ مقرره و مصارف حمل و تخلیه را با مصارف

نورو ضروری مصارفو چې د نقل ورکوونکی له خوا شوی وی متحمل کیږي.
۲- که نقلیه وسیله وروسته له حرکته ټال شوی وی مرسل مکلف دی چې د نقلیه ټول اجرت او د تخلیې مصارف سره له هغو مصارفو چې د مال په اعاده کښې له ده نه شوی وی په غاړه واخلی.

ضروری دیگریکه از طرف نقل دهنده بعمل آمده باشد متحمل می‌شود.
۲- اگر وسیلهٔ نقلیه بعد از حرکت معطل شده باشد مرسل مکلف است تمام اجرت نقلیه و مصارف تخلیه را با مصارفیکه در اعاده اموال بوی بعمل آمده تحمل کند.

**۸۳۶ ماده:**
نقل ورکوونکی مکلف دی چې مالونه د مقاولې د مقرری مودی یا تجارتی عرف له مخې او که داسی نه وی په یوه معقوله موده کښې نقل کړی.

**مادهٔ ۸۳۶:**
نقل دهنده مکلف است اموال را نظر بمدت مقرره مقاوله و یا عرف تجارتی و در صورت عدم آن در ظرف یک مدت معقول نقل بدهد.

**۸۳۷ ماده:**
که مالونه وروسته له ټاکلی مودی ورسیږي د معاملې مربوط طرف کولای شي چې د تأخیر د مودی په تناسب د نقلیې په اجرت کښې د تنزیل ادعا وکړي.
که د تأخیر موده د مقاولې له ټاکلی مودی څخه یو په دوه تیری وکړي نو د نقلیاتو د اجرت ټول حق ساقطیږي او نقل ورکوونکی له هغو خسارو څخه چې له دی سببه په اثبات ورسیږي مسئول دی. هغه

**مادهٔ ۸۳۷:**
اگر اموال بعد از مدت معین واصل گردد طرف مربوط معامله میتواند به تناسب مدت تأخیر ادعای تنزیل را در اجرت نقلیه بنماید.
هرگاه مدت تأخیر از دو چند مدت معینهٔ مقاوله تجاوز نماید حق اجرت نقلیات تماماً ساقط می‌شود و نقل دهنده از خساراتیکه از ین سبب باثبات برسد مسئول است مقرراتیکه

مقررات چې د نقل ورکوونکی د نه مسئولیت په خصوص کښې په مقاوله کښې درج شي کان لم یکن ګڼل کیږي که د نقل ورکوونکی اثبات کړی چې د معطلۍ سبب مرسل او مرسل الیه او یا مجبره او فوق العاده سبب دی د مالونو د رسیدو له تأخیر څخه مسئول نه دی.

د تأخیر د پاره د نقلیه وسایطو ورکه یانه کفاف ښودل عذر نه بلل کیږي.

**۸۳۸ ماده:**

نقل ورکوونکی د مالونو د تسلیم له نېټې څخه مرسل الیه ته د ورتسلیمولو تر نېټې پوری د هرډول پیښ شویو ضایعاتو او خساراتو مسئول دی.

مګر که نقل ورکوونکی د هغو ضایع کیدل او خساری په لاندنیو دلایلو ثابت کړی له مسئولیت څخه وزی:

۱- فوق العاده احوال او مجبره سبب.

۲- په مالونو کښې ذاتی عیبونه او نقصانونه او یا د هغو باربندی.

راجع بعدم مسئولیت نقل دهنده در مقاوله درج گردد کان لم یکن است. اگر نقل دهنده اثبات کند که سبب معطلی مرسل و مرسل الیه و یا سبب مجبره فوق العاده بوده است از تأخیر وصول اموال مسئول نمی شود.

وانمود فقدان و یا عدم کفاف وسایط نقلیه برای تأخیر عذر شمرده نمی‌شود.

**مادۀ ۸۳۸:**

نقل دهنده از تاریخ تسلیم اموال الی تاریخ تسلیم آن به مرسل الیه از هر نوع ضایعات و خسارات وارده مسئول است.

ولی اگر نقل دهنده ضیاع و خساره را به دلایل ذیل ثابت کند از مسئولیت بری می گردد:

۱- احوال فوق العاده و سبب مجبره.

۲- ثبوت معایب و نقایص ذاتی در اموال و یا باربندی آن.

۳- د هغې ضیاع- خساري ثبوت چې د مرسل او یا مرسل الیه له اعمالو او هدایاتو څخه وی یواځې د دریمی فقری په ضیاع او خساره کښې که مال ټول ضایع شوی هم وی نقل ورکوونکی په پوره ډول د اجوری مستحق دی، په (۱) او (۲) موادو کښې که د مالونو یوه برخه تلف شوی وی نقل ورکوونکی د پاتې برخې د اجوری اخیستلو مستحق دی.

**۸۳۹ ماده:**

د نقل ورکوونکی مسئولیت د مالونو په نقل کښې له هغې نېټې څخه شروع کیږي چې په دی مقصد یې د مالونو په بارولو پیل کړی وی.

**۸۴۰ ماده:**

په هغو شیانو کښې چې حجم او تول یې کمېږی نقل ورکوونکی کولای شي چې د هغو تناقض فیصدی اندازه د مخه وټاکي او معامله کوونکی موافقه په لیکنه سره لاس ته راولی.

په دی صورت چې مالونه په انډیو کښې تقسیم شوی وی دا مسئولیت دوی هر یوه ته

۳- ثبوت ضیاع خسارهٔ که ناشی از اعمال و هدایات مرسل و یا مرسل الیه بوده باشد. تنها در ضیاع و خساره فقرهٔ سوم اگر مال تماماً ضایع هم شود نقل دهنده بصورت پوره مستحق اجوره می‌باشد در موارد (۱) و (۲) اگر قسمتی از اموال تلف شده باشد نقل دهنده مستحق اخذ اجوره قسمت متباقی می باشد.

**مادهٔ ۸۳۹:**

مسئولیت نقل دهنده در نقل اموال از تاریخیکه اموال را بدان مقصد تسلیم می‌شود آغاز می‌یابد.

**مادهٔ ۸۴۰:**

در اشیائیکه در اثنای نقل حجم و وزن آن کم می‌شود نقل دهنده می‌تواند مقدار فیصدی تناقص آنرا قبلاً معین و موافقه طرف معامله را کتباً حاصل کند.

درصورتی‌که اموال در بسته ها تقسیم شده باشد این مسئولیت برای هر کدام آنها

ځانګړی تحدید یدای شي.
که مرسل یا مرسل الیه اثبات کړي چې لړوالی د شیانو د ماهیت څخه نه دی پیدا شوی بلکه د بل علت په اثر پیدا شوی دی او یا لړوالی له هغې اندازې څخه کم دی چې ټاکلی شوی ده. پدی وخت کښې د مسئولیت د تحدید موضوع بی تأثیره پاتی کیږي.

**۸۴۱ ماده:**
نقل ورکوونکی د نورو ټولو هغو نقل ورکوونکو سره د ده قایم مقام کیږي او هغو کسانو سره چې له ده سره مرسته کوی او یا هغو کسانو سره چې د مالونو نقل یې هغوته سپارلی دی مرسل الیه ته د شیانو تر تسلیمی پوری مسئول دی.

**۸۴۲ ماده:**
د شیانو د ضیاع خساره نظر د نقلیاتو د سند مندرجه قیمت ته او که د نقلیاتو په سند کښې قیمت نه وی ذکر شوی نظر د مال جاری قیمت ته د تسلیم په محل کښې ټاکل کیږي.
د شیانو د خساری ضرر نظر د هغه لومړنی قیمت توپیرته

جداگانه تحدید شده باشد.
اگر مرسل و یا مرسل الیه اثبات کنند که کمبودی از ماهیت اشیاء نشئت نکرده بلکه در اثر علت دیگری بوجود آمده و یا کمبود کمتر از آن مقداری است که معین شده، آنگاه موضوع تحدید مسئولیت بی تأثیر می ماند.

**مادۀ ۸۴۱:**
نقل دهنده از افعال و خطا های تمام نقل دهندگان دیگر که قایم مقام او می‌شود و آنهائیکه با وی معاونت می کنند و یا کسانیکه نقل اموال را به آنها سپرده است الی تسلیمی اشیاء بمرسل الیه مسئول می‌باشد.

**مادۀ ۸۴۲:**
خسارۀ ضیاع اشیاء نظر به قیمت مندرجۀ سند نقلیات و اگر در سند نقلیات قیمت ذکر نشده باشد نظر بقیمت جاری مال در محل تسلیم تعیین می گردد.
ضرر خساره اشیاء نظر به تفاوت قیمت اولی که

چې د مال له تسلیمی څخه پخوایې د تسلیم په محل کښې وجود درلود او هغه قیمت چې د مالونو له خساری څخه وروسته د تسلیم په محل کښې مروج دی تثبیتېږی.

**۸۴۳ ماده:**

د شیانو د ضیاع او زیانمنیدو په صورت نقل کوونکی د هغو قیمتونو چې منلی یې دی تضمین کوی د مسافرینو د مالونو ضرر چې بې د ماهیت او قیمت له اظهاره نقل ورکوونکی ته سپاری نظر د هری پېښې او شخص خصوصی احوالوته تعیین او تثبیتېږی.

نقل ورکوونکی د قیمت لرونکو شیانو له ضیاع او ضرر څخه لکه نقدی، حجت، سهمونه د پور سندونه او نوری هغه پاڼې او سندونه چې د سپارنی په وخت کښې د هغې اطلاع نه ورکوله کیږي مسئول نه دی.

سره له دی په دی صورت چې په ضیاع او ضرر کښې د نقل ورکوونکی حیله او یا فاحش تقصیر ثابت شي د هغو ټولو په

قبل از تسلیمی مال در محل تسلیم وجود داشت وقتیکه بعد از خسارهٔ اموال در محل تسلیم مروج است تثبیت می گردد.

**مادهٔ ۸۴۳:**

در صورت ضیاع و یا خساره مند شدن اشیاء نقل دهنده قیمت های را که قبول کرده تضمین میکند ضرر اموال مسافرین که بدون اظهار ماهیت و قیمت به نقل دهنده تودیع میکند نظر به احوال خصوصیه هر واقعه و شخص تعیین و تثبیت می شود.

نقل دهنده از ضرر و ضیاع اشیاء ذی‌قیمت نقود، حجت، سهام، سندات قرض و دیگر اوراق و اسنادیکه در حین تودیع باو اطلاع داده نمی‌شود مسئول نمی‌باشد.

معذلک در صورتی‌که حیله و یا تقصیر فاحش نقل دهنده در ضیاع و ضرر به ثبوت رسد مکلف بتأدیه تمام آن می

ورکړه مکلف دی.

**۸۴۴ ماده:**

هغه نقل ورکوونکی چې له لومړی نقل ورکوونکی څخه وروسته د شیانو نقل ته ملاتړی په ټولو هغو پورونو کښې چې د منقولو مالونو او د نقلیی د سند له تسلیم څخه وروسته پیدا کیږي د لومړی نقل ورکوونکی قایم مقام دی او کولای شي چې د نقلیی په سند او یا په یوه بله پاڼه کښې د هغو شیانو د وضع کیفیت چې په تسلیم ورکړ شوی دی درج او قید کړی که یې رعایت ونکړی نود (۸۲۹) مادی حکم ورباندی تطبیق کیږي.

**۸۴۵ ماده:**

نقل ورکوونکی مجبور دی د هغو شیانو له رسیدو څخه چې نقل ورکاوه کیږي مرسل ته اطلاع ورکړی.

**۸۴۶ ماده:**

نقل ورکوونکی مجبور دی هغه هدایات چې د شیانو له رسیدو څخه پخوا د شیانو د ساتنی په خصوص کښې د مرسل الیه له خواده ته ورکړی شوی دی اجراء

باشد.

**مادهٔ ۸۴۴:**

نقل دهنده گانیکه بعد از نقل دهندهٔ اول به نقل اشیاء مبادرت می ورزند در تمام دیونیکه پس از تسلیم اموال منقول و سند نقلیه بوجود می آید قایم مقام نقل دهندهٔ اول می‌باشند و می توانند در سند نقلیه و یا یکورقه دیگر چگونگی وضع اشیائیرا که تسلیم داده شده است درج و قید نمایند در عدم رعایت حکم مادهٔ (۸۲۹) تطبیق می‌شود.

**مادهٔ ۸۴۵:**

نقل دهنده مجبور است از وصول اشیائیکه نقل داده می شود به مرسل اطلاع دهد.

**مادهٔ ۸۴۶:**

نقل دهنده مجبور است هدایاتی را که قبل از وصول اشیاء از طرف مرسل الیه راجع به محافظت اشیاء به اوداده میشود اجراء

کړي.
مرسل الیه کولای شي چې د شیانو له رسیدو نه وروسته او یا په هغه صورت چې د نقلیه سند او یا دا ډول علم او خبر حامل وی چې هغه د سند قایم مقام واقع شي وروسته د مالونو د رسیدود نېټې له تیریدود هغو ټولو حقوق سره د خساري او تاوانه که د ده د پاره وی او که د دریمو کسانو د پاره له نقل کوونکی څخه وغواړي.
د نقلیه د یوه سند حامل محرر په حامل او یا محرر په امر د مرسل الیه په حیث ګڼل کیږي.

**۸۴۷ ماده:**
په دی صورت چې په خلاف یې مقاوله موجوده نه وی د نقلیه اجرت سره له نورو مصارفو په ټاکل شوی حساب کېښې د شیانو له تسلیمی نه وروسته د نقلیاتو د سند له مخې د مرسل الیه له خوا ورکول کیږي.

**۸۴۸ ماده:**
هغه څوک چې د نقل شویو شیانو د تسلیمی د پاره رجوع کوی په دی صورت چې ونشي کولای خپله اجوره ورکړی نقل

نماید.
مرسل الیه می‌تواند بعد از وصول اشیاء و یا در صورتی‌که حامل سند نقلیه و یا علم و خبری باشد که قایم مقام سند واقع گردد بعد از مرور تاریخ وصول اموال تمام حقوق آنرا بشمول دعوای جبران خساره که خواه بر له او و یا بر له اشخاص ثالث باشد از نقل دهنده مطالبه نماید.
حامل یک سند نقلیه محرر بحامل و یا محرر بامر بحیث مرسل الیه تلقی می‌شود.

**مادهٔ ۸۴۷:**
در صورتی‌که خلاف آن مقاوله موجود نباشد اجرت نقلیه با مصارف دیگر بعد از تسلیمی اشیاء در محل مقصود نظر به سند نقلیات از جانب مرسل الیه تأدیه می‌شود.

**مادهٔ ۸۴۸:**
شخصی‌که برای تسلیمی اشیاء نقل شده رجوع می کند در صورتی‌که نتواند بدهی خود را تأدیه بدارد نقل دهنده

ورکوونکی په تسلیم مجبور نه دی که د اجوری په اندازه کښې اختلاف پیښ شي نو مرسل الیه هغه اندازه چې د پورپه ډول یې په ځان قبوله کړې ده تسویه کوی او د پاتی اجرت په خصوص کښې که هغه یوه معتبر بانک ته او یا امین شخص ته وسپاری په دی حال کښې نقل ورکوونکی د شیانو په تسلیم مجبوریږی.

نقل ورکوونکی مجبور نه دی چې د نقلیاتو د سند د دوهمی نسخی له اعادی څخه پخوا که په نوم لیکل شوی وی او که د حامل په وجه او که په امر لیکلی وی شیان تسلیم کړی.

مجبور به تسلیم اشیاء نمی باشد اگر در مقدار بدهی اختلافی واقع شود مرسل الیه مقداری را که بحیث قرض بذمه خود قبول دارد تسویه می نماید و راجع به اجرت باقیمانده اگر آنرا به یک بانک معتبر و یا شخص امینیتی توديع نماید در اینحال نقل دهنده مجبور بتسلیم اشیاء می گردد.

نقل دهنده مجبور نیست قبل از اعادۀ نسخه ثانی سند نقلیات که خواه محرر به نام و خواه در وجه حامل و یا محرر به امر بوده و دارای امضاء وی باشد اشیاء را تسلیم نماید.

### ۸۴۹ ماده:

نقل ورکوونکی کولای شي چې د هغو ټولو طلباتو د په لاس راوړلو دپاره چې د نقلیه له مقاولی څخه پیدا کیږي مالونه وساتی که نقل ورکوونکی متعدد دوی نووروستنی نقل ورکوونکی د لومړنیو نقل ورکوونکو حقوق ساتی هغه مبلغ چې د (۸۴۸) مادی له مخې د مرسل الیه له خوا امانت سپارلی

### مادۀ ۸۴۹:

نقل دهنده می‌تواند برای حصول تمام طلباتیکه از مقاوله نقلیه نشئت می نماید اموال را نگاه دارد. اگر نقل دهنده گان متعدد باشند نقل دهنده آخرین حقوق نقل دهنده گان اولی را صیانت می کند مبلغی که نظر به مادۀ (۸۴۸) از جانب مرسل الیه به امانت توديع می گردد از

کیږي نظر د نقل ورکوونکی د ساتنی حق ته د شیانو حکم لری.

**۸۵۰ ماده:**

که وروستنی نقل ورکوونکی شیان بې د (امانت ته د طلباتو د سپارنی له تقاضا) څخه او بې د خپل او د پخوا نیو نقل ورکوونکو او د مرسل د حق له په لاس راوړلو څخه تسلیم کړی نودلګېدلو پیسو او د لومړنیو نقل ورکوونکو او یا د مرسل د پورونو مسئول ګڼل کیږي. مګر په مرسل الیه باندی پخپله د ده د رجوع حق به ساتلی پاتی شي.

**۸۵۱ ماده:**

که د شیانو د تسلیم په وخت کښې هغه خارجی علامی چې په خساره دلالت وکوی موجودی هم نه وی مرسل الیه حق لری چې د هغو اوضاع او اوصاف د نقل ورکوونکی په حضور او یا د تجارتی محکمی په ذریعه د تسلیم په ځای کښې معاینه کړی دا حق نقل ورکوونکی هم لری.

ددی ډول معاینی مصارف په هغه طرف پوری اړه لری چې د معاینی غوښتنه کوی مګر که هغه مصارف چې د مرسل الیه له خوا تسویه

نقطه نظر حق نگهداری نقل دهنده حکم اشیاء را دارد.

**مادۀ ۸۵۰:**

اگر نقل دهنده آخرین اشیاء را بدون (تقاضای تودیع طلبات به امانت) واستیفاء حق خودش و نقل دهنده گان ماقبل و یا مرسل را تسلیم نماید. از مبالغ صرف شده و یا دیون مرسل و یا نقل دهندگان اولی مسئول شمرده می‌شود.
ولی حق رجوع خود او به مرسل الیه محفوظ خواهد ماند.

**مادۀ ۸۵۱:**

اگر در حین تسلیم اشیاء علامات خارجی که دلالت بر خساره کند موجود هم نباشد مرسل الیه حق دارد اوضاع و اوصاف آن را در حضور نقل دهنده و یا ذریعۀ محکمه تجارتی محل تسلیم معاینه کنند این حق را نقل دهنده نیز دارا می‌باشد.
مصارف اینطور معاینه مربوط به طرفی است که تقاضای معاینه را می نماید ولی اگر مصارفی که از طرف

کیږي اصلاً په نقل ورکوونکی پوری اړه ولري او د نقلیه له ضیاع او خساری څخه پیدا شوی وی له نقل ورکوونکی څخه اخیستل کېدای شي.

**۸۵۲ ماده:**

د تاوان دعوی چې په نقل ورکوونکی باندی اقامه کیږي ممکن دی چې په لومړنیو او یا وروستنیو نقل ورکوونکو باندی هم وشي که ثابت شي چې ضیاع او خساره په هغه وخت کښې پیښه شویده چې بل نقل ورکوونکی مال تسلیم کړی وو نو د مالو نو د انتقال په لړ کښې به دعوی ده ته متوجه شي.

که کوم نقل ورکوونکی د هغو چارو په سبب چې په هغو سره مسئول نه بلل کیږي د یوی خساری تاوان ګاللی وی یا له دی جهته د دعوی تقاضا وربانـدی شوی وی نو په لومړنیو نقل ورکوونکو چې په دی لړ کښې مسئولیت لری د رجوع حق ساتلی دی.

که هغه نقل ورکوونکی چې باید له خساری او ضیاع څخه

مرسل الیه تسویه می‌شود اصلا متعلق به نقل دهنده بوده و از ضیاع و خساره نقلیه ناشی باشد از نقل د هنده گرفته شده می‌تواند.

**مادهٔ ۸۵۲:**

دعاوی غرامت که علیه نقل دهنده اقامه می شود ممکن است که علیه نقل دهنده گان اولی و یا آخری هم به عمل آید اگر ثابت شود که خساره و ضیاع در مدتی صورت گرفته که نقل دهنده دیگری مال را تسلیم شده بود در سلسله انتقال اموال دعوی علیه او متوجه خواهد شد.

اگر نقل دهنده به سبب اعمالیکه به آن مسئول شمرده نمی شود خساره را جبران کرده باشد یا از این جهت مورت تقاضا و دعوی واقع شده باشد حق رجوع او به نقل دهندهٔ ما قبل و یا نقل دهندگان دیگر که بدین سلسله مسئولیت دارنده محفوظ می باشد.

اگر نقل دهنده که باید از خساره و ضیاع مسئول باشد

مسئول وی معلوم نکړی شي پيښ شوې زيان د ټولو نقل ورکوونکو په منځ کښې د دوی د اجرت د برخی په تناسب ويشل کيږي.
سره له دی که نقل ورکوونکی ثابت کړی چې پيښه شوی خساره د نقل د هغې مودی په وخت کښې چې په ده پوری يې اړه درلوده نه ده پيښه شوی د خساری په تاوان کښې له ګډون څخه معاف دی.

**۸۵۳ ماده:**

په دی صورت چې نقل ورکوونکی مرسل اليه پيدا نکړی او يا مرسل اليه د شيانو له قبولی څخه منع راوړی او يا د مال په قبولی کښې ځنډ وکړي يا يوبل دا ډول سبب چې د تسليم مانع شي پيښ شي نقل ورکوونکی مکلف دی چې ژرترژره کيفيت مرسل اليه ته ابلاغ کړی او ځواب ته يې انتظار وباسی که مرسل اليه ته د ابلاغ امکان نه وی او يا مرسل اليه په ځواب کښې معطلی وکړي او يا داسی هدايت ورکړی چې د هغه اجرأ ممکنه نه وی نقل ورکوونکی کولای شي چې محلی تجارتی محکمی ته مراجعه

تعيين شده نتواند ضرر وارده در بين همه نقل دهندگان متناسب به حصهٔ أجرت ايشان تقسيم می‌شود.
معذلک اگر نقل دهنده ثابت کند که خسارهٔ وارده در مدت نقل مربوط او بوقوع نه پيوسته از اشتراک در جبران خساره معاف است.

**مادهٔ ۸۵۳:**

در صورتی‌که نقل دهنده مرسل اليه را پيدا نکند و يا مرسل اليه از قبولی اشياء امتناع ورزد و يا در قبولی مال معطلی کند و يا يک سبب ديگريکه مانع تسليم شود بوقوع آيد نقل دهنده مکلف است فوراً کيفيت را بمرسل ابلاغ و بجواب او انتظار بکشد اگر امکان اطلاع بمرسل موجود نباشد و يا مرسل در جواب معطلی کند و يا هدايتی دهد که اجرای آن غير ممکن باشد نقل دهنده می تواند به محکمه تجارتی محلی مراجعه و اشياءرا

وکړې او شیان د محکمې په تشخیص امین شخص ته تسلیم کړي هغه خطر او ضرر چې دا ډول شیان ورسره مخامخ کیږي په مرسل پوري اړه لري شیان ژر فاسدیدونکي وي او د اطلاع په موده کښې د ضرر پیښېدل په مرسل پوري مضمروي نو نقل ورکوونکي به له (۶۵۵) مادې سره سم تګ کوي او د نقلیاتو اجوره او واقعي مصارف به د هغو له ما حصول څخه پوره کوي نقل ورکوونکي مؤظف دی چې په ډیره لنډه موده کښې د موضوع له کیفیت څخه مرسل او مرسل الیه ته اطلاع ورکړي او که داسې ونکړي نو د ضرر تاوان ورځنې غوښتل کیدای شي.

**۸۵۴ ماده:**

د (۸۵۳) مادې د اوضاع د وجود په صورت نقل ورکوونکي مجبور دی چې د شیانو په نقل او د مالک د ګټو په ساتنه کښې له چالاکۍ او بیدارۍ څخه کار واخلي او که داسې نشي نو د هغې خسارې په تاوان ورکولو چې له همدې لارې مالک ته رسیږي مکلف دی.

به تشخیص محکمه به شخص امین تسلیم دهد. خطر و ضرریکه این گونه اشیاء به آن مواجه می باشد متعلق به مرسل است. اشیاء سریع الفساد بوده و در مدت اطلاع وقوع ضرر به مرسل مضمر باشد نقل دهنده بر طبق حکم مادهٔ (۶۵۵) رفتار و اجورهٔ نقلیات و مصارف واقعی را از ماحصل آن استیفاء می کند نقل دهنده مؤظف است تا در کوتاه ترین مدت از کیفیت موضوع به مرسل و مرسل الیه اطلاع دهد در غیر این صورت مورد تقاضای جبران ضرر واقع شده می تواند.

**مادهٔ ۸۵۴:**

در صورت وجود اوضاع مادهٔ (۸۵۳) نقل دهنده مجبور است در نقل اشیاء و حفاظهٔ منافع مالک از سرعت و بصیرت کار بگیرد در غیر آن به جبران خسارهٔ که از این حیث به مالک می رسد مکلف می باشد.

**۸۵۵ ماده:**
د نقلیاتو د اجورې تسویه او د شیانو بلا شرطه قبولی په نقل ورکوونکی د دعوی حق ساقطوی.
سره له دی که د شیانو خساره له قبولی څخه پخوا د هغو کارپوهانو په ذریعه چې محکمې ټاکلی وی تثبیت شوی وی په نقل ورکوونکی باندی د مرسل الیه د دعوی حق نه ساقطیږي. که د شیانو د قبولۍ په وخت کښې د هغو د ضیاع او یا نقص پیژندلو امکان نه وی د نقلیاتو د اجورې ترتسویې او قبولۍ وروسته هم نظر لاندی موادوته په نقل ورکوونکی باندی د دعوی حق ساتلی پاتې کیږي:
۱- که دا اثبات شي چې دغه ضیاع او خساره د هغې مودی په منځ کښې چې شیان نقل ورکوونکی اخیستی او مرسل الیه ته یې تسلیم کړی پیښه شوی ده.
۲- که د شیانو معاینه او تدقیق د هغو په ضرر باندی له پوهیدلو او قبولۍ څخه اته ورځې وروسته د پوهو کسانو په ذریعه شوی وی په دی صورت چې ضرر او خساره د

**مادهٔ ۸۵۵:**
تسویه اجوره نقلیات و قبولی بلا شرط اشیاء حق دعوی را علیه نقل دهنده ساقط می‌گرداند.
معذلک اگر خساره اشیاء قبل از قبولی توسط اهل خبره ایکه محکمه تعیین کرده تثبیت شده باشد حق دعوای مرسل الیه علیه نقل دهنده ساقط نمی‌شود اگر حین قبولی اشیاء امکان فهمیدن ضیاع و یا نقص آن موجود نباشد بعد از قبولی و تسویه اجوره نقلیات نیز نظر به مواد آتی حق دعوی علیه نقل دهنده محفوظ می ماند:
۱- اگر اثبات شود که ضیاع و خساره در بین مدتی که اشیاء را نقل دهنده اخذ و به مرسل الیه تسلیم کرده واقع شده.
۲- اگر معاینه و تدقیق اشیاء هشت روز بعد از فهمیدن ضرر و قبول اشیاء توسط اهل خبره شده باشد. در صورتی‌که خساره و ضرر ناشی از حیله و

نقل ورکوونکی له حیلې او فاحش تقصیر څخه پیدا شوی وی نوموړی نشي کولای چې د دعوی د حق د سقوط ادعا وکوی.

## درېیمه برخه
## د اشخاصو ترانسپورت

**۸۵۶ ماده:**
مسافرین مکلف دی هغه اصول چې نقل ورکوونکی یې د نقلیه خدمتونو د تنظیم د پاره وضع کوی رعایت کړی.

**۸۵۷ ماده:**
که سفر وروسته له عقد او پخوا له حرکت څخه معطل شي لاندنی احکام تطبیق کیږي:
۱- که مسافر په ټاکلی وخت د حرکت ځای ته ونشي رسید لای نوداحق لری چې په نورو هغو نقلیه وسائلو کښې چې وروسته ځي حرکت وکړي.
۲- که مسافر له تګ څخه منصرف شي د کرایی د بیرته اخیستلو حق نلری.
۳- که سفر د فوت یا مریض او یا مجبره علتونو له مخې معطل

یا تقصیر فاحش نقل دهنده باشد نامبرده نمی‌تواند ادعای سقوط حق دعوی را بنماید.

## حصۀ سوم
## ترانسپورت اشخاص

**مادۀ ۸۵۶:**
مسافرین مکلف اند اصولی را که نقل دهنده برای تنظیم خدمات نقلیه وضع می‌کند رعایت نمایند.

**مادۀ ۸۵۷:**
اگر سفر بعد از عقد و قبل از حرکت معطل گردد احکام ذیل تطبیق می‌شود:
۱- اگر مسافر در وقت معینه در محل حرکت حاضر شده نتواند حق دارد به وسایل نقل دهنده متعاقب حرکت نماید.
۲- اگر مسافر از عزیمت انصراف کند مستحق استرداد کرایه شمرده نمیشود.
۳- اگر سفر از رهگذر فوت یا مریضی و یا علل مجبره معطل

شي د کرايی مــقاوله مسترديږی.
**۴-** که سفر نظر مجبره علتو ته په نقليه لوازمو پوري اړه ولری او يا بی د دواړو خواوو له تقصيره اجرأ نشي نو عقد (بی له دی چې دواړه خواوی د تاوان په ورکولو مجبوری شي) فسخ کيږي مگر که نقل ورکوونکی لاله پخوا څخه کرأيه اخيستی وی په دی حال کښې په بيرته ورکولو باندی مجبوردی.
**۵-** که سفر د نقل ورکوونکی د عمل او تقصير په اثر معطل شوی وی مسافر کولای شي چې ورکړی شوی کرايه بيرته واخلی او د خساري تاوان وغواړي.

شود مقاولۀ کرايه مسترد ميگردد.
**۴-** اگر سفر نظر به علل مجبره متعلق به لوازم نقليه و يا بدون تقصير طرفين اجرأ شده نتواند عقد (بدون اينکه طرفين مجبور به پرداخت جبران باشند) فسخ می‌گردد ولی اگر نقل دهنده کرايه را قبلاً اخذ کرده باشد در اين حال مجبور به اعاده است.
**۵-** اگر سفر در اثر عمل و تقصير نقل دهنده معطل گرديده باشد مسافر می تواند کرايه پرداخته شده را استرداد و طلب جبران خساره نمايد.

**۸۵۸ ماده:**

که سفر وروسته له عقد او حرکت څخه له انقطاع سره مخامخ شي (په دی شرط چې د هغه په خلاف کومه مقاوله نه وی شوی) لاندی احکام تطبيق کيږي:
۱- که مسافر په ليار کښې په خپله خوښه له حرکت څخه منصرف شي نو د ټولی کرايی په ورکړه مجبور دی.

**مادۀ ۸۵۸:**

اگر سفر بعد از عقد و حرکت دچار انقطاع گردد (بشرطيکه مقاوله ای بر خلاف آن نشده باشد) احکام ذيل تطبيق می‌شود.
۱- اگر مسافر در ضمن راه به خواهش خود از حرکت منصرف شود مجبور به تأديه تمام کرايه است.

۲- که نقل ورکوونکی د سفر له دوام څخه منصرف شي او یا مسافر د نقل ورکوونکی د تقصیر په اثر په نیمه لاره کښې په توقف مجبور شي په کرایه ورکولو مجبور نه دی.
او که مسافر ټوله کرایه لاله پخوا څخه ورکړې وي کولای شي چې هغه ټوله بېرته واخلي او د خسارې تاوان وغواړي.
۳- که سفر د شخصي سبب له مخې چې په مسافر پوری اړه ولری اویا د مجبره علتونو له لاری وی چې په نقلیه وسایلو پوری اړه ولری دانقطاع سره مخامخ شي د وهلی شوی مسافی په تناسب کرایه ورکوله کیږي. په دی صورت کښې یو وبل ته د خساری د تاوان په ورکولو هیڅ یو طرف نه مجبوریږي.

**۸۵۹ ماده:**

که نقل ورکوونکی د سفر په وخت کښې په داسی محل کښې چې د ده په تعرفه کښې نه وی توقف وکړي او یا تاکلی لاره پریږدی په بله داسی لاره روان شي او یا په بل صورت چې د مقصود محل ته

۲- اگر نقل دهنده از دوام سفر منصرف و یا مسافر در اثر تقصیر نقل دهنده مجبور به توقف در نیمه راه شود مجبور به تأدیه کرأیه نمی‌باشد.
و اگر مسافر کرأیه را قبلاً پرداخته باشد می‌تواند تمام آنرا استرداد و طالب جبران خساره شود.
۳- اگر سفر از رهگذر سبب شخصی که مربوط به مسافر باشد و یا علل مجبره که متعلق به وسایل نقلیه باشد دچار انقطاع گردد کرایه متناسب به مسافه قطع شده پرداخته میشود. درایـن صورت هیچ یکی از طرفین مجبور بجبران خساره بدیگری نیست.

**مادۀ ۸۵۹:**

اگر نقل دهنده در اثنای سفر در محلیکه در تعرفه آن نباشد توقف نماید و یا از راه معینه انحراف و راه دیگری را تعقیب کند یا به صورت دیگری مواصلت راه بمحل

رسیدلی وځنډیږی مسافر حق لری چې مقاوله فسخ کړی او د خساری تاوان وغواړی.
که نقل ورکوونکی برسیره په مسافرینو نورشیان او مالونه هم نقلوی کیدای شي هغه موده چې د ما لونواو شیا نو د تخلیه کولو دپاره پکار ده معطل شي د دی مادی حکم په دی صورت د تطبیق وړدی چې د هغه په خلاف کوم قرارداد موجود نه وی.

**۸۶۰ ماده:**
که سفر د حکومت دامر او یا د نقلیه وسایلو د ضروری ترمیم او یا د هغو خطراتو له مخې چې د حرکت د دوام مانع شي وځنډیږې (په دی صورت چې د دواړو خواوو په منځ کښې خصوصی عقد موجود نه وی) لاندنی احکام تطبیق کیږي:
۱- که مسافر ونه غواړی چې د مانع تر رفع کیدو او د تر میم تر ختم پوری انتظار وباسی نوکولای شي چې د قطع شوی مسافی په تناسب د نقلیه باړې له ورکولونه وروسته مقاوله فسخ کړی.
۲- که مسافر وغواړی چې

مقصود به تأخیر بیاندازد مسافر حق دارد مقاوله را فسخ و طلب جبران خساره نماید.
اگر نقل دهنده بر علاوه مسافرین اشیاء و امتعه دیگری را نیز نقل می‌دهد می‌توانند مدتی را که مقتضی تخلیه امتعه و اشیاء است معطل شود. حکم این ماده در صورتی قابل تطبیق است که بر خلاف آن قراردادی وجود نداشته باشد.

**مادۀ ۸۶۰:**
اگر سفر نظر به امر حکومت یا ترمیم ضروریه وسایل نقلیه و یا خطرآتی که مانع دوام حرکت گردد بتأخیر افتد (در صورتی‌که در بین طرفین عقد خصوصی موجود نباشد) احکام ذیل تطبیق می گردد:
۱- اگر مسافر نخواهد انتظار رفع مانع و ختم ترمیم را بکشد می‌تواند بعد از پرداختن کرأیه نقلیه متناسب بمسافه قطع شده مقاوله را فسخ کند.
۲- اگر مسافر بخواهد انتظار

انتظار وباسی نو همغه تاکلی باړه به ورکړي مګر که د نقلیه په باړه کښې خورا که هم شامله وی مسافر د توقف په مودو کښې د خوراکی مصرف له ځانه کوی.

**۸۶۱ ماده:**

مسافر د خپلو بګاژ او شخصي شیانو د پاره (که د هغه په خلاف مقاوله موجوده نه وی) په ځانګړی باړه ورکولو مجبور نه دی.

نقل ورکوونکی د مسافرینو شیانو ته له خساری او ضیاع پیښیدو څخه د (۸۳۸ ) او (۸۴۳) مادو داحکامو له مخې مسئول دی.

نقل ورکوونکی د هغو شیانو له ضیاع څخه چې پخپله له مسافرینو سره وی مسئول نه دی.

**۸۶۲ ماده:**

نقل ورکوونکی حق لری چې د خپلی باړی او د مسافر د خوراکی د مصارفو د پوره کولو دپاره د ده بګاژ توقیف کړی.

**۸۶۳ ماده:**

نقل ورکوونکی د سفر په وخت کښې له هغو پیښو څخه چې

بکشد همان کرایه معینه را خواهد پرداخت ولی اگردر کرأیه نقلیه خوراکه هم شامل باشد مسافر در مدت توقف مصرف خوراک خود را شخصاً تحمل می‌کند.

**مادۀ ۸۶۱:**

مسافر برای باگاژ و اشیاء شخصی خویش (اگر بر خلاف آن مقاوله موجود نباشد) مجبور به پرداخت کرایه جداگانه نیست.

نقل دهنده از خساره و ضیاع وارده به اشیاء مسافرین نظر به احکام متذکره مواد (۸۳۸، ۸۴۳) مسئول می‌باشد.

نقل دهنده از ضیاع اشیائیکه نزد خود مسافرین است مسئول نیست.

**مادۀ ۸۶۲:**

نقل دهنده حق دارد برای استیفاء کرایه و مصارف خوراکۀ مسافر باگاژ وی را توقیف نماید.

**مادۀ ۸۶۳:**

نقل دهنده در اثنای سفر از حوادثیکه بمسافرین واقع

مسافرینوته رسیږي (په دی شرط چې ثابت نشي چې پیښه د نقل ورکوونکی له عمل او تقصیر او یا هغو اشخاصو څخه چې مستقیماً په ده پوری اړه لری صادره شوی ده) مسئول نه دی.

**۸۶۴ ماده:**

که مسافر د سفر په منځ کښې مړ شي نقل ورکوونکی د ورثی د منافعو بګاژ او متعلقه شیانو د ساتنې دپاره صالحه اشخاصوته د هغو تر تسلیم پورې مؤظف دی.
که د مړی له مربوطینو څخه کوم یوهلته موجود وی د دی معاملی د اجراء د مراقبت د پاره مداخله کولای شي او د مړی د مال د موجودی، په خصوص کښې له نقل کوونکی څخه اظهار نامه غوښتی شي.

**۸۶۵ ماده:**

په نقلیه وسیله کښې دننه انتظام د نقل ورکوونکی وظیفه ده د نقل ورکوونکی دا وظیفه ده ترڅو مراقبت وکړې چې مسافرین هغه شیان چې مسافر ینوته زحمت او خساره پیښوی له ځان سره بارنکړی د دی په عکس که له دی

می‌شود (بشرطیکه ثابت نشود که واقع از عمل و تقصیر نقل دهنده و یا اشخاصی‌که مستقیماً بوی مربوط اند صادر شده) مسئول نمی باشد.

**مادۀ ۸۶۴:**

اگر مسافر در اثنای سفر وفات کند نقل دهنده برای صیانت منافع ورثه با گاژ و اشیای متعلقه او الی زمان تسلیم آن به اشخاص صالحه مؤظف می‌باشد.
اگر یکی از مربوطین متوفی در آنجا وجود داشته باشد برای مراقبه اجرای این معامله می‌تواند مداخله و از نقل دهنده راجع بموجودی ما ترک متوفی اظهارنامه ای تقاضا کند.

**مادۀ ۸۶۵:**

انتظام داخل وسیله نقلیه وظیفۀ نقل دهنده است نقل دهنده مؤظف است تا مراقبت کند که اشخاص چیزهائیرا که باعث تولید زحمت و خساره به مسافرین می‌شود با خود حمل ندارند. بر عکس اگر ازین

رویی شخه مسافرینو ته خساره ورسیږي نقل ورکوونکی په تاوان ورکولو مجبوردی.

رویه به مسافرین خساره برسد نقل دهنده مجبور بجبران است.

## دیار لسم فصل
## بیمه
## لومړۍ برخه
## د بیمې عمومي احکام

## فصل سیزدهم
## بیمه
## حصۀ اول
## احکام عمومی بیمه

**۸۶۶ ماده:**

بیمه یو عقد دی چې د بیمې مؤسسه یې د اجرت په مقابل کښې د افرادو د خسارو او ضایعاتو تاوان چې د مجبره اسبابو او ټاکلیو پیښو نه پیدا شوی وی (په یوه اندازه پیسو ورکولو تعهد کوی).

**مادۀ ۸۶۶:**

بیمه عقدی است که مؤسسه بیمه در مقابل اجرت جبران خسارات و ضایعات افراد را که ناشی از وقوع حوادث معینه و اسباب مجبره باشد (باعطای یک مقدار پول) تعهد می‌کند.

**۸۶۷ ماده:**

د بیمې داختلافاتو په خصوص کښې د دی اصولنامې احکام (په دی صورت چې د بیمې په مقاوله کښې د هغو په خلاف کوم صراحت نه وی) . تطبیق کیږي.

**مادۀ ۸۶۷:**

در مورد اختلافات بیمه احکام این قانون (در صورتی‌که بر خلاف آن در مقاوله بیمه صراحتی نباشد) تطبیق می‌گردد.

## دوه یمه برخه
## دمالونو بیمه

**۸۶۸ ماده:**
مالونه د مالک، د مالک د پوروال، د مرتهن، مستاجر او ټولو هغو کسانو له خوا چې په ساتنه کښې یې واقعاً ذینفع وی او یا د دوی د وکیل او نماینده له خوا بیمه کیدای شي.

**۸۶۹ ماده:**
یو شخص کولای شي چی د بل شخص په نامه او حساب د بیمې مقاوله وکړې مګر که داشخص دا واک ونه لری چې د هغه چاله خوا چې د هغه په نامه او حساب یې عمل کړی دی نمایندګي وکړې نو د بیمې د (برینیوم) له اجرت څخه شخصاً مسئول دی.
هغه شخص چې د ده په نامه او حساب د بیمې مقاوله تړله کیږي نوکه د خطر له پیښیدو نه پخوا یا وروسته یې بیمه قبوله کړی وی له بیمې نه استفاده کولای شي.

**۸۷۰ ماده:**
هغه بیمه چې په وکالت سره منعقده کیږي که د مؤکل لخوا

## حصهٔ دوم
## بیمهٔ اموال

**مادهٔ ۸۶۸:**
اموال از طرف مالک داین، مالک مرتهن، مستاجر و تمام کسانیکه در محافظه آن واقعاً ذینفع باشند و یا وکیل و نماینده آنها بیمه شده می‌تواند.

**مادهٔ ۸۶۹:**
یک شخص می تواند بنام و حساب شخص دیگری مقاوله بیمه را عقد نماید ولی اگر آن شخص صلاحیت نداشته باشد از کسیکه بنام وحساب او عمل کرده است نمایندگی نماید از اجرت (برینیوم) بیمه شخصاً مسئول می‌باشد.
شخصی‌که بنام و حساب او مقاوله بیمه عقد میشود اگر قبل و یا بعد از وقوع خطر بیمه را قبول کرده باشد از بیمه استفاده می‌تواند.

**مادهٔ ۸۷۰:**
بیمه ایکه بالوکاله منعقد می‌گردد اگر از طرف مؤکل قبول

قبوله شي داسی ګڼله کیږي چې وکیل د وکالت له شرطونو سره سم تګ کړی دی.

که مؤکل د بیمې د شرطونو په خصوص کښې کوم هدایت نه وی ورکړی وکیل مؤظف دی چې د بیمې مقاوله، له هغو شرایطو سره سمه چې د بیمې د مقاولې د اجراء په ځای کښې عرف او رواج ولری وتړی.که د بیمې له شرایطو څخه ونشي پوهیدای چې مقاوله د بل شخص په نامه او حساب تړلی شوی ده داسی ګڼله کیږي چې مقاوله د عاقد شخص په نامه او حساب منعقده شوی ده.

## ۸۷۱ ماده:

پوروال کولای شي چې خپل پور له ورکړی څخه د پوروړی د عجز د احتمال په مقابل کښې بیمه کړی.

پدی صورت (که په خلاف یې کومه مقاوله موجوده نه وی) د بیمې مؤسسه داغوښتنه او مطالبه کولای شي چې پوروال په لومړی سرکښې د پوروړی مال ته مراجعه وکړې او یا د هغه د مال له پلورنې څخه خپل پور لاس ته راوړی.

شود چنین محسوب می‌گردد که وکیل بر وفق شرایط وکالت رفتار نموده است.

اگر مؤکل راجع به شرایط بیمه هدایتی نداده باشد وکیل مؤظف است مقاولۀ بیمه را بر طبق شرائطیکه عرفاً در محل اجرای مقاوله بیمه مروج است منعقد نماید. اگر از شرایط مقاوله بیمه استفهام شده نتواند که مقاوله بنام و حساب شخص دیگری منعقد گردیده است چنین محسوب می‌شود که مقاوله بنام و حساب شخص عاقد منعقد شده است.

## مادۀ۸۷۱:

داین می‌تواند دین خود را در مقابل احتمال عجز مدیون از تأدیه بیمه نماید.

دراینصورت (هرگاه بر خلاف آن مقاوله ای موجود نباشد) مؤسسه بیمه می‌تواند مطالبه نماید که داین در وهلۀ اول به اموال مدیون مراجعه و با فروش آن استیفای دین خویش را بنماید.

**۸۷۲ ماده:**
هغه پوروال چې د پوروړی منقول او غیر منقول مالونه یې تر مراقبت لاندې نیولي یا په ګرو اخیستي وي او یا دي مالونو ته په مراجعه کښې د امتیاز حق ولري که دا مالونه بیمه شوي وي هغه تاوان چې د خسارې پېښېدلو په صورت ورکاوه کېږي د بیمه شویو مالونو عوض چې د پوروالاتو په طلباتو پورې اړه لري محسوبېږي.

**مادهٔ ۸۷۲:**
داینیکه اموال منقول وغیرمنقول مدیون را تحت مراقبه و یا به گرو گرفته ویا در مراجعه به این اموال دارای حق امتیازی باشد اگر این اموال بیمه شده باشد غرامتی که در صورت وقوع خساره تأدیه می‌گردد عوض اموال بیمه شده که به طلبات دائنین متعلق است محسوب می‌شود.

**۸۷۳ ماده:**
که هغه امتیاز چې پور والان یې په بیمه شوي مال لري متفاوت وي نوکه دهغه پوروال د پور د اداء د پاره چې امتیاز یې وروستی دی د مال قیمت کفاف ونکړي نشي کولای چې د هغه مال بیمې ته اقدام وکړي.

**مادهٔ ۸۷۳:**
اگر امتیازیکه دائنین به مال بیمه شده دارند متفاوت باشد در صورت عدم کفاف قیمت مال برای ادای طلبات دائنیکه امتیاز او مؤخر است نمی تواند به بیمه آن مال اقدام نماید.

**۸۷۴ ماده:**
هغه خسارې چې له قانون څخه د مخالفو چارو او یا له ښو آدابو او عمومي اخلاقو د مخالفت څخه پیدا شوي وي بیمه کیدی نشي.

**مادهٔ ۸۷۴:**
خسارات ناشی از اعمال خلاف قانون و یا مغایر آداب حسنه و اخلاق عمومی بیمه شده نمی‌تواند.

**۸۷۵ ماده:**
د بیمه کید ونکو د بیمې په مقاوله

**مادهٔ ۸۷۵:**
در عقد مقاولهٔ بیمه شونده و یا

کښې او یا هغه شخص چې په مشروط ډول له بیمې څخه ګټه اخلی که د تهلکې له پیښې نه خبر وي او یا د بیمې مؤسسه د تهلکی د پیښې له نه امکان څخه مطلع وی نود بیمې مقاوله باطله ګڼله کیږي. په لومړنی صورت کښې د بیمې مؤسسه کولای شي چې د بیمې اجوره وغواړي.

**۸۷۶ ماده:**

د بیمې مؤسسه فقط د هغه ضرر په تاوان چې په رښتیا سره بیمه کېدونکی ته رسیدلی وی مکلفه ده نوکه د بیمې بدل د مال له قیمت څخه تیری وکړي بیمه کیدونکی له زیات قیمت څخه استفاده نشي کولای.

که د بیمې بدل د دی قاعدی له مخې نظر د مال قیمت ته لږ شي د بیمې اجوره هم ټیټیږی او د اجوری زیاته تحصیل شوی برخه بیرته ورکوله کیږي. مګر که د بیمې قیمت د کارپوهو کسانو له خوا (چه د دواړو خواوو په اتفاق تاکلی شوی وی) لاله پخوا څخه اندازه شوی او دواړو خواوو هغه قبول کړی وی د بیمې مؤسسه نشي

شخصی که بطور مشروط از بیمه منتفع می گردد اگر از وقوع تهلکه واقف بوده باشد و یا مؤسسه بیمه از عدم امکان وقوع تهلکه مطلع باشد مقاولهٔ بیمه باطل محسوب می گردد. در صورت اول الذکر مؤسسهٔ بیمه میتواند اجورهٔ بیمه را مطالبه نماید.

**مادهٔ ۸۷۶:**

مؤسسهٔ بیمه فقط به جبران ضرری که حقیقتاً به بیمه شونده رسیده مکلف میباشد بنابران اگر بدل بیمه از قیمت مال تجاوز نماید بیمه شونده از قیمت اضافی استفاده نمیتواند.

اگر بدل بیمه نظر باین قاعده نسبت به قیمت مال کمتر گردد اجوره بیمه نیز تنزیل و قسمت تحصیل شده اضافی اجوره اعاده می گردد اما اگر قیمت بیمه از جانب اهل خبره (که به اتفاق طرفین انتخاب شده) بدواً تقدیر و طرفین آنرا قبول کرده باشند مؤسسه بیمه نمی

کولای چې د دی قیمت په نسبت اعتراض وکړي.

**۸۷۷ ماده:**

د بیمې مؤسسه هر وخت که وغواړی کولای شي چې د قیمت د تحقیق دپاره بیمه شوی مال معاینه کړی.

**۸۷۸ ماده:**

هغه مال چې ټول قیمت یې د یوې مؤسسې له خوا بیمه شوی وی د همغې مؤسسې له خوا د عین خطراتو په مقابل کښې بیا بیمه کیدای نشي که د بیمه شوی مال ټول قیمت په پخوانۍ مقاوله کښې ونشي ټاکلی د پاتې مال د قیمت د پاره یو یاڅو ځلې بیمه جائزه ده پدی صورت د بیمې مؤسسې چې وروسته له هغه یې مال بیمه کړی وی له پاتې قیمت څخه د مقاولی د نېټې په اعتبار مسئولی دی.
هغه مقاولې چې په عین یوه ورځ کښې شوی وی داسی ګڼلی کیږي چې په یوه زمان کښې منعقدی شوی دی.

**۸۷۹ ماده:**

که یومال د متعددو مؤسسو له

تواند نسبت به این قیمت اعتراض نماید.

**مادۀ ۸۷۷:**

مؤسسۀ بیمه هر وقتیکه خواسته باشد می تواند برای تحقیق قیمت مال بیمه شده را معاینه نماید.

**مادۀ ۸۷۸:**

مالیکه تمام قیمت آن از جانب یک مؤسسه بیمه شده باشد از طرف همان مؤسسه در برابر عین خطرات دوباره بیمه شده نمی‌تواند اگر تمام قیمت مال بیمه شده در مقاوله قبلی معین شده نتواند برای قیمت بقیه مال یک و یا چند مرتبه جائز است. به این صورت مؤسسات بیمه که بعداً مال را بیمه کرده باشند از قیمت باقی مانده باعتبار تاریخ مقاوله مسئول می گردند.
مقاولاتیکه در عین یک روز بعمل آمده باشند چنین محسوب می‌شوند که در یک زمان منعقد شده اند.

**مادۀ ۸۷۹:**

اگر یک مال از جانب مؤسسات

خوا اوپه عین زمان کښې د عین خطراتو د پاره بیمه شوی وی منعقدی شوی مقاولی د بیمه شوی مال د قیمت په اندازه اعتبار لری پدی صورت د بیمې هره یوه مؤسسه نظر مجموعی قیمت ته د مال د بدل په تناسب مسئوله بلله کیږي.

**۸۸۰ ماده:**

که یو مال د خپل قیمت یواځې د یوی برخې د پاره بیمه شوی وی د قسمی خساری د پېښې په حال کښې (پدی شرط چې د هغه په خلاف مقاوله نه وی شوی)، د بیمې مؤسسه د مال د هماغی برخې د قیمت د تاوان مسئوله ده چې بیمه شوی ده.

**۸۸۱ ماده:**

هغه مال چې ټول قیمت یې بیمه شوی وی په لاندنیو احوالو کښې د عین خطراتو د پاره د هغه بیمه جائزه ده:

۱- پدی صورت چې د مربوطه بیمې د مؤسساتو رضایت حاصل شوی وی پدی حال کښې د بیمې ټولې مقاولې داسی فرضیږي چې په یوه زمان کښې عقد شوی دی.

متعدد و در عین زمان برای عین خطرات بیمه شده باشد مقاولات منعقده به اندازهٔ قیمت مال بیمه شده اعتبار دارد. بااین صورت هر یکی از مؤسسات بیمه نظر به قیمت مجموعی بتناسب بدل مال مسئول شمرده می‌شوند.

**مادهٔ ۸۸۰:**

اگر یک مال تنها برای یک قسمت قیمت خود بیمه شده باشد در حال وقوع خسارهٔ قسمی (بشرطیکه خلاف آن مقاوله نشده باشد) مؤسسهٔ بیمه مسئول جبران قیمت همان قسمت مال است که بیمه گردیده.

**مادهٔ ۸۸۱:**

مالیکه تمام قیمت آن بیمه شده باشد در احوال ذیل برای عین خطرات بیمه آن جائز است.

۱- در صورتی‌که رضایت مؤسسات بیمه مربوط حاصل شده باشد در این صورت همه مقاولات بیمه چنان فرض می‌شود که در یک

او د خساري د پيښېدو په صورت د هغې تاوان په هغه نسبت چې په (۸۷۹) ماده کښې ذکر شوی دی د بيمې د مؤسساتو له خوا ورکول کيږي.
۲- که بيمه کوونکی د بيمې د لومړنۍ مؤسسې حقوق د بيمې وروستۍ مؤسسې ته انتقال کړی وی اويا يې له هغو نه ابراء کړی وی بايد د دی انتقال صورت د وروستۍ بيمې په مقاوله کښې تصريح شي او که داسی نشي نودغه مقاوله بی اثره بلله کيږي.
۳- که شرط شوی وی چې د وروستنۍ بيمې مؤسسه د هغه تاوان مسئوله ده چې د پخوانۍ بيمې مؤسسې هغه نه دی ورکړی، نو پدی صورت کښې بايد کيفيت په وروستۍ مقاوله کښې لکه د لومړی مقاولې په شان تصريح او ښکاره شي.

زمان عقد شده و در صورت وقوع خساره جبران آن به نسبتی‌که در مادۀ (۸۷۹) ذکر شده از طرف مؤسسات بیمه تأدیه می‌گردد.
۲- اگر بیمه کننده حقوق مؤسسۀ بیمه مقدم را به مؤسسۀ بیمه مؤخر انتقال داده و یا از آن ابراء نموده باشد باید صورت این انتقال در مقاوله بیمه مؤخر تصریح شود بر عکس آن مقاوله بی اثر تلقی می‌گردد.
۳- اگر شرط شده باشد که مؤسسۀ بیمه مؤخر مسئول جبرانیست که مؤسسۀ بیمه مقدم آنرا تأدیه نکرده است، در این صورت نیز باید کیفیت در مقاوله نامه مؤخر بر طبق مقاوله مقدم تصریح گردد.

**۸۸۲ ماده:**

بيمه کيدونکی د بيمې د مقاولی د عقد په وخت کښې مجبور دی چې د ټولو هغو خصوصياتو څخه چې د بيمې داجرت له زياتوالی او مقاولی څخه د برائت موجب

**مادۀ ۸۸۲:**

بیمه شونده در زمان عقد مقاوله بیمه مجبور است تمام خصوصیاتی را که موجب برائت از مقاوله و یا تزئید اجرت بیمه گردد به مؤسسۀ بیمه

وګرځي د بیمې مؤسسې ته اطلاع ورکړي د بیمه کیدونکی سکوت او ناقص او له حقیقت نه خلاف ځواب د بیمې د مؤسسې نه خبرول د مقاولی د فسخ باعث ګرځي.
مګر که په حقیقت باندی د خبریدو له نېټې څخه په دریو میاشتو کښې د بیمې مؤسسه د خپلی فسخ حق استعمال نکړی دا حق یې ساقطیږي د بیمه کیدونکی له خوا د بد نیت د ثبوت په صورت د بیمې مؤسسه د اجرت اخیستلو حق لری.
پرته له هغو مواردو چې د بیمه کیدونکی له خوا د بیمې د پوښتنو په مقابل کښې د بیمې د مقاولی په مربوطه لست کښې خانه پری شوی ځواب او تعهد ورکول کیږی نور هیڅ ډول مسئولیت بیمه کیدونکی ته نه متوجه کیږي.

**۸۸۳ ماده:**

که د خطر د وقوع امکان د بیمې د مؤسسې د مسئولیت له ښکاره کیدونه پخوا او بې د بیمه کیدونکی او یا هغه چا له د خل او تأثیر څخه چې د هغه ګټه اخیستل له بیمې څخه مشروط دی له منځه

اطلاع دهد سکوت و یا جواب ناقص و خلاف حقیقت بیمه شونده علی الرغم سوال مؤسسهٔ بیمه و عدم وقوف مؤسسهٔ بیمه از حقیقت باعث فسخ مقاوله می‌گردد. ولی اگر در ظرف سه ماه از تاریخ اطلاع به حقیقت مؤسسهٔ بیمه حق فسخ خود را استعمال نکند این حق ساقط می‌شود در صورت ثبوت سوء نیت از طرف بیمه شونده مؤسسهٔ بیمه در اخذ اجرت مستحق می‌باشد.
باستثنای مواردیکه در لست مربوط مقاوله بیمه در مقاوله سئوالات مؤسسهٔ بیمه از طرف بیمه شونده خانه پری شده جواب و تعهد داده می‌شود دیگر هیچگونه مسئولیتی به بیمه شونده متوجه نمی‌گردد.

**مادهٔ ۸۸۳:**

اگر امکان وقوع خطر قبل از ظهور مسئولیت مؤسسهٔ بیمه و بدون از دخل و تأثیر بیمه شونده و یا کسیکه انتفاع او از بیمه مشروط است از بین برود، مؤسسهٔ

ولاړ شي د بيمې مؤسسه د اجرت حق نه لري.

**۸۸۴ ماده:**

بيمه كيدونكى كولاى شي د بيمې د مؤسسې د مسئوليت له وقوع څخه پخوا ټوله مقاوله يا د مقاولې يوه برخه فسخ كړي په دى صورت د بيمې مؤسسه د نيم اجرت مستحقه كيږي.

**۸۸۵ ماده:**

په داسې صورت كښې چې په خلاف يې كوم شرط موجود نه وي د بيمې مؤسسه د هغو خسارو د تاوان ضامنه ده چې د بيمه كېدونكى يا هغه چا د غير ارادى اعمالو څخه چې په مشروط صورت له بيمې څخه ګټه وړي يا د هغو كسانو د غير ارادى اعمالو څخه چې د بيمې مؤسسه د دوى داعمالو حقوقاً مسئوله ده پيدا كيږي.

مګر په هيڅ صورت د بيمې مؤسسه مجبوره نه ده چې د هغو خسارو تاوان وركړي چې د بيمه كېدو نكى يا هغه چاله حيلې څخه پيدا شوي وي چې په مشروط ډول له بيمې څخه ګټه وړي.

بيمه مستحق اجرت نمی‌شود.

**مادۀ ۸۸۴:**

بيمه شونده مى تواند قبل از وقوع مسئوليت مؤسسۀ بيمه مقاوله را تماماً و يا قسماً فسخ كند، در اين صورت مؤسسۀ بيمه مستحق نصف اجرت مى‌شود.

**مادۀ ۸۸۵:**

در صورتى‌كه بر خلاف آن شرطى موجود نباشد مؤسسۀ بيمه ضامن جبران خساراتيست كه از اعمال غير ارادى بيمه شونده يا كسيكه بصورت مشروط از بيمه نفع ميبرد يا آنهائيكه مؤسسۀ بيمه حقوقاً مسئول اعمال شان مى‌باشد بوجود مى آيد.

ولى به هيچ صورت مؤسسۀ بيمه مجبور نيست خساراتيرا جبران كند كه از حيلۀ بيمه شونده و يا كسى‌كه بصورت مشروط از بيمه نفع مى‌برد نشئت نموده باشد.

همداډول په دی صورت چې په خلاف يې په مقاوله کښې تصريح نه وی شوی د بيمې مؤسسه په هغه عيب کښې چې په بيمه شوی مال کښې پيښيږی په تاوان ورکو لو مجبوره نه ده.

همچنین در صورتی که خلاف آن در مقاوله تصریح نشده باشد مؤسسهٔ بیمه در عیب که در مال بیمه شده بوقوع می آید مجبور بجبران نمی باشد.

**۸۸۶ ماده:**

بيمه کېدونکی مجبور دی چې د هغه خطر د خبرېدو له نېټې څخه چې بيمه په هغه پوری اړه لری په پنځو ورځو کښې د بيمې مؤسسه خبره کړی. برسيره په هغه بيمه کيدونکی مکلف دی چې د خساری د پېښيدو د مخ نيوی او يا تنقيص او تخفيف په خصوص کښې لازم تدبيرونه ونيسی.
هغه شرطونه چې له دی اساس نه مخالف د بيمه کيدونکی په پلو په مقاوله نامه کښې داخليږي داسی دی لکه چې هيڅ نه وی. که د نيول شويو تدبيرونه مصارف بی تاثيره پاتی شوی هم وی د بيمې مؤسسه د هغو په ورکړه مکلفه ده مګر که بيمه د مال په ټول قيمت اړه ونلری نومصارف د بيمې د بدل په تناسب، د مال له مجموع قيمت سره ورکول کيږي.

**مادهٔ ۸۸۶:**

بیمه شونده مجبور است در ظرف پنج روز از تاریخ وقوف به خطریکه بیمه به آن تعلق دارد مؤسسهٔ بیمه را مطلع سازد. علاوه بر آن بیمه شونده مکلف است راجع به جلوگیری از وقوع خساره و یا تنقیص و تخفیف آن تدابیر لازمه را اتخاذ نماید.
شروطیکه مخالف این اساس برله بیمه شونده در مقاوله نامه درج می‌شود کان لم یکن است اگر مصارف تدابیر متاخذه بی تاثیر هم مانده باشد مؤسسه بیمه مکلف به تأدیه آن است ولی اگر بیمه به مجموع قیمت مال تعلق نداشته باشد مصارف به تناسب بدل بیمه با مجموع قیمت مال پرداخته می‌شود.

**۸۸۷ ماده:**

که بیمه کیدونکی سره له تثبیته په ډیر سخت تقصیر او حیله د (۸۸۶) مادی د مکلفیتونو رعایت ونکړی د خپلی بیمې حقوق له لاسه ورکوي.

**۸۸۸ ماده:**

که یومال له (۸۷۹) مادی سره سم د بیمې د متعددو مؤسسو له خوا بیمه شوی وی د خساری د پیښېدو په حال کښې بیمه کوونکی مجبور دی چې په (۸۸۶) ماده کښې په ټاکلې موده کښې د بیمې هری یوی مؤسسې ته د خساری او هغو مقاولاتو د کیفیت څخه چې د همدی مال په باره کښې یې عقد کړی دی اطلاع ورکړی.

**۸۸۹ ماده:**

په دی صورت چې د هغه په خلاف مشروط شوی نه وی د بیمې هره مؤسسه د هغو خسارو مسئوله ده چې د تلفېدو او تغییر په لحاظ د بیمې د موضوع شیانوته رسیدلی وی پرته د جنګ او عصیان له حالته.

**مادهٔ ۸۸۷:**

اگر بیمه شونده با تثبیت به حیله و یا تقصیر سنگین رعایت مکلفیتهای مادهٔ (۸۸۶) را نکند حقوق بیمه خود را از دست می‌دهد.

**مادهٔ ۸۸۸:**

اگر یک مال مطابق مادهٔ (۸۷۹) از طرف مؤسسات متعدد بیمه، بیمه شده باشد در حال وقوع خساره بیمه کننده مجبور است در ظرف مدت معینه مادهٔ (۸۸۶) بهر یک از مؤسسات بیمه کیفیت خساره و مقاولاتی را که دربارهٔ همین مال عقد نموده اطلاع نماید.

**مادهٔ ۸۸۹:**

در صورتی‌که خلاف آن مشروط نشده باشد هر مؤسسهٔ بیمه مسئول خساراتی است که از لحاظ تلف و تغییر بر اشیاء موضوع بیمه وارد شده باشد باستثناء حالت جنگ و عصیان.

**۸۹۰ ماده:**
که کوم یو له هغو خطراتو نه چې له (۸۸۹) مادی سره سم د بیمې مؤسسه د هغو مسئوله ده له مقاولې څخه استثنا شوی وی او کومه خساره چې له دغو خطراتو څخه پېښه شي د دی اثبات چې پېښه شوی خساره له استثنايي خطراتو څخه پیدا شوی ده د بیمې په مؤسسه پورې اړه لری.

**مادهٔ ۸۹۰:**
هرگاه یکی از خطراتی که مطابق مادهٔ (۸۸۹) مؤسسهٔ بیمه مسئول آن است از مقاوله استثناء شده باشد و خساره ای از آنجهت وارد شود اثبات اینکه خساره واقعه از خطرات استثنائیه بوجود آمده مربوط به مؤسسهٔ بیمه می باشد.

**۸۹۱ ماده:**
په دی صورت چې د هغو په خلاف مشروط نه وی د بیمې مؤسسه له هغو خطراتو څخه چې د عقد د وقوع له نېټې نه پیدا کیږي مسئوله ده. که د دی مسئولیت د دوام موده په مقاوله کښې تصریح شوی نه وی نود محلی عرف له مخې د محکمی له خوا ټاکله کیږي.

**مادهٔ ۸۹۱:**
در صورتی‌که بر خلاف آن مشروط نباشد مؤسسهٔ بیمه از خطراتیکه از تاریخ وقوع عقد بعمل می آید مسئول است اگر مدت دوام این مسئولیت در مقاوله تصریح نشده باشد باساس عرف محلی از طرف محکمه تعیین می‌شود.

**۸۹۲ ماده:**
د بیمې مؤسسه له هغې نېټې څخه چې د بیمې مسئولیت شروع کیږي د اجرت مستحقه ده.

**مادهٔ ۸۹۲:**
مؤسسهٔ بیمه از تاریخی‌که مسئولیت بیمه شروع می‌شود مستحق اجرت می باشد.

**۸۹۳ ماده:**
د بیمې اجرت ممکن دی په

**مادهٔ ۸۹۳:**
اجرت بیمه ممکن است به

نقدو پیسو په هغه جنس چې نقداً د تقدیر وړدی په نقد ډول او یا په میاشتنیو او کالنیو قسطو ورکړشي. مګر که د هغه په خلاف موافقه نه وی شوی د بیمې اجرت په هغه وخت کښې چې د بیمې مسئولیت شروع کیږي نقداً د ورکړې وړ دی.

**۸۹۴ ماده:**
که د بیمې اجرت او د هغې د ورکړې صورت فیصله شوی نه وی نو د محلی عرف او مقتضیاتو له مخې د محکمې له خوا ټاکل کیږي.

**۸۹۵ ماده:**
د بیمې بدل نظر د بیمه شوی مال قیمت ته تثبیت کیږي. که د مال قیمت د بیمې له بدل څخه زیات وی نو بدل په دی صورت کاوه کیږي چې بیمه شوی مال ټول تلف شوی وی د تاوان اندازه د مال یوی برخې د اتلاف په صورت (که په خلاف یې مقاوله نه وی شوی) د بیمې بدل د مال د ټول قیمت په تناسب ټاکل کیږي.

پول نقد به جنسی که نقداً قابل تقدیر باشد نقداً و یا به اقساط ماهانه و سالانه تأدیه شود ولی اگر بر خلاف آن موافقه نشده باشد اجرت بیمه در وقتی که مسئولیت بیمه شروع می‌شود نقداً قابل پرداخت است.

**مادۀ ۸۹۴:**
اگر اجرت بیمه و طرز تأدیه آن فیصله نشده باشد نظر به عرف و مقتضیات محلی از طرف محکمه تعیین می‌شود.

**مادۀ ۸۹۵:**
بدل بیمه نظر به قیمت مال بیمه شده تثبیت می‌شود. اگر قیمت مال از بدل بیمه اضافه باشد بدل در صورتی پرداخته می‌شود که مال بیمه شده تماماً تلف شده باشد مقدار جبران در صورت اتلاف قسمی مال (اگر بر خلاف آن مقاوله نشده باشد) بدل بیمه به تناسب مجموع قیمت مال تعیین می‌شود.

**۸۹۶ ماده:**
که د هغه مال قیمت چې بیمه شوی دی په مقاوله نامه کښې نه وی قید شوی بیمه کوونکی مجبور دی چې د مال قیمت د خطر د وقوع په حال کښې اثبات کړی په دی صورت چې محکمه یې لازم وبولی د خپل قناعت د پاره کولای شي چې بیمه کوونکی ته قسم ورکړی که بیمه کوونکی ادعا وکړې چې د بیمه شوی مال قیمت په مقاوله کښې د لیکلی شوی قیمت نه لږدی مجبور دی چې خپله ادعا اثبات کړی.
مګر که د بیمه شوی مال قیمت پخوا د خطر له وقوع څخه د کارپوهو کسانو په ذریعه (چه د دوارو خواوو په انتخاب ټاکل کیږي) اټکل شوی او د بیمه کوونکی حیله په هغه خصوص کښې په اثبات ونه رسیږي د بیمې مؤسسه نشي کولای چې د دی قیمت په خصوص کښې اعتراض وکړې.

**مادۀ ۸۹۶:**
اگر قیمت مالیکه بیمه شده در مقاوله نامه قید نشده باشد بیمه کننده مجبور است قیمت مال را در حال وقوع خطر اثبات نماید در صورتی‌که محکمه لازم داند برای قناعت خود می‌تواند بیمه کننده را قسم بدهد اگر بیمه کننده ادعا نماید که قیمت مال بیمه شده کمتر از قیمت نوشته شده در مقاوله می‌باشد مجبور است ادعای خود را اثبات نماید.
ولی اگر قیمت مال بیمه شده قبل از وقوع خطر ذریعۀ اهل خبره (که بانتخاب جانبین معین می‌شود) تخمین شده و حیله بیمه کننده در آن خصوص باثبات نرسد مؤسسۀ بیمه نمی تواند راجع به این قیمت اعتراض نماید.

**۸۹۷ ماده:**
وروسته له هغه چې د بیمې مؤسسه د بیمې بدل ورکړی حقوقاً د بیمه کوونکی قایم مقام ګرځي.

**مادۀ ۸۹۷:**
بعد از آنکه مؤسسه بیمه بدل بیمه را تأدیه نماید حقوقاً قایم مقام بیمه کننده

نو په دی اساس که بیمه کوونکی د دریمو کسانو په مقابل کښې د خساری د دعوی حق ولری دا حق د ځینو روپو په تناسب چې د بیمې مؤسسه يې د ورکړی تعهد کوی د بیمې مؤسسې ته انتقال مومی.

که بیمه کوونکی خپل حقوق چې له پاس لومړۍ فقری سره سم د بیمې مؤسسې ته منتقل کیږي اخلال کړی او یا د هغو د اخلال موجبات راغونډ کړی د بیمې د مؤسسې په مقابل کښې مسئول دی.

**۸۹۸ ماده:**

د بیمې مقاوله د بیمې د (پالیسی) په اساس او یا د هغې لیکنی په اساس چې د مقاولی قایم مقام وی اثباتیږي. مقاوله په دوو نسخو کښې تنظیمیږي او برسیره په هغه لاندنیو موادو کښې د دواړو خواوو لاسلیک او د نېټې قید داخل وی:

۱- د بیمې د مؤسسې او د بیمه کیدونکی نوم او د رسیدلو ځای.

۲- د بیمې موضوع.

۳- د هغو خطراتو تاوان چې د بیمې مؤسسې يې تعهد کړی وی.

می‌گردد. بنابراین اگر بیمه کننده در مقابل اشخاص ثالث حق دعوی خساره را داشته باشد این حق به تناسب وجهی‌که مؤسسهٔ بیمه تعهد تأدیه می‌کند به مؤسسهٔ بیمه انتقال می یابد.

اگر بیمه کننده حقوق خود را که مطابق فقرهٔ اول فوق به مؤسسهٔ بیمه منتقل میگردد اخلال کند و یا موجبات اخلال آنرا فراهم نماید در مقابل مؤسسهٔ بیمه مسئول می‌باشد.

**مادهٔ ۸۹۸:**

مقاولهٔ بیمه باساس (پالیسی بیمه) و یا تحریریکه قایم مقام مقاوله باشد اثبات می‌شود مقاوله بدو نسخه تنظیم می‌گردد و برعلاوه قید تاریخ و امضاء طرفین محتوی مواد آتی می‌باشد:

۱- اسم و اقامتگاه مؤسسهٔ بیمه و بیمه شونده.

۲- موضوع بیمه.

۳- جبران خطراتیکه مؤسسهٔ بیمه تعهد نموده

سره د هغو د شروع او د ختم له نېټې.
**۴-** د بیمې بدل.
**۵-** د بیمې د اجرت د ورکړې اندازه وخت او محل.
**۶-** ټول هغه احوال او عوامل چې د بیمې د مؤسسې د متعهده خطراتو ماهیت وټاکلی شي.

**تبصره:**
د بیمې مقاوله د بیمه کوونکی په نامه یا امر او یا د هغې په حامل تنظیم کیدای شي.

**۸۹۹ ماده:**
په دی صورت چې په خلاف یې مشروط نه وی د بیمې مؤسسه مجبوره ده چې د بیمې مقاوله په مستقیم ډول د بیمه کوونکی او یا د ده د وکیل او د بیمې د مؤسسې ترمنځ منعقده شوی د عقد له نېټې څخه په (۲۴) ساعتو کښې او که مقاوله د دلال په ذریعه عقد شوی وی د عقد له نېټې څخه منتها په لسو ورځو کښې بیمه کوونکی ته وسپاری د دی په عکس بیمه کوونکی کولای شي چې د بیمې له مؤسسې او هغه د لال څخه چې منځګړیتوب

با تاریخ ابتداء و ختم آن.
**۴-** بدل بیمه.
**۵-** مقدار و زمان و محل تادیۀ اجرت بیمه.
**۶-** تمام احوال و عواملیکه ماهیت خطرات متعهدۀ مؤسسۀ بیمه را تعیین بتواند.

**تبصره:**
مقاوله بیمه باسم یا امر بیمه کننده و یا به حامل آن تنظیم شده می تواند.

**مادۀ ۸۹۹:**
در صورتی‌که خلاف آن مشروط نباشد مؤسسۀ بیمه مجبور است مقاولۀ بیمه را مستقیماً بین بیمه کننده و یا وکیل او و مؤسسۀ بیمه منعقد گردیده در ظرف بیست و چهار ساعت از تاریخ عقد و اگر مقاوله توسط دلال عقد شده باشد منتها در ظرف ده روز از تاریخ عقد به بیمه کننده تفویض نماید. بر عکس آن بیمه کننده می‌تواند از مؤسسۀ بیمه و دلالیکه وساطت نموده ضرر و

يې کړې دي خپل پېښن شوی زيان او ضرر وغواړي.

**۹۰۰ ماده:**

د بيمې مؤسسه کولای شي هغه مال چې بيمه کوی يې تر هر شرط لاندی چې وغواړي سر له سره بيمه کړي همداډول بيمه کوونکی هم د بيمې اجرت بيمه کولای شي.

**۹۰۱ ماده:**

د بيمې اجرت د بيمه کوونکی په استوګنځي کښې ورکول کيږي مګر که د بيمې د مؤسسې او يا د هغې د نماينده په استوګنځي کښې د بيمې د اجرت د ورکړې په خصوص کښې کوم شرط په مقاوله کښې موجود وی معتبر دی.

مګر د دی شرط په خلاف که د بيمې اجرت بالفعل د بيمه کوونکی په استوګنځي کښې ورکړې شوی وی د بيمې د مؤسسې په استوګنځي کښې د بيمې د اجرت د ورکړې شرط بی اثره دی.

**۹۰۲ ماده:**

په دی صورت چې بيمه

زيان وارده خود را مطالبه نمايد.

**مادهٔ ۹۰۰:**

مؤسسهٔ بيمه ميتواند مالی را که بيمه می نمايد تحت هر شرطيکه بخواهد مجدداً بيمه نمايد، هم چنان بيمه کننده نيز اجرت بيمه را بيمه ميتواند.

**مادهٔ ۹۰۱:**

اجرت بيمه در اقامتگاه بيمه کننده تأديه می‌شود ولی اگر در مقاوله شرطی دائر بر تأديهٔ اجرت بيمه در اقامتگاه مؤسسهٔ بيمه و يا نمايندهٔ آن موجود باشد معتبر است.

ولی علی الرغم اين شرط اگر اجرت بيمه بالفعل در اقامتگاه بيمه کننده تأديه شده باشد شرط تأديه اجرت بيمه در اقامتگاه مؤسسهٔ بيمه بی اثر است.

**مادهٔ ۹۰۲:**

در صورتی‌که بيمه کننده

کوونکی د بیمې اجرت د مقاولې په وخت کښې نه وی ورکړی او اجرت ملتوی او یا د اقساطو تابع شوی وی نوکه بیمه کوونکی دغه اجرت او یا د هغه قسط د مودی د تېرېدونه وروسته نه وی ورکړی نو د بیمې مؤسسه یو رسمی اخطار د راجستری لیک په مل هغه ته ورلیږي د اجرت یا اقساطو د نه ورکړی په صورت د یوی میاشتې په مودی کښې د بیمې مقاوله فسخ ګڼله کیږي.

هغه شرط چې د دی حکم په خلاف پر بیمه کوونکی باندی په مقاوله کښې درج شي باطل دی.

**۹۰۳ ماده:**

د بیمې په مقاولاتو کښې چې د ډیرو کلو د پاره منعقده کیږي که د بیمې د اجرت د اندازی په ټاکلو کښې داسی مخصوص عوامل چې د خطر وخامت زیاتوی په نظر کښې نیولی شوی وی په دی حال کښې چې دا عوامل وروسته له منځه ووزی بیمه کوونکی کولای شي چې د مربوطو کلو د پاره د اجرت تخفیف وغواړی.

اجرت بیمه را در حین مقاوله نداده باشد و یا اجرت ملتوی و یا تابع به اقساط گردیده باشد اگر بیمه کننده این اجرت و یا قسط آن را در انقضاء مدت تأدیه نکرده باشد مؤسسۀ بیمه یک اخطار رسمی ذریعۀ مکتوب راجستری باو ارسال می کند در صورت عدم تادیۀ اجرت و یا اقساط در ظرف یک ماه مقاوله بیمه فسخ شمرده می‌شود.

شرطیکه بر خلاف این حکم علیه بیمه کننده در مقاوله درج گردد باطل است.

**مادۀ ۹۰۳:**

در مقاولات بیمه که برای سنوات متعدده منعقد می‌گردد اگر در تعیین مقدار اجرت بیمه عوامل مخصوصه که وخامت خطر را تزئید میکنند در نظر گرفته شده باشد در صورتی‌که این عوامل بعداً از بین برود بیمه کننده می‌تواند تخفیف اجرت را برای سالهای مربوط مطالبه نماید.

**۹۰۴ ماده:**

که د هغو خطراتو له ختم نه پخوا چې بیمه په هغو پوری اړه لری د بیمې مؤسسه او په دی صورت چې د بیمې اجرت لاته وی ورکړی شوی بیمه کوونکی افلاس وکړي او یا په بل صورت له ورکړی څخه عاجز راشي مقابل طرف کولای شي چې د ده ټولی دارأیي ته مراجعه وکړي او د تعهد په اجرا کښې تأمینات وغواړی، که د تقاضا د وقوع له نېټې څخه په دری ورځو کښې تأمینات ورنکړل شي نو هغه طرف چې د مقابلې خوایې ټولی دارأیې ته مراجعه کړی ده کولای شي چې مقاوله فسخ کړی.

**۹۰۵ ماده:**

که د مقاولی د مودی په منځ کښې هغه څوک چې مال یې بیمه شوی دی د کوم علت په اثر تبدیل شوی وی په دی صورت چې د هغه په خلاف په مقاوله کښې مشروط نه وی ټول هغه حقوق او وجایب چې له بیمې څخه پیدا شوی وی له هغې نېټې څخه چې مال په ده پوری اړه لری نوی خاوند ته انتقال مومی مگر د بیمې مؤسسه کولای

**مادهٔ ۹۰۴:**

اگر قبل از ختم خطراتیکه بیمه بآن تعلق دارد مؤسسهٔ بیمه و یا در صورتی‌که اجرت بیمه هنوز تأدیه نشده باشد بیمه کننده افلاس کند و یا به نحو دیگری از تأدیه عاجز آید طرف مقابل میتواند به مجموع دارائی او مراجعه و در اجرای تعهد تأمینات بخواهد اگر در ظرف سه روز از تاریخ وقوع تقاضاء تأمینات داده نشود طرفیکه به مجموع دارائی طرف مقابل مراجعه کرده است می‌تواند مقاوله را فسخ نماید.

**مادهٔ ۹۰۵:**

اگر در اثناء مدت مقاوله کسیکه مال او بیمه شده در اثر علتی تبدیل شده باشد در صورتی‌که بر خلاف آن در مقاوله مشروط نباشد تمام حقوق و وجایب ناشی از بیمه از تاریخیکه مال باو تعلق دارد به صاحب جدید انتقال می یابد. ولی مؤسسهٔ بیمه می تواند برای اجرت بیمه

شي چې د بیمې د اجرت د پاره د مال لومړی مالک ته مراجعه وکړې.

**۹۰۶ ماده:**

که بیمه کوونکی بی د بیمې د مؤسسې له موافقی نه د خطراتو محل او یا د بیمه شوی مال وضعیت چې د مقاولی په وخت کښې یې درلود تبدیل کړی او یا دا تبدلات داسی ماهیت ولری چې د هغه د وجود په صورت د مقاولی په وخت کښې د اجرأ مانع او یا د بیمې له خوا تر درندو شرایطو لاندی د مقاولی د اجراء باعث شي د بیمې مؤسسه کولای شي چې مقاوله فسخ کړی نوهغه څوک چې دا تبدلات پیدا کوی که په اتو ورځو کښې کیفیت د بیمې اداری ته ابلاغ کړی او د بیمې مؤسسه په همغو اتوو ورځو کښې د خپلی فسخ حق استعمال نکړی بیمه دوام کوی.

**۹۰۷ ماده:**

که د بیمې داجرت مبلغ تردوو کالو پوری ورکړی شوی نه وی له بیمه شوی مال نه ترجیحاً اخیستل کیږي. په دی باره کښې د ترجیح حق نسبت نورو مرجحه پورونو ته

بمالک اول مال مراجعه نماید.

**مادهٔ ۹۰۶:**

اگر بیمه کننده بدون موافقهٔ مؤسسهٔ بیمه محل خطرات و یا وضعیت مال بیمه شده را که در زمان مقاوله داشت تبدیل نماید و این تبدلات دارای ماهیتی باشد که در صورت وجود آن در حین مقاوله مانع اجرأ و یا تحت شرایط سنگین تری باعث اجرای مقاوله از طرف بیمه شود مؤسسهٔ بیمه می‌تواند مقاوله را فسخ نماید کسی‌که این تبدلات را بوجود می آورد اگر در ظرف هشت روز کیفیت را به ادارهٔ بیمه ابلاغ کند در صورتی‌که مؤسسهٔ بیمه در ظرف همان هشت روز حق فسخ خود را استعمال ننماید بیمه دوام می‌کند.

**مادهٔ ۹۰۷:**

مبلغ اجرت بیمه اگر تا دو سال تأدیه نشده باشد از مال بیمه شده ترجیحاً استیفا می‌شود حق ترجیح درین باره نسبت به دیون مرجحهٔ دیگر

لومړی دی.

**درېیمه برخه**

**د سوځېدلو بیمه**

**۹۰۸ ماده:**

د بیمې مؤسسه د هغو ټولو خسارو د تاوان ضامنه ده چې بیمه شوی منقولو او غیر منقولو مالونوته د سوځېدلو له لارې پیښ شي.

د بیمې مؤسسه د قصدی سوځو لو د خساری د تاوان چې بیمه کوونکی پکښې اصلاً یا فرعاً دخل لری ضامنه کیدای نشي.

**۹۰۹ ماده:**

دا لاندې خساری په دی صورت چې د هغو په خلاف مقاوله موجوده نه وی د هغو خسارو حکم لری چې له اور اخیستو څخه پیدا کیږي:

۱- له هر هغه ډول وسائلو نه پیدا شوی مصارف چې د اور مړ کولو په غرض استعمالیږي لکه د تاو، لوگی او بخار د مخنیوی مصارف یا د نجات د پاره نور تدبیرونه لکه د بیمه شوی شیانو نقل له یوه ځای څخه بل ځای ته یاد بیمه شوی کوټو د ټول یالږ نړېدل چې د لزوم په

مقدم تر است.

**حصۀ سوم**

**بیمۀ حریق**

**مادۀ ۹۰۸:**

مؤسسۀ بیمه ضامن جبیرۀ تمام خساراتی است که از رهگذر حریق به اموال منقول و غیر منقول بیمه شده عاید شود.

مؤسسۀ بیمه ضامن جبیرۀ خسارۀ حریق قصدی که بیمه کننده اصلاً و یا فرعاً در آن ذیدخل باشد شده نمی‌تواند.

**مادۀ ۹۰۹:**

خسارات آتی در صورتیکه بر خلاف آن مقاوله موجود نباشد حکم خساراتی را دارد که از حادثۀ حریق نشئت می‌کند:

۱- مصارف ناشی از هر نوع وسائلیکه بغرض ان طفای حریق استعمال می شود مثل مصرف جلوگیری از حرارت، دود، بخار یا تدابیر دیگر برای نجات مثل نقل اشیاء بیمه شده از یک محل به محل دیگر یا انهدام کلی و یا قسمی عمارت بیمه شده که در صورت لزوم به مقصد جلوگیری

صورت داور د خپرېدو د مخنیوی په مقصد مصرف کیږي.
۲- هغه خساری چې له اور، تکی، چاودنی او ددی په شان نورو پېښونه پیدا شوی وی که څه هم داور باعث نه وی شوی.

**۹۱۰ ماده:**

هغه مقاوله چې د حریق په مقابل کښې د منقولو او غیر منقولو مالونو په خصوص کښې تړله کیږي برسیره د (۸۹۸) مادی په خصوصیاتو باید دا لاندنی معلومات ولری:
۱- د هغې ودانۍ ځای او د جوړښت ډول او داستعمال طریقه چې بیمه کیږي.
۲- په دی صورت چې د بیمې موضوع شیان وی نو د هغې ودانۍ محل چې داشیان پکښې موجود وی د هغه د ودانۍ د طرز او استعماله سره.

**۹۱۱ ماده:**

قسمی خساره چې یوی بیمه شوی ودانۍ ته داور له پېښې څخه رسیږي د سوځېدو له پېښې نه پخوا د ودانۍ د قیمتونو او پس له هغه د مقایسی په اساس تثبیت

از توسعه حریق صورت می گیرد.
۲- خسارات ناشی از آتش، صاعقه، انفلاق، حوادث مشابهۀ آن ولو اینکه باعث حریق هم نشده باشد.

**مادۀ ۹۱۰:**

مقاولۀ که در خصوص بیمۀ اموال منقول و غیر منقول در مقابل حریق منعقد می‌گردد بر علاوه خصوصیات مادۀ (۸۹۸) باید محتوی معلومات ذیل باشد:
۱- محل و نوع تعمیر و طرز استعمال عمارتیکه بیمه می‌شود.
۲- در صورتی‌که موضوع بیمه اشیاء باشد محل عمارتیکه این اشیاء در آن موجود می‌باشد با طرز تعمیر و استعمال آن.

**مادۀ ۹۱۱:**

خسارۀ قسمی که بیک عمارت بیمه شده از حادثۀ حریق عاید می‌شود باساس مقایسه قیمت های عمارت پیش از حادثه حریق و بعد از آن تثبیت

کیږي.
هغه خساره چې د یوې بیمه شوی ودانۍ له اور اخیستلو څخه پیدا کیږي په هغه ترتیب چې بدل یې ورکړی شي جبران کیږي که د یوی ټولی ودانۍ جوړول یا یې ترمیمول چې کامله یا یوه برخه یې سوځیدلی وی د مقاولی په اساس ټاکلی شوی وی په یوه موده کښې چې د دواړو خواوو اتفاق وربāندی حاصل شي کیږي او که د دواړو خواوو اتفاق وربāندی رانشي نوموده د محکمی له خوا ټاکله کیږي که چېرې مصارف د بیمې د مؤسسې له خوا ورکړل شي بیمه کوونکی یې په جوړولو او ترمیمولو مکلف دی. او د بیمې مؤسسه حق لری د هغو مصارفو د طرز چې په ورکړه یې مجبوره ده مراقبت وکړي.

## ۹۱۲ ماده:

هغه څوک چې د بل شخص په حساب د یوه مال په خصوص کښې د تصرف حق ولری کولای شي چې د حریق د خطراتو په مقابل کښې ټول یا یوه برخه بیمه کړی. دغه راز هغه څوک چې په هر صفت مال په

می گردد.
خسارۀ ناشی از حریق یک عمارت بیمه شده به ترتیبی که بدل آن تأدیه گردد جبران می‌شود. اگر تعمیر و یا ترمیم یک عمارتیکه کاملاً و یا قسماً حریق گردیده به اساس مقاوله تعیین شده باشد در ظرف یک مدتیکه اتفاق طرفین حاصل شود بعمل می آید. در صورت عدم اتفاق طرفین مدت از طرف محکمه تعیین می‌گردد. هرگاه مصارف از طرف مؤسسۀ بیمه داده شود بیمه کننده مکلف به ترمیم و تعمیر است. و مؤسسۀ بیمه حق دارد طرز مصارف را که مجبور به تادیۀ آن می‌باشد مراقبه نماید.

## مادۀ ۹۱۲:

کسیکه بحساب شخص دیگری حق تصرف را راجع بمالی واجد است می‌تواند آن را در مقابل خطرات حریق کلی یا قسمی بیمه نماید هم چنین کسیکه به هر صفتی ذو الید

لاس کښې ولرې کولای شي چې د سوځیدلو د خطراتو په مقابل کښې چې د ده له شخصي قصور څخه پیدا شوی او د بل شخص په مقابل کښې د ده د حقوقی مسئولیت موجب وی بیمه کړي.

**۹۱۳ ماده:**

د (۹۱۲) مادی د تحقق په صورت د بیمې له هغه جبران څخه چې د بیمې مؤسسه د بیمه کوونکی په مقابل کښې د هغه په ورکړه مجبوره ده د استیفا صلاحیت خاص په هغو کسانو پورې اړه لري چې بیمه کوونکی د هغو په مقابل کښې مسئول دی د بیمه کوونکی پوروالان نشي کولای چې د بیمې لدی جبران څخه استفاده وکړي.

**۹۱۴ ماده:**

پدی صورت چې په خلاف یې کومه مقاوله موجوده نه وی بیمه کوونکی حق لري هغه شیان چې زیانمن شوی دی د بیمې مؤسسې ته پریږدی او بدل یې وغواړي.

مالی باشد می‌تواند در مقابل خطرات سوختن که در نتیجۀ قصور شخصی او نشئت کرده و موجب مسئولیت حقوقی او در مقابل شخص دیگری باشد بیمه کند.

**مادۀ ۹۱۳:**

در صورت تحقق مادۀ (۹۱۲) صلاحیت استیفاء از جبران بیمه مؤسسۀ بیمه مجبور به پرداخت آن در مقابل بیمه کننده منحصر باشخاص است که بیمه کننده در مقابل آن مسئول می‌باشد دائنین بیمه کننده نمی توانند از این جبران بیمه استفاده نمایند.

**مادۀ ۹۱۴:**

در صورتی‌که بر خلاف آن مقاولۀ موجود نباشد بیمه کننده حق دارد اشیائی را که خساره مند شده به مؤسسۀ بیمه ترک و بدل آن را مطالبه نماید.

## ځلورمه برخه
## د ترانسپورت بیمه

**۹۱۵ ماده:**

د هغو شیانو په بیمه کښې چې په وچه او یا غیر له بحر څخه په اوبو کښې چلند کوی که په خلاف یې مقاوله موجوده نه وی د بیمې مؤسسه له هغې نېټې څخه چې شیان نقل ورکوونکی ته ورتسلیمیږي بیا ترهغه وخته پوری چې د نقل ورکوونکی له خوا مرسل الیه ته ورتسلیمیږی له هغو خسارو څخه چې د هر علت په اثر پېښې شي مسئول دی.

**۹۱۶ ماده:**

د بیمې بدل برسیره د بیمه شوی مال په محلی قیمت نقل ورکوونکی ته د تسلیم په وخت کښې د نقلیاتو اجرت اونور هغه مصارف دی چې د مقصود ځای ته د مال د رسیدو د پاره لازمیږي.
منصفانه او له عرف سره سم مفاد مقصود ځای ته د مال د رسیدو په حال کښې پدی شرط چې د بیمې په مقاوله کښې جلا درج شي، کولای شي د بیمې په بدل کښې داخلی شي.

## حصهٔ چهارم
## بیمهٔ ترانسپورت

**مادهٔ ۹۱۵:**

در بیمه اشیائیکه در خشکه و یا در آبهای غیر از بحر نقل داده می‌شود هرگاه بر خلاف آن مقاوله موجود نباشد مؤسسهٔ بیمه از تاریخیکه اشیاء به نقل دهنده تسلیم داده می‌شود الی زمانیکه از طرف نقل دهنده به مرسل الیه تسلیم می‌گردد از خساراتیکه در اثر هر علتی معروض شود مسئول است.

**مادهٔ ۹۱۶:**

بدل بیمه بر علاوه قیمت محلی مال بیمه شده در زمان تسلیم به نقل دهنده شامل اجرت نقلیات و دیگر مصارفاتی است که برای وصول مال به محل مقصود لازم می‌گردد.
مفاد منصفانه و مطابق بعرف را در حال وصول مال به محل مقصود بشرطیکه علیحده در مقاولهٔ بیمه درج گردد می‌توان داخل بدل بیمه نمود.

**۹۱۷ ماده:**
د نقلیاتو د بیمې مقاوله برسیره د (۸۹۸) مادی په تاکلیو خصوصیاتو دا لاندنی مواد هم لری:
۱- هغه وسیلې چې د هغو په ذریعه مال نقلیږي او هغه لار چې د نقل په وخت کښې تعقیبولی شي.
۲- د نقل ورکوونکی نوم او تجارتی عنوان.
۳- که چېرې د مرسل الیه او نقل ورکوونکی له خوا د نقل د پاره کومه موده ټاکلې شوې وی ددی مودی قید.
۴- نقل ورکوونکی ته د شیانو د تحویلی ځای او مرسل الیه ته د تسلیم ځای.

**مادهٔ ۹۱۷:**
مقاولهٔ بیمه نقلیات بر علاوه خصوصیات معینه مادهٔ (۸۹۸) محتوی مواد آتی نیز می‌باشد:
۱- وسائلی‌که مال ذریعهٔ آن نقل می‌شود و راهیکه در اثنای نقل تعقیب می‌گردد.
۲- اسم و عنوان تجارتی نقل دهنده.
۳- هرگاه از طرف مرسل الیه و نقل دهنده برای نقل مدتی معین شده باشد قید این مدت.
۴- محل تحویلی اشیاء به نقل دهنده و محل تسلیم به مرسل الیه.

**۹۱۸ ماده:**
د بیمې مؤسسه د هغو خسارو د تاوان ضامنه ده چې د نقلیاتو د اجراء د مؤظفو مامورینو له حیلې او تقصیر څخه پېښې شي.

**مادهٔ ۹۱۸:**
مؤسسهٔ بیمه ضامن جبران خساراتی می‌باشد که از حیله و تقصیر مامورین مؤظف اجرای نقلیات بوقوع می آید.

**۹۱۹ ماده:**
که نقلیات مؤقتاً قطع شي او یالار او د نقلیاتو وسیله تبدیله شي د بیمې مقاوله نه فسخ کیږي.

**مادهٔ ۹۱۹:**
اگر نقلیات مؤقتاً قطع گردد و یا راه و وسیلهٔ نقلیات تبدیل شود مقاولهٔ بیمه فسخ نمی‌شود.

## پنځمه برخه
## د حیات بیمه

**۹۲۰ ماده:**
د یوه شخص حیات یاد ده له خوا او یا د دریم شخص له خوا بیمه کیدای شي، مګر د بیمې د عقد د صحت د پاره شرط دی چې دریم شخص د بیمه شوی سړی د ژوند په اوږدیدو کښې ګټه ولری، د محجور او یا لیونی د صحی حیات د بیمې مقاوله جائزه ده مګر د دوی په مړینې پوری مشروط او مقیده بیمه تړل باطل دی په دواړو صورتو کښې که چیری فوت واقع شي نو د بیمې اجرت نیمايي چې د مړینې له نېټې څخه له بیمه کوونکی څخه اخیستی شوی دی بیرته ورکاوه کیږي.

**۹۲۱ ماده:**
د بیمې مؤسسه کولای شي چې د یو شخص د فوت احتمال په یوه ټاکلی موده او یا د مقاولې په ټاکلیو احوالو او شرایطو کښې دده د ټاکلی مودی زیاتو الی بیمه

## حصهٔ پنجم
## بیمهٔ حیات

**مادهٔ ۹۲۰:**
حیات یک شخص یا از طرف خودش و یا از جانب یک شخص ثالث بیمه شده می‌تواند، ولی برای صحت عقد بیمه شرط است که شخص ثالث در دوام حیات بیمه شونده ذینفع باشد مقاولهٔ بیمه حیات صحی محجور و یا مجنون جایز است ولی انعقاد بیمه مشروط و مقید به فوت آنها به باطل می‌باشد در هر دو صورت هرگاه فوت واقع شود مناصفه اجرت بیمه که تا تاریخ وفات از بیمه کننده گرفته شده است مسترد می گردد.

**مادهٔ ۹۲۱:**
مؤسسهٔ بیمه می‌تواند احتمال فوق یک شخص را در یک مدت معین و یا در احوال و شرایط معینهٔ مقاوله ما زاد مدت معینه او را بیمه

کړي.

**۹۲۲ ماده:**

د حیات د بیمې په مقاوله کښې بر سیره د (۸۹۸) مـادي پـه داخلـو خصوصیاتو د هغه چا چې د حیات بیمه کیـږي نـوم، سـن کـسب او د روغتیـا درجـه دی داخلـه شـي، دامقاوله ممکنه ده په نوم او یا امر لیکـل شـوی وی مګـر د حامـل پـه وجه کیدای نشي.

**۹۲۳ ماده:**

هغـه څـوک چـې د ده حیـات بیمـه شـوی دی کـه چېـرې د مقـاولې پـه وخـت کـښې مړشـي بیمـه اعتبـار نلري.

**۹۲۴ ماده:**

د بیمـې د اجـرت د نـه ورکـړې پـه صورت د (۹۰۲) مادي حکم معتبر دی او د بیمــې مؤســسه اړه نــه ده چې لدې حیثه دعوی وکړي.
کـه بیـمه کـېدونکی د دریـو کـالو د پوره کیدو څخه د مخه له بیمې څخـه رجـوع وکـړي تـرڅــو چــې خپــل تـعهــد اجــرا کــړی نــشي کـولاې هغـه اجـرت یـا بـدل چې ورکړی یې دی د بیمې لـه مؤسسې

نماید.

**مادۀ ۹۲۲:**

در مقـاولـۀ بیمـه حیات عـلاوه بـر خـصوصیات منـدرجـه مـادۀ (۸۹۸) اسم، سـن پیـشه و درجـۀ صحتمنـدی کـسیکه بیمـۀ حیـات مـی‌شود درج گـردد ایـن مقـاولـه مـمکـن است محرر باسم و یا امر باشد ولی در وجه حامل شده نمی تواند.

**مادۀ ۹۲۳:**

شخـصی‌کـه حیـات او بیمـه شـده هرگـاه در حـین مقاولـه وفـات نمایـد بیمـه اعتبـار ندارد.

**مادۀ ۹۲۴:**

در صورت عدم تأدیه اجرت بیمه حکم مـادۀ (۹۰۲) معتبـر بـوده و مؤسسۀ بیمه احتیاج ندارد از این حیث اقامۀ دعوی کند.
اگــر بیــمه شــونده قبـل از خـتم ســه ســال از بـیمـه رجـوع کـند تـا تعهـد خـود را اجراً نماید نمی‌تواند اجـرت و یـا بـدلـی را کـه داده است از مؤسـسۀ بیمـه مطالبـه

نه وغواړي.
که چیرې بیمه کیدونکی وروسته له هغه چې له درې کاله اجرت نه زیات یې ورکړی وی او له بیمې نه رجوع وکړې کولای شي چې د مصرف له تخفیف نه وروسته د پاتی( ۲ پر ۳)ټول اجرت په سلو کښې یو معادل وغواړي.

**۹۲۵ ماده:**

د هغه چې انتحار چې د وفات د خطر په مقابل کښې خپل حیات بیمه کوی د بیمې مؤسسې ته د ورکړې موجب نه ګرځي. مګر که دغه انتحار ترهغو احوالو لاندی وی چې ارادی اوادراک سلبوو نکی وی نود بیمې اعتبار ته کوم خلل نه پیښبږی.
هغه څوک چې ګټه یې له بیمې څخه په مشروط صورت وی که د بیمه کیدونکی شخص په قتل کښې اصلاً یا فرعاً ذی دخل وی محکوم شوی وی له بیمې څخه استفاده نشي کولای او په محکوم پوری مربوطه وجه د مقتول په ورثه پورې تعلق نیسی.

نماید.
هرگاه بیمه شونده بعد از اینکه زیادتر از سه سال اجرت را تأدیه کرده از بیمه رجوع نماید می تواند بعد از تخفیف مصرف معادل به فیصد یک مجموع اجرت (۲ بر ۳)متباقی را مطالبه نماید.

**مادهٔ ۹۲۵:**

انتحار کسی که حیات خود را در مقابل خطر وفات بیمه می‌کند موجب تأدیه ای برای مؤسسهٔ بیمه نمی گردد. ولی اگر انتحار تحت احوالیکه سالب اراده و ادراک است بوقوع آمده باشد باعتبار بیمه خللی وارد نمی‌شود.
کسی که انتفاع او از بیمه بصورت مشروط باشد اگر در قتل شخص بیمه شونده اصلاً و یا فرعاً ذیدخل بوده محکوم شده باشد از بیمه استفاده نمی‌تواند و وجه مربوط به محکوم به ورثه مقتول تعلق می گیرد.

**۹۲۶ ماده:**
یو شخص لکه څرنګه چې کولای شي خپل حیات په هغه مبلغ سره چې زړه یې وی بیمه کړی د بیمې د متعددو مؤسسو په ذریعه بی لدی چې ځان د بیمې د بدل په مقدار مقید کړی بیمه کولی شي.

**۹۲۷ ماده:**
د بیمې له مؤسسې څخه د حیات د بیمې له مقاولې نه د پیدا شوی ګټو او له حقوقو څخه د استیفا او د غوښتنې صلاحیت چې د دریم شخص په ګټه عقد کیږي مستقیماً په همغه شخص پورې اړه لری.
که دبیمې په مقاوله کښې د دریم شخص د وراثت په نسبت تصریح هم شوی وی له لمړۍ فقرې سره سم دا شخص د بیمې د مؤسسې په مقابل کښې د حقوقو او ګټو لرونکی دی. میړه او ماندینه کولای شي د عین مقاولې له مخې یو د بل په حیات دوه متقابلې بیمې عقد کړی.

**۹۲۸ ماده:**
بیمه کیدونکی لکه څنګه چې

**مادهٔ ۹۲۶:**
یک شخص طوریکه می‌تواند حیات خود را با مبلغی که خواسته باشد بیمه نماید توسط مؤسسات متعدد بیمه نیز بدون مقید بودن به مقدار بدل بیمه می‌تواند.

**مادهٔ ۹۲۷:**
صلاحیت مطالبه و استیفاء حقوق و منافع ناشی از مقاولهٔ بیمه حیات از مؤسسهٔ بیمه که به نفع یک شخص ثالث عقد می‌شود مستقیماً مربوط به همان شخص است.
اگر در مقاولهٔ بیمه نسبت وراثت شخص ثالث تصریح هم شده باشد مطابق فقرهٔ اول مستقیماً شخص مذکور در مقابل مؤسسهٔ بیمه دارای حقوق و منافع می‌باشد. زوج و زوجه می توانند به اساس عین مقاوله بر حیات یک دیگر دو بیمه متقابل عقد نمایند.

**مادهٔ ۹۲۸:**
بیمه شونده طوریکه

کولای شي له بیمې څخه د ګټې اخیستلو د حق لرونکی د مقاولې په وخت کی وټاکې د مقاولې له تړلونه وروسته یې هم ټاکلی شي.
بیمه کیدونکی کولای شي وروسته د هغه شخص له ټاکلو چې ګټه اخیستل یې له بیمې څخه مشروط وی هغه تبدیل کړی مګر که بیمه کیدونکی د بیمې په مقاوله کښې تعهد کړی وی چې د تبدیل حق نه لری او مقاوله یې هغه شخص ته چې ګټه اخیستل یې له بیمې څخه مشروط دی ورتسلیم کړی وی نونشي کولای چې هغه شخص تبدیل کړی.

**۹۲۹ ماده:**

د بیمې د مؤسسې د معاملاتو د تصفیې او یا افلاس په حال کښې د هغو کسانو د غوښتنې حق چې تر اوسه د بیمې د معتبرو مقاولو په اساس د نفع خاوند دی بیله ټکټ پولۍ څخه داجرت په اعاده منحصر دی چې د هرې مقاولې د پاره د تصفیې او یا دافلاس د حکم د صدور تر ورځې پورې ورکړی شوی دی.

می‌تواند شخص دارای حق انتفاع از بیمه را در حین مقاوله تعیین نماید. بعد از انعقاد مقاوله نیز تعیین می‌تواند.
بیمه شونده می‌تواند بعد از تعیین شخصی‌که انتفاع او از بیمه مشروط می‌باشد وی راتبدیل بکند ولی اگر بیمه شونده در مقاولهٔ بیمه تعهد کرده باشد که حق تبدیل را ندارد و مقاوله را به شخصی‌که انتفاع او از بیمه مشروط است تسلیم داده باشد نمی تواند آن شخص را تبدیل کند.

**مادهٔ ۹۲۹:**

در حال افلاس و یا تصفیه معاملات مؤسسهٔ بیمه حق مطالبهٔ آنهائی‌که هنوز به اساس مقاولات معتبر بیمه ذینفع می‌باشد منحصر به اعادهٔ اجرت بدون تکت پولی است که الی روز صدور حکم افلاس و یا تصفیه برای هر مقاوله تأدیه شده است.

**۹۳۰ ماده:**

بیمه کیدونکی بی د بیمې د مؤسسې له اطلاع نه کولای شي په افغانستان او د دنیا په نورو خواوو کښې په هوا، بحر او وچه کښې مسافرت وکړي.

د حیات د بیمې مقاوله د صلح په وخت کښې او د هغو سفربریو په ترځ کښې چې مسلح سوقیات پکښې وی او یا د داخلی جګړو، اغتشاش او عصیان او ملکی بحرانونو په وخت کښې معتبره ده یوائې له یوه پردی دولت سره د جنګ پیښیدو په وخت کښې (پدی صورت چې په خلاف یې کوم شرط نه وي) مقاوله منقطع کیږي پدی حال کښې هغه اجرت چې د وفات دپیښېدو په پیش بینی کښې تحصیل شوی وی بی له ټکټ پولۍ څخه اعاده کیږي.

**مادۀ ۹۳۰:**

بیمه شونده بدون اطلاع مؤسسه بیمه می تواند در افغانستان و در هر طرف دنیا در هوا، بحر و خشکه مسافرت نماید.

مقاولۀ بیمه حیات در وقت صلح و در اثنای سفر بری هائیکه شامل سوقیات مسلح باشد و یا در حین وقوع عصیان، اغتشاش، محاربات داخلی و بحرانات ملکی معتبر می‌باشد تنها درحین وقوع محاربه با یک دولت اجنبی (در صورتیکه بر خلاف آن شرطی نباشد) مقاوله منقطع می گردد در این حال اجرتیکه در پیش بینی وقوع وفات تحصیل شده باشد بدون تکت پولی اعاده می‌شود.

**۹۳۱ ماده:**

د بیمې عقد د تونتین (Tontine) یعنی د شریکانو له خوا په معینو اقساطو سره دی د پاره تأدیه کول چې د هغو اشخاصو په منځ کښې چې ژوندی دی په تاکلی نېټه وویشلی شي.

**مادۀ ۹۳۱:**

عقد بیمه باساس تونتین (Tontine) یعنی تأدیه به اقساط معین از طرف شرکأ باین مقصد که آنهائیکه حیات دارند در تاریخ معینی تقسیم شود.

## شپږمه برخه
## د پېښنو بیمه

**۹۳۲ ماده:**
د پېښې په مقابل کې بیمه عبارت له هغې مقاولې څخه ده چې د هغې له مخې د بیمې مؤسسه تعهد کوي چې د یوه ټاکلي اجرت د ورکړې په مقابل کې د یوې حادثې د پېښېدو په حال کې لکه مریضي یا د مادي ګټو او کار او عمل مخله عارضه او یا د هغه تصادف په اثر چې ماهیت او نوعیت یې تعریف شوی وي د بیمه کېدونکي وفات او یا د بیمه کېدونکي د کار له قدرت او امکان څخه مؤقتي یا دائمي محرومیت ټاکلي پانګه یا عاید ورکوي دا ورکړه دې یا بیمه شوي ته وشي یا دې هغو وارثینو او متعددو ټاکلیو اشخاصو ته وشي چې حقوقاً د ده قایم مقام ګرزېدلي وي.
پېښنه دې لکه څنګه چې ممکنه ده په مستقیم ډول د بیمه کېدونکي له خوا منعقده شي همداډول دریم شخص کولای شي چې د یوه

## حصهٔ ششم
## بیمهٔ حوادث

**مادهٔ ۹۳۲:**
بیمه در مقابل حادثه عبارت از مقاوله ایست که باساس آن مؤسسهٔ بیمه تعهد می‌کند که در مقابل تأدیهٔ یک اجرت معین در حال وقوع یک حادثه مثل مریضی یا عارضه مخل منافع مادی و کار و عمل و یا وفات بیمه شونده در اثر تصادفیکه ماهیت و نوعیت آن تعریف شده باشد و یا محرومیت مؤقتی یا دائمی بیمه شونده از قدرت و امکان کار سرمایه معین یا عایدی تأدیه میدارد این تأدیه یا به بیمه شونده بعمل آید یا به وارثین و اشخاص معین و متعددی که حقوقاً قایم مقام او گردیده باشند.
حادثه طوریکه ممکن است مستقیماً از طرف بیمه شونده منعقد شود همچنین شخص ثالثی می‌تواند بر له یک شخص و یا

شخص او یا د متعددو اشخاصو په ګټه عقد وتړی د یوه هیئت او جمعیت په خصوص کښې د حادثې د بیمې مقاوله هم ممکنه ده په دی خصوص کښې د هغو کسانو د نومونو چې د حادثې په مقابل کښې بیمه کیږي تصریح ضرور نه ده یواځې د کسب او یا ماموریت ذکر کافي دی.

اشخاص متعدد به عقد آن بپردازد. مقاوله بیمهٔ حادثه راجع بیک هیئت و جمعیت نیز ممکن است. در این صورت ضرور نیست اسامی اشخاصی‌که در مقابل حادثه بیمه میشوند تصریح گردد فقط ذکر پیشه و یا ماموریت کافی است.

**۹۳۳ ماده:**

د حوادثو بیمې ښنګه چې ممکنه ده د هغو ضررونو د تاوان په باره کښې وی چې بیمه کېدونکی د حادثې په نتیجه کښې د هغو سره مخامخ کیږي عقد شي د هغو تاوانو د تلافی په مقصد چې بیمه کېدونکی د حادثې په اثر بل ته د تاوان په ورکو لو مجبور دی هم ممکن دی.

**مادهٔ ۹۳۳:**

بیمه های حوادث طوریکه ممکن است دربارهٔ جبران ضررهائیکه بیمه شونده در نتیجهٔ حادثه معروض آن می‌گردد عقد شود بمقصد تلافی غراماتیکه بیمه شونده در اثر حادثه مجبور تسویه آن بدیگری می‌باشد نیز ممکن است.

**۹۳۴ ماده:**

د حوادثو په بیمو کښې د بیمې مؤسسه مجبوره ده چې لاندنۍ حادثې د کال د وقوع په وخت کښې په مقاوله کښې مندرجه تاوان په لاندی ډول ورکړی:

۱- په دی صورت چې حادثه د

**مادهٔ ۹۳۴:**

در بیمه های حوادث مؤسسه مجبور است در حین وقوع سنه حادثه ذیل غرامت مندرجه در مقاوله را قرار آتی بپردازد:

۱- در صورتی‌که حادثه باعث

مرګ باعث شي که مرګ ژر وی او که په موده د یوکال کښې د حادثې د وقوع له نېټې څخه پیښ شوی وی.
۲- په دی حال کښې چې حادثه د دایمی معلولیت موجب شوی وی.
۳- په دی صورت چې حادثه د کار له قدرت څخه د مؤقتی محرومیت سبب شوی وی بیمه کیدونکی ته به په ورځنی حساب د محرومیت د مودی تر دوام پوری تاوان ورکاوه کیږي.

**۹۳۵ ماده:**

په دی صورت چې په خلاف یې شرط شوی نه وی د بیمې مؤسسه مجبوره ده برسیره د مقاولې په مندرجه تاوان د تداوی اجرت چې بیمه کېدونکی په رښتیا سره صرف کړی وی هم ورکړی.

**۹۳۶ ماده:**

د بیمې له مؤسسې څخه د بیمه کېدونکی د تضميناتو اخیستل د دریم شخص د خطا په نتیجه کښې په دریم شخص باندی د بیمه کېدونکی د مراجعې حق نه ساقطوی. دریم شخص مجبور دی

موت گردد خواه فوت آنی باشد خواه در ظرف یکسال از تاریخ وقوع حادثه بعمل آمده باشد.
۲- در حالیکه حادثه موجب معلولیت دایمی شده باشد.
۳- در صورتی‌که حادثه سبب محرومیت مؤقتی از قدرت کار شده باشد به بیمه شونده به حساب روزانه الی دوام مدت محرومیت جبران داده می‌شود.

**مادۀ ۹۳۵:**

در صورتی‌که بر خلاف آن شرط نشده باشد مؤسسۀ بیمه مجبور است بر علاوه غرامت مندرجه در مقاولۀ اجرت تداوی را که بیمه شونده حقیقتاً صرف کرده است نیز تأدیه نماید.

**مادۀ ۹۳۶:**

اخذ تضمینات بیمه شونده از مؤسسۀ بیمه در نتیجۀ خطای شخص ثالث حق مراجعه بیمه شونده را به شخص ثالث ساقط نمی سازد شخص ثالث مجبور است بدون در نظر

چې بی د بیمې په نظر کښې نیولو په حادثه اخته شوی شخص ته د ضرر تاوان ورکړي.
د حادثو د بیمې په نورو مسایلو کښې د حیات د بیمې راغلی احکام تطبیق کیږي.

گرفتن بیمه ضرر شخص معروض به حادثه را جبران کند.
در مسایل دیگر بیمه حوادث احکام وارد بیمه حیات تطبیق می‌شود.

## اوومه برخه
## زراعتی بیمه

## حصۀ هفتم
## بیمۀ زراعتی

**۹۳۷ ماده:**
هر ډول رېبل شوی او یا ولاړ محصول د کال په هر وخت کښې بیمه کېدای شي.

**مادۀ ۹۳۷:**
هر نوع محصول درو شده و یا درو نشده در هر وقت سال بیمه شده می‌تواند.

**۹۳۸ ماده:**
زراعتی بیمې د هغې زمانی د پاره چې عقد کیږی اعتبار لری چې د خسارو د تاوان له ورکولو نه وروسته هم بیمه د یوې دوهمې خساری په مقابل کښې دوام کوی.
خساری د ممیز په ذریعه چې له دواړو خواوو نه ټاکل کیږی اندازه او تثبیت کیږی.

**مادۀ ۹۳۸:**
بیمه های زراعتی برای زمانیکه عقد می‌شود اعتبار دارد که بعد از جبران خسارا ت نیز بیمه در مقابل یک خسارۀ ثانی دوام می‌کند.
خسارات ذریعۀ ممیز که از جانب طرفین گماشته می‌شود تقدیر و تثبیت می‌گردد.

**۹۳۹ ماده:**
د زراعتی بیمې په شرکتو کښې د بیمې د دوام موده چې د متقابله

**مادۀ ۹۳۹:**
مدت دوام بیمه در شرکت های بیمه زراعتی که باساس اعتماد

اعتماد پـه اساس دايری کيـږی د شـرکت د دوام مـوده ده مګـر هـم شرکت او هم سهم لرونکی کولای شي چې د هر کـال پـه پـای کښې مقاوله فسخ کړی هغه شرايط چې د دی حکـم پـه خـلاف وضـع کيـږي اعتبار نه لري.

متـقـابـلـه دايـر مـی‌گـــردد مـدت دوام شـــرکت اســـت ولـــی هـــم شـرکــت و هــم سـهـمـداران مــی تـوانـنـد در ختم هر سال مقاوله را فـسخ نمايـنـد شـــرائطيکه بــر خلاف اين حکم وضع می‌شود کـان لم يکن است.

**۹۴۰ ماده:**

د ټولـو زراعتـی او اهلـی حيوانـاتو بيمـه د هـر ډول پـوری کيـدونکی ناروغی او حادثې پـه مقابـل کښې جائزه ده.

**مادۀ ۹۴۰:**

بيـــمه تمـــام حيوانـــات زراعتـــی و اهلـــی در مقابـــل هـــر نـــوع مـــرض ســـاری و حادثـــه جـــائز است.

## اتمه برخه
## د غلا بيمه

## حصۀ هشتم
## بيمۀ سرقت

**۹۴۱ ماده:**

لـه غـلا څخـه د اشخاصـو د ساتنی په منظور او يا هغه اشخاص چې د غـلا پـه اثـر پـه خـساره او مـالی مـسئوليت اختـه کيـږی ممکنـه ده چې پـه غـلا بانـدی د بيمې مقاولـه وتړی.

**مادۀ ۹۴۱:**

بـــه منظـــور حمايـــۀ اشـــخاص از ســرقت و يــا اشخاصــی‌کــه در اثــر ســـرقت معـــروض خـــساره و مـسئوليت مـالی قـرار مـی‌گيرنـد ممکـن است عليـه سرقت مقاولـۀ بيمه عقد نمود.

## نهمه برخه
## د زمانی تیرېدل

**۹۴۲ ماده:**
هر ډول دعوې چې د بیمې له مقاولی څخه پیداکیږی د اختلاف د پېښېدو له نېټې نه وروسته له دوو کالو څخه ساقطیږي.

**۹۴۳ ماده:**
وروسته د دی اصولنامی له خپرېدو څخه لاندی نوری اصولنامی لغوه او دا اصولنامه د هغو په ځای د اجرأ وړده:
۱- د تجارتی د فترونو اصولنامه.
۲- د دلالی اصولنامه.
۳- تجارتی اصولنامه.
۴- د تجارت د ثبت اصولنامه.

**۹۴۴ ماده:**
دا اصولنامه د خپرېدو له نېټې څخه دوې میاشتې وروسته داعتبار وړده.

**۹۴۵ ماده:**
د دی اصولنامی په اجراء او تطبیق د ملی اقتصاد وزارت مؤظف دی.
دنورو مملکتی اصولو په جمله کښې د دی اصولنامی د اجراء او

## حصۀ نهم
## مرور زمان

**مادۀ ۹۴۲:**
هر نوع دعوائیکه از مقاوله بیمه بوجود می آید بعد از دو سال از تاریخ وقوع اختلاف ساقط می‌شود.

**مادۀ ۹۴۳:**
بعد از نشر این اصولنامه، اصولنامه های ذیل ملغی و این قانون جانشین آنها می‌باشد.
۱- اصولنامه دفاتر تجارتی.
۲- اصول نامۀ دلالی.
۳- اصول نامۀ تجارتی.
۴- اصول نامۀ ثبت تجارتی.

**مادۀ ۹۴۴:**
این قانون دو ماه بعد از تاریخ نشر معتبر می باشد.

**مادۀ ۹۴۵:**
به اجراء و تطبیق این قانون وزارت اقتصاد ملی مؤظف است.
انفاذ و اجرای اصولنامۀ هذا را در جمله سائر اصولات مملکتی

انفاذ امر او اراده کوو د (۱۳۳۴) لمریز کال د قوس (۲۱) نېټه د ۱۳۷۵ قمری کال د ربیع الثانی د میاشتې له (۲۹) سره سم.

امر و اراده می‌نمائیم. مؤرخه (۲۱) برج قوس (۱۳۳۴) شمسی مطابق (۲۹) ماه ربیع الثانی ۱۳۷۵ قمری.

# تعدیلات قانون تجارت

د افغانستان جمهوریت
دجمهور رئیس فرمان

ګڼه : ۴۰۰
نیټه : ۱۳۶۷/۴/۸

**د تجارت د قانون په (۲۷۷ او ۴۵۸) مادو کې دزیاتوالی او تعدیل د توشیح په هکله**

د افغانستان دجمهوریت داساسي قانون د (۷۵) مادې د (۲) فقرې دحکم سره سم د تجارت دقانون په (۲۷۷ او ۴۵۸) مادوکې کوم زیاتوالی او تعدیل چې د ۱۳۶۷ دغبرګولی د (۶) نیټې په فوق العاده غونډه کې دانقلابي شورى له خوا د (۱۱) ګڼې مصوبې په ترخ کې په دوو مادوکې تصویب شویدی توشیح کوم.

دا فرمان په نوموړی قانون کې دزیاتوالی او تعدیل په باب د افغانستان دجمهوریت دانقلابي شورى له مصوبي سره یوځای په رسمي جریده کې دخپریدو لپاره د افغانستان جمهوریت دعدلیي وزارت ته دې واستول شي.

دکتور نجیب الله
د افغانستان جمهور رئیس

فرمان رئیس جمهور
جمهوریت افغانستان

شماره: ۴۰۰
مؤرخ: ۱۳۶۷/۴/۸

**دربارهٔ توشیح درمورد ایزاد وتعدیل مواد (۲۷۷ و۴۵۸) قانون تجارت**

مطابق به حکم فقرهٔ (۲) مادهٔ (۷۵) قانون اساسي جمهوری افغانستان، ایزاد وتعدیل مواد (۲۷۷ و ۴۵۸) قانون تجارت را که بتاریخ (۶)جوزاي (۱۳۶۷) درجلسه فوق العاده ازطرف شوراي انقلابي طي مصوبهٔ شماره (۱۱) بداخل دو ماده به تصویب رسیده، توشیح مي‌دارم.

این فرمان همراه با مصوبهٔ شوراي انقلابي جمهوری افغانستان دربارهٔ ایزاد وتعدیل قانون متذکره جهت نشر درجریدهٔ رسمي بوزارت عدلیهٔ جمهوری افغانستان گسیل گردد.

دکتور نجیب الله
رئیس جمهور افغانستان

## د افغانستان دجمهوریت دانقلابي شوری مصوبه

**ګڼه: (۱۱)**
**نیټه: ۱۳۶۷/۳/۶**

**د تجارت دقانون په (۲۷۷ او ۴۵۸) مادوکې د زیاتوالی او تعدیل په هکله**

د افغانستان جمهوریت انقلابی شوری د افغانستان جمهوریت د اساسی قانون د (۱۴۶) مادی د حکم پر بنسټ تصویبوی:

**لومړۍ ماده:**
د (۲۷۷ او ۴۵۸) مادو په پای کی لاندی متن ور زیات شی:
۱- تولیدی او خدماتی خصوصی تشبثات چی د کورنی او بهرنی خصوصی پانګه اچونی د قانون پر اساس د افغانستان په جمهوریت کی تاسیس او ثبت کیږی د دغه قانون د حکمونو تابع نه دی.
۲- د لمتد تجارتی شرکت د سوداګری د وزارت په اجازه جوړیږي د اجازی په غوښتنلیک کی لازمه ده چی د ټولو شریکانو او یا د هغوی د تصدیق شویو

## مصوبهٔ شوراي انقلابي جمهوری افغانستان

**شماره: (۱۱)**
**تاریخ:۱۳۶۷/۳/۶**

**در مورد ایزاد و تعدیل مواد (۲۷۷ و ۴۵۸) قانون تجارت**

شورای انقلابي جمهوري افغانستان به تاسي ازحکم مادهٔ (۱۴۶) قانون اساسي جمهوری افغانستان تصویب می‌دارد:

**مادهٔ اول:**
متن ذیل در اخیر مواد (۲۷۷ و ۴۵۸) ایزاد گردد:
۱- تشبثات خصوصی تولیدی و خدماتی که به اساس قانون سرمایه گذاری خصوصی داخلی و خارجی در جمهوری افغانستان تأسیس و ثبت می‌گردد تابع احکام این قانون نمی باشد.
۲- شرکت لمتد تجارتی به اجازه وزارت تجارت تشکیل می یابد، در درخواست اجازهٔ لازم است که امضاء تمام شرکاء و یا وکیل های مصدق شان

وکیلانو لاسلیک درج شی.
د لمتد د تجارتی شرکت ټوله پانګه باید په غاړه واخیستله شی او لږ تر لږه نیمایی یی ورکړی شی.
تولیدی او خدماتی خصوصی تشبثات د افغانستان د جمهوریت د کورنی او بهرنی خصوصی پانګه اچونی د قانون سره سم د کورنۍ او بهرنۍ خصوصي پانګه اچونه په چارو کی د وزیرانو شوری د اجرائیوی کمیټی د دایمی کمیسیون له منظوری نه وروسته را منځته کیدای شی.

**دویمه ماده:**
دغه مصوبه د افغانستان د جمهوریت د اساسی قانون د (۸۱) مادی د (۱) فقری د حکم پر بنسټ جمهور رئیس ته دی وړاندی شی او له توشیح نه وروسته نافذه او په رسمی جریده کی دی خپره شی.

درج گردد.
تمام سرمایهٔ شرکت لمتد تجارتی باید تعهد واقلاً نصف آن تادیه شده باشد.
تشبثات خصوصی تولیدی و خدماتی بر طبق قانون سرمایه گذاری خصوصی داخلی و خارجی جمهوری افغانستان بعد از منظوری کمیسیون دایمی کمیتهٔ اجرائیوی شورای وزیران در امور سرمایه گذاری خصوصی داخلی و خارجی تشکیل شده می‌تواند.

**مادهٔ دوم:**
این مصوبه متکی بحکم فقرهٔ (۱) مادهٔ (۸۱) قانون اساسی جمهوری افغانستان به رئیس جمهوری ارائه و بعد از توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

(د تجـارت داصـولنامی پـورتنی زیـــاتوالی او تعـــدیل د ۱۳۶۷ هـ.ش کال دتلی د میاشتی په ۲۹ نیتـه درسـمی جریـدی پـه (۶۷۶) گڼه کې خپور شوی دی.)

(تـــعـدیــــــل و ایـــزاد فـــوق اصولـــــــنامه تـــــجارت در جـــریدهٔ رســمي شــماره (۶۷۶) مـــــؤرخ ۱۳۶۷/۷/۲۹ نـــــشر گـردیـــده است.)

# قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت

**د افغانستان اسلامي جمهوريت**

**ګڼه: (۱۷۹۲۷)**

**نېټه: ۱۳۸۵/۱۱/۱۸**

**د عدليې وزير محترم سرور دانش!**

د سهامي او محدود المسئوليتو شرکتونو قانون چې د وزيرانو د شوري د **۱۳۸۵/۱۰/۲۵** نېټې د (**۳۵**) ګڼه مصوبې پربنسټ په (**۱۵**) فصلونو او (**۱۱۴**) مادو کې تصويب او زموږ لخوا د **۱۳۸۵/۱۰/۲۷** نېټې د (**۱۰۰**) ګڼې تقنينی فرمان په تو ګه توشيح شوی دی، تاسوته در واستول شو څويې په رسمی جريده کې په خپرولو اقدام وکړی.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**شماره: (۱۷۹۲۷)**

**تاریخ: ۱۳۸۵/۱۱/۱۸**

**محترم سرور دانش وزیر عدلیه!**

قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت را که به اساس مصوبۀ شماره (**۳۵**) مؤرخ **۱۳۸۵/۱۰/۲۵** شورای وزیران بداخل (**۱۵**) فصل و (**۱۱۴**) ماده تصویب گردیده و از جانب ما به حیث فرمان تقنینی شماره (**۱۰۰**) مؤرخ **۱۳۸۵/۱۰/۲۷** توشیح گردیده است، به شما ارسال شد، تا به نشر آن در جریدۀ رسمی اقدام نمائید.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د سهامي او محدودالمسئوليتو شركتونو د قانون د توشيح په هكله، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس فرمان

**گڼه:** (۱۰۰)

**نېټه: ۱۳۸۵/۱۰/۲۷**

**لومړۍ ماده:**
د افغنستان د اسلامي قانون د (۷۹) مادې د حكم له مخې د سهامي او محدودالمسئوليتو شركتونو قانون چې د وزيرانو د شورى د (۱۳۸۵/۱۰/۲۵) نېټې د (۳۵) گڼې مصوبې پربنسټ په (۱۵) فصلونو او (۱۱۴) مادو كې تصويب شوى دى، د تقنيني فرمان په توگه توشېح كوم.

**دوه يمه ماده:**
د. ا. ا. ج د عدليې وزير او په پارلماني چارو كې د دولت وزير مؤظف دى، دغه قانون د ملي شورى د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځوپه ترڅ كې ملي شورى ته وړاندې كړي.

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت

**شماره:** (۱۰۰)

**تاریخ: ۱۳۸۵/۱۰/۲۷**

**مادهٔ اول:**
به تأسی از حکم مادهٔ (۷۹) قانون اساسی افغانستان قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت را که به اساس مصوبهٔ شماره (۳۵) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ شورای وزیران بداخل (۱۵) فصل و (۱۱۴) ماده تصویب گردیده است، به حیث فرمان تقنینی توشیح می‌دارم.

**مادهٔ دوم:**
وزیر عدلیه ج.ا.ا و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف است این قانون را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی به شورای ملی تقدیم نماید.

**درېیمه ماده:**
دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ اوپه رسمي جریده کې دی خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**ماده سوم:**
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د سهامي او محدودالمسئولیتو شرکتونو قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**موخه**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د حکمونو په رڼا کې د سهامي او محدودالمسئولیتو شرکتونو د جوړولو په ډول او فعالیت پورې د اړوندو چارو د تنظیم په منظور ، وضع شوی دی.

**د جواز لرل**

**دوه یمه ماده:**

هېڅ شخص نشي کولای د سهامي او محدودالمسئولیت شرکت په توګه د جواز له لرلو او د مرکزي ثبت په دفتر کې د هغهٔ له ثبت پرته په افغانستان کې سوداګریزې معاملې او اعلانونه سر ته ورسوي.

**د تطبیق وړتیا**

**درېیمه ماده :**

د دې قانون حکمونه پر محدود-المسئولیتو (لېمتد) شرکتونو

## قانون شرکت های سهامی و محدود المسئولیت
## فصل اول
## احکام عمومی

**هدف**

**مادهٔ اول:**

این قانون درروشنی احکام قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم امورمربوط به طرزایجاد و فعالیت شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت، وضع گردیده است.

**داشتن جواز**

**مادهٔ دوم:**

هیچ شخص نمی تواند به حیث شرکت سهامی و محدود-المسئولیت بدون داشتن جواز فعالیت و ثبت آن در دفتر ثبت مرکزی، معاملات و اعلانات تجارتی را در افغانستان انجام دهد.

**قابلیت تطبیق**

**مادهٔ سوم:**

احکام این قانون بالای شرکت های محدود المسئولیت (لیمتد) قابل

باندی د تطبیق وړ دی ، پدی شرط چې :
۱- د محدود المسئولیت شرکت ونډه وال له دوو تنو څخه لږ او له پنځوسو تنو څخه زیات نه وي .
۲- د محدودالمسئولیت شرکت برخه د عامو ونډو په بازار کې و نه پلورل او ونه پېرودل شي.
۳- د محدودالمسئولیت شرکت ونډه وال د شرکت په پلورنه، لېږدونه یا تبادله کې مجاز نه وي.

تطبیق می باشد ، مشروط بر اینکه :
۱- سهمداران شرکت محدود المسئولیت از دو نفر کمتر و از پنجاه نفر بیشتر نباشند.
۲-حصهٔ شرکت محدود-المسئولیت در بازار سهام عام خرید و فروش نگردد .
۳-سهمداران شرکت محدودالمسئولیت مجاز بفروش، انتقال یا تبادلهٔ شرکت نباشند.

**اصطلاحګاني**

**څلورمه ماده :**

لاندی اصطلاحګاني پدی قانون کې دغه مفاهیم افاده کوي :
۱- سهامي شرکت: هغه سوداګریز شرکت چې پانګه یې ټاکلې او په ونډو وېشل شوې وي او دهر شریک د مسئولیت برخه د هغهٔ د ونډې په اندازې پورې محدوده وي.
۲- محدودالمسئولیت (لېمتد) شرکت : هغه سوداګریز شرکت چې پانګه یې په ونډو نا وېشلی (غیر منقسمه) وي او د هر شریک مسئولیت په شرکت کې د موافقه شوې پانګې په اندازې پورې محدود وي .

**اصطلاحات**

**مادهٔ چهارم :**

اصطلاحات آتی دراین قانون مفاهیم ذیل را افاده می‌نماید:
۱- شرکت سهامی : شرکت تجارتی ایکه سرمایهٔ آن معین و منقسم به اسهام بوده و اندازهٔ مسئولیت هر شریك به اندازهٔ سهم آن محدود می باشد.
۲- شرکت محدود المسئولیت (لیمتد) : شرکت تجارتی ایکه سرمایهٔ آن غیر منقسم به اسهام بوده و مسئولیت هر شریك محدود به اندازهٔ سرمایهٔ توافق شده در شرکت باشد .

۳- اساسنامه : هغه سند دی چې مؤسسین یا د شرکت ونډه وال یې د دی قانون د حکمونو مطابق د خپل فعالیت د مشروعیت په منظور ترتیبوي او لاندې موارد پکې شامل وي :

- اصلي اساسنامه .
- په اساسنامه کې ټول تعدیلونه .
- د دوو یا له دوو څخه د زیاتو شرکتونو د ادغام سند .

که چېرې اساسنامه د تعدیل یا ادغام د سند پربنسټ په بل ډول له سره تنظیم شي ، پدې صورت کې د تعدیل سند یا د ادغام سند له هغې سره نه ضمیمه کېږي .

۴- مجازې ونډې : هغه ونډې دی چې ټول کورني او بهرني سهامي شرکتونه د هغو د صادرېدو د اجازې لرونکی دی .

۵- ونډه : د مقیاس هغه واحد دی چې د یوۀ سهامي شرکت ونډې پرې منقسمې (وېشل) کېږي.

۶- ونډه وال : هغه شخص دی چې د سهامی شرکت د ونډو د ثبت په دفتر کې یې ونډې په نوم ثبت شوې وي او تر هغو حدودو پورې د ونډو ذینفع خاوند وي چې د

۳- اساسنامه: سندی است که مؤسسین یا سهمداران شرکت طبق احکام این قانون به منظور مشروعیت فعالیت خود آنرا ترتیب و شامل موارد ذیل می باشد :

- اساسنامۀ اصلی .
- تمام تعدیلات در اساسنامه.
-سند ادغام دو یا بیش از دو شرکت.

هرگاه اساسنامه به تأسی از سند تعدیل یا ادغام طور دیگری مجدداً تنظیم گردد ، دراین صورت سند تعدیل یا سند ادغام به آن ضمیمه نمی گردد .

۴- سهام مجاز: سهامی است که تمام شرکت های سهامی داخلی و خارجی اجازۀ صدور آن را دارا می‌باشند .

۵- سهم: واحد مقیاسی است که سرمایۀ یك شرکت سهامی به آن منقسم می‌گردد .

۶- سهمدار: شخصی است که در دفتر ثبت سهام شرکت سهامی ، سهام بنامش ثبت گردیده و مالك ذینفع سهام تا حدودی باشد که در

داوطلبۍ په سند کې په درج شوو حقوقو کې ثبت شوې ، د سهامي شرکت د مرکزي ثبت په دفتر کې درج شوې یا د هغو ونډو ذینفع خاوند وي چې دخپلې رأیې ورکونې حق دریېیم (ثالث) شخص ته وسپاري .

۷- د ونډو صنف (ټولګی): د ورته ونډو ګروپ دی چې یو شان حقوق د هغو ونډه والو ته پرېږدي .

۸- د ونډو ګټه : د یوۀ شرکت له نګه (خالصې) ګټې څخه یوه برخه ده چې د ټاکل شوو حقوقو مطابق د ونډو د هر ډول او هر صنف لپاره ونډه والو ته وېشل کېږي .

۹- د بیا پېرودنې وړونډه : هغه ونډه ده چې لرونکی یې حق لري هغه تر خاصو شرایطو لاندې یا پر شرکت باندې وپلوري .

۱۰- د پانګې ونډې : د شرکت په واسطه د وړاندو شوو ټولو ونډو په نوم (اسمي ارزښت، ظاهري ارزښت) ټولیز ارزښت یا بها ده .

۱۱- زېرمه ایزه پانګه : د پانګې ټولګه ده چې له ابتدا څخه تر انتها پورې د شرکت د ونډې پر هر واحد باندې جمع کېږي .

حقوق مندرج سند داوطلبی ثبت شده ، در دفتر ثبت مرکزی سهام شرکت سهامی درج بوده و یا مالك ذینفع سهامی باشد که حق رای دهی خویش را به شخص ثالث تفویض نماید .

۷- صنف سهام: گروپ سهام همگون است که حقوق یکسان را به سهمداران آن واگذار می نماید .

۸- مفاد سهام : بخش از منفعت خالص یك شرکت است که مطابق حقوق تعیین شده برای هر نوع و هر صنف سهام ، به سهمداران توزیع می گردد .

۹- سهم قابل باز خرید : سهمی است که دارندۀ آن حق دارد آن را تحت شرایط خاص مجدداً بالای شرکت به فروش برساند .

۱۰- سهام سرمایه : ارزش یا بهای مجموعی اسمی (ارزش اسمی ، ارزش ظاهری) کلیه سهام عرضه شده توسط شرکت میباشد .

۱۱- سرمایۀ ذخیروی: مجموع سرمایۀ است که از ابتدا تا انتها بالای هر واحد سهم شرکت جمع می‌شود .

۱۲- تصدیق : د اساسنامې دانفاذ په اړه د مرکزي ثبت د دفتر تائید دی چې دمرکزي ثبت په دفتر کې دهغې له ثبت وروسته صادرېږي .
۱۳- استثنایي ادعا : د سهامي شرکت له ګټو څخه په استازیتوب د ونډه وال ادعا ده .
۱۴- د مرکزي ثبت دفتر : هغه اداره ده چې په کورنیو او بهرنیو سهامي شرکتونو پورې اړوند سندونه پکې ثبتېږي .
۱۵- سوداګریزه محکمه : د افغانستان سوداګریزه واکمنه محکمه ده .
۱۶- د دی قانون په مفهوم کورنی سهامي شرکت عبارت دی له :
- هغه شرکت چې د قانون پر بنسټ د سوداګریز ماهیت له په پام کې نیولو پرته ، د ونډو په صادرولو مجاز وي .
- ددی قانون د حکمونو مطابق تشکیل یا د مخکنیو قوانینوله مخې موجود وي.
- د اساسنامې ،د تعدیل یا د ادغام د سند پر بنسټ په یوې کورني سهامي شرکت بدل شي .
بهرنی سهامي شرکت چې د بهرنیو

۱۲- تصدیق: تائید دفترثبت مرکزی مبنی بر انفاذ اساسنامۀ که بعد از ثبت آن در دفترثبت مرکزی صادر می گردد.
۱۳- ادعای استثنایی : ادعای سهمدار به نمایندگی از منافع شرکت سهامی است .
۱۴- دفترثبت مرکزی: اداره ای است که اسناد مربوط به شرکت های سهامی داخلی و خارجی درآن ثبت می گردد.
۱۵- محکمۀ تجارتی: محکمۀ ذیصلاح تجارتی افغانستان می‌باشد.
۱۶- شرکت سهامی داخلی به مفهوم این قانون عبارت است از:
- شرکتی که به اساس قانون بدون نظرداشت ماهیت تجارتی، مجازب صدور سهام باشد.
- مطابق احکام این قانون تشکیل یا به تأسی از قوانین قبلی موجود باشد.
- به اساس اساسنامه، سند تعدیل یا ادغام به یك شرکت سهامی داخلی مبدل گردد.
شرکت سهامی خارجی که تحت

شرکتونو تر قوانینو لاندې جوړ او د افغانستان په دننه کې فعالیت کوي ، د دې قانون د حکمونو تابع دي .

۱۷- الکترونیک لېږد :ټول ارتباطي ډولونه دي چې جنساً د کاغذلېږ دیدل نه غواړي او د مرسل الیه د ثبت، د خوندیتوب او غوښتنې د شرایطو په پایله کې منځته راشي او مرسل الیه وکولای شي مستقیماً هغه د کاغذ په ډول واړوي .

۱۸- د شفع حق : په یوۀ شرکت کې، د اضافي ونډو او د ونډې په صادرېدو د تبدیل وړ بها لرونکو پاڼو د پېرودنې له لارې د مالکیت د ونډې د ابقاء لپاره د ونډه والو حقوق دي ، مخکې تر دې چې هغه ثالثو اشخاصو ته وړاندې شي .

۱۹- د رجحان حق : هغه حق چې د شرکت د اساسنامې په واسطه د ونډو هغۀ ګروپ ته چې ونډه والو ته یو شان حقوق پرېږدي، اختصاصېږي.

۲۰- د رأیو تولیت : د باور وړ شخص ته د رایې لېږدیدل یا پرېښودل دي.

۲۱- کارکوونکی: مامور یا هغه

قوانین شرکت های خارجی ایجاد و در داخل افغانستان فعالیت می‌نماید ، تابع احکام این قانون می‌باشد .

۱۷- انتقال الکترونيك: تمام اشکال ارتباطی است که جنساً انتقال کاغذ را دربرنداشته ودرنتیجه شرایط ثبت، تحفظ و مطالبۀ مرسل الیه ایجاد گردد و مرسل الیه بتواند مستقیماً آنرا به شکل کاغذ تبدیل نماید .

۱۸- حق شفع: حقوق سهمداران جهت ابقای سهم مالکیت شان در يك شرکت از طریق خریداری سهام اضافی و اوراق بها دار قابل تبدیل به صدور سهم ، قبل از آنکه آنها به اشخاص ثالث عرضه گردد ، می‌باشد .

۱۹- حق رجحان: حقی که توسط اساسنامۀ شرکت به گروپ از سهامیکه حقوق يك سان را به سهمداران واگذار می نماید ، اختصاص داده می شود .

۲۰- تولیت آرا : انتقال یا واگذاری رای است به شخص قابل اعتماد .

۲۱- کارکن : مامور یا شخصی

شخص دی چې د سهامی شرکتونو یا په هغو پورې د تړلو شرکتونو لخوا په شرکت پورې د اړوندو چارو د اجراء لپاره استخدامېږي. د مدیره هیئت غړي کولای شي په عین وخت کې د مامور دندی سر ته ورسوي.

۲۲- شخص: عبارت دی له:

- کورنی حقیقي شخص: هغه شخص دی چې دافغاني تابعیت لرونکی وي.

- کورنی حکمي شخص: هغهٔ شخص دی چې د مؤسسې، شرکت، انحصاري مالکیت، محدودالمسئولیت شرکت، مؤقت ګډون (مشارکت)، مؤقتې پانګونې او اتحادیې یا هرې بلې انتفاعي مؤسسې په ډول د قانون د حکمونو مطابق جوړ شوی وي.

- بهرنی حقیقي شخص: هغه شخص دی چې له افغانی تابعیت په غیر تابعیت ولري.

- بهرنی حکمي شخص: هغه شخص دی چې حقوقي شخصیت یې د افغانستان له قوانینو په غیر قوانینو په چوکاټ کې مشخص شوی وي.

است که ازطرف شرکت های سهامی یا شرکت های وابستهٔ آن جهت اجرای امور مربوط به شرکت استخدام می‌گردد. اعضای هیئت مدیره می‌توانند درعین زمان وظایف مامور را انجام دهند.

۲۲- شخص: عبارت است از:

- شخص حقیقی داخلی: شخصی است که دارای تابعیت افغانی باشد.

- شخص حکمی داخلی: شخصی است به شکل موسسه، شرکت، مالکیت انحصاری، شرکت محدود المسئولیت، مشارکت مؤقت، سرمایه گذاری مؤقت و اتحادیه یاهرنوع موسسه دیگر انتفاعی که مطابق احکام قوانین تاسیس گردیده باشد.

- شخص حقیقی خارجی: شخصی است که تابعیت غیر از تابعیت افغانی را داشته باشد.

- شخص حکمی خارجی: شخصی است که شخصیت حقوقی وی در چهار چوب قوانین غیر از قوانین کشور افغانستان مشخص شده باشد.

۲۳- مرکزي دفتر : هغه دفتر دی چې د افغانستان په دننه یا بهر کې موقعیت ولري او پکې د کورني یا بهرني سهامي شرکت اجرائیوي اصلي دفترونه قرار ولري . د دغسې دفتر د نه موجودیت په صورت کې ، هغه ځای دی چې د مدیره هیئت لخوا د افغانستان په دننه یا بهر کې ټاکل کېږي . مرکزي دفتر چې په کلني وروستني رپوټ کې ثبت شوی وي، د دی قانون د موخو مطابق مرکزي دفتر ګڼل کېږي .

## دوه یم فصل
## د سهامي شرکت د ثبت شرایط

**د سندونو ثبتېدل**

**پنځمه ماده :**

(۱) لاندی سندونه د مرکزي ثبت په دفتر کې ثبتېدی شي :

۱- هغه لیکلی سند چې پکې درج شوی معلومات، د دی قانون د حکمونو مطابق ټاکلي شوی وي .

۲- هغه سند چې په ټایپ شوی ډول یا په تور رنګ چاپ شوی وي.

۳- هغه سند چې د نقل اخستلو وړتیا ولري.

۲۳- دفترمرکزی: دفتری است که در داخل یا خارج افغانستان موقعیت داشته و در آن دفاتر اصلی اجرائیوی شرکت سهامی داخلی یا خارجی قرارداشته باشد. در صورت عدم موجودیت چنین دفتر، محلی است که توسط هیئت مدیره، در داخل یا خارج از افغانستان تعیین می‌شود. دفترمرکزی که در آخرین راپور سالانه ثبت شده باشد مطابق اهداف این قانون دفتر مرکزی پنداشته می‌شود .

## فصل دوم
## شرایط ثبت شرکت سهامی

**ثبت اسناد**

**مادۀ پنجم:**

(۱) اسناد ذیل در دفتر ثبت مرکزی ثبت شده می‌تواند :

۱- سندی کتبی که معلومات مندرج آن مطابق احکام این قانون معین گردیده باشد.

۲- سندی که به شکل تایپ شده یا چاپی به رنگ سیاه باشد.

۳- سندی که قابلیت نسخه برداری را داشته باشد.

۴- هغه سند چې د لوستلو وړ وي.
**۵-** هغه سند چې له رسمي ژبو څخه په یوې ( پښتو یا دري) ترتیب شوی وي .
(۲) د بهرنیو شرکتونو اساسنامه په بهرنیو ژبو کېدلی شي، پدی شرط چې پښتو یا دري دقیقه ژباړه ور سره ضمیمه وي .

**د سند ترتیبېدل**

**شپږمه ماده :**

د سهامي شرکت سند د لاندی اشخاصو په واسطه ترتیبېږي :
۱- هغه مامور چې له سهامي شرکت څخه په استازیتوب اجرائیوي واک ولري.
۲- د سهامي شرکت مدیره هیئت.
۳- د سهامي شرکت یو یا څو اصلي غړي.
۴- د تصفیې مدیر ، وکیل یا هغه شخص چې د محکمې لخوا د امین په توګه ټاکل کېږي .

**د کلني رپوټ ترتیبېدل**

**اوومه ماده:**

کلني رپوټ د مدیره هیئت د مامور یا غړي په واسطه د شرکت په نوم ترتیب او د دی قانون د

۴- سندی که خوانا باشد.
**۵-** سندی که به یکی از لسان های رسمی (پشتو یا دری ) ترتیب شده باشد.
(۲) اساسنامۀ شرکت های خارجی به لسان خارجی بوده می‌تواند، مشروط براینکه ترجمۀ دقیق لسان پشتو یا دری ضمیمۀ آن باشد.

**ترتیب سند**

**مادۀ ششم:**

سند شرکت سهامی توسط اشخاص ذیل ترتیب می گردد:
مادی د حکم پر موجب د سهامي شرکت لخوا نه معافیږي ، سهامي شرکت په هغهٔ صورت کې کولای شي ( د مدافع وکیل د فیس په شمول) لګښتونه چې د دعوي په دفاع یا اداری تعقیب کې د مدیره هیئت د غړي یا مامور په غاړه لوېږي د حقوقي، مدني دعوي له وروستي حل او فصل یا رسیدګۍ د مخه په هغهٔ صورت کې ورکړی چې د مدیره هیئت غړی یا مامور ژمنه وکړی چې دغه لګښتونه سهامي شرکت ته بېرته ورکوي . د نوموړو لګښتونو ورکړه (د مدافع وکیل د فیس په شمول) چې د دغسې اشخاصو په غاړه وي ، د سهامي شرکت په واسطه تر هغو شرایطو لاندی چې سهامي شرکت یې لازم وګڼي ، صورت مومي .

(**۵**) پدی ماده کې د درج شوو لګښونو په پېشکي ورکړه کې هغه حقوق نه شاملېږي چې د مصؤنیت یا د لګښتونو د پېشکي ورکړې غوښتونکي اشخاص ، د اساسنامې ، موافقه لیک ، د ونډه والو او د مدیره هیئت د بې پلوه غړو د رأیې مطابق یا په بل ډول

حکم این ماده ازطرف شرکت سهامی معاف نمی‌گردد ، شرکت سهامی درصورتی میتواند مصارف (بشمول فیس وکیل مدافع) را که برای دفاع در دعوای یا تعقیب اداری بدوش عضو هیئت مدیره و یا مامور گذاشته می شود ، قبل از حل و فصل نهایی دعوی حقوقی، مدنی و یا رسیدگی درصورتی تأدیه نماید که عضو هیئت مدیره یا مامور تعهد نماید که این مصارف را به شرکت سهامی بازپرداخت می‌نماید . پرداخت مصارف متذکره توسط شرکت سهامی (بشمول فیس وکیل مدافع) که بدوش چنین اشخاص می‌باشد ، تحت شرایطی که شرکت سهامی آنرا لازم داند صورت می‌گیرد .

(**۵**) پرداخت پیشکی مصارف مندرج این ماده شامل حقوقی نمی گردد که اشخاص طالب مصئونیت و یا پرداخت پیشکی مصارف، مطابق اساسنامه،موافقتنامه، رأی سهمداران و اعضای بیطرف هیئت مدیره و یا طور دیگری

سره دهغو مستحق کېږي.
سهامي شرکت کولای شي،د سهامي شرکت د مدیره هیئت له غړي، مامور، کارمند یا استازي ثخه په استازیتوب د هغو مسئولیتونو په وړاندی چې د پورته واکونو په حدودو کې د هغو پر ضد ادعا یا هغو ته راجع کېږي، بیمه کړی .
(۶) پدی ماده کې د درج شوو لګښتونو پېشکي ورکړه د مدیره هیئت د غړي ، مامورینو ، کارمند یا استازي په توګه د شخص د کار له پایته رسېدو وروسته دوام مومي او د هغو ورثې ، وصي یا متولي ته د اجراء وړ دی .

مستحق آن می گردند.
شرکت سهامی میتواند به نمایندگی از عضو هیئت مدیره، مامور، کارمند و یا نمایندهٔ شرکت سهامی را در مقابل مسئولیت های که در حدود صلاحیت های فوق علیه آنها ادعا و یا به ایشان راجع می گردد، بیمه نماید.
(۶) پرداخت پیشکی مصارف مندرج این ماده بعد از ختم کار شخص بحیث عضو هیئت مدیره، مامورین ، کارمند و یا نماینده، دوام نموده و برای ورثه ، وصی یا متولی آنها قابل اجراء می باشد.

## نهم فصل
## د نظار هیئت

## فصل نهم
## هیئت نظار

### د نظار هیئت غوره کېدل
**نهه پنځوسمه ماده :**
(۱) د سهامي شرکت نظار هیئت له دوو یا له زیاتو غړو ثخه جوړ دی چې د ونډه والو د عمومي مجمع لخوا غوره کېږي ، خو دا چې د شرکت په اساسنامه یا کورنیو

### انتخاب هیئت نظار
**مادهٔ پنجاه و نهم :**
(۱) هیئت نظار شرکت های سهامی مرکب از دو یا بیش از دو عضو می باشد ، که از طرف مجمع عمومی سهمداران انتخاب می شوند ، مگر اینکه در اساسنامه

قواعدو کې بل ډول تصریح شوی وي .
که چېرې د نظار هیئت داساسنامې مطابق غوره شي، د هغوی د تصدۍ لومړۍ دوره یو کال ده او وروسته زیات نه زیاتو د درې کالو لپاره ټاکل کېږي .د نظار هیئت ، د تصدۍ د دورې له پایته رسېدو وروسته بیا غوره کېدی شي .
(۲) د نظار هیئت غړی نشي کولای په یوه وخت کې د مدیره هیئت غړیتوب ولري یا د شرکت سوداګریزې چارې اداره کړي .

## لرې کېدل (عزل)

**شپېتمه ماده :**

د نظار هیئت غړي په هر وخت کې د ونډه والو د مجمع لخوا لرې کېدی شي. که چېرې یو غړی د ونډه والو له منځ څخه غوره شوی وي، د لرې کېدو په صورت کې، د زیان د جبران د غوښتنې حق نلري.

## د نظار هیئت تشه کرسۍ

**یو شپېتمه ماده :**

(۱) که چېرې د نظار هیئت له غړو څخه یو له دندې څخه استعفي وکړي یا په یو ډول نه یو ډول د دندې له اجراء څخه پاتې شي ، د

یا قواعد داخلی شرکت طوردیگری تصریح شده باشد.
هرگاه هیئت نظار مطابق اساسنامه انتخاب گردد، دورۀ اول تصدی آنها یکسال بوده و بعداً برای حد اکثر سه سال تعیین می‌شوند. هیئت نظار بعد ازختم دورۀ تصدی مجدداً انتخاب شده می‌تواند.
(۲) عضو هیئت نظار نمی تواند همزمان عضویت هیئت مدیره را داشته ، یا امورتجارتی شرکت را اداره نماید.

## برطرفی (عزل)

**مادۀ شصتم :**

اعضای هیئت نظار درهرزمان ازطرف مجمع سهمداران عزل شده می‌توانند. هرگاه عضوی ازمیان سهمداران انتخاب شده باشد، درصورت عزل، حق ادعای جبران خساره را ندارد.

## کرسی خالی هیئت نظار

**مادۀ شصت و یکم:**

(۱) هرگاه یکی از اعضای هیئت نظارازوظیفه استعفاء یا به نحوی از انحاء از اجرای وظیفه باز ماند، سایر اعضای

نظار هيئت نور غړي، د ونډه والو د عمومي مجمع د لومړنۍ غونډې د دابرېدو تر وخته د هغۀ په عوض بل غړی غوره کوي .

(۲) په هغۀ صورت کې چې د نظار هيئت، له دوو غړو څخه جوړ وي د نوي غړي د ټاکلو لپاره د ونډه والو د عمومي مجمع تر لومړنۍ ناستې پورې، کمبود غړی د مديره هيئت لخوا په مؤقتي توګه ټاکل کېږي.

### کميټې

**دوه شپېتمه ماده:**

نظار هيئت کولای شي د ټاکلو موضوعګانو د تدقيق لپاره يوه يا له يوې څخه زياتې کميټې جوړې کړي، دغه کميټې له يوۀ يا له زياتو غړو څخه جوړې دي .

### د نظار هيئت د غړو په توګه د خپلوانو نه غوره کېدل

**دري شپېتمه ما ده :**

د مديره هيئت د غړو پلار، مور، مېرۀ، ماندينه، زوی، لور، کاکا، ماما، عمه، خاله، خسر، خواښې، زوم، د نظار هيئت د غړي په توګه نشي ټاکل کېدی .

هيئت نظار الی زمان تدوير اولين جلسۀ مجمع عمومی سهداران عضو ديگری را به عوض وی انتخاب می‌نمايند .

(۲) در صورتيکه هيئت نظار مرکب از دو عضو باشد ، الی انعقاد اولين مجمع عمومی سهمداران جهت تعيين عضو جديد ، عضوکمبود ازطرف هيئت مديره موقتاً تعيين می گردد .

### کميته ها

**مادۀ شصت و دوم :**

هيئت نظار می‌تواند ، جهت تدقيق موضوعات معين يك يابيش از يك کميته را تشکيل دهد ، اين کميته ها متشکل از يك يا بيش از يك عضو می‌باشد .

### عدم انتخاب اقارب بحيث اعضای هيئت نظار

**مادۀ شصت و سوم:**

پدر، مادر، همسر، برادر، پسر، دختر، کاکا ، ماما ، عمه، خاله، خسر، خشو و داماد اعضای هيئت مديره به حيث عضو هيئت نظار تعيين شده نمی تواند .

**د نظار هیئت دندی**

**څلورشپېتمه ماده :**

نظار هیئت د لاندی دندو لرونکی دی :

۱- دشرکت د مالي صورت حسابونو په ترتیب او نوې کتنې کې له مدیره هیئت سره همکاري.

۲- لږترلږه په شپږو میاشتو کې یو ځل د شرکت د اجراآتو تدقیق او د دفترونو څېړل.

۳- له د مخنیٔ خبرتیا پرته لږ تر لږه په دریو میاشتو کې یو ځل د شرکت د خزانې پلټنه .

۴- د دی قانون ، اساسنامې او د شرکت د کورنیو قواعدو د حکمونو مطابق د مدیره هیئت پر اجراآتو باندی څارنه.

۵-د ونډه والو دعادی یا فوق العاده عمومي مجمع د دابرېدو په هکله خبر ورکول پدی شرط چې دا دنده مدیره هیئت اجراء نکړی .

۶- د ونډه والو د عمومي مجمع په غونډو کې حضور .

۷- په مهمو یا بیړنیو حالاتو کې د ونډه والو د فوق العاده مجمع د دابرېدو بلنه .

۸- د شرکت د مالي صورت

**وظایف هیئت نظار**

**مادۀ شصت و چهارم :**

هیئت نظار دارای وظایف ذیل می‌باشد :

۱- همکاری با هیئت مدیره در ترتیب و تجدید نظر بر صورت حسابهای مالی شرکت.

۲- تدقیق اجراآت و بررسی دفاتر شرکت حد اقل یکمرتبه در شش ماه.

۳- تفتیش خزانۀ شرکت حداقل یك مرتبه درسه ماه بدون اطلاعیۀ قبلی.

۴- نظارت بر اجراآت هیئت مدیره مطابق احکام این قانون، اساسنامه و قواعد داخلی شرکت.

۵- اطلاع دهی درمورد تدویر مجمع عمومی عادی یافوق العادۀ سهمداران، مشروط بر اینکه وظیفه راهیئت مدیره اجرا ننماید.

۶- حضور در مجالس مجمع عمومی سهمداران .

۷- دعوت تدویر مجمع فوق العادۀ سهمداران در حالات مهم یا عاجل.

۸- ارایۀ نتایج مطالعات

حساب او نورو اجراآتو او ګټې د ویشلو په هکله، د ونډه والو عمومي مجمع کلنۍ غونډې ته د مطالعاتو د پایلو وړاندی کول.

**د نظار هیئت د واک نه محدودیت**

**پنځه شپېتمه ماده :**

پدی قانون کې درج د نظار هیئت واک په اساسنامه یا قرارداد کې نشي محدودیدی.

**په ښه نیت سره د نظار هیئت د دندو سرته رسول**

**شپږ شپېتمه ماده :**

(۱) نظار هیئت مکلف دی خپلې دندی په ښه نیت او د شرکت او ونډه والو د ګټو د لا ښه تأمینولو په منظور سرته ورسوي.

(۲) نظار هیئت د مدیره هیئت د اجراآتو او مکلفیتونو د تطبیق او عملي کېدو له څارنې څخه مسئول دی.

(۳) د نظار هیئت د مسئولیت په اړه د دعوي اقامه کېدل د هغې د پېښیدو له نېټې څخه د پنځو کلونو له تېرېدو وروسته د اورېدو وړ ندی.

درمورد صورت حساب مالی و سایر اجراآت شرکت و توزیع مفاد به جلسهٔ سالانهٔ مجمع عمومی سهمداران.

**عدم محدودیت صلاحیت هیئت نظار**

**مادهٔ شصت و پنجم :**

صلاحیت هیئت نظار مندرج این قانون در اساسنامه یا قرارداد محدود شده نمی تواند.

**انجام وظایف هیئت نظار با حسن نیت**

**مادهٔ شصت و ششم :**

(۱) هیئت نظار مکلف است وظایف خود را با حسن نیت و بمنظور تأمین بهتر منافع شرکت و سهمداران انجام دهد.

(۲) هیئت نظار مسئول نظارت از تطبیق و عملی ساختن اجراآت و مکلفیت های هیئت مدیره می باشد.

(۳) اقامهٔ دعوی مبنی بر مسئولیت هیئت نظار بعد از مرور پنج سال از تاریخ وقوع آن قابل سمع نمی باشد.

**دمدیره هیئت پر ضد شکایت**
**اووه شپېتمه ماده:**
هر ونډه وال کولای شي، د شرکت د مدیره هیئت د اجراآتو په هکله نظار هیئت ته شکایت وکړي، نظار هیئت مکلف دی شکایت وڅېړي او په هکله يې مقتضي تدبیرونه ونیسي.

**د مدیره هیئت په غونډو کې د نظار هیئت ګډون**
**اته شپېتمه ماده :**
نظار هیئت کولای شي، د مدیره هیئت په غونډو کې د رأیې د حق له لرلو پر ته ګډون وکړي .

**شکایت علیه هیئت مدیره**
**مادۀ شصت و هفتم:**
هرسهمدار می‌تواند درمورد اجراآت هیئت مدیرۀ شرکت به هیئت نظار شکایت نماید ، هیئت نظار مکلف است به شکایت رسیدگی نموده و در مورد تدابیر مقتضی اتخاذ نماید.

**اشتراك هیئت نظار در جلسات هیئت مدیره**
**مادۀ شصت و هشتم :**
هیئت نظار می‌تواند در جلسات هیئت مدیره بدون داشتن حق رأی اشتراك نماید.

## لسم فصل
## د ونډه والو مجمع

**د عمومي مجمع غونډې**
**نهه شپېتمه ماده :**
(۱) د سهامي شرکت د ونډه والو د عمومي مجمع غونډې، په عادی یا فوق العاده توګه داېرېدی شي. عادی یا کلنۍ غونډې د شرکت د هر مالي کال له پایته رسېدو وروسته د څلورو میاشتو په ترڅ کې یا د شرکت په اساسنامه کې په

## فصل دهم
## مجمع سهمداران

**جلسات مجمع عمومی**
**مادۀ شصت و نهم :**
(۱) جلسات مجمع عمومی سهمداران شرکت سهامی بطور عادی یا فوق العاده دایرشده می‌تواند. جلسات عادی یا سالانه در خلال چهار ماه بعد از ختم هر سال مالی شرکت یا در فواصل

درج شوو زماني واټنونو (فواصلو) کې یو ځل داېرېږي ، د عادي غونډو داېرېدل په هر مالي کال کې یو ځل حتمي دی .

(۲) د ونډه والو عادي او فوق العاده غونډې د شرکت په مرکز یا په نورو ځایونو (د افغانستان په دننه یا بهر) کې چې د مدیره هیئت په واسطه ټاکل کېږي، داېرېږي، مدیره هیئت کولای شي د غونډو داېرېدو د ځای په هکله تصمیم ونیسي، د اړتیا په صورت کې د عمومي مجمع غونډې له لري واټن څخه د ارتباط د تأمینولو له لارې ، د دی قانون د حکمونو مطابق داېرېدی شي.

(۳) که چېرې د ونډه والو د مجمع عادي غونډه د شرکت په اساسنامه کې په درج شوی مشخص ځای او وخت کې داېره نشي ، د ونډه والو د مجمع د تصمیمونو په اعتبار کې اغېزه نلري.

## له لرې واټن څخه د اړیکیو تأمینېدل

**اویایمه ماده :**

که چېرې د شرکت په اساسنامه ، کورنیو قواعدو یا د مدیره هیئت

زمانی مندرج اساسنامهٔ شرکت یکبار دایر میگردد ، تدویر جلسات عادی در هرسال مالی یکبار حتمی است.

(۲) جلسات عادی و فوق العادهٔ سهمداران در مرکزشرکت یا در سایر محلات (خارج یا داخل افغانستان) که توسط هیئت مدیره تعیین میگردد ، دایرمیشود ، هیئت مدیره میتواند درمورد محل تدویر جلسات تصمیم اتخاذ نماید ، درصورت ضرورت جلسات مجمع عمومی از طریق تأمین ارتباط از فاصلهٔ دور طبق احکام این قانون دایر شده می‌تواند .

(۳) هرگاه جلسهٔ عادی مجمع سهمداران در محل و زمان مشخص مندرج اساسنامهٔ شرکت دایرشده نتواند ، دراعتبار تصامیم مجمع سهمداران تاثیر ندارد .

## تأمین ارتباطات از فاصلهٔ دور

**مادهٔ هفتادم :**

هرگاه در اساسنامه، قواعد داخلی شرکت، یا تصمیم هیئت مدیره

په تصمیم کې له لرې واټن څخه د اړیکیو د تأمینولو له لارې د غونډې دا ېرېدل مشخص شوی وي، ونډه وال یا یې قانوني استازي پرته لدی چې شخصاً د ونډه والو په عمومي مجمع کې حاضر وي، کولای شي لدی لارې د ټېلفون یا ویدیو کنفرانس په واسطه د ونډه والو په کلنیو یا فوق العاده غونډو کې، د مدیره هیئت د تصویب شوی لارښود او قواعدو مطابق ګډون وکړي، پدی صورت کې په رأیې اخستنې کې د ګډون حق لري، حاضر ګڼل کیږي .

تدویر جلسه از راه تأمین ارتباطات از فاصلهٔ دور مشخص شده باشد ، سهمداران یا نمایندگان قانونی آنها بدون آنکه شخصاً درمجمع عمومی سهمداران حاضر باشند ، می‌توانند از این طریق توسط تیلفون یا ویدیو کنفرانس درجلسات سالانه یا فوق العادهٔ سهمداران مطابق رهنمود و قواعد تصویب شدهٔ هیئت مدیره اشتراك نمایند ، دراین صورت حق اشتراك در رأی گیری را داشته، حاضرپنداشته می‌شوند .

**فوق العاده غونډه**

**یو اویایمه ماده :**

(۱) د ونډه والو د عمومي مجمع فوق العاده غونډه په لاندی حالاتو کې دا ېرېدی شي :

۱- د مدیره هیئت یا هغهٔ شخص چې د دی قانون، اساسنامې یا کورنیو قواعدو د حکمونو مطابق، د بلنې حق ولري، د بلنې په صورت کې.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د نظر وړ موضوع په هکله ، د رأیې د حق لرونکو لږ تر لږهٔ په سلو کې د

**جلسهٔ فوق العاده**

**مادهٔ هفتاد و یکم:**

(۱) جلسه فوق العادهٔ مجمع عمومی سهمداران در حالات ذیل دایرشده می‌تواند :

۱- در صورت دعوت هیئت مدیره یا شخصی‌که طبق احکام این قانون ، اساسنامه یا قواعد داخلی حق دعوت را داشته باشند.

۲- در صورتی‌که سهمداران دارندهٔ حد اقل (۱۰) درصد آرای واجد حق رأی در موضوع

(۱۰) رأیولرونکي ونډه وال د غونډې داېرېدل په لیکلې توګه وغواړي. نوموړی غوښتنلیک د غوښتونکي ونډه وال یاونډه والو په واسطه لاسلیک او نېټه یې ټاکل کېږي او د فوق العاده غونډې موخې پکې څرګندیږي، د رأیو ټيټه یا لوړه فیصدی د سهامي شرکت په اساسنامه کې ټاکل کېدی شي، پدی شرط چې د رأيې د حق لرونکو د مجموع په سلو کې له (۲۵) څخه تجاوز و کړي.

(۲) په فوق العاده غونډو کې یوازې هغه موضوع چې د مخه د غونډې د داېرېدو په خبرتیا کې یاده شوې وي، د بحث او رأيې اخستنې وړګرځي.

(۳) د شرایطو لرونکو ونډه والو د فوق العاده غونډو د داېرېدو د غوښتنې او د هغوی د بلنې د ثبت نېټه د شرکت د دفتر لخوا ټاکل کېږي. دغه بلنه له هغې نېټې سره مصادفه وي چې وروستی ونډهٔ وال د فوق العاده غونډې د داېرېدو غوښتنلیک لاسلیک کړي.

(۴) فوق العاده غونډې په هغهٔ

مورد نظر، تدویر جلسه سهمداران را بصورت کتبی درخواست نمایند. درخواست متذکره توسط سهمدار یا سهمداران متقاضی امضاء و تاریخ آن تعیین و اهداف جلسهٔ فوق العاده در آن توضیح گردیده، فیصدی پائین تر یا بلند تر آراء در اساسنامهٔ شرکت سهامی تعیین شده می‌تواند، مشروط بر اینکه از (۲۵) درصد مجموع آرای واجد حق رأی، تجاوز نماید.

(۲) در جلسات فوق العاده، صرف موضوعی مورد بحث و رأی گیری قرار گرفته می‌تواند که قبلاً در اطلاعیهٔ تدویر جلسه ذکر شده باشد.

(۳) تاریخ ثبت تقاضای تدویر جلسات فوق العاده سهمدارن واجد شرایط و دعوت آنها از طرف دفتر شرکت تعیین می گردد. این دعوت مصادف با تاریخی می‌باشد که آخرین سهمدار درخواست جلسهٔ فوق العاده را امضاء نماید.

(۴) جلسات فوق العاده در

ځای کې چې د شرکت په کورنیو قواعدو کې مشخص ، یا له لرې واټن څخه د اړیکیو د تأمینولو له لارې د ګډون کولو په شمول د مدیره هیئت په واسطه، د دی قانون د حکمونو مطابق ټاکل شوی وي، دایریږي .

**د محکمې د حکم پر بنسټ د غونډو داېرېدل**

**دوه اویایمه ماده :**

سوداګریزه محکمه کولای شي په لاندی حالاتو کې د شرکت د ونډه والو د عمومي مجمع د غونډې په دایریدو حکم وکړي :

۱- د شرکت له شرایطو لرونکو ونډه والو څخه د یوۀ د غوښتنې په صورت کې، پدی اړه چې د دی قانون د نهه شپېتمې مادی په (۱) فقره کې د درج شوی حکم مطابق ، د سهامي شرکت د مالي کال له پایته رسېدو وروسته د څلورو میاشتو په ترخ کې، د شرکت د ونډه والو عمومي غونډه دابره شوی نه وي.

۲- د هغۀ ونډه وا ل د غوښتنې په صورت کې چې د هغۀ د اصولي غوښتنلیک له امله، فوق العاده

محلی که در قواعد داخلی شرکت مشخص یا توسط هیئت مدیره، بشمول اشتراك توسط تأمین ارتباطات از فاصلهٔ دور طبق احکام این قانون، تعیین شده باشد، دایر می گردد.

**تدویر جلسات به اساس حکم محکمه**

**مادهٔ هفتاد و دوم :**

محکمهٔ تجارتی می‌تواند درحالات آتی به تدویر جلسهٔ مجمع عمومی سهمداران شرکت حکم نماید:

۱- درصورت تقاضای یکی از سهمداران واجد شرایط شرکت مبنی براینکه جلسهٔ عمومی سهمداران شرکت در خلال چهارماه بعد از ختم سال مالی شرکت سهامی طبق حکم مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ شصت و نهم این قانون دایرنشده باشد.

۲- در صورت تقاضای سهمداریکه بالاثر درخواست اصولی وی، جلسهٔ فوق العاده

غونډه د دی قانون د یو اویایمې مادی د (۱) فقرې په (۲) جزء کې د درج شوی حکم مطابق، دایره شوې نه وي .

**د غونډې له دایرېدو پرته د تصمیم نیول**

**دري اویایمه ما ده :**

(۱) د هغو موضوعګانو په اړه د تدبیرونو نیول چې د دی قانون د حکمونو مطابق، د ونډه والو د مجمع په تصمیم پورې تړلې وي او غونډه د ونډه والو د نه حضور له امله دایره نشي، پدی حالت کې تصمیم په هغهٔ صورت‌کې دغونډې له دایرېدو پرته نیول کېدی شي چې د رأیې د حق لرونکو ونډه والو په واسطه پدی برخه کې لیکلې موافقه شوې وي . دغه تصمیم د لیکلي لیک په واسطه د لاسلیک او نېټې په قید سره د لاژمو ونډو د اقل حد لرونکو ونډه والو ته استول کېږي. که چېرې موضوع د هغو ونډه والو په واسطه چې نصاب یې د ونډه والو د عمومي مجمع له شمېر څخه لږ وي تر بحث لاندی ونیول شي او په هکله یې تصمیم ونیول شي، پدی صورت کې پدی

طبق حکم جزء(۲) مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ هفتاد و یکم این قانون دایرنگردیده باشد.

**اتخاذ تصمیم بدون تدویر جلسه**

**مادهٔ هفتاد و سوم :**

(۱) اتخاذ تدابیر در رابطه به موضوعاتیکه طبق احکام این قانون منوط به تصمیم مجمع سهمداران باشد و جلسه بنابر عدم حضور سهمداران دایر شده نتواند، دراین حالت تصمیم درصورتی بدون تدویر جلسه اتخاذ شده می‌تواند که توسط سهمداران واجد حق رأی درزمینه موافقهٔ کتبی به عمل آمده باشد. این تصمیم توسط نامهٔ کتبی با قید تاریخ و امضاء به سهمداران دارندهٔ حد اقل سهام لازم فرستاده می‌شود. هرگاه موضوع توسط سهمدارانیکه نصاب آنها کمتر از تعداد مجمع عمومی سهمداران باشد، مورد بحث قرارگیرد و درزمینه تصمیم اتخاذ گردد، دراین صورت اطلاعیهٔ

برخه کې ليکلې خبرتيا ټولو ونډه والو ته په لنډ وخت کې استول کېږي. نوموړي موضوعګانې سهامي شرکت ته استول کېږي او د غونډو د پېښليک په پاڼو کې درج يا د شرکت د سندونو په جمله کې تنظيمېږي.

د ونډه والو د مجمع له دايريدو پرته د تدبيرونو د نيولو د حق لرونکو ونډه والو د ثبت نېټه، هغه نېټه ده چې لومړنی ونډه وال ليکلی تصميم د هغې مطابق لاسليک کوي خو دا چې بل ډول مشخص شوی وي.

سهامي شرکت کولای شي د نيول شوو تصميمونو مطابق عمل وکړي، پدی شرط چې ليکلی تصميم د هغو ونډه والو لخوا نيول شوی وي چې شمېريې د دی مادی په (۱) فقرې د درج شوی حکم مطابق، د ونډهٔ والو د عمومي مجمع له نصاب څخه لږ وي، يا د غونډتل شوو تدبيرونو په هکله په رأيه ورکولو کې نه شاملو ټولو ونډه والو ته خبر ورکول لازم وي، پدی صورت کې ليکلي تصميمونه د هغو د خبرتيا له سپارلو څخه د

کتبی در مورد به تمام سهمداران به اسرع وقت ارسال می‌گردد. موضوعات مذکور به شرکت سهامی ارسال و در اوراق رویداد جلسات درج یا در زمرۀ اسناد شرکت تنظیم می‌شود.

تاریخ ثبت سهمداران واجد حق اتخاذ تدابیر بدون تدویر جلسۀ مجمع سهمداران تاریخی است که اولین سهمدار تصمیم کتبی را طبق آن امضا می‌نماید، مگر اینکه طوری دیگر مشخص شده باشد.

شرکت سهامی می‌تواند، طبق تصامیم اتخاذ شده عمل نماید، مشروط بر اینکه تصمیم کتبی ازطرف سهمدارانی اتخاذ گردیده باشد که تعداد آنها طبق حکم مندرج فقرۀ (۱) این ماده کمتر از نصاب مجمع عمومی سهمداران باشد، یا اطلاع دهی در مورد تدابیر درخواست شده به تمام سهمداران غیر شامل در رأی دهی لازم باشد، در این صورت تصامیم کتبی با مرور (۲۰) روز بعد از

(۲۰) ورځو په تېرېدو سره پر ونډه والو باندی د تطبیق وړ دی . د مخه تر دی چې شرکت کافي شمېر موافقت لیکونه د شرکت په واسطه د وړاندیز شوو تصمیمونو د نیولو لپاره ترلاسه کړی، هر ونډه وال کولای شي د لیکلو تصمیمونو په هکله خپله موافقه باطله او د هغو د فسخ لیک رسماً شرکت ته صادر کړی .
پدی فقره کې درج لیکلي تصمیمونه او نیول شوی تدبیرونه د ونډه والو د عمومي مجمع د رأیو د حیثیت لرونکی دی .
(۲) هر ډول خبرتیا او موافقه لیک چې د دی مادی د (۱) فقرې دحکم مطابق اړین وي په الکترونیک ډول لېږدیږي.

سپردن اطلاعیهٔ آن بالای سهمداران قابل تطبیق می‌باشد. قبل از اینکه شرکت تعداد موافقتنامه های کافی را برای اتخاذ تصامیم پیشنهاد شده توسط شرکت دریافت نماید، هر سهمدار می‌تواند موافقهٔ خود را در مورد تصامیم کتبی باطل و رسماً مکتوب فسخ آنرا به شرکت صادر نماید.
تصامیم کتبی و تدابیر اتخاذ شده مندرج این فقره حیثیت رأی مجمع عمومی سهمداران را دارا می‌باشد.
(۲) هرگونه اطلاعیه و موافقتنامه که طبق حکم فقرهٔ (۱) این ماده ضرور باشد، بصورت الکترونیك انتقال می یابد.

**د غونډې د داېرېدو بلنه**
**څلور اویایمه ماده :**
(۱) د ونډه والو عمومي مجمع د غونډې د داېرېدو په غرض، د شرکت د اساسنامې د حکمونو یا کورنیو قواعدو مطابق رابلل کېږي، سهامي شرکت مکلف دی د غونډې نېټه، وخت، ځای، اجندا او نور معلومات د واټن (فاصلې) د

**دعوت تدویر جلسه**
**مادهٔ هفتاد و چهارم :**
(۱) مجمع عمومی سهمداران غرض تدویر جلسه، طبق احکام اساسنامه یا قواعد داخلی شرکت دعوت می‌گردد، شرکت سهامی مکلف است تاریخ، وقت، محل، اجندا و سایر معلومات جلسهٔ را با

لرې والی له په پام کې نیولو سره د عادی غونډې له دا پرېدو (۱۰تر ۶۰) ورځې د مخه او له فوق العاده غونډې لږ تر لږه پنځه ورځې د مخه د ونډه والو خبرتیا ته ورسوي . سهامي شرکت بلن لیک یوازې هغو ونډه والو ته استوي چې د ونډه والو په عمومي مجمع کې د رأیې د حق لرونکی وي.

(۲) د رأیې د حق لرونکو ونډه والو د ثبت او د غونډې په اړه د بلن لیک د ترلاسه کولو نېټه ، ونډه والو ته د لومړنۍ خبرتیا له سپارلو د مخه ورځې څخه عبارت ده ، خو دا چې د مدیره هیئت لخوا د شرکت په کورنیو قواعدو کې بل ډول مشخص شوی وي .

(۳) که چېرې د عادی او فوق العاده غونډو نېټه، وخت او ځای بدلون ومومي، موضوع په لومړنۍ غونډه کې اعلانېږي او دوه یمه خبرتیا نه ایجابوي، خودا چې د شرکت په اساسنامه یا کورنیو قواعدو کې بل ډول تصریح شوی وي. که چېرې د ثبت نوې نېټه په غونډه کې وځنډېږي، هغو ونډه والو ته چې د ثبت په نوې نېټه کې

نظرداشت بعد فاصله، از (۱۰ الی ۶۰) روز قبل از تدویر جلسهٔ عادی و حد اقل پنج روز قبل از جلسهٔ فوق العاده به اطلاع سهمداران برساند. شرکت سهامی دعوت نامه را صرف به سهمدارانی ارسال می‌نماید که واجد حق رأی درمجمع عمومی سهمداران باشند.

(۲) تاریخ ثبت سهمداران واجد حق رای و دریافت دعوت نامه مبنی بر تدویر جلسه عبارت از روز قبل از سپردن اولین اطلاعیه به سهمداران می‌باشد ، مگراینکه ازطرف هیئت مدیره درقواعد داخلی شرکت طور دیگری مشخص شده باشد.

(۳) هرگاه تاریخ، وقت و محل جلسات عادی یا فوق العاده تغییر نماید ، موضوع درجلسهٔ اولی اعلان گردیده و ایجاب اطلاع دومی را نمی نماید ، مگراینکه در اساسنامه یاقواعد داخلی شرکت طوردیگری تصریح شده باشد. هرگاه تاریخ جدید ثبت در جلسه به تعویق افتد ، به سهمدارانیکه در تاریخ جدید

شامل دی، د غونډې د ځنډېدو په هکله خبر ورکول کېږي.

**د بلنې طریقه**

**پنځه اویایمه ماده :**

(۱) سهامي شرکت کولای شي، د دی قانون، د شرکت د اساسنامې یا کورنیو قواعدو د حکمونو مطابق هر ډول خبرتیا، په مختلفو لارو په لومړي قدم کې د ونډه والو په لیکلې موافقې د الکترونیک لېږد (انتقال) په واسطه (د الکترونیک پست په ګډون) ونډه والو ته ابلاغ کړي. ونډه وال کولای شي د لیکلې خبرتیا له لارې موافقه لیک فسخ کړي. په هغۀ صورت کې چې سهامي شرکت دوه خبرتیا وې پر له پسې د الکترونیک لېږد په واسطه وانستوي، نوموړی موافقه لیک ملغي ګڼل کېږي .

(۲) مدیره هیئت په هغۀ صورت کې کولای شي د دی مادی په (۱) فقره کې د درج شوې خبرتیا په هکله تصمیم ونیسي چې د مدیره هیئت د نورو غړو لیکلې موافقه او لاسلیک د الکترونیکي لېږد په واسطه رسېدلې وي .

ثبت، درآن شامل اند، درمورد تاخیر جلسه اطلاع داده می‌شود.

**طریق دعوت**

**مادۀ هفتاد و پنجم :**

(۱) شرکت سهامی می‌تواند، طبق احکام این قانون، اساسنامه یا قواعد داخلی شرکت هرنوع اطلاعیه را به طرق مختلف در قدم نخست به موافقۀ کتبی سهمداران ذریعۀ انتقال الکترونیك ( بشمول پست الکترونیك) به سهمداران ابلاغ نماید. سهمداران می‌توانند از طریق اطلاعیۀ کتبی موافقتنامه را فسخ نمایند. در صورتی‌که شرکت سهامی دو اطلاعیه را پی درپی ذریعۀ انتقال الکترونیك ارسال نکند، موافقتنامۀ متذکره ملغی شمرده می‌شود.

(۲) هیئت مدیره در صورتی می‌تواند در مورد اطلاعیۀ مندرج فقرۀ (۱) این ماده تصمیم اتخاذ نماید که موافقۀ کتبی و امضای سایر اعضای هیئت مدیره توسط انتقال الکترونیکی مواصلت نموده باشد .

(۳) خبرتیا د دی مادی په (۱) فقرې کې د درج شوی حکم مطابق له لاندی لارو څخه صورت مومي :
۱- د فکس یا مخابراتو په واسطه، په هغه شمېرې چې ونډه وال د اطلاعاتو د ترلاسه کولو لپاره پر هغې موافقه کړې ده .
۲- د الکترونیک پست په واسطه ، په هغهٔ آدرس چې ونډه وال د اطلاعاتو د ترلاسه کولو لپاره پر هغهٔ موافقه کړېده .
۳-په الکترونیک شبکه کې دخپرېدو په واسطه ونډه وال ته د خپرېدو په هکله د جلا خبرتیا په ضمیمه، یا د نوموړې خبرتیا له استولو وروسته، هر یو چې وروستی وي .
۴- د الکترونیک لېږد د نورو ډولونو په واسطه چې موخه یې ونډه وال ته د خبرتیا رسېدل وي .
(۴) د الکترونیک لېږد په واسطه د خبرتیا د استولو په اړه د سهامي شرکت د مامور تصدیق ، اثباتیه مدرک ګڼل کېږي .

(۳) اطلاعیه طبق حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده از طرق ذیل صورت می‌گیرد :
۱- توسط فکس یا مخابرات به شمارهٔ که سهمدار جهت دریافت اطلاعات به آن موافقه نموده است .
۲- توسط پست الکترونیك به آدرسی که سهمدار جهت دریافت اطلاعات به آن موافقه نموده است.
۳- توسط نشر در شبکهٔ الکترونیك ضم اطلاعیهٔ جداگانه به سهمدار در مورد نشر یا بعد از ارسال اطلاعیهٔ متذکره، هر کدام که مؤخر باشد.
۴- توسط سایر اشکال انتقال الکترونیك که هدف آن وصول اطلاع به سهمدار باشد.
(۴) تصدیق مامور شرکت سهامی مبنی بر ارسال اطلاعیه توسط انتقال الکترونیك، مدرك اثباتیه دانسته می‌شود.

**د ګډ آدرس لرونکی بلنه**

**شپږ اویایمه ماده :**

سهامي شرکت کولای شي هغو ونډه والو ته چې ګډ آدرس لري، په مختلفو لارو ، د هغوی په موافقه ، له محدودیت پرته ، واحده خبرتیا واستوي . ونډه وال کولای شي ، سهامي شرکت ته دلیکلې خبرتیا په لیږدولو سره خپله موافقه فسخ کړي.

**له بلنې څخه انصراف**

**اووه اویایمه ماده :**

که چېرې ونډه وال د عمومي مجمع په غونډو کې د ګډون په اړه د خبرتیا له رسېدو دمخه یا وروسته، د ځینو دلیلونو له مخې په غونډه کې ګډون ونکړی شي، موضوع په لیکلې توګه خبر ورکوي. دغه موضوع د سهامي شرکت د غونډو په پېښلیک او سندونو کې ثبتېږي. په هغهٔ صورت کې چې ونډه وال د ونډه والو د عمومي مجمع په غونډه کې پخپله (شخصاً) یا یې استازی ګډون وکړي، د خبرتیا د نه ترلاسه کولو په اړه د هغهٔ د اعتراض حق ساقطېږي، خو دا چې ونډه وال د غونډې په پیل کې د

**دعوت دارندهٔ آدرس مشترک**

**مادهٔ هفتاد و ششم :**

شرکت سهامی می‌تواند به سهمدارانی که آدرس مشترک دارند، به طرق مختلف به موافقهٔ آنها بدون محدودیت، اطلاعیهٔ واحد را ارسال نماید. سهمدار می‌تواند با ارسال اطلاعیهٔ کتبی به شرکت سهامی موافقت خود را فسخ نماید.

**انصراف از دعوت**

**مادهٔ هفتاد و هفتم :**

هرگاه سهمدار قبل یا بعد از وصول اطلاعیه مبنی براشتراك درجلسات مجمع عمومی بنابر دلایل در جلسه اشتراك کرده نتواند، موضوع را طور کتبی اطلاع می‌دهد. این موضوع در رویداد جلسات و اسناد شرکت سهامی ثبت می‌گردد. درصورتیکه سهمدار درجلسهٔ مجمع عمومی سهمداران شخصاً یانمایندهٔ وی اشتراك نماید ، حق اعتراض وی مبنی بر عدم دریافت اطلاعیه ساقط می‌گردد، مگراینکه سهمدار در آغاز جلسه برعلیه تدویر آن

هغې د دایرېدو یا د معاملو د اجراء پر ضد اعتراض وکړي .

**د خبرتیا د ترلاسه کولو د حق لرونکي ونډه وال**

**اته اویایمه ماده :**

د و نډه والو د غونډې د خبرتیا د ترلاسه کولو د حق لرونکو ونډه والو د ټاکلو په منظور، د ثبت د نېټې د تثبیتولو تګلاره(روش) د رأیې ورکولو د فوق العاده غونډې د غوښتنې او د نورو تدبیرونو په نیولو سره د مدیره هیئت د تصمیم پر بنسټ او یا د کورنیو قواعدو مطابق تنظیمېږي .

**د غونډې ریاست**

**نهه اویایمه ماده :**

(۱) د مدیره هیئت رئیس یا هغه شخص چې د هغهٔ په نیابت د ونډه والو د عمومي مجمع د غونډو ریاست کوي، مکلف دی د ترتیب شوې اجنداء مطابق اجراآت وکړي او کولای شي د مجمع د غونډو د اداري قواعد وټاکي ، خو دا چې د شرکت په اساسنامه یا کورنیوقواعدو کې بل ډول تصریح شوی وي .

(۲) رئیس یا د هغهٔ نایب د غونډې

یا اجرای معاملات اعتراض نماید .

**سهمداران واجد حق دریافت اطلاعیه**

**مادهٔ هفتاد و هشتم :**

روش تثبیت تاریخ ثبت به منظور تعیین سهمداران واجد حق در یافت اطلاعیهٔ جلسهٔ سهمداران به درخواست جلسهٔ فوق العادهٔ رأی دهی و اتخاذ سایر تدابیر باساس تصمیم هیئت مدیره و یا مطابق قواعد داخلی تنظیم می گردد .

**ریاست جلسه**

**مادهٔ هفتاد و نهم :**

(۱) رئیس هیئت مدیره یا شخصی که به نیابت وی ریاست جلسات مجمع عمومی سهمداران را عهده دار می‌باشد ، مکلف است طبق اجنداء مرتبه اجراآت نموده و می‌تواند قواعد ادارهٔ جلسات مجمع را تعیین نماید ، مگراینکه در اساسنامه یا قواعد داخلی شرکت طور دیگری تصریح شده باشد .

(۲) رئیس یا نائب وی درصورت

د نصاب د بشپړتیا په صورت کې، د اجنداء مطابق پر هرې موضوع باندی په جلا توګه رأیه اخیستنه کوي . د رأیې اخیستنې له پایته رسېدو وروسته د اعتراض د موجودیت په صورت کې ، موضوع بیا بحث ته نه ایښودل کېږي .

(۳) په غونډه کې د حاضر و ونډه والو یا یې د استازو فهرست ، په هغو پورې اړوندی پاڼې او سندونه او د هغوی د ونډو ملکیت د ونډه والو په عمومي مجمع کې ترتیب او دمدیره هیئت یا هغهٔ شخص لخوا چې په نیابت یې د غونډې ریاست کوي لاسلیک او د سهامي شرکت د سندونو په جمله کې ساتل کېږي .

(۴) د عادی او فوق العاده غونډو مصوبې په رأیې ورکونې پورې له اړوندو معلوماتو سره یو ځای د سهامي شرکت لخوا ترتیب او ساتل کېږي .

**د ونډه والو د فهرست ترتیبول**

**اتیایمه ماده:**

(۱) سهامي شرکت د شرایطو لرونکوونډه والو دنومونو فهرست، د ثبت دنېټې له ټاکلو وروسته د هر ونډه وال د آدرس او دونډو د شمېر

تکمیل نصاب جلسه، طبق اجندا بالای هرموضوع طوری جداگانه رأی گیری می‌نماید. بعد از ختم رأی گیری بنابر موجودیت اعتراض، موضوع دوباره به مباحثه گذاشته نمی شود.

(۳) فهرست سهمداران حاضر جلسه یا نمایندگان آنها، اوراق و اسناد مربوط به آن و ملکیت سهام آنها در مجمع عمومی سهمداران ترتیب و ازطرف رئیس هیئت مدیره و یا شخصیکه به نیابت وی جلسه را ریاست می‌کند، امضا و درجملهٔ اسناد شرکت سهامی حفظ می‌گردد.

(۴) مصوبات جلسات عادی و فوق العاده همراه با معلومات مربوط به رأی دهی از طرف شرکت سهامی ترتیب و حفظ می‌گردد.

**ترتیب فهرست سهمداران**

**مادهٔ هشتادم :**

(۱) شرکت سهامی فهرست اسامی سهمداران واجد شرایط را بعد از تعیین تاریخ ثبت با ذکر آدرس و تعداد

په ذکرولو سره ترتیب او وړاندې کوي، دغه فهرست د غونډې د اجنداء په هکله د ونډه وال د کتنې په منظور، د عمومي مجمع د غونډې په اړه له خبر ورکولو دوه ورځې د مخه یا د غونډې په ترڅ کې د ترلاسه کولو وړ دی.

(۲) که چیرې غونډه د لرې واټن (الکترونیکي) اړیکیو له لارې دایره شي، نوموړی فهرست د مناسبې او لاس رسۍ وړ شبکې له لارې، د ونډه والو د کتنې لپاره چمتو او فهرست ته د لاس رسۍ لپاره لازم معلومات د غونډې په خبرتیا کې درج شوی وي.

(۳) د فهرست له ترتیبولو څخه ډډه کول یا د ونډه والو هغۀ ته نه لاس رسی، د غونډې د تصمیمونو اعتبار نه اغیزمنوي.

**د ونډه والو د رأیې حق**

**یو اتیایمه ماده:**

(۱) هر ونډه وال د خپلې ونډې په تناسب د یوې رأیې حق لري، د دې مادې په (۲ او ۳) فقره کې د درج شوو حالاتو یا نورو حالاتو په استثني چې د سهامي شرکت په اساسنامه کې درج شوی وي.

سهام هر سهمدار ترتیب و ارائه می‌نماید، این فهرست بمنظور ملاحظۀ سهمدار در مورد اجندای جلسه دو روز قبل از اطلاع دهی درمورد جلسۀ مجمع عمومی و یا در خلال جلسه قابل دریافت می‌باشد.

(۲) هرگاه جلسه ازطریق ارتباطات فاصلۀ دور(الکترونیکی) تدویر یابد، فهرست متذکره از طریق شبکۀ مناسب و قابل دسترسی برای ملاحظۀ سهمداران آماده و معلومات لازم جهت دسترسی به فهرست در اطلاعیۀ جلسه درج می‌باشد.

(۳) امتناع از ترتیب فهرست و یا عدم دسترسی سهمداران به آن، اعتبار تصامیم جلسه را متاثر نمی سازد.

**حق رأی سهمداران**

**مادۀ هشتاد و یکم:**

(۱) هر سهمدار به تناسب سهم خود حق یك رأی را دارد، به استثنای حالات مندرج فقره های (۲و۳) این ماده یا سایر حالاتیکه در اساسنامۀ شرکت سهامی درج شده باشد.

(۲) که چېرې د سهامي شرکت ونډې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د بل کورني یا بهرني سهامي شرکت ملکیت وي ، پدی صورت کې د نوموړو ونډو ونډه وال د رأیې حق نلري ، که څه هم چې د شرکت د اکثریت ونډو خاوند وي، دغه امر په رأیه اخیستنه کې د ونډو د شمولیت په اړه د سهامي شرکت واک چې د هغو په و اسطه د امین په توګه ساتل شوی دی، نه محدود وي .

(۳) د بیا پېرودنې وړ ونډو ونډه وال، اړوندو ونډه والو ته د بیا پېرودنې په هکله د پستې خبرتیا له استولو او د نوموړې بیا پېرودنې د بیې د ورکړې په اړه د پرېکنده (قطعي) ژمنې له مخې ، د هغو د بیا پېرودنې لپاره بانک یا نورو مالي مؤسسو ته د کافي مبالغو له تودیع وروسته ، د رأیې د حق لرونکی ندی .

**په رأیه اخیستنه کې ګډون کول**

**دوه اتیایمه ماده :**

(۱) ونډه وال کولای شي پخپله یا د وکیل له لارې د خپلو ونډو په رأیه اخیستنه کې ګډون

(۲) هرگاه سهام شرکت سهامی بطور مستقیم یا غیر مستقیم ملکیت شرکت سهامی داخلی یا خارجی دیگر باشد ، در این صورت سهمدار سهام مذکور حق رأی را ندارد ، گرچه مالك اکثریت سهام شرکت باشد ، این امر صلاحیت شرکت سهامی را مبنی بر شمولیت سهام در رأی گیری که توسط آن بحیث امین حفظ شده است، محدود نمی سازد.

(۳) سهمداران سهام قابل بازخرید بعد از ارسال اطلاعیهٔ پستی در مورد بازخرید به سهمداران مربوط و تودیع مبالغ کافی برای بازخرید آن به بانك یا مؤسسات مالی دیگر به تأسی از تعهد قطعی مبنی بر پرداخت قیمت بازخرید متذکره، واجد حق رأی نمی باشند.

**اشتراك در رأی گیری**

**مادهٔ هشتاد و دوم :**

(۱) سهمدار می‌تواند شخصاً یا از طریق وکیل در رأی گیری سهام خود اشتراك

وکړي.
(۲) ونډه وال کولای شي په رأیه اخستنه کې د ګډون لپاره بل شخص د وکالت د فورم یا د الکترونیک پیغام په واسطه د خپل وکیل یا ممثل په صفت وټاکي. سهامي شرکت مکلف دی د قانوني وکیل یا ممثل رأیه د مؤکل یا ممثل د رأیې یا تصمیمونو په توګه ومني. په الکترونیک پیغام کې د وکیل یا ممثل په هکله د ونډه وال د منظورۍ اثباتوونکي معلومات شامل یا ضمیمه کېږي.
د وکیل ټاکل هغه وخت اعتبار لري چې د وکیل د ټاکنې لاسلیک شوی فورم یا الکترونیکي پیغام د سهامي شرکت لخوا تر لاسه شي. د وکیل ټاکل د هغې مودې لپاره د اعتبار وړ دی چې د اړخونو د موافقې وړ وي.
(۳) د وکالت فورم د فسخ وړ وي، خو دا چې په فورم یا الکترونیک پیغام کې یې د نه فسخ وړتیا درج شوې وي.
د وکالت د فورم پر بنسټ د وکیل ټاکل، ددې مستلزم دی چې شرکت یې په وړاندې کافي قانوني ګټه

ورزد.
(۲) سهمدار می‌تواند جهت اشتراك در رأی گیری، شخص دیگر ی را ذریعهٔ فورم وکالت یا توسط پیام الکترونیك به صفت وکیل یا ممثل خود تعیین نماید. شرکت سهامی مکلف است رأی وکیل و یا ممثل قانونی را بحیث رأی یا تصامیم مؤکل یا ممثل قبول نماید. درپیام الکترونیك معلومات اثبات کنندهٔ منظوری سهمدار در مورد تعیین وکیل یا ممثل شامل یا ضم می‌شود.
تعیین وکیل زمانی اعتبار دارد که فورم امضأ شده و یا پیام الکترونیکی تعیین وکیل توسط شرکت سهامی دریافت شود. تعیین وکیل برای مدتی قابل اعتبار می باشد که مورد توافق طرفین باشد.
(۳) فورم وکالت قابل فسخ می‌باشد، مگر اینکه در فورم ویا پیام الکترونیك عدم قابلیت فسخ آن درج باشد.
تعیین وکیل به اساس فورم وکالت، مستلزم آنست که شرکت بالمقابل منفعت کافی قانونی را

ونډه وال ته په پام کې ونیسي. د وکیل ټاکل چې د دې مادې د حکم پربنسټ په نه فسخ وړ توګه صورت ومومي، په هغو حالاتو کې چې ګټې له هغهٔ سره یو ځای پای مومي، لغو کېږي، له ګټو سره د ضمیمې په توګه د وکیل د ټاکلو په مواردو کې لاندې اشخاص شامل دي :

۱- د سهامي شرکت داین چې دین تر ټاکلو شرایطو لاندې ورکړي .

۲- د سهامي شرکت کارکوونکی چې د استخدام قرارداد یې د دې امر مستلزم وي .

۳- د رأیې ورکونې د موافقه لیک عاقد چې د دې قانون د حکمونو مطابق عقد منعقدوي .

(۴) د شرکت په چارو کې د هغهٔ ونډه وال مړینه یا د اهلیت سلبېدل چې وکیل یا ممثل ټاکي، د ونډه وال د مړینې یا د اهلیت د سلبېدو په هکله د شرکت د خبرېدو تر وخته د وکیل د واک د منلو په اړه د شرکت په چارو کې اغېزه نلري.

هغه شخص چې ونډې له وکیل څخه پېري ، که چېرې پر ونډه و

به سهمدار در نظر گیرد. تعیین وکیل که به تأسی از حکم این ماده طور غیر قابل فسخ صورت گیرد ، در حالاتیکه منافع همراه با آن خاتمه می یابد ، لغو می گردد. موارد تعیین وکیل بصورت ضمیمه با منافع، شامل اشخاص ذیل می‌باشد:

۱_ داین شرکت سهامی که دین را تحت شرایط معینه اعطأ کند.

۲- کارمند شرکت سهامی که قرارداد استخدام وی مستلزم این امر باشد.

۳- عاقد موافقتنامهٔ رأی دهی که مطابق احکام این قانون عقد را منعقد می‌نماید.

(۴) وفات یا سلب اهلیت سهمداریکه وکیل یا ممثل را تعیین می‌کند ، درامور شرکت سهامی مبنی بر قبول نمودن صلاحیت وکیل الی زمان اطلاع شرکت در مورد وفات یا سلب اهلیت سهمدار تاثیرندارد.

شخصی‌که سهام را از وکیل خریداری می‌نماید ، هرگاه

بانـدی د تملـک پـه وخـت کـې، د وکیـل د ټـاکلو پـه هکلـه خبرتیـا و نلري یا دا چې د ونډې په تصدیق پاڼه کې تصریح شوی نه وي ، پدی صـورت کـې کـولای شـي د وکیـل ټاکل فسخ کړي.

**د سندونو اعتبار**

**دري اتيايمه ماده :**

کـه چېـرې د رأیـې پاڼـه، موافقـه لیـک، د انـصراف یـا د وکیـل د ټاکنې سند د ونډه وال لـه نـوم او لاسـلیک سـره مطابقـت ولـري، سهامي شرکت کولای شي هغو تـه اعتبار ورکړي. د پورتنیو مطالبو د نه مطابقت په صورت کې، شرکت کـولای شـي، د رأیـې پاڼـه، موافقـه لیک، دانصراف یا د وکیل د ټاکنې سند په لانـدی احـوالو کې د ونـډه وال د تصمیم په توګه ومني :

۱- پـه هغـهٔ صـورت کـې چـې ونـډه وال حـکمي شخصیت وي او سـند د هغـهٔ د مـامور یـا واکمـن استازې لخوا لاسلیک شوی وي .

۲- نـوم او لاسـلیک د لانـدی اشخاصو وي :

- ولـي، وصـي یـا هغـهٔ قـیم چې لـه ونـډه وال څخه استازیتوب کوي،

در زمـان تملك بـر سـهام در مـورد تعیـین وکیـل آگـاهی نداشـته یـا اینکـه در تـصدیقنامهٔ سـهم تـصریح نـشده باشـد ، در ایـن صورت مـی‌تواند تعیین وکیـل را فسخ نماید .

**اعتبار اسناد**

**مادهٔ هشتاد و سوم:**

هرگـاه ورقـهٔ رأی، موافقتنامـه، سـند انـصراف یـا تعیـین وکیـل بـا اسـم و امـضای سـهمدار مطابقـت داشـته باشـد ، شـرکت سهامی میتواند آنرا مدار اعتبار قراردهد . درصورت عدم مطابقت مطالـب فـوق، شـرکت مـی‌توانـد ورقـهٔ رأی، موافقتنامـه، سـند انـصراف یـا تعیـین وکیـل را در احـوال ذیـل بـه حیـث تـصمیم سهمدار قبول نماید :

۱- درصـورتیکـه سـهمدار شخـصیت حکمـی باشـد و سـند توسط مـامور یـا نمایندهٔ ذیصلاح آن امضاء شده باشد .

۲- اسم و امضاء از اشخاص ذیل باشد :

- ولـی، وصـی یـا قیمـی کـه از سـهمدار نماینـدگی مـی‌نمایـد ،

پدی شرط چې د سهامي شرکت غوښتنلیک د رأیې د پاڼې، دموافقه لیک، له حق څخه د انصراف د سند او د وکیل د ټاکنې د سند په هکله شرکت ته د امین توب د منلو وړ، اثباتیه مدرک وړاندی کړی وي .

- د ونډه وال د تصفیې مدیر یا د افلاس امین وي .

- هغه شخص چې ونډه وا ل ورته وکالت خط ورکړی وي .

۳- په هغهٔ صورت کې چې دوه یا له دوو څخه زیات اشخاص دګډو (مشترکو) مالکانو یا د ونډه وال د امین په توګه وي اولږ تر لږهٔ له ګډو مالکانویاامین څخه یوهغه لاسلیک یا یې په هکله تصمیم ونیسي .

- په هغهٔ صورت کې چې منشي د رأیې په پاڼه، موافقه لیک، له حق څخه د انصراف یا د وکیل د ټاکنې په سند کې د موجود لاسلیک د سموالی (صحت) په هکله یا د لاسلیک کوونکي ا و ونډه وال د استازي د واک په اعتبار کې زیاته بدګماني ولري، شرکت کولای شي هغه رد کړی . پدی صورت کې سهامي شرکت او مامور یا د هغو

مشروط براینکه درخواست شرکت سهامی، مدرك اثباتیهٔ صلاحیت امین بودن را بشکل قابل قبول شرکت در مورد ورقهٔ رأی، موافقتنامه، سند انصراف از حق و یا سند تعیین وکیل ارائه نموده باشد .

- مدیر تصفیه یا امین افلاس سهمدارباشد .

- شخصی که سهمدار به وی وکالت خط داده باشد .

۳- در صورتی‌که دو یا بیش از دو شخص به حیث مالکین مشترك یا به حیث امین سهمدار باشند و حد اقل یکی از مالکین مشترك یا امین آنرا امضاء و یا درمورد تصمیم اتخاذ نماید .

- در صورتیکه منشی در مورد صحت امضای موجود در ورقهٔ رأی، موافقتنامه، سند انصراف از حق یا تعیین وکیل و یا در اعتبار صلاحیت امضاء کننده یا نمایندهٔ سهمدار ، سوء ظن غالب داشته باشد ، شرکت می‌تواند آنرا رد نماید . در این‌صورت شرکت سهامی و مامور یا

استازي له هغو شخه د راپیدا شوو زیانونو چې پر ونډه وا ل وارد شي مسئولیت نلري.

**د غونډې نصاب**

**څلور اتیایمه ماده :**

(۱) د ونډه والو د مجمع د غونډو نصاب په اساسنامه کې ټاکل کېږي، پدې شرط چې نصاب په غونډه کې په ټاکلې یا واحده موضوع کې د تصمیم د نیولو د رأيې د حق د لرونکو ونډو د شمېر له څلورمې څخه لږ نه وي .په هغهٔ صورت کې چې د غونډو نصاب په اساسنامه کې اټکل شوی نه وي، نصاب د دی قانون د حکمونو مطابق ټاکل کېږي .

(۲) کله چېرې د ونډه والو د عمومي مجمع د غونډو نصاب، د شرکت په اساسنامه کې اټکل شوی نه وي، لاندی موارد د تطبیق وړ دي:

۱- د رأيې د حق لرونکو ونډه والو د ونډو اکثریت چې پخپله یا د وکیل له لارې په غونډه کې حاضر وي، د ونډه والو د مجمع کلنی نصاب جوړوي .

۲- د هغو ونډه والو چې پخپله یا

نمایندگان آنها مسئولیت ناشی از خسارات آنرا که برسهمدار وارد گردد ، ندارد .

**نصاب جلسه**

**مادهٔ هشتاد و چهارم :**

(۱) نصاب جلسات مجمع سهمداران در اساسنامه تعیین می‌گردد ، مشروط بر اینکه نصاب از ربع تعداد سهام واجد حق رأی در موضوع معین یا واحد حق اتخاذ تصمیم در جلسه، کمتر نباشد . درصورتی‌که نصاب جلسات در اساسنامه پیش بینی نگردیده باشد ، نصاب مطابق احکام این قانون تعیین می گردد .

(۲) هرگاه نصاب جلسات مجمع عمومی سهمداران در اساسنامهٔ شرکت پیش بینی نشده باشد ، موارد ذیل قابل تطبیق است:

۱- اکثریت سهام سهمداران واجد حق رأی که شخصاً یا از طریق وکیل درجلسه حاضر باشد ، نصاب مجمع سالانهٔ سهمداران را تشکیل می‌دهد .

۲- رأی موافق اکثریت سهام

د وکیل له لارې په غونډه کې حاضر یا له نورو لورو څخه په رأیه اخیستنه کې د ګډون د حق لرونکی وي د اکثریت ونډو موافقه رأیه، دونډه والو په تصمیم کې داعتبار وړ ګڼل کېږي. دمدیره هیئت دغړو غوره کول لدی امر څخه مستثني دی .

۳- د مدیره هیئت غړي ، د هغو ونډه والو چې پخپله یا د وکیل له لارې په غونډه کې حاضر او په رأیه اخستنه کې د ګډون د حق لرونکی وي ، د ونډه والو د رأیو د نسبي اکثریت په واسطه غوره کېږي .

۴- که چېرې د ونډې په اندازه ، ونډه وال په مشخص صنف یا ردیف وېشل شوی وي ، په هغهٔ صورت کې چې د صنف یا ردیف جلا رأیې ته اړتیا ولیدله شي، د صنف یا ردیف د صادرو او پلورل شوو ونډو اکثریت او چې پخپله یا د وکیل له لارې حاضر وي د رأیې اخیستنې نصاب بشپړ وي . پدی صورت کې د نوموړي صنف یا ردیف د ونډه والو د ونډو اکثریت موافقې رأیې چې پخپله یا د وکیل له لارې په غونډه کې

سهمدارانیکه شخصاً یا از طریق وکیل در جلسه حاضر یا از جهات دیگر واجد حق اشتراك در رأی گیری باشد ، در تصمیم سهمداران قابل اعتبار پنداشته می‌شود. انتخاب اعضای هیئت مدیره از این امر مستثنی است.

۳- اعضای هیئت مدیره توسط اکثریت نسبی آرای سهمداران که شخصاً یا از طریق وکیل در جلسه حاضر و واجد شرایط اشتراك در رأی گیری باشند ، انتخاب می گردند.

۴- هرگاه نظر به اندازهٔ سهم ، سهمداران به صنف یا ردیف مشخص تقسیم شده باشند درصورتی که به رأی جداگانهٔ صنف یا ردیف ضرورت احساس شود ، اکثریت سهام صادره و فروختهٔ شدهٔ صنف یا ردیف که شخصاً یا از طریق وکیل حاضر باشد نصاب رأی دهی را تکمیل می نماید. دراین صورت رأی موافق اکثریت سهمداران سهام صنف یا ردیف متذکره که شخصاً یا از طریق وکیل در جلسه حاضر

حاضر وي ، د صنف یا ردیف تصمیم ګڼل کېږي .

(۳) که چېرې د غونډې نصاب بشپړ نشي ، د ونډه والو عمومي مجمع د مدیره هیئت لخوا ، د نېټې تر ټاکلو پورې ځنډېږي . په هغو حالاتو کې چې د وروستۍ غونډې نېټه، وخت او ځای د ونډه والو د مجمع د غونډې له ځنډېدو (تعطیل) د مخه اعلان شوې نه وي،پدی صورت کې ونډه وا ل له وروستۍ غونډې څخه ددی قانون د حکمونو مطابق خبرول کېږي .

(۴) په هغهٔ صورت کې چې د ونډه والو په عمومي مجمع کې د ونډه وال له ونډې څخه استازیتوب صورت ومومي او نصاب بشپړ شي، غونډه دایرېږي.که چېرې د ونډه وال استازی په هر علت غونډه ترک کړي ، په نصاب کې یې اغېزه نلري، خو دا چې د ځنډول شوې غونډې په هلکه د ثبت نوې نېټه و ټاکل شي.

**د مدیره هیئت دغړو غوره کېدل**

**پنځه اتیایمه ماده :**

(۱) د مدیره هیئت غړي د لیکلو رأیو د پاڼو پر بنسټ غوره کېږي،

باشند ، تصمیم صنف یا ردیف پنداشته می‌شود .

(۳) هرگاه نصاب جلسه تکمیل نگردد ، مجمع عمومی سهمداران ازطرف هیئت مدیره الی تعیین تاریخ، معطل می گردد. درحالاتیکه تاریخ، وقت و محل جلسهٔ بعدی قبل از تعطیل جلسهٔ مجمع سهمداران اعلان نشده باشد ، در این صورت سهمداران از جلسهٔ بعدی طبق احکام این قانون مطلع گردانیده می‌شوند .

(۴) درصورتی‌که از سهم سهمدار درمجمع عمومی سهمداران نمایندگی صورت گیرد و نصاب تکمیل شود ، جلسه دایر می گردد. هرگاه نمایندهٔ سهمدار به هرعلتی جلسه را ترک نماید ، در نصاب آن تاثیر ندارد ، مگر اینکه تاریخ جدید ثبت در مورد جلسهٔ تعطیل شده، تعیین گردد.

**انتخاب اعضای هیئت مدیره**

**مادهٔ هشتادو پنجم :**

(۱) اعضای هیئت مدیره به اساس اوراق آرای کتبی انتخاب

خو دا چې د شرکت په اساسنامه یا کورنیو قواعدو کې بل ډول تصریح شوې وي. دمدیره هیئت دمنظورۍ په صورت کې، د لیکلو رأیو پاڼې په الکترونیک پیغام کې د رأیو په استولو سره، ددی قانون دحکمونو مطابق صورت موندلی شي .

(۲) د مدیره هیئت غړي د حاضرو رأیو په نسبي ا کثریت سره غوره کېږي ، خو دا چې د شرکت په اساسنامه یا کورنیو قواعدو کې بل ډول تصریح شوی وي .

(۳) ونډه وال نشي کولای د مدیره هیئت د غړو د غوره کېدو په منظور له مضاعفو رأیو څخه ګټه واخلي، خو دا چې په اساسنامه کې بل ډول تصریح شوی وي .

پدی منظور مضاعفه رأیه اخیستنه هغه عملیه ده چې په هغې کې ونډه وال مشخص حق لري څو د خپلو اړوندو رأیو شمېر د مدیره هیئت د هغو غړو په شمېر کې ضرب کړی چې ورته رأیه ورکولی شي او وروسته د رأیو ټولیز شمېر( د ضرب حاصل) واحد کاندید ته ورکړی یا هغه د دوو یا له دوو څخه د زیاتو کاندیدانو تر منځ

می‌شوند ، مگر اینکه در اساسنامه یا قواعد داخلی شرکت طور دیگری تصریح شده باشد . درصورت منظوری هیئت مدیره ، اوراق آرای کتبی با ارسال آرا در پیام الکترونیك طبق احکام این قانون صورت گرفته می‌تواند .

(۲) اعضای هیئت مدیره به اکثریت نسبی آرای حاضر انتخاب می گردند ، مگراینکه در اساسنامه یا قواعد داخلی شرکت طور دیگری تصریح شده باشد .

(۳) سهمداران نمی توانند بمنظورانتخاب اعضای هیئت مدیره از رأی مضاعف استفاده نمایند ، مگر اینکه در اساسنامه طوردیگری تصریح شده باشد .

رأی دهی مضاعف بدین منظور عملیه ای است که در آن سهمداران حق مشخص دارند تا تعداد آرای مربوط خود را ضرب تعداد اعضای هیئت مدیره نمایند که برای شان رأی داده میتوانند و بعداً تعداد مجموعی آرا (حاصل ضرب ) را به کاندید واحد بدهند یا آنرا میان دو یا بیش از دو کاندید تقسیم

ووېشي .

**د پلټونکي ټاکل**

**شپږ اتيايمه ماده :**

(۱) سهامي شرکت کولای شي د ونډه والو د مجمع په غونډو کې د رأيې ورکونې د عمليې د چارو د تنظيم په منظور يو يا له يوۀ څخه زيات کسان د پلټونکي يا اداره کوونکي په توګه وټاکي ، د پلټونکي يا اداره کوونکي دندې د مديره هيئت لخوا مشخصېږي .

(۲) پلټونکی يا اداره کوونکی مديره هيئت ته د ليکلي رپوټ په وړاندې کولو مکلف دی .

**د سندونو ساتل**

**اووه اتيايمه ماده :**

(۱) سهامي شرکت کولای شي د ونډو، حسابي دفترونو او د غونډو د پېښليک په شمول د شرکت اړوند سندونه له زېرمه ايز ميتود څخه په ګټې اخيستنې سره وساتي، پدې شرط چې په ليکلې، واضح، لوستې (خوانا) توګه د ګټې اخيستنې وړ وي .

(۲) سهامي شرکت مکلف دی د پلټنې د واکمنو اشخاصو د غوښتنې په وخت کې، د دې مادې

نمایند.

**تعیین مفتش**

**مادۀ هشتاد و ششم:**

(۱) شرکت سهامی می‌تواند بمنظور تنظیم امور عملیۀ رأی دهی در جلسات مجمع سهمداران یك یا بیش از یك نفر را بحیث مفتش یا اداره کننده تعیین نماید، وظایف مفتش یا اداره کننده ازطرف هیئت مدیره مشخص می‌گردد .

(۲) مفتش یا اداره کننده مکلف به ارایۀ کتبی گزارش به هیئت مدیره می باشد.

**حفاظت اسناد**

**مادۀ هشتاد و هفتم :**

(۱) شرکت سهامی می‌تواند اسناد مربوط به شرکت بشمول دفاتر سهام، حسابی و رویداد جلسات را با استفاده از میتود های ذخیره وی حفظ نماید، مشروط براینکه طور کتبی، واضح، خوانا و قابل استفاده باشد.

(۲) شرکت سهامی مکلف است حین تقاضای اشخاص ذیصلاح تفتیش، اسناد حفظ شدۀ

په (۱) فقره کې درج ساتل شوی سندونه ، د دی قانون د حکمونو مطابق د هغوی په واک کې ورکړي. دغه سندونه په ټولو مواردو کې د اثباتیه مدرکونو په توګه د قطعي اصلي سند حیثیت لري ، پدی شرط چې سند په لیکلي ډول او دقیق ترتیب شوی وي.

(۳) هر ونډه وال کولای شي پخپله یا د وکیل یا قانوني استازي په واسطه، د لیکلي غوښتني په اثر د شرکت د ونډو دفتر ، د ونډه والو فهرست او نور سندونه،مناسبو موخو ته د لاس رسی په منظور ، د کاري معمولو ساعتونو په ترڅ کې وپلټي او فهرست یا نقل یې لاسته راوړي .

د دی مادی په مفهوم مناسبه موخه له هغې موخې څخه عبارت ده چې په معقوله توګه د شرکت د ونډه وال له ګټو سره تړلې وي. په هغهٔ صورت کې چې د پلټنې غوښتونکی شخص د ونډه وال وکیل یا استازي وي، غوښتنه یې په هغهٔ صورت کې منل کیږي چې د استازیتوب اثباتوونکی وکالت خط یا نور سندونه یې

مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را مطابق احکام این قانون به دسترس آنها قرارداهد. این اسناد به حیث مدارك اثباتیه درتمام موارد حیثیت سند اصلی قطعی را دارد، مشروط براینکه سند به شکل کتبی و دقیق ترتیب شده باشد.

(۳) هرسهمدارمی‌تواند شخصاً یا توسط وکیل یا نمایندهٔ قانونی خود بالاثر درخواست کتبی، دفتر سهام، فهرست سهمداران و سایر اسناد شرکت را بمنظور دسترسی به اهداف مناسب در خلال ساعات معمول کاری تفتیش نموده فهرست یا رونویس آن را بدست آورد.

هدف مناسب به مفهوم این ماده عبارت از هدفی است که بصورت معقول به منافع سهمدار شرکت مربوط باشد. در صورتی‌که شخص خواهان تفتیش وکیل یا نمایندهٔ سهمدارباشد، تقاضای وی درصورتی پذیرفته می‌شود که وکالت خط یا سایر اسناد اثبات کنندهٔ نماینده گی را ارائه نموده باشد. هر سهمدار می‌تواند

وړاندې کړې وي، هر ونډه وال کولای شي ، د دې قانون د حکمونو او پکې د درج شوو محدودیتونو له په پام کې نیولو سره د ونډو دفتر، د ونډه والو فهرست یا په الکترونیک شبکو کې (چې د شرکت لخوا برابر شوي وي ) نور دفترونه او سندونه، وپلټي.

(۴) د مدیره هیئت غړي کولای شي د شرکت دونډو دفتر ، د ونډه والو فهرست او نور دفترونه او سندونه د هغو موخو د ترلاسه کولو لپاره چې له دندې سره یې تړاو لري ، وګوري .

(۵) سوداګریزه محکمه کولای شي د مدیره هیئت د غړي یا ونډه والو د پلټنې په هکله تجویز ونیسي .

## د رأیو تولیت

**اته اتیایمه ماده:**

(۱) یو یا له یوهٔ څخه زیات ونډه وال کولای شي د رأیې ورکونې تولیت رامنځته کړي او د رأیې حق او د اړوند تمثیل نور ډولونه د لیکلې موافقې په واسطه چې د تولیت د شرایطو لرونکې وي ، امین شخص ته وسپاري او خپلې ونډې هغهٔ ته ولیږدوي . کله چې د

با رعایت احکام این قانون ومحدودیت های مندرج آن ، دفتر سهام، فهرست سهمداران ویا سایر دفاتر واسناد ثبت شده درشبکه های الکترونیك را (که توسط شرکت تهیه شده باشد)، تفتیش نماید.

(۴) اعضای هیئت مدیره می‌تواند دفتر سهام، فهرست سهمداران و سایر دفاتر و اسناد شرکت را بمنظور برآورده ساختن اهدافی که به وظیفه وی ارتباط دارد، ملاحظه نماید.

(۵) محکمۀ تجارتی می‌تواند درمورد تفتیش عضوهیئت مدیره یا سهمداران تجویز اتخاذ نماید.

## تولیت آرا

**مادۀ هشتاد و هشتم :**

(۱) یك یا بیش از یك سهمدار می‌تواند تولیت رأی دهی را ایجاد و حق رأی و سایر اشکال تمثیل مربوط را توسط موافقتنامۀ کتبی که حاوی شرایط تولیت باشد، به شخص امین بسپارد و سهام خود را به وی انتقال دهد. زمانیکه موافقتنامۀ تولیت آرا امضأ

رأيو د توليت موافقه ليک لاسليک شي، امين شخص په توليت کې د ګټو لرونکو ټولو اشخاصو نوموڼه او آدرس او د فهرست او موافقه ليک نقل د سهامي شرکت اصلي دفتر ته سپاري .

(۲) د رأيې ورکوونې د توليت موافقه ليک له هغې نېټې څخه اعتبار مومي چې لومړنۍ ونډې د امين شخص په نوم ثبتېږي . د رأيې ورکوونې د توليت موده له لسو کلونو څخه نشي زياتېدی . خو دا چې زيات نه زيات د (۱۰) نورو کلونو لپاره تمديد شي. تمديد شوی سند د سهامي شرکت اصلي دفتر ته هم سپارل کېږي .

**د رأيې ورکوونې موافقه ليک**

**نهه اتيايمه ماده :**

دوه يا له دوو څخه زيات ونډه وال کولای شي د ونډو د رأيې ورکوونې د ډولونو په هکله موافقه ليک عقد کړي .

**د اداري او سوداګرۍ د چارو د موافقه ليک عقدول**

**نوي يمه ماده :**

(۱) ونډه وال کولای شي د سهامي شرکت د واکونو يا د اداري او

گردد، شخص امین فهرست اسامی و آدرس تمام اشخاص دارندۀ منافع در تولیت را ترتیب و نقل فهرست و موافقتنامه را به دفتر اصلی شرکت سهامی می‌سپارد.

(۲) موافقتنامۀ تولیت رأی دهی از تاریخی اعتبار کسب می‌کند که نخستین سهام به نام شخص امین ثبت می‌گردد. موعد تولیت رأی دهی برای بیشتر از ده سال بوده نمی تواند، مگر اینکه برای مدت حد اکثر (۱۰) سال دیگر تمدید گردد. سند تمدید شده به دفتر اصلی شرکت سهامی نیز سپرده می‌شود.

**موافقتنامه رأی دهی**

**مادۀ هشتاد و نهم:**

دو یا بیش از دو سهمدار می‌توانند درمورد شیوه های رأی دهی سهام، موافقتنامه را عقد نماید.

**عقد موافقتنامۀ اداره امور و تجارت**

**مادۀ نودم :**

(۱) سهمداران می‌توانند درمورد صلاحیت ها یا ادارۀ امور و

سوداګرۍ د چارو په هلکه ،د ونډه والو، مدیره هیئت یا سهامي شرکت ترمنځ موافقه لیک عقد کړي .

(۲) د دی مادی په (۱) فقره کې درج شوی موافقه لیک ، په لاندی سندونو کې درجېږي :

۱- اساسنامه یا کورني قواعد چې د ټولو هغو اشخاصو لخوا چې د موافقه لیک دعقد په وخت کې ونډه وال وي او هغه ئې لاسلیک کړی وي .

۲- هغه لیکلی موافقه لیک چې د عقد په وخت کې د ټولو ونډه والو لخوا لاسلیک او سهامي شرکت ته خبر ورکول شوی وي .

پدی ماده کې درج شوی د ونډه والو موافقه لیک یوازې د هغو اشخاصو په واسطه تعدیلېږي چې د تعدیل په وخت کې ونډه وال وي. دغه موافقه لیک د لسو کلونو لپاره د اعتبار وړ دی، خو دا چې په موافقه لیک کې بل ډول تصریح شوی وي .

(۳) د دی مادی په (۲) فقره کې د درج شوی موافقه لیک موجودیت، هغه وخت د اعتبار وړ ګڼل کېږي

تجارت شرکت سهامی، موافقتنامهٔ را میان سهمداران، اعضای هیئت مدیره یا شرکت سهامی عقد نمایند.

(۲) موافقتنامه مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در اسناد ذیل درج می گردد:

۱- اساسنامه یا قواعد داخلی که توسط تمام اشخاصی که حین عقد موافقتنامه سهمدار بوده و آن را امضأ کرده باشند .

۲- موافقتنامهٔ کتبی که ازطرف تمام سهمداران حین عقد امضأ و به شرکت سهامی اطلاع داده شده باشد.

موافقتنامهٔ سهمداران مندرج این ماده صرف توسط اشخاصی تعدیل می گردد که حین تعدیل سهمدار باشند. این موافقتنامه برای مدت ده سال قابل اعتبار بوده، مگراینکه درموافقتنامه طوردیگری تصریح شده باشد.

(۳) موجودیت موافقتنامهٔ مندرج فقرهٔ (۲) این ماده زمانی قابل اعتبار پنداشته می‌شود که در

چې په اساسنامه او د هر سند پر مخ او تندی (ظهر)باندی ذکر شوی‌وي. د ونډې په سند یا د معلوماتو په سند کې د موافقه لیک د موجودیت نه درجېدل د موافقه لیک یا نیول شوو تدبیرونو د اعتبار د اغېزمنېدو باعث نه کېږي. که چېرې مشتري د ونډو د پېرودلو په وخت کې د موافقه لیک په هکله خبرتیا ونلري، کولای شي بیع فسخ کړی . په هغهٔ صورت کې چې موافقه لیک د ونډې په سند کې درج وي، مشتري د نوموړي موافقه لیک په هکله خبر ګڼل کېږي. د بیع د فسخ د حق په اړه ادعا د موافقه لیک د موجودیت په هکله له خبرېدو وروسته په (۹۰) ورځو یا د ونډو له پېرودنې وروسته د دوو کلونو په ترڅ کې (هر یو چې مقدم وي) صورت موندلای شي .

(۴) ونډه وال کولای شي د موافقه لیک په عقدولو سره ، دمدیره هیئت واک محدود کړی او هغه بل شخص ته ولېږدوي . پدی صورت کې هغه شخص چې واک ورته سپارل شوی د خپل

اساسنامه و روی و ظهر هرسند ذکر گردیده باشد. عدم درج موجودیت موافقتنامه در سند سهم یا سند معلومات سبب متاثرشدن اعتبار موافقتنامه یا تدابیر اتخاذ شده نمی گردد. هرگاه مشتری حین خرید سهام درمورد موافقتنامه اطلاع نداشته باشد، می‌تواند بیع را فسخ نماید. درصورتی‌که موافقتنامه در سند سهم درج باشد، مشتری در مورد موافقتنامهٔ متذکره مطلع پنداشته می شود. ادعای مبنی بر حق فسخ بیع الی (۹۰) روز بعد از آگاهی در مورد موجودیت موافقتنامه یا در خلال دو سال بعد از خرید سهام (هرکدام که مقدم باشد) صورت گرفته می‌تواند.

(۴) سهمداران می‌توانند با عقد موافقتنامه، صلاحیت هیئت مدیره را محدود و آنرا به شخص دیگری انتقال دهند. دراینصورت شخصی که به وی تفویض صلاحیت صورت گرفته، درحدود

واک په حدودو کې مسئول ګڼل کېږي.
(**۵**) د دې مادې په حکمونو کې د درج شوې موافقه لیک موجودیت یا تطبیق پر ونډه وال باندې داسې اغېزه نلري چې شخصي مسئولیت، تصمیمونه یا د سهامي شرکت دیون په غاړه واخلي، که څه هم چې سهامي شرکت د موافقه لیک یا یې د تطبیق پربنسټ د تضامني شرکت په توګه وګڼل شي، پدې شرط چې په موافقه لیک کې د درج شوو موضوعګانو په نورو حالاتو کې د سهامي شرکتونو کورني قواعد تطبیق او په پام کې نیول شوې نه وي.

## یوولسم فصل
## د ونډه والو د ونډو د ګټې وېش

### د پانګې اعلان
**یو نوي یمه ماده:**
مدیره هیئت کولای شي د دې قانون او د شرکت د اساسنامې د حکمونو له په پام کې نیولو سره، د شرکت د پانګه ایزو ونډو ګټه اعلان او د شرکت لخوا یې د ورکړې زمینه برابره کړي.

صلاحیت خود مسئول پنداشته می‌شود.
(**۵**) موجودیت یا تطبیق موافقتنامه مندرج احکام این ماده تاثیری بالای سهمدار نداشته که مسئولیت شخصی، تصامیم و یا دیون شرکت سهامی را بدوش گیرد، ولو اینکه شرکت سهامی به تأسی از موافقتنامه یا تطبیق آن به حیث شرکت تضامنی تلقی گردد، مشروط براینکه قواعد داخلی شرکت های سهامی در سایر حالات موضوعات مندرج موافقتنامه تطبیق و رعایت نگردیده باشد.

## فصل یازدهم
## توزیع مفاد سهام سهمداران

### اعلان سرمایه
**مادهٔ نود و یکم:**
هیئت مدیره می‌تواند با نظرداشت احکام این قانون و اساسنامهٔ شرکت، مفاد سهام سرمایوی شرکت را اعلان و زمینهٔ تادیهٔ آنرا از طرف شرکت فراهم سازد.

**د ونډو د ګټې وېش**

**دوه نوي یمه ماده :**

(۱) سهامي شرکت نشي کولای په لاندې حالاتو کې د ونډو ګټه وویشي :

۱- په هغهٔ صورت کې چې سهامي شرکت دواجب الادا دیونو په ورکړې باندې قادر نه وي .

۲- په هغهٔ صورت کې چې د سهامي شرکت شتمني، د شرکت د دیونو له ټولې (مجموع) څخه لږ وي .

۳- په هغهٔ صورت کې چې د موجودو ونډو زېرمه ایزه پانګه د ونډو د مجموع په سلو کې له پنځو څخه لږ وي .

(۲) که چېرې ګټه د دې مادې د (۱) فقرې د حکم مغایر غیر قانوني وویشل شي، د دې قانون د نهه څلوېښتمې مادې حکم پدې هکله تطبیقېږي .

(۳) د سهامي شرکت د انحلال په صورت کې، د ونډو د ګټې د وېشلو په وخت، د ونډو د ګټې د ترلاسه کوونکو اشخاصو په نسبت د رجحان د حق لرونکو اشخاصو د حقوقو د تأمینېدو لپاره، د

**توزیع مفاد سهام**

**مادهٔ نود و دوم :**

(۱) شرکت سهامی نمی تواند درحالات ذیل مفاد سهام را توزیع نماید:

۱- در صورتی‌که شرکت سهامی قادر به پرداخت دیون واجب الادا نباشد.

۲- درصورتی‌که دارایی شرکت سهامی کمتر از مجموع دیون شرکت باشد.

۳- درصورتی‌که سرمایهٔ ذخیروی سهام موجود کمتر از پنج فیصد مجموعی سهام باشد.

(۲)هرگاه مفاد مغایر حکم فقرهٔ (۱) این ماده غیر قانونی توزیع شود، حکم مادهٔ چهل و نهم این قانون در مورد تطبیق می‌گردد.

(۳) درصورت انحلال شرکت سهامی در زمان توزیع مفاد سهام برای تأمین حقوق اشخاص دارندهٔ حق رجحان نسبت به اشخاص دریافت کنندهٔ مفاد

لومړیتوب حق ورکول کېږي،خو دا چې په اساسنامه کې بل ډول اټکل شوی وي .

**احتیاطي پانګه**

**دري نوي یمه ماده :**

د ګټو په وېش کې لږ تر لږه په سلو کې پنځه یې د احتیاطي پانګې په نوم د شرکت د احتمالي ضررونو د جبران لپاره ساتل کېږي . احتیاطي پانګــه چــې پدغــه ډول ټــولېږي (کــه پــه اساسنامه کــې د هغــې د زیاتېدو په هکله صراحت موجود نه وي ) وروســـته تــــر دی چــــې د شرکت د پانګې څلورمې (ربعې) تـه ورسـېږي نورنـو کـوم مبلـغ نـه ساتل کېږي .

کــه د ونډو بیــه د هغــو لــه ټاکلو بیـو څخـه زیاتـه وي د بیـو زیـاتګي هم ممکنه ده پر احتیاطي پانګه ور زیاتـه شـي، وروسـته تـر دی چـې احتیــاطي پانګــه هغــه مقــدار تــه چــې پــه اساســنامه یــا قــانون کــې ټاکــل شــوېده دوام ورکــول کېږي.

سهام ، حق اولیت داده می‌شود ، مگراینکــه در اساســنامه طــور دیگری تصریح شده باشد .

**سرمایهٔ احتیاطی**

**مادهٔ نود و سوم :**

در توزیع منافع اقلاً پنج فیصد آن بنــام ســرمایهٔ احتیــاطی بــرای جبران ضررهای احتمالی شرکت نگهداشــته مــی‌شــود . ســرمایهٔ احتیـاطی کـه بـاین صـورت جمـع مــی‌شــود (اگــر در اساســنامه راجــع بــه زیــادت آن صــراحتی موجــود نباشــد ) بعــد از آنکــه بــه ربــع ســرمایهٔ شــرکت برســد دیگــــر مبلغــــی نگهداشــــته نمی‌شود .

اگـر قیمـت سـهام از قیمـت هـای معینه آنها زیادتر باشد ، زیادگی قیمت نیز ممکن است به سرمایهٔ احتیــاطی عــلاوه شــود ، بعــد از آنکــه ســرمایهٔ احتیــاطی بــه مقداری که در اساسنامه یا قـانون تعیــین گردیــده ، ادامــه داده می‌شود .

**د ګټې ورکړه**
**څلور نوي یمه ماده :**
د ونډو ګټه په نغده او د مالونو په ډول یا د ونډو په شکل ورکول کېږي .

**پرداخت مفاد**
**مادۀ نود و چهارم :**
مفاد سهام بطور نقد و اموال یا به شکل سهام پرداخته شده می‌تواند .

## دوو لسم فصل
## د سهامي شرکت په جوړښت کې بنسټیز بدلولونه

## فصل دوازدهم
## تغییرات اساسی در ساختار شرکت سهامی

**د اساسنامې تعدیل**
**پنځه نوي یمه ماده :**
(۱) د سهامي شرکت ونډه وال کولای شي په اړونده اساسنامه کې درج شوی حکمونه تعدیل، تزئید او حذف کړي .
(۲) مدیره هیئت کولای شي د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی تعدیل،تزئید او حذف له خپل تصویب وروسته د منظورۍ لپاره ونډه والو ته وړاندیز کړي . د رأیې د حق لرونکي ونډه وال کولای شي د مدیره هیئت وړاندیز شوی تعدیل، تزئید او حذف د رأیو په اکثریت تصویب کړي .
(۳) د شرکت مدیره هیئت کولای شي لاندې تعدیلونه په اساسنامه

**تعدیل اساسنامه**
**مادۀ نود و پنجم :**
(۱) سهمداران شرکت سهامی می‌توانند احکام مندرج اساسنامۀ مربوط را تعدیل، تزئید و حذف نمایند .
(۲) هیئت مدیره می‌تواند تعدیل، تزئید و حذف مندرج فقرۀ (۱) این ماده را بعد از تصویب خویش جهت منظوری به سهمداران پیشنهاد نماید .سهمداران واجد حق رأی می‌توانند تعدیل، تزئید و حذف پیشنهاد شده هیئت مدیره را به اکثریت آراء تصویب نمایند.
(۳) هیئت مدیرۀ شرکت می‌تواند تعدیلات ذیل را در اساسنامه

کې د ونډه والو له منظورۍ پرته تصویب او منظور کړی، خو دا چې د شرکت په اساسنامه کې بل ډول تصریح شوی وي .
- د شرکت د اصلي لومړنیو غړو د نومونو او آدرسونو حذف .
- د لومړني مرکزي دفتر حذف .
- د مدیره هیئت د لومړنیو غړو یا لومړني مسئول استازي حذف (په هغهٔ صورت کې چې د اوسنی مسئول استازي په هکله معلومات دمرکزي ثبت په دفتر کې ثبت وي).

## د سهامي شرکت په پانګه کې زیاتوالی

**شپږ نوي یمه ماده :**
که چېرې مدیره هیئت د خپل لیکلي تصمیم پر بنسټ د سهامي شرکت د مجازې پانګې زیاتوالی (د صادرېدو وړ مجازو ونډو په شمېر کې) د زیاتوالی یا د ونډو د نوو صنفونو یا ردیف د رامنځته کولو له لارې وغواړي، پدی صورت کې مدیره هیئت مکلف دی موضوع د تصویب او رأیې اخیستنې په غرض د شرکت د ونډه والو مجمع ته وړاندیز کړی، د مجازو ونډو صادرېدل، د دی

بدون منظوری سهمداران تصویب و منظور نماید ، مگراینکه در اساسنامهٔ شرکت طور دیگری تصریح شده باشد :
- حذف اسامی و آدرس های اولین اعضای اصلی شرکت.
- حذف اولین دفتر مرکزی .
- حذف اولین اعضای هیئت مدیره یا اولین نمایندهٔ مسئول (درصورتی‌که معلومات درمورد نمایندهٔ مسئول فعلی در دفتر ثبت مرکزی ثبت باشد) .

## افزایش در سرمایهٔ شرکت سهامی

**مادهٔ نود و ششم :**
هرگاه هیئت مدیره به اساس تصمیم کتبی خویش افزایش سرمایهٔ مجاز شرکت سهامی را ازطریق افزایش (در تعداد سهام مجاز قابل صدور) یا ایجاد صنوف یا ردیف جدید سهام تقاضا نماید ، در اینصورت هیئت مدیره مکلف است موضوع را غرض تصویب و رأی گیری به مجمع سهمداران شرکت پیشنهاد نماید ، صدور سهام مجاز با رعایت مواد

قانون په دیرشمه او یو دیرشمه ماده کې د درج شوو حکمونو له په پام کې نیولو سره تنظیمېږي.

**د تقدم (شفع)حق**

**اووه نوي یمه ماده :**

د سهامي شرکت په مجازه پانګه کې د زیاتېدنې یا د اضافي ونډو د صادرېدو په صورت کې د شرکت موجود ونډه وال،د مجازې پانګې یا نوو صادرو شوو ونډو د پېرودنې د تقدم یا په هغو کې د ګډون د ژمنې حق نلري ، خو دا چې په اساسنامه کې بل ډول تصریح یا د مدیره هیئت لخوا بل ډول تصمیم نیول شوی وي .

## دیارلسم فصل
## د ونډې سندونه

**د ونډې سندونه**

**اته نوي یمه ماده :**

(۱) د ونډې د سندونو په واسطه د سهامي شرکت صادره او پلورل شوې ونډې،دشرکت داساسنامې یا کورنیو قواعدو مطابق تثبیتېږي . د ونډې هرسند لږ تر لږه

احکام مندرج سی ام و سی و یکم این قانون تنظیم می گردد.

**حق تقدم (شفع)**

**مادهٔ نود و هفتم :**

درصورت افزایش در سرمایهٔ مجاز شرکت سهامی یا صدور سهام اضافی، سهمداران موجود شرکت ، حق تقدم خریداری سرمایهٔ مجازیا سهام صادر شدهٔ جدید و یا تعهد اشتراك در آنرا ندارند ، مگر اینکه در اساسنامه طور دیگری تصریح یا از طرف هیئت مدیره طور دیگری تصمیم اتخاذ گردیده باشد.

## فصل سیزدهم
## اسناد سهم

**اسناد سهم**

**مادهٔ نود و هشتم :**

(۱) سهام صادره و فروخته شدهٔ شرکت سهامی توسط اسناد سهم طبق اساسنامه یا قواعد داخلی شرکت تثبیت می گردد. هر سند سهم دربرگیرندهٔ حد اقل اسم

دصادروونکي شرکت د نوم ، د شرکت د جوړېدو د قضايي حوزې،د محرزه بيې(اسمي ارزښت)، د هغهٔ شخص د نوم چې ونډه يې په نوم صادرېږي او د صادرو شوو ونډو يا صنفونو د شمېر لرونکي وي او د سهامي شرکت د دوو واکمنو مامورانو لخوا لاسليک کېږي .

(۲) د ونډو د سند لاسليک د فکس په ډول کېدی شي.که چېرې د سند لاسليک کوونکی شخص د ونډو له صادرېدو وروسته د سهامي شرکت د کارمند په توګه دنده سر ته و نه رسوي ، د ونډې سند د پخوا په شان معتبر ګڼل کېږي .

**د ونډو لېږديدل**

**نهه نوي يمه ماده:**

د ونډې سندونه د شرکت له موافقې پرته بل شخص ته لېږديدی شي ، خو دا چې د شرکت په اساسنامه کې بل ډول تصريح شوی وي .

**د ونډو ثبتېدل او د هغو اعتبار**

**سلمه ماده :**

ونډه يا ونډې د ظهر نويسۍ يا د جلا ليکلي سند پر بنسټ بل

شرکت صادر کننده، حوزهٔ قضایی تشکیل شرکت، قیمت محرزه (ارزش اسمی)، اسم شخصی که سهم بنام وی صادر می گردد و تعداد یا صنوف سهم صادر شده بوده و توسط دو مامور ذیصلاح شرکت سهامی امضاء می گردد .

(۲) امضای سند سهام بطور فکس بوده میتواند . هرگاه شخص امضاء کننده سند بعد از صدور سهام به حیث کارمند شرکت سهامی ایفای وظیفه ننماید ، سند سهم کما فی السابق معتبر دانسته می‌شود .

**انتقال سهام**

**مادهٔ نود و نهم:**

اسناد سهم بدون موافقت شرکت به شخص دیگری انتقال داده شده می‌تواند ، مگر اینکه دراساسنامهٔ شرکت طوردیگری تصریح شده باشد .

**ثبت سهام و اعتبار آن**

**مادهٔ صدم :**

سهم یا سهام به اساس ظهر نویسی یا سند کتبی جداگانه به

شخص ته لېږدیدی شي ، د ونډې د سند لېږد په هغهٔ صورت کې د اعتبار وړ ګڼل کېږي چې د شرکت د ونډو د ثبت په کتاب کې ثبت شي .

**د ونډو نه بشپړه ورکړه**

**یو سلو یوه یمه ماده :**

که چېرې د سهامي شرکت د ونډو د ورکړې وړ بدل په بشپړه توګه ور نکړل شي او شتمني یې د داینینو د طلباتو د ادا کولو لپاره بس (کافي) نه وي ، پدی صورت کې د ونډو مالک یا ژمنه کوونکی مکلف دی دخپل سهامي شرکت د صادرو شوو یا صادرېدو وړ ونډو د بدل پاتې مبلغ چې د دهٔ په واسطه اخیستل یا ژمنه شوی دی، ورکړي.

**د ونډې د سندونو زړښت (فرسودګي)**

**یو سلو دوه یمه ماده :**

(۱) که چېرې د ونډې سند د زړېدو په حالت کې وي او له هغهٔ څخه ګټه اخیستل ناشوني وي خو محتوي او فارقه نښې یې په ښه ډول د لوستو وړ وي، پدی صورت کې مالک کولای شي د هغهٔ مثني د لګښتونو له ورکړې وروسته، له

شخص دیگری انتقال شده می‌تواند ، انتقال سند سهم درصورتی مدار اعتبار پنداشته می‌شود که درکتاب ثبت سهام شرکت ثبت گردد .

**عدم تادیهٔ کامل سهام**

**مادهٔ یکصد و یکم :**

هر گاه بدل قابل پرداخت سهام شرکت سهامی بطور کامل تأدیه نگردد و دارایی آن برای ادای طلبات دائنین کافی نباشد ، دراین صورت مالك یا تعهد کنندهٔ سهام مکلف است مبلغ باقیماندهٔ بدل سهام صادر شده یا قابل صدور شرکت سهامی خود را که توسط وی اخذ یا تعهد شده است، بپردازد .

**فرسودگی اسناد سهم**

**مادهٔ یکصد و دوم :**

(۱) هرگاه سند سهم در حالت فرسودگی قرار داشته و استفاده از آن نا ممکن باشد ، اما محتوی و علایم فارقهٔ آن بخوبی قابل خوانش باشد ، در این صورت مالك می‌تواند مثنی آنرا بعد از پرداخت مصارف از شرکت

شرکت څخه تر لاسه کړي .
(۲) که چېرې د ونډې سند ورک ، غلا یا تخریب شوی وي، د ونډې نوی سند د سهامي شرکت لخوا صادرېږي . په نوموړي سند پورې د اړوندې دعوې د رامنځته کېدو په صورت کې، سهامي شرکت کولای شي د زیان جبران وکړي.
سهامي شرکت کولای شي د ونډې د ورک شوی، غلا شوی یا تخریب شوی سند له مالک څخه وغواړي چې د زیان د جبران د تأمینولو لپاره د کافي تضمین سند سهامي شرکت ته وړاندې کړي .

دریافت نماید .
(۲) هرگاه سند سهم مفقود ، سرقت یا تخریب شده باشد ، سند جدید سهم ازطرف شرکت سهامی صادرمی گردد . درصورت بروز دعوی مربوط به سند متذکره، شرکت سهامی می‌تواند جبران خساره نماید .
شرکت سهامی میتواند از مالك سند سهم مفقود شده، سرقت شده یا تخریب شده تقاضا نماید که سند تضمین کافی را جهت تامین جبران خساره به شرکت سهامی ارائه نماید .

## څوار لسم فصل
## د سهامي شرکتونو انحلال او تصفیه

## فصل چهاردهم
## انحلال و تصفیه شرکت های سهامی

### د شرکت انحلال
### یو سلو درېیمه ماده :

دسهامي شرکت مدیره هیئت کولای شي دشرکت انحلال درأیوپه اکثریت سره تصویب او وړاندیز یې له شرایطو سره یا له شرایطو پرته د منظورۍ لپاره دشرکت د ونډه والو عمومي مجمع ته وړاندې کړي.

### انحلال شرکت
### مادۀ یکصد و سوم:

هیئت مدیرۀ شرکت سهامی می‌تواند انحلال شرکت را با اکثریت آراء تصویب و پیشنهاد آنرابا شرایط یا بدون شرایط جهت منظوری به مجمع عمومی سهمداران شرکت ارائه نماید .

**د انحلال د سند ثبتېدل**

**یو سلو څلورمه ماده :**

(۱) سهامي شرکت کولای شي ددی قانون دیو سلودرېیمی مادی دحکم له په پام کې نیولو سره، د انحلال سند چې دلاندی موضوعګانو لرونکی وي، د مرکزي ثبت په دفتر کې د ثبت لپاره واستوي :

۱- د سهامي شرکت نوم .

۲- د ونډه والو د عمومي مجمع په واسطه د انحلال د منظورۍ نېټه .

۳- د دی مطلب څرګندول چې د ونډه والو لخوا د انحلال وړاندیز د دی قانون او د شرکت د اساسنامې د حکمونو مطابق منظور شوی دی.

(۲) سهامي شرکت د انحلال د سند د ثبت لـه نېټې وروسته منحل کېږي .

(۳) منحل شوی سهامي شرکت هغه شرکت دی چې د انحلال سند یې لـه پړاوونو څخه تېر او ثبت شوی وي او ځای ناستی یې د شرکت دپاتې شتمنۍ دلېږدولواو د دیونو دتصفیې لپاره ټاکل کېږي.

**ثبت سند انحلال**

**مادهٔ یکصد و چهارم :**

(۱) شرکت سهامی می‌تواند با رعایت حکم مندرج مادهٔ یکصد و سوم این قانون، سند انحلال را که حاوی موضوعات ذیل باشد، غرض ثبت در دفتر ثبت مرکزی ارسال نماید:

۱- نام شرکت سهامی .

۲- تاریخ منظوری انحلال توسط مجمع عمومی سهمداران .

۳- توضیح این مطلب که پیشنهاد انحلال توسط سهمداران طبق احکام این قانون و اساسنامهٔ شرکت منظور گردیده است.

(۲)شرکت سهامی بعد از تاریخ ثبت سند انحلال منحل می گردد.

(۳) شرکت سهامی منحل شده شرکتی است که سند انحلال آن طی مراحل و ثبت گردیده و جانشین آن بمنظور انتقال دارایی متباقی شرکت و دیون جهت تصفیه تعیین می گردد.

**د ونډونه صادرېدل او د هغو د انحلال غوښتنه**

**یو سلو پنځمه ماده :**

د سهامي شرکت د اصلي ونډه والو یا د مدیره هیئت د غړو اکثریت چې ونډې یې صادرې کړې نه وي، کولای شي شرکت د مرکزي ثبت په دفتر کې د انحلال د لاندې مطالبو لرونکی سند په ثبتولو سره، **منحل** کړي :

۱- د سهامي شرکت نوم .

۲- د جوړېدو نېټه .

۳- د شرکت د ونډو د نه صادرېدو په اړه اظهاریه .

۴- شرکت ته د نه ورکړل شوو دیونو نه موجودیت .

۵- د شرکت د اصلي ونډه والو د اکثریت یا لومړني مدیره هیئت په واسطه د انحلال منظوري.

**د انحلال فسخ**

**یو سلو شپږمه ماده :**

د سهامي شرکت د ونډه والو مجمع کولای شي ، د شرکت انحلال د هغهٔ د ثبت او اعلان له نېټې وروسته د (**۵**) ورځو په ترڅ کې فسخ کړي.

د انحلال فسخ د انحلال د

**عدم صدور سهام و مطالبهٔ انحلال آن**

**مادهٔ یکصد و پنجم :**

اکثریت سهمداران اصلی یا اعضای هیئت مدیرهٔ شرکت سهامی که سهام را صادر نکرده باشند، می‌توانند شرکت را با ثبت سند **انحلال** حاوی مطالب ذیل در دفتر ثبت مرکزی، **منحل** نمایند:

۱- نام شرکت سهامی .

۲- تاریخ ایجاد .

۳- اظهاریهٔ مبنی بر عدم صدور سهام شرکت .

۴ - عدم موجودیت دیون پرداخت ناشده به شرکت .

۵ - منظوری **انحلال** توسط اکثریت سهمداران اصلی یا اولین هیئت مدیرهٔ شرکت.

**فسخ انحلال**

**مادهٔ یکصد و ششم :**

مجمع سهمداران شرکت سهامی می‌تواند **انحلال** شرکت را در خلال (**۵**) روز بعد از تاریخ ثبت واعلان آن فسخ نماید.

فسخ انحلال تابع رعایت

شکلیاتو د په پام کې نیولو تابع ده. د انحلال د فسخ له منظورۍ وروسته، سهامي شرکت کولای شي انحلال، د مرکزي ثبت په دفتر کې د انحلال د فسخ د سند چې د لاندی مطالبو لرونکی وي ، د ثبت په واسطه فسخ کړي:

۱- د شرکت نوم .

۲- د شرکت د انحلال د فسخ د اعلان نېټه.

۳- د مدیره هیئت او ونډه والو په واسطه د شرکت د انحلال د فسخ د منظورۍ نېټه ( د ونډو د صادرېدو په صورت کې).

د انحلال د فسخ په صورت کې ، شرکت بیا په خپل فعالیت پیل کوي. د انحلال فسخ ماقبل ته ورګرځیدل دی او داسې ګڼل کېږي چې انحلال اصلاً صورت موندلی ندی .

شکلیات انحلال می‌باشد . بعد از منظوری فسخ انحلال، شرکت سهامی می‌تواند انحلال را توسط ثبت سند فسخ انحلال که حاوی مطالب ذیل می‌باشد ، دردفتر ثبت مرکزی فسخ نماید :

۱- نام شرکت .

۲-تاریخ اعلان فسخ انحلال شرکت .

۳- تاریخ منظوری فسخ انحلال شرکت توسط هیئت مدیره و سهمداران (در صورت صدور سهام).

درصورت فسخ انحلال، شرکت به فعالیت خود مجدداً آغازمی‌نماید . فسخ انحلال قابل عطف به ماقبل بوده و چنین پنداشته میشود که انحلال اصلاً صورت نگرفته است.

**د محکمې لخوا انحلال**

**یو سلو اوومه ماده :**

واکمنې سوداګریزې محکمې کولای شي په لاندی حالاتو کې سهامي شرکت منحل کړي :

۱- په لاندی احوالو کې دسوداګرۍ وزارت د شکایت په صورت کې:

**انحلال از طرف محکمه**

**مادۀ یکصد و هفتم :**

محاکم تجارتی ذیصلاح می‌توانند درحالات ذیل شرکت سهامی را منحل نماید:

۱- درصورت شکایت وزارت تجارت در احوال ذیل:

- د اساسنامې په ترتیب او ثبتولو کې تېر ایستنه (فریبکاري) .
- لـه قـانوني واک څخـه تېـرى یـا ناوړه ګټه اخیستنه .
۲- په لاندې احوالو کې د یوۀ یا لـه یوۀ څخه د زیاتو ونډه والـو لخوا د دعوې اقامه :
- هغـه حالـت چې د مـدیره هیئت غـړي د سهامي شرکت د چـارو پـه اداره کې بریالي نه وي او ونـډه وال د ستونزې پـه حـل قـادر نـه وي او سهامي شرکت او شتمنۍ تـه یې جبران نه منونکي زیانونـه (صدمې) ور اوړي .
- هغـه حالـت چې د مـدیره هیئـت غـړي یـا پـر سهامي شرکت بانـدې کنتـرول لرونکـو اشخاصـو پـه غیـر قـانوني ډول یـا پـه تېرایستنې سره عمل کړى وي یا یې کوي .
- هغـه حالـت چـې ونـډه وا ل د خپلې رأیې ورکونې په واک کې لـه ستونزې سره مخـامخ او پـه هغـه موده کې چې د کلنۍ مجمع په دوو پر له پسې غونډو کې شامل وي، د مدیره هیئت غړي یې ټاکلي نه وي.
۳- په لاندې احوالـو کې د دایـن پـه واسطه د دعوې اقامه :

- فریبکـاری در ترتیـب و ثبـت اساسنامه .
- تجـاوز یـا سـوء اسـتفاده از صلاحیت قانونی .
۲- اقامـۀ دعـوی توسـط یـك یـا بـیش از یـك سـهمدار در احـوال ذیل :
- حالتیکـه اعـضای هیئت مـدیره در ادارۀ امـور شـرکت سـهامی موفـق نبـوده و سـهمداران قـادر بـه رفـع مـشکل نباشـند و صـدمات جبـران نـا پـذیر بـه شـرکت سـهامی و دارایـی آن وارد می گردد .
- حالتی‌که اعضای هیئت مـدیره یـا اشـخاص دارنـدۀ کنتـرول بـر شـرکت سـهامی بـه شـکل غیـر قانونی یا با فریب عمل نموده اند یا می‌نمایند .
- حـالتی‌کـه سـهمداران در صلاحیت رأی دهی خود به مشکل مواجه و درمدتیکه شامل دوجلسۀ متواتر مجمع سالانه بوده اعضای هیئـت مـدیره را انتخـاب نکـرده باشند .
۳- اقامـۀ دعـوی توسـط دایـن در احوال ذیل:

- هغه حالت چې د داينينو طلب د مخه د دعوي په اقامې منتج شوی وي او د دين د ورکړې په هکله د محکمې پرېکړه تطبيق شوې نه وي او سهامي شرکت د ديونو په ورکړې باندی قادر نه وي.
- هغه حالت چې سهامي شرکت په ليکلي توګه اقرار کړی وي چې د داينينو طلب د ورکړې وړ دی او سهامي شرکت د ديونو په ورکړې قادر نه دی .
که چېرې شرکت تر دعوي لاندی راشي، داوطلبانه انحلال يې دمحکمې تر څارنې لاندی صورت مومي .

### د انحلال او تصفيې لپاره د مديرانو غوره کول

**يو سلو اتمه ماده :**

(۱) محکمه کولای شي په هغې دعوي کې چې د سهامي شرکت د انحلال په منظور اقامه شوې وي ، يو يا له يوۀ څخه زيات مديران د انحلال او تصفيې لپاره يا يو يا له يوۀ څخه زيات متصديان د سهامي شرکت د سوداګرۍ او د چارو د اداري لپاره، د انحلال د مودی په ترڅ کې منصوب کړی .

- حالتی که طلب داینین قبلاً منتج به اقامۀ دعوی شده و فیصلۀ محکمه در مورد تادیۀ دین تطبیق نشده و شرکت سهامی قادر به پرداخت دیون نباشد .
- حالتی که شرکت سهامی بطور کتبی اقرار نموده باشد که طلب داینین واجب التأدیه بوده و شرکت سهامی قادر به پرداخت دیون نباشد .
- هرگاه شرکت مورد دعوی قرار گیرد ، انحلال داوطلبانه آن تحت نظارت محکمه صورت می گیرد .

### انتخاب مدیران جهت انحلال و تصفیه

**مادۀ یکصدو هشتم:**

(۱) محکمه می‌تواند در دعوایی که بمنظور انحلال شرکت سهامی اقامه شده باشد ، یك یا بیش از یك مدیر را جهت انحلال و تصفیه یا یك یا بیش از یك متصدی را جهت ادارۀ تجارت و امور شرکت سهامی در خلال میعاد انحلال منصوب نماید .

(۲) د تصفیې مدیر له اشخاصو یا کورني یا بهرني سهامي شرکت څخه ټاکل کېږي چې له انحلال سره له مخامخ شرکت سره رابطه ونلري او له خپل موقف څخه هېڅ ډول ګټه (د معاش او د لګښتونو د مناسب جبران په استثني) لاسته را نه وړي ، پدی صورت کې د هغوی معاش او لګښتونه د شرکت له شتمنۍ یایې د پلورنې له ماحصل څخه ورکول کېږي .

(۳) محکمه د تصفیې د مدیر او د متصدی واک او مکلفیت ( چې وخت په وخت د بدلون وړ وي ) د هغوی د مقررۍ په اړه په خپل حکم کې توضیح کوي ، په دغو حالاتو کې لاندی موارد شامل دی :

- د محکمې په اجازه په ټولو ځایونو کې د عمومي لیلام یا خصوصي پلورنې په ډول د سهامي شرکت د شتمنۍ پلورل یا په نورو ډولونو پرېښودل (واګذاري) .

- په واکمنو محکمو کې د دعوي اقامه او دفع کول .

(۴) متصدی کولای شي د شرکت واکونه د مدیره هیئت له لارې یا یې په عوض تر هغۀ حده چې د

(۲) مدیر تصفیه از اشخاص یا شرکت سهامی داخلی یا خارجی تعیین می‌گردد که با شرکت مواجه به انحلال رابطه نداشته و ازموقف خود هیچگونه نفعی را (به استثنای معاش و جبران مناسب مصارف) بدست نیاورده در این صورت معاش و مصارف آنها از دارایی شرکت یا از ماحصل فروش آن پرداخته می‌شود.

(۳) محکمه صلاحیت و مکلفیت مدیر تصفیه و متصدی را (که وقتاً فوقتاً قابل تغییر می‌باشد) در حکم خود مبنی بر تقرر آنها توضیح می دهد ، این حالات شامل موارد ذیل می‌باشد:

- فروش یا سایر اشکال واگذاری دارایی شرکت سهامی طورلیلام عمومی یا فروش خصوصی، درتمام محلات به استیذان محکمه.

- اقامۀ دعوی و دفع آن در محاکم ذیصلاح .

(۴) متصدی می‌تواند صلاحیت های شرکت را از طریق هیئت مدیره یا بعوض آن تاحدیکه برای

ونډه والو او داینینو د ګټو د ښه تأمینولو په منظور، د سهامي شرکت د چارو اداري ته لازمه وي، اعمال کړي.

**د انحلال قرار**

**یو سلو نهمه ماده:**

محکمه کولای شي د دی قانون د یو سلو اوومې مادی په حکم کې د درج شوو دلایلو د شتون په صورت کې، د سهامي شرکت د انحلال حکم صادر او دهغهٔ داعلان نېټه وټاکي.

محکمه د حکم مصدقه نقل، د مرکزي ثبت دفتر ته د ثبت لپاره استوي.

د انحلال د حکم له ثبت وروسته، محکمه د شرکت د انحلال او دچارو او معاملو د تصفیې د تعمیل تجویز نیسي.

ادارهٔ امور شرکت سهامی به منظور تأمین بهتر منافع سهمداران و دائنین لازم باشد، اعمال نماید.

**قرار انحلال**

**مادهٔ یکصدو نهم:**

محکمه می‌تواند در صورت موجودیت دلایل مندرج حکم مادهٔ یکصد و هفتم این قانون، حکم انحلال شرکت سهامی را صادر و تاریخ اعلان آنرا تعیین نماید.

محکمه نقل مصدقهٔ حکم را جهت ثبت به دفتر ثبت مرکزی ارسال می‌نماید.

بعد از ثبت حکم انحلال، محکمه به تعمیل انحلال و تصفیهٔ امور و معاملات شرکت تجویز اتخاذ می‌نماید.

## پنځلسم فصل
## متفرقه حکمونه

**د دی قانون له انفاذ د مخه جوړ شوی شرکتونه**
**یو سلو لسمه ماده :**
سهامي او محدود المسئولیت شرکتونه چې د دی قانون له انفاذ دمخه ، د سوداګرۍ په قانون کې د درج شوو حکمونو په استناد جوړ یا یې له نورو واکمنو مقامونو څخه د فعالیت جواز اخیستی او هغه یې د سندونو او سوداګریزو نښو په دفتر کې ثبت کړی وي، ددی قانون په نافذېدو سره د یو کال او شپږو میاشتو په موده کې بیا د مرکزي ثبت په دفتر کې ثبت او قانوني موجودیت یې دوام مومي او د دی قانون حکمونه پرې تطبیقېږي .*

**د مقررو او کورنیو قواعدو وضع کول**
**یو سلو یوو لسمه ماده :**
د سوداګرۍ او صنایعو وزارت کولای شي د دی قانون د حکمونو د لاښهٔ تطبیق په منظور ، مقررې وړاندیز او اړوند کورني قواعد

## فصل پانزدهم
## احکام متفرقه

**شرکتهای ایجاد شدهٔ قبل از انفاذ این قانون**
**مادهٔ یکصد و دهم :**
شرکت های سهامی و محدود-المسئولیت که قبل از انفاذ این قانون، به استناد احکام مندرج قانون تجارت ایجاد یا از سایر مراجع ذیصلاح تجارتی جواز فعالیت اخذ و آنرا ثبت دفتر اسناد و علایم تجارتی نموده باشد ، با انفاذ این قانون درخلال یک سال و شش ماه مجدداً دردفترثبت مرکزی ثبت و موجودیت قانونی شان ادامه و احکام این قانون بالای شان تطبیق می گردد.*

**وضع مقرره ها و قواعد داخلی**
**مادهٔ یکصد و یازدهم :**
وزارت تجارت و صنایع می‌تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون مقرره ها را پیشنهاد و قواعد داخلی مربوط را وضع

---

* ماده ۱۱۰ این قانون تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

وضع کړی .

**د مالیاتي وجیبو اداء کول**

**یو سلو دوو لسمه ماده :**

پدی قانون کې درج شوی سهامي شرکتونه او شریکان یې مکلف دی د قانون د حکمونو مطابق خپلې مالیاتي او تأدیاتي وجیبې اداء کړی .

**د جعلي سندونو ثبتول**

**یو سلو دیارلسمه ماده :**

هغه شخص چې په قصد سره جعلي سند لاسلیک او د ثبت لپاره ئې د مرکزي ثبت دفتر ته وړاندی کړی ، د جزاء د قانون دحکمونو مطابق مجازات کېږي .

**د انفاذ نېټه**

**یو سلو څوارلسمه ماده :**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دی خپور شي او په نافذېدو سره یې د ۱۳۳۶ کال د تلې د میاشتې په (۸۹) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د افغانستان د سوداګرۍ په قانون او د ۱۳۵۵/۱۰/۱۵ نېټې په مدني قانون کې درج په سهامي او محدود المسئولیت شرکتونو

نماید.

**ادای وجایب مالیاتی**

**مادۀ یکصد و دوازدهم :**

شرکت های سهامی مندرج این قانون و شرکاء آن مکلف اند طبق احکام قانون وجایب مالیاتی و تادیاتی خویش را اداء نمایند.

**ثبت اسناد جعلی**

**مادۀ یکصد و سیزدهم:**

شخصی که قصداً سند جعلی را امضاء و غرض ثبت به دفتر ثبت مرکزی ارائه نماید ، مطابق احکام قانون جزا مجازات می گردد.

**تاریخ انفاذ**

**مادۀ یکصد و چهاردهم :**

این قانون ازتاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن احکام مربوط به شرکت های سهامی و محدود- المسئولیت مندرج قانون تجارت افغانستان منتشرۀ جریدۀ رسمی (۸۹) میزان سال ۱۳۳۶ و قانون مدنی مؤرخ۱۵/ ۱۰/ ۱۳۵۵ و هرحکمی از احکام قوانین

پـوري اړونـد حکمونـه او هـر هغـه حکم چې د دی قـانون لـه حکمونـو څخه له یوۀ حکم سره متناقض وي، ملغی ګڼل کېږي.

کـه متنـاقض بـا حکمـی از احکـام ایـن قـانون باشـد، ملغـی شـناخته می‌شود.

# تعدیلات قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت

**د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو د قانون د (یو سلو لسمې) مادې د تعدیل په هکله دافغانستان داسلامي جمهوریت درئیس فرمان**

**ګڼه : (۱۳۷)**
**نېټه : ۱۳۸۷/۱۰/۸**

**لومړۍ ماده :**
دافغانستان د اساسي قانون د ثلورشپېتمې مادې د (۱۶) فقرې د حکم له مخې د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو د قانون د (۱۱۰) مادې تعدیل چې د ملي شورې د ولسي جرګې د ۱۳۸۷/۸/۶ نېټې (۱۱۰) ګڼې او د مشرانو جرګې د ۱۳۸۷/۹/۴ نېټې (۹۷) ګڼې مصوبې پربنسټ تصویب شوی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**
دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه نافذ او له مصوبو اود سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو د قانون د (۱۱۰) مادې له تعدیل سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**حامد کرزی**
**دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس**

**فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد تعدیل مادۀ (یکصدودهم) قانون شرکت های سهامی ومحدودالمسئولیت**

**شماره : (۱۳۷)**
**تاریخ : ۱۳۸۷/۱۰/۸**

**مادۀ اول :**
به تأسی ازحکم فقرۀ(۱۶)مادۀ شصت وچهارم قانون اساسی افغانستان، تعدیل مادۀ (۱۱۰) قانون شرکت های سهامی ومحدود المسئولیت راکه به اساس مصوبات شماره (۱۱۰) مؤرخ ۱۳۸۷/۸/۶ ولسی جرگه و شماره (۹۷) مؤرخ ۱۳۸۷/۹/۴ مشرانو جرگه شورای ملی تصویب گردیده، توشیح می دارم.

**مادۀ دوم:**
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ وهمراه با مصوبات و تعدیل مادۀ (۱۱۰) قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت درجریدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**د افغانستان ملي شوري**
**ولسي جرګه**
**د سهامي او محدود المسئولیت**
**شرکتونو د قانون د (یوسلو لسمې)**
**مادې تعدیل**
**مصوبه**

**ګڼه : (۱۱۰)**
**نېټه : ۱۳۸۷/۸/۶**

ولسي جرګې د ۱۳۸۷/۸/۶ نېټې په خپله عمومي غونډه کې د اساسي قانون د اووه نوي يمې مادې د حکم له مخې، د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو دقانون د (یوسلو لسمې) مادې تعدیل، تصویب کړ.

**میرویس یاسینی**
**د ولسي جرګي لمړي نائب**

**شورای ملی افغانستان**
**ولسی جرگه**
**مصوبۀ تعدیل مادۀ (یکصد ودهم)**
**قانون شرکت های سهامی**
**ومحدود**
**المسئولیت**

**شماره : (۱۱۰)**
**تاریخ : ۱۳۸۷/۸/۶**

ولسی جرگه در جلسۀ عمومی مؤرخ ۱۳۸۷/۸/۶ خویش به تأسی ازحکم مادۀ نود وهفتم قانون اساسی تعدیل مادۀ (یکصد ودهم) قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت را تصویب نمود.

**میرویس یاسینی**
**نائب اول ولسی جرگه**

**د افغانستان ملي شوري**
**مشرانو جرگه**
**دارالانشاء**
**د مشرانو جرگې مصوبه**
**د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو د قانون د (۱۱۰) مادې د تعدیل په هکله**

**گڼه : (۹۷)**
**نېټه : ۱۳۸۷/۹/۴**

مشرانو جرگې د ۱۳۸۷/۹/۴ نېټې په خپله عمومی غونډه کې د افغانستان د اساسي قانون د اووه نوي یمې مادې د حکم له مخې، دسهامي او محدود المسئولیت شرکتونو د قانون د (یوسلو لسمې) مادې تعدیل، تصویب کړ.

**پروفیسور حضرت صبغت الله مجددی**
**د مشرانو جرگې رئیس**

**شورای ملی افغانستان**
**مشرانو جرگه**
**دارالانشاء**
**مصوبهٔ مشرانو جرگه**
**درمورد تعدیل مادهٔ (۱۱۰) قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت**

**شماره : (۹۷)**
**تاریخ: ۱۳۸۷/۹/۴**

به تأسی از حکم مادهٔ نود وهفتم قانون اساسی افغانستان، تعدیل مادهٔ (۱۱۰) قانون شرکت های سهامی و محدالمسئولیت در جلسهٔ عمومی مؤرخ ۱۳۸۷/۹/۴ تصویب گردید.

**پروفیسور حضرت صبغت الله مجد د ی**
**رئیس مشرانو جرگه**

## د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو د قانون د یو سلو لسمې مادې تعدیل

**لومړۍ ماده:**
د سهامي او محدودالمسئولیت شرکتونو د قانون د یو سلو لسمې مادې متن دې په لاندې ډول تعدیل شي:

**یوسلو لسمه ماده:**
سهامي او محدودالمسؤلیت شرکتونه چې ددې قانون له نافذېدو دمخه، د سوداګرۍ په قانون کې د درج شوو حکمونو په استناد جوړ یا یې له نورو سوداګریزو واکمنو مراجعو څخه د فعالیت جواز اخیستی او هغه یې د سندونو او سوداګریزو علایمو په دفتر کې ثبت کړی وي، ددې قانون په نافذېدو سره د دوو کلونو او شپږو میاشتو په ترڅ کې بیا د مرکزي ثبت په دفتر کې ثبت او خپل قانوني موجودیت ته دې دوام ورکړي او ددې قانون حکمونه وربانديې تطبیقېږي.

## تعدیل مادۀ یکصد ودهم قانون شرکت های سهامی ومحدودالمسئولیت

**مادۀ اول:**
مادۀ یکصد ودهم قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت به متن ذیل تعدیل گردد:

**مادۀ یکصد و دهم:**
شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت که قبل از انفاذ این قانون، به استناد احکام مندرج قانون تجارت ایجاد یا از سایر مراجع ذیصلاح تجارتی جواز فعالیت اخذ و آنرا ثبت دفتر اسناد و علایم تجارتی نموده باشد، با انفاذ این قانون در خلال دو سال و شش ماه مجدداً در دفتر ثبت مرکزی ثبت و موجودیت قانونی شان ادامه و احکام این قانون بالای شان تطبیق می گردد.

**دوه یمه ماده:**
دغه تعدیل د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي او په نافذېدو سره یې د ۱۳۸۷ کال په (**۹۵۴**) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی، د سهامي اومحدودالمسئولیت شرکتونو د قانون د یوسلو لسمې مادې تعدیل لغو ګڼل کېږي.

**مادۀ دوم:**
این تعدیل از تاریخ توشیح نافذ ودر جریدۀ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن تعدیل مادۀ یکصدودهم قانون شرکت های سهامی و محدودالمسئولیت منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (**۹۵۴**) سال ۱۳۸۷ ملغیٰ شمرده می شود.

# قانون شرکتهای  تضامنی

**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**گڼه: (۱۷۹۳۰)**

**نېټه: ۱۳۸۵/۱۱/۲۸**

**د عدلیې وزیر محترم سرور دانش:**

د تضامني شرکتونو قانون چې د وزیرانو د شوري د ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ نېټې (۳۵) گڼې مصوبې پر بنسټ، په (۷) فصلونو او (۱۸۴) مادوکې تصویب شوی دی او زموږ لخوا د ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ نېټې (۹۹) گڼې تقنیني فرمان په توگه توشیح شوی دی، تاسو ته در واستول شو، څو یې په رسمي جریده کې په خپرولو اقدام وکړی.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**شماره: (۱۷۹۳۰)**

**تاریخ: ۱۳۸۵/۱۱/۲۸**

**محترم سرور دانش وزیر عدلیه:**

قانون شرکت های تضامنی را که به اساس مصوبهٔ شماره (۳۵) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ شورای وزیران بداخل (۷) فصل و (۱۸۴) ماده تصویب گردیده و از جانب ما بحیث فرمان تقنینی شماره (۹۹) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ توشیح گردیده است به شما ارسال شد تا به نشر آن در جریدهٔ رسمی اقدام نمائید.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د تضامني شرکتونو د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

**ګڼه: (۹۹)**

**نېټه: ۱۳۸۵/۱۰/۲۷**

**لومړۍ ماده:**
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د (۷۹) مادې د حکم له مخې د تضامني شرکتونو قانون چې د وزیرانو د شورى د ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ نېټې (۳۵) ګڼې مصوبې پر بنسټ په (۷) فصلونو او (۱۸۴) مادو کې تصویب شوی دی، د تقنیني فرمان په توګه توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**
د ۱,۱.ج د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه قانون د ملي شورې د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترځ کې ملي شورې ته وړاندې کړي.

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح قانون شرکتهای تضامنی

**شماره: (۹۹)**

**تاریخ: ۱۳۸۵/۱۰/۲۷**

**مادۀ اول:**
به تأسی از حکم مادۀ (۷۹) قانون اساسی افغانستان قانون شرکت های تضامنی را که به اساس مصوبۀ شمارۀ (۳۵) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ شورای وزیران بداخل (۷) فصل و (۱۸۴) ماده تصویب گردیده است، به حیث فرمان تقنینی توشیح می‌دارم.

**مادۀ دوم:**
وزیر عدلیه ج.۱,۱ و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند ،این قانون را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی به شورای ملی تقدیم نمایند.

**درېيمه ماده:**
دغــه تقنینــي فرمــان د توشــېح لــه نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**مادهٔ سوم:**
این فرمان تقنینی از تاریخ توشیح نافــذ و در جریــدهٔ رســمی نــشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د تضامني شرکتونو قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د حکمونو په رڼا کې د تضامني شرکتونو په فعالیت او د جوړولو په ځرنګوالی پورې د اړوندو چارو د تنظیم په منظور وضع شوی دی.

**د شرکت تعریف**

**دوه یمه ماده:**

تضامني شرکت د دوو یا له دوو څخه د زیاتو اشخاصو یووالی دی چې د شراکت د عقد پر بنسټ د ګډو مالکانو په توګه، د ګټې د لاسته راوړلو په منظور جوړ او فعالیت کوي.

**د شرکتونو ډولونه**

**دریمه ماده:**

شرکتونه لاندې ډولونه لري:

۱- عام تضامني شرکت.
۲- خاص تضامني شرکت.

## قانون شرکت های تضامنی
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون در روشنی احکام قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم امور مربوط به فعالیت وطرز ایجاد شرکت های تضامنی وضع گردیده است.

**تعریف شرکت**

**مادۀ دوم:**

شرکت اتحاد دو یا بیش از دو شخص است که به اساس عقد شراکت به حیث مالکین مشترك، به منظور کسب مفاد ایجاد و فعالیت می نماید.

**انواع شرکت ها**

**مادۀ سوم:**

شرکت ها دارای انواع ذیل می باشد:

۱-شرکت تضامنی عام.
۲-شرکت تضامنی خاص.

۳- د کار تضامني شرکت.
۴- په اعتبار شرکت.

**د شراکت عقد**

**څلورمه ماده:**

د شراکت عقد د شریکانو تر منځ توافق دی، څه لیکلی وي یا شفاهي او ضمني په هغهٔ کې د راتلونکو تعدیلاتو په شمول.

دغه عقد د ثالثو اشخاصو پر حقوقو باندی اغېزه نلري، خو دا چې ثالث شخص له هغه دمخه ، له شرکت سره د سوداګریزې معاملې له اجراء څخه خبروي.

**د مقاولو عقدول**

**پنځمه ماده:**

تضامني شرکت حکمي شخصیت دی، کولای شي مقاولې په خپل نامهٔ عقد او معاملې سرته ورسوي او منقول او غیر منقول مالونه د شرکت په نوم په واک (حیازت) کې ولري.

**د شرکت شتمني**

**شپږمه ماده:**

د جوړېدو حق کرایه، نوم، عنوان، اختراع، سوداګریزه نښه (علامه) هغه رسمونه او مودلونه کوم چې د

۳-شرکت تضامنی کار.
۴- شرکت به اعتبار.

**عقد شراکت**

**مادهٔ چهارم:**

عقد شراکت توافق است میان شرکاء در مورد شرکت چه تحریری باشد یا شفاهی و ضمنی بشمول تعدیلات بعدی در آن.

این عقد تأثیری بالای حقوق اشخاص ثالث ندارد ، مگر اینکه شخص ثالث قبل از آن از اجرای معامله با شرکت آگاه باشد.

**عقد مقاولات**

**مادهٔ پنجم:**

شرکت تضامنی شخصیت حکمی بوده، می‌تواند مقاولات را بنام خود عقد ومعاملات را انجام داده و اموال منقول و غیر منقول را بنام شرکت درحیازت داشته باشد.

**دارائی شرکت**

**مادهٔ ششم:**

حق تأسیس، کرایه، اسم، عنوان، اختراع، علامت تجارتی، رسم و مودل ها

سوداګريزو او صنعتي خدمتونو د سرته رسولو لپاره تر ګټې اخستنې لاندې نيول کېږي، کېدی شي د شرکت شتمني وګڼل شي او د ملکيت سنديې دشرکت په نامه‌وي.

**د پانګې ورکړه**

**اوومه ماده:**

په تضامني شرکتونو کې د پانګې ونډه، په لاندې ډولونو ورکول کېدی شي:

۱- مادی منقول مالونه (نغدی پيسې، شيان او څاروي).

۲- مادی غير منقول مالونه (د امتياز حق، د اختراع حق، سوداګريزې او صنعتي نښې اعتبار او سوداګريز نيک شهرت).

۳- غير منقول مالونه (د عقاري ملکيت په شمول).

۴- له منقولو او غير منقولو مالونو څخه د استفادی د حق ګټې او امتياز.

۵- توليدی محصولات او پروسس.

۶- سوداګريز اعتبار او ښه شهرت.

۷- هغه خدمتونه چې په تضامني شرکت کې سرته رسېدلي يا رسېږي.

که جهت انجام خدمات تجارتی و صنعتی مورد استفاده قرار می‌گیرد، می‌تواند دارایی شرکت محسوب گردد و سند ملکیت آن بنام شرکت باشد.

**پرداخت سرمایه**

**مادهٔ هفتم:**

سهم سرمایه در شرکتهای تضامنی به اشکال ذیل پرداخته شده می‌تواند:

۱- اموال منقول مادی (پول نقد، اشیاء و حیوانات).

۲-اموال منقول غیر مادی (حق امتیاز،حق اختراع، علامات تجارتی وصنعتی و اعتبار وحسن شهرت تجارتی).

۳- اموال غیر منقول (بشمول ملکیت عقاری).

۴-منافع و امتیاز حق استفاده از اموال منقول و غیر منقول.

۵- محصولات تولیدی و پروسس.

۶- اعتبار تجارتی و حسن شهرت.

۷-خدمات که در شرکت تضامنی انجام شده یا می‌شود.

**د پانګې ورکړه او په هغې کې ځنډ**

**اتمه ماده:**

هر شریک ترهغۀ وخته پورې چې خپله ژمنه شوې پانګه شرکت ته ورنکړي، د تضامني شرکت په وړاندې پور وړی(مدیون) او مسئول دی او په ژمنه کې له ټاکل شوې نېټې څخه د پانګې د ټکتانې په ورکولو مکلف دی او په هغۀ صورت کې چې د پانګې په ورکړه کې ځنډ، د تضامني شرکت په زیان تمام شي، شریک مکلف دی اوښتی زیان تضامني شرکت ته ورکړي.

**د شتمنۍ د بیې ټاکل**

**نهمه ماده:**

د هغې شتمنۍ بیه چې د پانګې په توګه منل کېږي، د ثالث شخص د دین په شمول د شراکت په عقد کې ټاکل کېږي. د بیې د نه ټاکلو په صورت کې، د شیانو د ورکړې د ورځې نرخ یا جاري بورس معتبر دی. که چېرې داسې شیان په بورس او بازار کې جاریه بیه و نلري یا په هغۀ ورځ نرخ معلوم نه وي، هغه بیه چې د اهل خبره وو لخوا ټاکل کېږي شریکانو ته

**پرداخت سرمایه وتأخیر درآن**

**مادۀ هشتم:**

هرشریك تا زمانی که سرمایۀ تعهد شدۀ خود را بشرکت نپردازد، در مقابل شرکت تضامنی مدیون و مسئوول بوده و مکلف به پرداخت تکتانه سرمایه از تاریخ تعیین شدۀ تعهد می باشد ودر صورتی‌که تأخیر درپرداخت سرمایه منجربه خسارۀ شرکت تضامنی گردد، شریك مکلف است خسارۀ وارده را به شرکت تضامنی بپردازد.

**تعیین قیمت دارائی**

**مادۀ نهم:**

قیمت دارایی که بحیث سرمایه پذیرفته می‌شود، بشمول دین شخص ثالث، در عقد شراکت تعیین می‌گردد. در صورت عدم تعیین قیمت، نرخ روز دادن اشیأ یا بورس جاری معتبر می‌باشد. هرگاه چنین اشیاء در بورس و بازار قیمت جاریه نداشته باشد یا نرخ در آن روز معلوم نباشد قیمت که از طرف اهل خبره تعیین می‌گردد، نزد شرکاء معتبر شمرده

معتبره ګڼل کېږي.

**د ملکیت لېږدېدل**

**لسمه ماده:**

د هغو مالونو ملکیت چې د پانګې په توګه منل کېږي، په هغهٔ صورت کې چې پر خلاف یې د شراکت په عقد کې حکم موجود نه وي، په شرکت پورې اړه پیدا کوي.

**د شرکت له چارو څخه څارنه**

**یوولسمه ماده:**

هر شریک مکلف دی د شرکت له چارو څخه لکه د خپلو شخصي معاملو په څېر څارنه وکړي.

**په دنده کې ناغېړي (غفلت)**

**دوولسمه ماده:**

هر شریک د شرکت په وړاندې د هغو زیانونو مسئول دی چې د اهمال، تقصیر یا له خپل وظیفوي واک څخه د عدول له امله یې شرکت ته ور اړولي وي. دغسې شریک نشي کولای، شرکت ته د اووښتي زیان له جبران څخه پدې دلیل چې په کوم بل مورد کې ګټورو، ځان خلاص کړي.شریکان کولای شي، د موافقې پر بنسټ، شرکت ته د اووښتي زیان په

می شود.

**انتقال ملکیت**

**مادهٔ دهم:**

ملکیت اموالیکه بصورت سرمایه پذیرفته می‌شود ،درصورتیکه خلاف آن درعقد شراکت حکمی موجود نباشد، به شرکت تعلق می‌گیرد.

**مراقبت از امور شرکت**

**مادهٔ یازدهم:**

هر شریك مکلف است از امور شرکت مثل معاملات شخصی خود مراقبت نماید.

**غفلت در وظیفه**

**مادهٔ دوازدهم:**

هر شریك در برابر شرکت مسئول خساراتی بوده که بالاثر اهمال، تقصیر و یا عدول از صلاحیت وظیفوی خویش به شرکت وارد نموده باشد. چنین شریك نمی‌تواند خود را از جبران خساره به شرکت به این دلیل نجات دهد که در کدام مورد دیگری مفید بوده است، شرکاء می‌توانند بنابر موافقه، در مقابل خسارهٔ وارده به

ورانـدی، د ټولـو غـړو يـا مـشخص شريک غفلت تـه پـه کتنې سره، يـو بل تر هغو حدودو پورې چې د دوی پـه خپلـو حقوقـو پـورې اړه ولـري، بري الذمه او مصؤن و ګڼي.

**د شريکانو د اجرت غوښتنه**

**ديارلسمه ماده:**

لـه شـريکانو څخـه هـېڅ يـو د خپـل کار له امله له شرکت څخه د اجرت د غوښتنې حق نلري، خو دا چې د شـراکت پــه عقــد کــې د اجــرت اخستل څرګند (تصريح) شوی وي.

**لـه ګټې څخـه د فـيصدۍ پـه توګـه اجرت**

**څوارلسمه ماده:**

هغه اجرت چې د شرکت مـامورينو او مستخدمينو ته د دوی د خدمت په وړاندې ورکول کېږي، که د هغـهٔ ورکول قسماً يا کلاً پـه ګټـه کې د ګــډون پــه ډول تاکــل شــوی وي، دغـه وضـعيت هغـوی تـه د شـريک صفت نه ورکوي.

**د هر شريک ګټه او ضرر**

**پنځلسمه ماده:**

که چېرې د ګټې او ضرر د وېشلو ډول د شــراکت پــه قــرارداد کــې

شرکت نظر به اهمال کلیه اعضاء و یا شریك مشخص، همدیگر را تا حدودیکـه بـه حقـوق خودشـان مربـوط باشـد، بـری الذمـه و مصؤن بدانند.

**مطالبهٔ اجرت شرکاء**

**مادهٔ سیزدهم:**

هیچ یك از شرکا نسبت کار خود از شـرکت حـق طلـب اجـرت را نـدارد، مگـر اینکـه در عقـد شـراکت، اخـذ اجـرت تصریح شده باشد.

**اجـرت بـه حیـث فیـصدی از مفاد**

**مادهٔ چهاردهم:**

اجرتـی کـه بـه مـامورین و مـستخدمین شـرکت درمقابـل خدمت ایشان پرداختـه مـی‌شـود، اگر تأدیه آن قسماً و کلاً بصورت اشتراك در نفع تعیین شده باشد، این وضعیت بـه آنهاصفت شریك را نمی دهد.

**نفع وضرر هر شریك**

**مادهٔپانزدهم:**

هرگـاه طـرز تقـسیم نفـع و ضـرر در قـرارداد تـصریح

تصریح شوی نه وي، د هر شریک گټه او ضرر د پانگې د برخې په تناسب چې شرکت ته یې ورکړې، وېشل کېږي.

**د گټې او ضرر وېشل**
**شپاړسمه ماده:**
که چېرې د شراکت په عقد کې یوازې د گټې وېشل تصریح او د ضرر د وېشلو ډول اټکل شوی نه وي، ضرر د گټې په ډول وېشل کېږي او په هغه صورت کې چې د ضرر وېشل تصریح او د گټې د وېشلو ډول اټکل شوی نه وي، گټه هم د ضرر په ډول وېشل کېږي.

**په عقد پورې د مقیدې گټې ورکړه**
**اوولسمه ماده:**
که چېرې د شریکانو او ثالثو اشخاصو تر منځ عقد، لاسته راغلې گټه په یوه شریک یا په څو شریکانو پورې مقیده کړي یا که یو شریک یا څو شریکان له زیان څخه مستثنيٰ کړي دغه ډول عقد د اعتبار وړ ندی پداسې حالت کې د وېش بڼه مجهوله گڼله کېږي، گټه او ضرر ددی قانون د دیارلسمې او څوارلسمې مادی د حکم په موجب د شریکانو تر منځ

نشده باشد، نفع و ضرر هر شریك به تناسب حصۀ سرمایۀ که به شرکت پرداخته، تقسیم می‌شود.

**تقسیم نفع وضرر**
**مادۀ شانزدهم:**
هرگاه درعقد شراکت صرف صورت تقسیم نفع تصریح وطرز تقسیم ضرر پیشبینی نشده باشد ضرر مانند نفع تقسیم می‌شود و درصورتی‌که تقسیم ضرر تصریح وصورت تقسیم نفع، پیشبینی نشده باشد، نفع نیز مانند ضرر تقسیم می‌شود.

**پرداخت نفع مقید به عقد**
**مادۀ هفدهم:**
هرگاه عقدی میان شرکاء و اشخاص ثالث، نفع عایده را مقید به یك شریك یا تعدادی از شرکاء نماید و یا اگر یك شریك یا تعدادی از شرکاء را از خساره مستثنی قرار دهد، چنین عقدی مدار اعتبار نمی‌باشد. در چنین حالت صورت تقسیم، مجهول شمرده شده، نفع و ضرر به موجب حکم مادۀ سیزدهم وچهاردهم این قانون بین شرکاء تقسیم می‌گردد.

وېشل کېږي. يوازې د هغهٔ شريک په هکله چې خپل هاند او قوت يې د پانگې په توگه د شرکت په واک کې ورکړی او د شراکت د ليکلي عقد په موجب، په زيان کې برخوال نه وي، دغه شرط معتبر دی.

**د شرط مرجح گڼل**

**اتلسمه ماده:**

په هغهٔ صورت کې چې د شراکت قرارداد وجود و نلري، هر شريک د خپلې ونډې په تناسب د شرکت د شتمنۍ په تمليک کې برخوال دی او د شراکت په گټه او ضرر کې شريک دی. که چېرې د شراکت په قرارداد کې د شتمنۍ او پانگې د تمليک او د شرکت د گټې او ضرر په هکله حکم اټکل شوی وي، دغه حکم تطبيقېږي.

**دوه يم فصل**

**د شرکتونو ډولونه**

**د فعاليت دوام**

**نولسمه ماده:**

که چېرې يو تضامني شرکت د خپلې ټاکلې مودی له پايته رسېدو وروسته، فعاليت ته دوام ورکړي، موده يې غير محدوده

تنها راجع به شریکی که مساعی و نیروی خود را بحیث سرمایه به دسترس شرکت قرار داده و بموجب عقد کتبی شراکت در خسارهٔ شرکت سهیم نباشد، این شرط معتبر است.

**مرجح دانستن شرط**

**مادهٔ هجدهم:**

در صورتی‌که قرارداد شراکت وجود نداشته باشد، هر شريك به تناسب سهم خویش در تملیك دارائی شرکت سهیم بوده و در مفاد و ضرر شراکت، شريك می‌باشد. هرگاه در قرارداد شراکت حکمی در مورد تملیك دارائی و سرمایه، تقسیم مفاد و ضرر شرکت پیشبینی گردیده باشد این حکم تطبیق می‌شود.

**فصل دوم**

**انواع شرکت ها**

**دوام فعالیت**

**مادهٔ نزدهم:**

هرگاه يك شرکت تضامنی بعد از اختتام موعد معینه خود به فعالیت ادامه دهد مدت آن غیرمحدود تلقی

ګڼل کېږي.

**د حکمي شخصیت بشپړېدل**

**شلمه ماده:**

د شرکت حکمي شخصیت د شرکت د مالکانو په توګه د دوو یا له دوو څخه د زیاتو اشخاصو له یو کېدو سره سم پیل او د مرکزي ثبت په دفتر کې له ثبت وروسته بشپړېږي، که چېرې شرکت د ثبت په مرکزي دفتر کې له ثبت دمخه معامله سرته رسوي مسئول ګڼل کېږي. پدې صورت کې نشي کولای خپل حقوق پر نورو تعمیل کړي، خو دا چې د مرکزي ثبت دفتر ته اعلان شوی وي.

**عام تضامني شرکت**

**یو ویشتمه ماده:**

عام تضامني شرکت هغهٔ شرکت دی چې په تضامني مسئولیت سره د دوو یا له دوو څخه د زیاتو اشخاصو تر منځ د اقتصادی او سوداګریزو معاملو د سرته رسولو لپاره، جوړېږي.

په هغهٔ صورت کې چې د عام تضامني شرکت شتمني د شرکت د ټولو دیونو د ورکولو لپاره کافي نه وي، له شریکانو څخه هر یو د عام تضامني شرکت د ټولو دیونو د

می گردد.

**تکمیل شخصیت حکمی**

**مادهٔ بیستم:**

شخصیت حکمی شرکت به مجرد اتحاد دو یا بیش از دوشخص به حیث مالکین شرکت آغاز و بعد از ثبت بدفتر ثبت مرکزی تکمیل می گردد. هرگاه شرکت قبل از ثبت به دفتر ثبت مرکزی معامله را انجام می‌دهد مسئول شناخته می‌شود دراین صورت نمی‌تواند حقوق خود را به دیگران تعمیل نماید، مگراینکه به دفتر ثبت مرکزی اعلان شده باشد.

**شرکت تضامنی عام**

**مادهٔ بیست ویکم:**

شرکت تضامنی عام شرکتی است که برای انجام معاملات اقتصادی وتجارتی بین دو یا بیش از دو شخص با مسئوولیت تضامنی ایجاد می‌شود.

درصورتی که دارائی شرکت تضامنی عام برای تأدیه تمام دیون شرکت کافی نباشد، هریك از شرکاء مسئول پرداخت تمام دیون شرکت تضامنی عام بوده و

ورکولو مسئول دی او هغه شریک یا شریکان چې دغسي پورونه ورکوي، حق لري له خپلې ونډې څخه زیات ورکړل شوی مبالغ له نورو شریکانو څخه و غواړي.

**خاص تضامني شرکت**

**دوه ویشتمه ماده:**

خاص تضامني شرکت هغه شرکت دی چې تر مشخص نامه لاندی ددی قانون د حکمونو مطابق د اقتصادی او سوداګریزو معاملو د سرته رسولو لپاره جوړېږي او په هغهٔ کې یو شریک یا له یوهٔ زیات د غیر محدود مسئولیت لرونکی (عام شریکان) او پاتې شریکان په یوې ټاکلې پانګې سره (خاص شریکان) محدود مسئولیت لري. د هغو شریکانو پانګه چې محدود مسئولیت لري، په ونډو وېشل کېدی شي.

**د کار تضامني شرکت**

**درویشتمه ماده:**

د کار تضامني شرکت، د دوو یا له دوو څخه د زیاتو اشخاصو یو کېدل دی چې د بل شخص لپاره کار سرته ورسوي یا ژمنه ترسره کړي. د شرکت د کار ګټه د دوی تر

شریك یا شرکایی که چنین قروض را میپردازند، حق دارند مبالغ پرداخت شده اضافه از سهم خود از سایر شرکاء مطالبه نماید.

**شرکت تضامنی خاص**

**مادهٔ بیست ودوم:**

شرکت تضامنی خاص شرکتی است که تحت عنوان مشخص مطابق احکام این قانون جهت انجام معاملات اقتصادی وتجارتی ایجاد می شود و در آن یك شریك یا بیشتر از آن دارای مسئولیت غیر محدود (شرکای عام) و بقیه شرکاء با یك سرمایهٔ معین (شرکای خاص) مسئولیت محدود دارند. سرمایهٔ شرکای که مسئولیت محدود دارند، به سهام تقسیم شده می تواند.

**شرکت تضامنی کار**

**مادهٔ بیست و سوم:**

شرکت تضامنی کار، اتحاد دو یا بیش از دوشخص است که برای شخص دیگر کاری را انجام یا تعهدی را ایفا کنند. مفاد کارشرکت بین شان

منځ د شریکانو د موافقې مطابق وویشل شي.

**په اعتبار شرکت**
**څلېریشتمه ماده:**
په اعتبار شرکت، هغه شرکت دی چې په هغه کې دوه یا له دوو څخه زیات اشخاص د اعتبار پر بنسټ په پور (نسیه) توګه د مال په پېرودلو داسې موافقه وکړي چې مال وپلوري د شرکت په ګټه او زیان کې شریک وي او شریکان هر یو د خپلې ټاکلې برخې په اندازه، مسئول دی.

**د شراکت د عقد شرطونه**
**پنځه ویشتمه ماده:**
(۱) شرکتونه ( د عامو او خاصو تضامني شرکتونو په شمول) مکلف دي د شراکت د قرارداد لاندې شرطونه په هغه لیکلي سند کې چې د لیکلي الزامي سند په نوم یادیږي، ثبت کړي:
۱- د قرارداد د عقد نېټه.
۲- د شریکانو د هر یوه نوم، شهرت، آدرس او که کوم بل شرکت د شریک په توګه په شرکت کې داخل شوی وي، د نوموړي شرکت عنوان.

طبق موافقت شرکاء تقسیم گردد.

**شرکت به اعتبار**
**مادۀ بیست و چهارم:**
شرکت به اعتبار، شرکتی است که درآن دو یا بیش از دوشخص به اساس اعتبار به خرید مال بصورت نسیه طوری موافقه نمایند که مال را فروخته، در مفاد و خسارۀ شرکت سهیم می‌باشند و شرکاء هرکدام به اندازۀ حصۀ معین خود مسئول می‌باشند.

**شرایط عقد شراکت**
**مادۀ بیست وپنجم:**
(۱) شرکت ها (بشمول شرکت های تضامنی عام و خاص) مکلف اند شرایط آتی قرارداد شراکت را در سند کتبی ایکه بنام سند تحریری الزامی یاد می‌شود، ثبت نماید:
۱-تاریخ عقد قرارداد.
۲-اسم، شهرت و آدرس هر یك از شرکاء و اگر شرکت دیگری بحیث شریك در شرکت داخل شده باشد، عنوان شرکت مذکور.

۳- د شـرکت معـاملاتي مرکـز او د فعالیت ډول یې.
۴- د شرکت د تضامني توب ډول.
۵- د شرکت عنوان.
۶- د هغو شریکانو نومونه چې منفرداً یـا پـه ګـډه سـره د شـرکت پـه نامـهٔ د قـانوني تـصرفاتو د واک لرونکـی وي، ددی پـه تـصریح کېدو سره چې منفـرداً یا په ګډه د لاسلیک واک لري.
۷- د هغـې پـانګې برخـه چـې هـر شریک ژمنـه کړېده او د غیـر نقـدی پانګې د برخې تخمیني بیې د هغې طریقې په څرګندولو سره چې دغـې تخمیني بیې صورت موندلی دی.
۸- په ګټه او ضرر کې د هـر شـریک د ګډون برخه.
۹- په هغهٔ صورت کې چې عـام یـا خاص تضامني شرکت د محدود وخت لپاره وي، د هغهٔ د تېرېدو نېټه.
(۲) ددی مـادی پـه (۱) فقـره کـې پـر درج شــوو شــرطونو برســېره، شـریکان کـولای شـي د شـراکت د قرارداد نورې مادی چې ګټورې یې وګڼي، په لیکلي الزامي سند کې درج کړي.

۳-مرکـز معـاملاتی شـرکت و نـوع فعالیت آن.
۴-نوعیت تضامنی شرکت.
۵-عنوان شرکت.
۶-اســـامی شـــرکائیکه بنـــام شـــرکت منفـــرداً یـــا مـــشترکاً حایز صلاحیت تصرفات قـانونی، با تصریح اینکه منفرداً یا مشترکاً صلاحیت امضأ را دارند.
۷-حصهٔ سرمایهٔ را کـه هـر شـریك تعهد کرده و قیمت هـای تخمینـی قـسمت سـرمایهٔ غیـر نقـدی بـا توضـیح طریقـهٔ کـه ایـن قیمـت تخمینی صورت گرفته است.
۸-حصهٔ اشتراك هر شریك در نفـع و ضرر.
۹- در صورتی‌که شرکت تـضامنی عـام یـا خـاص بـرای مـدت محـدود باشد، تاریخ انقضای آن.
(۲) عـلاوه بـر شـرایط منـدرج فقـرهٔ (۱) ایـن مـاده، شـرکاء مـی تواننـد ســایر مــواد قــرارداد شــراکت را کـه مفیـد بداننـد، در سـند کتبـی الزامـی درج نماید.

**د تضامني شرکت د دوام موده**

**شپږویشتمه ماده:**

تضامني شرکت کولای شي د محدودی یا غیر محدودی مودی لپاره دوام وومومي.

په هغهٔ صورت کې چې د شراکت عقد محدود وخت مشخص کړی نه وي، د دوام موده یې غیر محدوده ګڼل کېږي.

**ثبت**

**اووه ویشتمه ماده:**

ثبت، د مرکزي ثبت په دفتر کې، له ثبتېدو څخه عبارت دی. د ثبت مرکزي دفتر ددی قانون په مفهوم هغه اداره ده چې د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت په چوکاټ کې په شرکتونو پورې اړوند سندونه پکې ثبتېږي.

**محکمه**

**اته ویشتمه ماده:**

محکمه د افغانستان له سوداګریزې واکمنې محکمې څخه عبارت ده.

**مدت دوام شرکت تضامنی**

**مادهٔ بیست وششم:**

شرکت تضامنی می‌تواند برای مدت محدود یا غیر محدود استمرار یابد.

در صورتیکه عقد شراکت مدت محدود را مشخص نکرده باشد، مدت دوام آن غیر محدود پنداشته می‌شود.

**ثبت**

**مادهٔ بیست وهفتم:**

ثبت عبارت از ثبت در دفتر ثبت مرکزی می‌باشد. دفترثبت مرکزی به مفهوم این قانون اداره ای است که در چوکات وزارت تجارت وصنایع اسناد مربوط به شرکت ها در آن ثبت می گردد.

**محکمه**

**مادهٔ بیست وهشتم:**

محکمه عبارت از محکمهٔ ذیصلاح تجارتی افغانستان می باشد.

## درېيم فصل
## په شراکت پورې اړوندي بنسټيزې موضوعګانې

**ددی قــانون د حکمونــو د تطبيــق حدود**

**نهه ويشتمه ماده:**

ددی فصل حکمونه پدی قانون کې پر درج شوو ټولو شرکتونو باندی د تطبيــق وړ دی، خــو دا چــې ددی قانون د څلورم،پنځم او شپږم فصل پــه حکمونــو کــې د هغــو پــر خــلاف تــصريح شوی وي، پــه هغــهٔ صورت کې خاص حکم ارجحيت لري.

**د مال اتلاف**

**ديرشمه ماده:**

شريکان يو د بل په وړاندی د امــين صــفت لــري او د شــرکت مــال لــه شريک سره د امانت حکم لري.
په هغهٔ صورت کې چې مال دشريک له تقصير يا تېري پرتــه تلف شي، نومــوړی شــريک مــسئول نــه ګڼــل کېږي، خو که چېرې مال د شريک د قــصور يــا تېــري لــه املــه تلــف شــي، پــدی صــورت کــې شــريک مسئول ګڼل کېږي.

## فصل سوم
## موضوعات اساسی مربوط به شراکت

**حــــدود تطبيــــق احکـــــام اين قانون**

**مادهٔ بيست ونهم:**

احکــام ايــن فــصل بــالای تمــام شرکت های مندرج اين قانون قابل تطبيــق مــیباشــد ، مگــر اينکــه در احکام فصول چهارم، پنجم وششم ايــن قــانون بــرخلاف آن تــصريح شــده باشــد ، در آن صــورت حکــم خاص ارجحيت دارد .

**اتلاف مال**

**مادهٔ سی ام:**

شــرکاء درمقابــل يکــديگر صــفت امين را داشته ومال شرکت در نزد شريك حکم امانت را دارد .
درصورتیکه مــال بــدون تقــصيريا تجــاوز شــريك تلــف شــود ، شــريك مذکور مسئول شناخته نمی شود ، ولــی هرگــاه مــال دراثــر قــصور يــا تجــاوز شــريك تلــف گــردد ، درآن صــورت شــريك مــسئول شــناخته میشود .

**د ونډې نه ورکول**

**یو دیرشمه ماده:**

که چېرې له شریکانو څخه دیوهٔ ونډه نغدی پیسې وي او هغه ورنکړی، دنه ورکړی له نېټې څخه پرته له دی چې قضايي غوښتنې یا ابلاغ صورت موندلی وي شرکت ته د هغې د قانوني ربح په ورکړه اود رسېدلي زیان په جبران مکلف دی.

**معادله ورکړه**

**دوه دیرشمه ماده:**

که چېرې شریک، له نغدو پیسو پرته د ټاکلي مال ونډه ورنکړی، د یادی شوې ونډې چې نده ورکړل شوې د هماغې برخې د بها معادل پیسو د په ورکولو مکلف دی.

**په عقد کې د کړنې (عمل) ژمنه**

**دري دیرشمه ماده:**

(۱) که چېرې د شریک ونډه عمل یا د (خدمتونو) سرته رسول وي شریک مکلف دی ټول هغه خدمتونه چې ژمنه یې کړې سرته ورسوي یا ددغو خدمتونو معادل بیه ورکړی.

(۲) د عمل ونډه د هغو خدمتونو په سرته رسېدو سره چې شریک ورته ژمن دی، بشپړېږي. پدی صورت

**عدم تأدیه سهم**

**مادهٔ سی ویکم:**

هرگاه سهم یکی از شرکا پول نقد بوده و آنرا تأدیه نکند ،مکلف به پرداخت ربح قانونی آن بدون اینکه مطالبهٔ قضایی یا ابلاغ صورت گرفته باشد وجبران خساره وارده به شرکت از تاریخ عدم پرداخت آن می‌باشد.

**پرداخت معادل**

**مادهٔ سی ودوم:**

هرگاه شریك، سهمیهٔ معینهٔ مال بغیر از پول نقد را نپردازد، مکلف به تأدیه پول معادل همان قسمت بهای سهمیهٔ ذکرشده می‌باشد که پرداخت نشده است.

**تعهد عمل درعقد**

**مادهٔ سی وسوم:**

(۱) هرگاه سهم شریك عمل یا انجام (خدمات) باشد ، شریك مکلف است تمام خدمات را که تعهد کرده، انجام دهد و یا قیمت معادل این خدمات را بپردازد.

(۲)سهمیه عمل با انجام خدماتی که شریك به آن متعهد است، تکمیل می‌گردد. درین

کې شریک یوازې د هغو خدمتونو له سرته رسولو څخه چې په شرکت کې یې سرته رسوي مسئول دی.

**د دین په ډول د شریک ونډه**
**څلوردیرشمه ماده:**
که چېرې په شرکت کې د شریک ونډه د دین په ډول وي، د شریک ژمنه هغه وخت سرته رسېدلې ګڼل کېږي چې دین په وخت شرکت ته ورکول شوی وي. د هغې د نه ورکړې په صورت کې، شریک د هغو عواقبو پر مسئولیت برسېره چې ممکن په ټاکلي وخت د دین له نه ورکړې څخه منځته راشي، مکلف دی شریک ته د دین له ورکړې څخه د راپیدا شوی تفاوت زیان هم جبران کړي.

**د ګټې وېشل**
**پنځه دیرشمه ماده:**
له تصفیې دمخه د ګټو وېش په هغهٔ وخت او طریقې سره صورت مومي چې د شراکت په عقد کې یاد شویدی.

**د نه ټاکلې شوې ګټې وېش**
**شپږدیرشمه ماده:**
که چېرې د شراکت په عقد کې، په

صورت، شریك صرف از انجام خدماتی که در شرکت انجام می دهد مسئول می‌باشد.

**سهم شریك به شكل دین**
**مادهٔ سی وچهارم:**
هرگاه سهمیهٔ شریك درشرکت به شکل دین باشد، تعهد شریك وقتی انجام شده پنداشته می شود که دین به موعد معیین به شرکت پرداخته شده باشد. در صورت عدم پرداخت آن، شریك علاوه بر مسئولیت عواقب که ممکن است از عدم پرداخت دین در موعد معین، نشأت کند، مکلف است خسارهٔ ناشی از تفاوت پرداخت دین را به شریك جبران نماید.

**توزیع مفاد**
**مادهٔ سی وپنجم:**
قبل از تصفیه، توزیع مفاد به وقت و طریقهٔ صورت می گیرد که در عقد شراکت ذکر گردیده است.

**توزیع مفاد معین ناشده**
**مادهٔ سی وششم:**
هرگاه درعقد شراکت، حصهٔ هریك

ګټه او زيان کې له شريکانو څخه د هر يوۀ برخه ټاکلې شوې نه وي، د شريکانو د هر يوۀ د ګټې ونډه په پانګه کې د هغوی د ونډې په تناسب، وېشل کېږي.

از شرکاء در مفاد و خساره معین نشده باشد، سهمیهٔ مفاد هریك از شرکاء به تناسب سهمیهٔ آنها در سرمایه، توزیع می گردد.

**په عقد کې د ګټې او زيان ټاکل**

**اووه دېرشمه ماده:**

د شراکت په قرارداد کې په ګټه او ضرر کې د شريکانو ونډه د شرکت په پانګه کې د هغوی د ونډې د تناسب له په پام کې نيولو پرته، ټاکل کېدی شي. که چېرې د شراکت د عقد په موادو کې يوازې د شريکانو د ګټې د ونډې په ټاکلو تصريح شوې وي او د هغو د زيان ونډه اټکل شوې نه وي، دغه تصريح د اوښتي زيان د ونډې په ټاکلو کې د اعتبار وړ ګڼل کېږي. په همدې ترتيب سره، د شراکت په عقد کې له شريکانو څخه د هر يوۀ د زيان د ونډې په ټاکلو کې هر ډول تصريح د هغوی د هر يوۀ د ګټې د ونډې په ټاکلو کې هم د اعتبار وړ ګڼل کېږي، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصريح شوی وي.

**تعیین مفاد وخساره درعقد**

**مادهٔ سی وهفتم:**

در قرارداد شراکت سهم شرکاء در مفاد و ضرر بدون نظرداشت تناسب سهم شان در سرمایهٔ شرکت تعیین شده می‌تواند. هرگاه در مواد عقد شراکت تنها به تعیین سهمیهٔ مفاد شرکاء تصریح و سهمیهٔ خسارهٔ آنها پیش بینی نگردیده باشد، این تصریح در تعیین سهمیهٔ خسارهٔ عایده مدار اعتبارشناخته می‌شود. به همین ترتیب، هرگونه تصریح درعقد شراکت به تعیین سهمیهٔ خساره هریك از شرکاء درتعیین سهمیهٔ مفاد هریك از آنها نیز مدار اعتبار پنداشته می‌شود، مگر اینکه درعقد شراکت طور دیگری تصریح گردیده باشد.

**په کار او عمل پورې منحصره د شریک ونډه**
**اته دیرشمه ماده:**
(۱) که چېرې د شریک ونډه په کار او عمل پورې منحصره وي، له ګټې او زیان څخه د شریک ونډه، د هغهٔ له خدمت څخه د شرکت د ګټې اخستنې تابع وي، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.
(۲) په هغهٔ صورت کې چې شریک د خدمت یا عمل له سرته رسولو برسېره، نغدی پیسې یا بل شی ورکړی، یوه برخه یې د عمل په وړاندی او بله برخه د هغهٔ څه په وړاندی چې د خدمت له سرته رسولو برسېره یې ورکړی دی، مستحق ګرځي، خو دا چې په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

**د پور(نسیې) په ډول د مال پېرودل**
**نهه دیرشمه ماده:**
د په اعتبار شرکت کې، ګټه او زیان د هغهٔ مال د وېش په تناسب وېشل کېږي چې له شریکانو څخه هر یوهٔ هغه د شرکت په حساب د پور په ډول پېرلي او ضامن شوی یې وي، خو دا چې د شراکت په

**سهمیهٔ شریك منحصر به کار و عمل**
**مادهٔ سی وهشتم:**
(۱)هرگاه سهمیهٔ شریك به کار و عمل منحصر باشد، سهمیهٔ شریك از مفاد وخساره،تابع استفادهٔ شرکت از خدمت وی می‌باشد، مگر اینکه درعقد شراکت طور دیگری تصریح گردیده باشد.
(۲)در صورتی‌که شریك علاوه از انجام خدمت یا عمل، پول نقد یا شی دیگری بپردازد، حصه ای را در مقابل عمل و حصهٔ دیگری را در مقابل آنچه که علاوه از انجام خدمت پرداخته است، مستحق می‌گردد، مگر اینکه در عقد طور دیگری تصریح شده باشد.

**خرید مال طور نسیه**
**مادهٔ سی ونهم:**
درشرکت به اعتبار، مفاد وخساره، به تناسب مالی توزیع می‌گردد که هر یك از شرکأ آنرا به حساب شرکت طور نسیه خریده و ضامن آن شده باشد، مگراینکه در عقد قرارداد شراکت طور دیگری

عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

**د شرکت اداره**

**څلوېښتمه ماده:**

د شراکت عقد د ادارې د جوړېدو متضمن دی، شریکان کولای شي، د شریکانو یا نورو له جملې څخه اشخاص و ټاکي څو د شرکت د چارو اداره پر مخ بوزي.

**د فعالیت دوام**

**یوڅلوېښتمه ماده:**

په هغو مواردو کې چې د شراکت د قرارداد د صریح حکم پر موجب له شریکانو څخه یو د شرکت اداري ته مؤظف شي، دغه شریک د شرکت اداري او د هغو فعالیتونو سرته رسولو ته چې د شرکت موخو ته رسېدل تأمین کړي دوام ورکوي، پدې شرط چې هغه فعالیتونه او بدلونونه چې په شرکت کې یې راولي، له غش څخه تش وي، دغسې شخص ته د واک سپارل د قرارداد او اړوندې اساسنامې د حکمونو تابع دی، له قانوني مجوز یا د شراکت د عقد له تعدیلولو پرته د شرکت د پاتې کېدو تر وخته د داسې شریک لرې (عزل) کول جواز نلري. خو دا چې د

تصریح گردیده باشد.

**ادارهٔ شرکت**

**مادهٔ چهلم:**

عقد شراکت متضمن ایجاد اداره می‌باشد، شرکاء می‌توانند، اشخاصی را ازجملهٔ شرکاء یا غیرآن تعیین نمایند تا ادارهٔ امور شرکت را پیش ببرند.

**ادامهٔ فعالیت**

**مادهٔ چهل ویکم:**

در مواردی که یکی از شرکاء به موجب حکم صریح قرارداد شراکت به ادارهٔ شرکت مؤظف شود، این شریك به ادارهٔ شرکت و انجام فعالیت هایی که رسیدن به اهداف شرکت را تأمین نماید، ادامه میدهد، مشروط بر اینکه فعالیت ها وتغییراتیکه در شرکت وارد می سازد، عاری از غش باشد. تفویض صلاحیت به چنین شخصی تابع احکام قرارداد واساسنامهٔ مربوط می‌باشد، عزل چنین شریك تا زمان بقای شرکت بدون مجوز قانونی و یا تعدیل عقد شراکت جواز ندارد، مگراینکه درعقد شراکت

شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

**د شریکانو تصویبونه**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

که چېرې په عقد کې موافقه شوې وي چې تصویبونه دی د شریکانو د اکثریت رأیو په موافقې سره صورت و مومي، د داسې یوۀ حکم له موجودیت سره سره یو شرکت کولای شي داسې بیړنی کار سرته و رسوي چې د نه سرته رسېدو په صورت کې به یې شرکت ته ستر زیان ور واوړي چې جبران به یې ممکن نه وي، له هغې څخه مخالفت جواز نلري، خو په هغۀ صورت کې چې مخالفت د بیړني کار د سرته رسېدو په منظور وي چې په فوت کېدو سره یې شرکت ته ستر زیان ورسېږي چې هغه جبران نکړای شي.

**په تصویبونو کې د شریکانو د اکثریت موافقه**

**دري څلوېښتمه ماده:**

هغه تصویبونه چې د شریکانو د اکثریت موافقې مستلزم وي، منظورېې د شرکت په پانګه کې د هغوی د ونډې د اندازې له په پام

طور دیگری تصریح گردیده باشد.

**تصاویب شرکاء**

**مادۀ چهل ودوم:**

هرگاه در عقد موافقه به عمل آمده باشد که تصاویب به موافقۀ اکثریت ارای شرکاء صورت گیرد، علی الرغم موجودیت چنین حکمی یك شرکت می‌تواند چنان کار عاجل را انجام دهد که در صورت عدم انجام آن خسارۀ بزرگ به شرکت عاید خواهد شد که جبران آن ممکن نباشد، مخالفت از آن جواز ندارد. مگر در صورتی‌که مخالفت به منظور انجام کارعاجل باشد که به اثر فوت آن خسارۀ بزرگی به شرکت عاید گردد که آنرا جبران کرده نتواند.

**موافقت اکثریت شرکاء درتصاویب**

**مادۀ چهل وسوم:**

تصاویبی که مستلزم موافقت اکثریت شرکاء باشد، منظور از آن، موافقت اکثریت شرکاء بدون نظرداشت اندازۀ سهم آنها در

کې نیولو پرته دشریکانو د اکثریت موافقه وي، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

**د شرکت په اداره کې د شریکانو برخه اخستل**

**څلور څلوېښتمه ماده:**

د شرکت په اداره کې د برخې اخستنې لپاره د شریکانو د حق د حدودو ټاکل، د شراکت د عقد په واسطه صورت مومي، پدې شرط چې دغه عقد د شرکت د ادارې او د فعالیت د اجراء په باره کې د معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د شریک حق محدود نکړي.

**نه سیالي او دشرکت له مال څخه ناوړه ګټه نه اخستل**

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

شریک یا د شرکت رئیس نشي کولای له شرکت سره سیالي وکړي یا د شرکت مال د شرکت له ګټو یا مقصد پرته هغسې چې د شراکت په عقد کې یاد شویدی تر ګټې اخستنې لاندې و نیسي، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

شریک یا د شرکت رئیس مکلف دی د شرکت د مصالحو په هکله د

سرمایهٔ شرکت می‌باشد، مگر اینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد.

**سهمگیری شرکاء در ادارهٔ شرکت**

**مادهٔ چهل وچهارم:**

تعیین حدود حق شرکاء برای سهمگیری در ادارهٔ شرکت توسط عقد شراکت صورت می‌گیرد، مشروط بر اینکه این عقد حق شریك را به حصول معلومات در بارهٔ اداره و اجرای فعالیت شرکت محدود نسازد.

**عدم رقابت وسوء استفاده ازمال شرکت**

**مادهٔ چهل وپنجم:**

شریك یارئیس شرکت نمی تواند با شرکت به رقابت بپردازد یا مال شرکت را به غیر ازمنافع یا مقصد شرکت، طوریکه در عقد شراکت ذکر گردیده مورد استفاده قرار دهد، مگر اینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد.

شریك یا رئیس شرکت مکلف است در اتخاذ تدابیر

تدبیرونو په نیولو کې پداسې توګه پاملرنه وکړی لکه چې د خپلو شخصي مصالحو د تأمینولو په برخه کې یې کوي.

**د شریک په واسطه د شرکت د پیسو اخستل یادمال تصرف او اضافي مرسته**

**شپږڅلوېښتمه ماده:**

(۱) که چېرې شریک، مال یا مبلغ له شرکت څخه واخلي یا یې په خپل تصرف کې راوړي، له قضایي غوښتنې یا اخطار پرته د مال د اخستلو یا تصرف له نېټې څخه د هغو د ګټې په ورکولو مکلف دی. د ایجاب په صورت کې د اووښتي زیان د جبران په ورکولو هم مکلف دی.

(۲) که چېرې شریک د خپل مال یو مقدار دشرکت د ګټې لپاره ولګوي یا ګټور لګښتونه په ښه نیت سره له هغې اندازې څخه زیات چې د شرکت له پانګې سره یې د هغو په مرستې موافقه کړېده، د شرکت د ګټې لپاره وکړی، کولای شي د لګول شوو یا ورکړل شوو مبالغو ګټه، د ورکړې له نېټې څخه وروسته له شرکت څخه واخلي.

در مورد مصالح شرکت طوری بذل توجه نماید که در مورد تأمین مصالح شخصی خود مبذول میدارد.

**اخذ پول یا تصرف مال توسط شریك و مساعدت اضافی**

**مادۀ چهل وششم:**

(۱)هرگاه شریك،مال یا مبلغی را ازشرکت اخذ یا آنرا در تصرف درآورد، به پرداخت مفاد آن از تاریخ اخذ یا تصرف مال، بدون مطالبۀ قضایی یا اخطار مکلف میباشد. درصورت ایجاب به تأدیه جبران خسارۀ عایده نیز مکلف شناخته میشود .

(۲)هرگاه شریك مقداری از مال خویش را برای نفع شرکت صرف یا مصارف نافعی را به حسن نیت فراتر از اندازه ای که مساعدت آنرا به سرمایۀ شرکت موافقه کرده است، برای مفاد شرکت بعمل آورد، میتواند فایدۀ مبالغ مصرف شده یا پرداخته شده را ازتاریخ پرداخت به بعد ازشرکت اخذ نماید.

**د پوروونو (دیونو) ورکړه**
**اووه څلوېښتمه ماده:**
(۱) کـه چېـرې د شـرکت مالونـه، د هغهٔ دیون پوره نکړی، لـه شریکانو څخه هر یو مکلف دی د شرکت په پانګـه کـې لـه خپلـې ونـډې سـره متناسب، د شرکت د دین یا زیان یوه برخه له خپل شخصي مال څخه ورکړي، خو دا چې پدی هکله بل ډول موافقـه شـوې وي.د ثالـث شخص په هکله د شرکت له دیونو څخه د هغو د نه مسئولیت په اړه د شریکانو موافقه اعتبار نلري.
(۲) د شـرکت دائنـین کـولای شـي خپـل دیـن لـه شـریکانو څخـه ددی قـانون د حکمونـو مطـابق وغواړي.

**یو د بل په وړاندی د شریکانو نه متضامنتوب**
**اته څلوېښتمه ماده:**
(۱) شریکان د هغهٔ څه د ورکړې په هکله چې د شرکت له دیونو څخه د دوی پـه غـاړه لازم شـوی دی، یـو د بل په وړاندی د ضـامن پـه توګـه نه ګڼل کېږي، خو دا چې پر خلاف یې موافقې صورت موندلی وي.
(۲) لـه شـریکانو څخـه د یـوهٔ د

**پرداخت دیون**
**مادهٔ چهل وهفتم:**
(۱)هرگاه اموال شرکت، دیون آنرا تکـافو نکنـد، هریـك از شـرکاء مکلـف است متناسـب بـه سـهم خویش در سرمایهٔ شرکت، قسمت از دیـن شـرکت یـا خسـارهٔ آنـرا از مـال شخصـی خـود تأدیـه نمایـد، مگراینکـه در مـورد توافـق طـور دیگـر صـورت گرفتـه باشـد، موافقـهٔ شـرکاء مبنـی برعـدم مسئولیت آنهـا از دیـون شـرکت در مورد شخص ثالث اعتبار ندارد.
(۲)دائنـین شـرکت مـی‌تواننـد دیـن خـود را از هـر یـك از شـرکا مطـابق احکـام ایـن قـانون مطالبـه نمایند.

**عدم متضامن بودن شرکاء دربرابر همدیگر**
**مادهٔ چهل وهشتم:**
(۱)شـرکاء در مـورد پرداخـت آنچـه کـه از دیـون شـرکت بـه ذمـت آنهـا لازم گردیـده، در برابـر همـدیگر بـه حیث ضامن تلقی نمی‌گردند، مگـر اینکـه بخـلاف آن موافقـه صـورت گرفته باشد.
(۲) درصـورت افـلاس یکـی

افلاس په صورت کې، د رسېدلی زیان برخه، د نورو شریکانو تر منځ په متناسبه توګه وېشل کېږي.

**د شخصي دین ترلاسه کول**

**نهه څلوېښتمه ماده:**

په هغو حالاتو کې چې د شریکانو فعالیت لادوام لري (تصفیې ته سوق شوی نه وي) د یوه شریک چې پوروړی وي طلب ګاران نشي کولای د شرکت په پانګه کې ددغه شریک له ونډې څخه د خپل حق ورکړه وغواړي، خو دغه غوښتنه له هغې ګټې څخه چې د شریک لپاره په شرکت کې ټوله شوېده صورت موندلی شي. په هغه صورت کې چې شرکت د تصفیې په حالت کې وي، د پوروړي شریک طلب ګاران کولای شي د خپل حق ورکړه د شرکت په پانګه او ګټه کې د شریک د ونډې له هغې برخې څخه چې ورته د ورکړې وړ وي وغواړي په هر حالت کې د پوروړي شریک طلب ګاران حق لري چې له شرکت څخه د پوروړي شریک په ونډې باندی د احتیاطي قیودووضع کول وغواړي.

از شرکاء، حصهٔ خسارهٔ عایده، میان سایر شرکاء بطور متناسب تقسیم می گردد.

**حصول دین شخصی**

**مادهٔ چهل ونهم:**

در حالاتیکه فعالیت شرکاء هنوز ادامه دارد (به تصفیه سوق داده نشده باشد) طلب گاران یکی از شرکاء که مقروض باشد، نمیتوانند پرداخت حق خود را از سهم این شریك از سرمایهٔ شرکت مطالبه نماید، اما این تقاضا از مفاد که برای شریك در شرکت جمع شده است، صورت گرفته می‌تواند. در صورتی‌که شرکت در حالت تصفیه قرارداشته باشد، طلب گاران شریك مقروض می‌توانند پرداخت حق خود را از آن قسمت از سهم شریك درسرمایه و مفاد شرکت که برایش قابل توزیع باشد، تقاضا نماید. در هر حالت طلب گاران شریك مدیون حق دارند که از شرکت تقاضای وضع قیود احتیاطی را بر سهم شریك مقروض بنماید.

**د شرکت د انحلال حالات**

**پنځوسمه ماده:**

شرکت له لاندې حالاتو څخه په یوهٔ کې منحل کېږي:

۱- د شراکت په عقد کې د ټاکلې مودې تېرېدل.

۲- د هغې موخې پلې کېدل چې شرکت د هغې په منظور جوړ شوی دی.

۳- د شرکت د ټولې یا زیاتې برخې پانګې تلف کېدل، پداسې توګه چې په پاتې کېدو (بقا) کې یې ګټه متصوره نه وي.

۴- له شریکانو څخه د یوهٔ مړینه یا د محکمې په حکم پر هغهٔ باندې د حجر واقع کېدل یا یې د افلاس ثبتېدل.

۵- له شرکت څخه د یوهٔ شریک وتل، په هغهٔ صورت کې چې د شرکت د فعالیت موده نا محدوده وي، پدې شرط چې شریک د وتلو په اړه خپله اراده درې میاشتې دمخه د نورو شریکانو خبرتیا ته رسولې وي،لدې پرته، د هغهٔ وتل به له غش څخه را پیدا یا په غیر مناسب وخت کې وګڼل شي، خو دا چې موافقې بل ډول صورت

**حالات انحلال شرکت**

**مادهٔ پنجاهم:**

شرکت در یکی از حالات ذیل منحل می‌شود:

۱-انقضای میعاد معینه در عقد شراکت.

۲-تحقق هدفی که شرکت بمنظور آن تأسیس یافته است.

۳-اتلاف کُل سرمایهٔ شرکت یا حد اکثر آن طوریکه در بقاء آن مفاد متصور نباشد.

۴-فوت یکی از شرکاء یا وقوع حجر براو بحکم محکمه یا ثبت افلاس وی.

۵-خارج شدن یکی ا زشرکاء از شرکت در صورتی‌که مدت فعالیت شرکت نا محدود باشد، مشروط بر اینکه شریك ارادهٔ خودرا مبنی بر خروج ، سه ماه قبل به اطلاع سایر شرکاء رسانیده باشد، در غیرآن، خروج او ناشی از غش یا بی موقع دانسته می‌شود، مگر اینکه موافقه طوری دیگری صورت

موندلی وي.
۶- د شرکت پر انحلال باندی د شریکانو موافقه.
۷- د شرکت پر انحلال باندی د محکمې حکم.
۸- د محکمې د حکم له مخې یا پدی اړه چې شرکت دی افلاس ته سوق شي د شریکانو او د شرکت د طلب ګارانو د موافقې پر بنسټ، د شرکت افلاس.

**له مړینې وروسته د شرکت فعالیت**
**یوپنځوسمه ماده:**
(۱) شریکان کولای شي د شرکت په عقد کې موافقه وکړی چې شرکت له شریکانو څخه د یوۀ له مړینې وروسته منحل نشي، له ورثې سره د شریکانو په توګه دوام و مومي:
(۲) د یوۀ شریک د مړینې یا د شریك د حجر یا افلاس په اړه د محکمې د حکم د صادرېدو په صورت کې، شرکت نه منحل کېږي، د شرکت فعالیت له نورو پاتې شریکانو سره دوام مومي.
که چېرې شریکان د متوفي له وارث سره په شرکت کې د فعالیت له دوام سره موافقه ونکړی، پدی

گرفته باشد.
۶-موافقۀ شرکاء به انحلال شرکت.
۷-حکم محکمه به انحلال شرکت.
۸- افلاس شرکت به اساس حکم محکمه یا بنا بر توافق شرکاء و طلب گاران شرکت مبنی بر اینکه شرکت به افلاس سوق داده شود.

**فعالیت شرکت بعد از وفات**
**مادۀ پنجاه ویکم:**
(۱) شرکأ می‌توانند در عقد شرکت موافقه نمایند که شرکت بعد از وفات یکی از شرکاء، منحل نگردیده با ورثه منحیث شرکاء ادامه یابد:
(۲) درصورت وفات یکی از شرکاء یا اصدار حکم محکمه مبنی بر حجر یا افلاس شریك، شرکت منحل نگردیده، فعالیت شرکت با سایرشرکاء باقیمانده ادامه می یابد.
هرگاه شرکاء با وارث متوفی به ادامۀ فعالیت در شرکت موافقه ننماید، دراین صورت شریك یا

صورت کې شریک یا یې وارث د شرکت له مال څخه له خپلې ونډې پرته چې د پېښې د رامنځته کېدو د ورځې د بیې په تناسب سنجول کېږي، بل حق نلري.

پورته یاده شوې برخه نغداً هغو ته ورکول کېږي او له نورو حقوقو څخه چې وروسته منځته راځي نه برخمن کېږي، خو د هغه څه په اندازه چې د هغه د وتلو له پېښې دمخه د شرکت د اجراآتو په پایله کې وي.

## د شرکت د فعالیت اوږدیدل

### دوه پنځوسمه ماده:

(۱) که چېرې د شرکت ټاکلې موده پای ته ورسېږي، یا هغه فعالیت چې شرکت یې د پرمخبیولو په منظور جوړ شوی دی، ختم شي، خو سره لدې شریکان تصمیم و نیسي څو په هغه فعالیت لاس پورې کړي چې شرکت په هغه منظور جوړ شوی وو، د شراکت عقد په عین شرطونو سره کال په کال تمدیدیږي.

(۲) له شریکانو څخه د یوه داینین کولای شي د شرکت د فعالیت د دوام پر ضد چې ددی مادی په (۱) فقره کې

وارث او حق دیگری ندارد جز از سهم خود از مال شرکت که به تناسب قیمت روز وقوع حادثه سنجش می‌شود.

حصهٔ فوق الذکرنقداً به آنها پرداخته شده و از سایر حقوقیکه بعداً بوجود می آید، برخوردار شده نمی‌توانند، مگربه اندازهٔآنچه که نتیجهٔ اجراآت شرکت قبل از حادثه،خروج وی از شرکت باشد.

## تمدید فعالیت شرکت

### مادهٔ پنجاه ودوم:

(۱)هرگاه مدت معینهٔ شرکت به پایان رسد، یا فعالیتی که شرکت بمنظور پیشبرد آن تأسیس یافته، خاتمه یابد، مگر بآنهم شرکاء تصمیم بگیرند تا به فعالیتی اقدام نمایند که شرکت بمنظور آن تأسیس گردیده بود، عقد شراکت به عین شرایط، سال به سال تمدید می گردد.

(۲)دائنین یکی از شرکاء میتوانند علیه دوام فعالیت شرکت که در فقرهٔ(۱) این ماده درج گردیده،

درج شوی دی، اعتراض وکړی او د مدیون شریک مشارکت و دروي.

**د شرکت د انحلال په اړه د محکمې حکم**

**دري پنځوسمه ماده:**

محکمه کولای شي د شریک د غوښتنې پر بنسټ د یوهٔ بل شریک د ژمنو د نه پوره کولو په نسبت، د نورو مؤجهو دلیلونو په وړاندې کولو سره چې د شرکت انحلا ل ایجاب کړی، حکم صادر کړی. د شراکت عقد نشي کولای د شریکانو دغه عقد تعدیل کړی.

**له شرکت څخه د ایستلو غوښتنه**

**څلور پنځوسمه ماده:**

(۱) هر شریک کولای شي د هغهٔ بل شریک چې عملونه یې د شرکت د انحلال یا یې د فعالیت پر تمدید باندی د اعتراض باعث شي، ایستل ئې له محکمې څخه و غواړي.

(۲) که چیرې د شرکت د فعالیت موده محدوده وي، هر شریک کولای شي د مؤجهو دلیلونو په وړاندی کولو سره له شرکت څخه خپل وتل له محکمې څخه وغواړي، پدی صورت کې شرکت منحل کیږي،

اعتراض نموده و مشارکت شریك مدیون را متوقف سازند.

**حکم محکمه مبنی بر انحلال شرکت**

**مادهٔ پنجاه وسوم:**

محکمه می‌تواند به اساس تقاضای شریك، نسبت عدم ایفای تعهدات یکی از شرکاء دیگر، با ارایهٔ سایر دلایل مؤجه که انحلال شرکت را ایجاب کند، حکم را صادر نماید. عقد شراکت نمی تواند این عقد شرکاء را تعدیل کند.

**درخواست اخراج از شرکت**

**مادهٔ پنجاه وچهارم:**

(۱) هر شریك می‌تواند از محکمه اخراج شریك دیگری را که اعمال وی منجر به انحلال شرکت یا باعث اعتراض بر تمدید فعالیت آن گردد، تقاضا کند.

(۲)هرگاه مدت فعالیت شرکت محدود باشد، هرشریك می‌تواند اخراج خود را از شرکت با ارایهٔ دلایل مؤجه از محکمه درخواست کند، دراین صورت شرکت منحل می‌شود،

خودا چې نور شریکان یې له دوام سره موافقه وکړي.

**د شرکت دشتمنۍ تصفیه او وېشل**

**پنځه پنځوسمه ماده:**

د شرکت د شتمنۍ تصفیه او وېش د شراکت په عقد کې د درج شوو شرطونو مطابق صورت مومي. که چېرې دشراکت عقد داسې شرطونه ونلري، پدی برخه کې ددی قانون په شپږپنځوسمه، او وه پنځوسمه، اته پنځوسمه، نهه پنځوسمه او شپېتمه ماده کې درج شوی حکمونه د تطبیق وړ دی.

**د حسابونو تر تصفیې پورې د شرکت د فعالیت دوام**

**شپږپنځوسمه ماده:**

د شریکانو واک د شرکت د تصفیې په خاطر د هم غږو اقداماتو په اجراء پورې منحصر دی، خو شرکت د حسابونو تر تصفیې او د شتمنۍ تر وېشلو پورې، ددی قانون د اته پنځوسمې مادی د حکم مطابق خپل فعالیت ته دوام ورکولای شي.

مگر اینکه سایر شرکاء به دوام آن موافقه نمایند.

**تصفیه و تقسیم دارایی شرکت**

**مادۀ پنجاه وپنجم:**

تصفیه وتقسیم دارایی شرکت طبق شرایط مندرج عقد شراکت صورت می گیرد. هرگاه عقد شراکت فاقد چنین شرایط باشد، احکام مندرج مواد پنجاه وششم، پنجاه وهفتم، پنجاه وهشتم،پنجاه ونهم وشصتم این قانون در زمینه قابل تطبیق میباشد.

**ادامۀ فعالیت شرکت الی تصفیه آن**

**مادۀ پنجاه وششم:**

صلاحیت شرکاء منحصر به اجرای اقدامات همآهنگ بخاطر تصفیۀ شرکت میباشد، مگر شرکت الی تصفیۀ حسابات و تقسیم دارایی آن مطابق حکم مادۀ پنجاه وهشتم این قانون به فعالیت خود ادامه داده میتواند.

**د شرکت د تصفیې لپاره د اشخاصو ټاکل**

**اووه پنځوسمه ماده:**

(۱) د شرکت تصفیه د شریکانو یا د هغهٔ شخص یا اشخاصو چې د شریکانو په اکثریت رأیو سره ټاکل کېږي، لخوا صورت مومي.

(۲) که چېرې شریکان شخص یا اشخاص د رأیو په اکثریت سره و نه ټاکي، محکمه له شریکانو څخه یو تن، د شریکانو په غوښتنه، د تصفیه کوونکي په توګه ټاکي.

(۳) د قضایي رسیدګۍ له امله،د شرکت د انحلال په صورت کې محکمه تصفیه کوونکی شخص د هغهٔ د واک حدود او د تصفیې ډول د اړوندو اشخاصو د غوښتنې له مخې ټاکي.

**تعیین اشخاص جهت تصفیهٔ شرکت**

**مادهٔ پنجاه وهفتم:**

(۱)تصفیهٔ شرکت توسط شرکاء یا شخص و یا اشخاصی که به اکثریت آرای شرکاء تعیین میگردند ، صورت می گیرد .

(۲) هرگاه شرکاء شخص یا اشخاصی را به اکثریت آراء تعیین نکنند ، محکمه یکتن از شرکاء را به اساس تقاضای شرکاء، به حیث تصفیه کننده تعیین می کند .

(۳) درصورت انحلال شرکت به اثر رسیدگی قضایی، محکمه شخص تصفیه کننده، حدود صلاحیت وی و طرز تصفیه را بنابر مطالبهٔ اشخاص ذیعلاقه تعیین می نماید .

**د شرکت فعالیت او د تصفیه کوونکو په واسطه د هغهٔ د شتمنۍ پلورل**

**اته پنځوسمه ماده:**

(۱) د شرکت تصفیه کوونکي نشي کولای په شرکت کې په نوو فعالیتونو لاس پورې کړي، خو دا چې نوموړی فعالیت د دمخه

**فعالیت شرکت وفروش دارائی آن توسط تصفیه کنندگان**

**مادهٔ پنجاه وهشتم:**

(۱)تصفیه کنندگان شرکت نمی‌توانند به فعالیت جدیدی در شرکت مبادرت ورزند ، مگراینکه فعالیت مذکور متمم

فعـالیتونو مـتمم او د شـرکت لـه انـحلال سـره جـوړ (سـازګار) وي.
(۲) تصفیه کوونکي کولای شي د شـرکت منقولـه یـا غیـر منقولـه شتمني، د مزایدې په ډول یا پرته له هغې وپلوري خو دا چې واک یې د ټاکلو په وخت کې مقید شوی وي.

**د شرکت د شتمنۍ وېشل**

**نهه پنځوسمه ماده:**

(۱) د شـرکت شـتمني د معجلـو پورونـو لـه ورکـړې او د مؤجلـو پورونـو او متنـازع فیـه پورونـو لـه وضـع کولـو وروسـته او د هغـو لګښتونو او پورونـو چې د شـرکت په مصلحت له شریکانو څخه د یوه په واسطه سرته رسېدلي، له ورکړې وروسـته د ټولـو شـریکانو تـر مـنځ وېشل کېږي.
(۲) هـر یـوه شـریک تـه د شـراکت د عقد مطابق، د شرکت په پانګه کې د هغه د ونډې د بیې معـادل مبلغ، تخصیص ورکول کېږي، کـه چېرې د ونـډې بیـه پـه عقـد کـې څرګنـده شـوې نـه وي، بیـه یـې شرکت تـه د ونډې د تسلیمۍ لـه وختـه محاسبه کېږي، خـودا چې د شریک ونډه د

فعالیـت هـای قبلـی و بـا انحلال شرکت سازگار باشد.
(۲)تـصفیه کننـدگان مـی‌تواننـد دارایـی منقـول یـا غیـر منقـول شرکت را، بصورت مزایده یا غیر آن بفـروش برسـانند، مگـر اینکـه صلاحیت شان حین تعیین مقید شده باشد.

**تقسیم دارایی شرکت**

**مادهٔ پنجاه ونهم:**

(۱)دارایـی شـرکت بعـد از پرداخـت دیـون معجـل و وضع دیون مؤجل ودیون متنازع فیـه وبعـد ازتأدیـه مـصارف و دیـون کـه توسـط یکـی از شـرکاء بـه مـصلحت شـرکت انجـام شـده ،میـان تمـام شـرکاء تقـسیم می شود.
(۲)به هریك از شرکاء مبلغ معادل قیمت سهم او در سرمایهٔ شرکت مطـابق عقـد شـراکت تخـصیص داده می شود، هرگاه قیمت سهم در عقـد توضـیح نـشده باشـد، قیمـت آن از وقـت تـسلیمی سـهم بـه شـرکت محاسـبه مـی‌گردد ،مگـر اینکـه سهم شریك

عمل او مشورې په سرته رسولو یا د شرکت د ګټې لپاره له ملکیت څخه د یوې برخې په اختصاص یا مجردی انتفاع پورې منحصره وي.
(۳) که چېرې د شراکت په عقد کې د شتمنۍ د وېش په هکله، د شرکت د تصفیې په علت شرطونه اټکل شوی نه وي، د شرکت پاتې شتمني، د دیونو له ورکړې وروسته شریکانو ته د هغوی د اړوندی ونډې په اندازه، ورکول کېږي.
(۴) په هغهٔ صورت کې چې د شرکت پاتې مال، ددی مادی په (۱) فقره کې د درج شوو مبالغو له ورکړې وروسته د شریکانو لپاره کفایت و نکړی، زیان د ونډې په اندازه محاسبه او د شریکانو تر منځ وېشل کېږي.

## د مشاع مال په باره کې په مدني قانون کې د درج شوو حکمونو تطبیق

**شپېتمه ماده:**

که چېرې پدی قانون کې د شرکت د شتمنۍ د وېشلو په اړه حکمونه موجود نه وي، په مدني قانون کې د مشاع مال په وېش پورې اړوند حکمونه رعایت کېږي.

منحصر به انجام عمل ومشوره یا اختصاص بخشی از ملکیت جهت منفعت شرکت یا مجرد انتفاع باشد.
(۳)هرگاه در عقد شراکت راجع به تقسیم دارایی بعلت تصفیهٔ شرکت شرائطی پیش بینی نگردیده باشد، دارایی باقیماندهٔ شرکت بعد از پرداخت دیون، برای شرکاء به اندازه سهم مربوط شان پرداخته می‌شود.

(۴)درصورتی‌که مال باقیماندهٔ شرکت ،بعد از پرداخت مبالغ مندرج فقرهٔ (۱) این ماده شرکاء را تکافو نکند، خساره به تناسب سهم محاسبه و میان شرکاء توزیع می گردد.

## تطبیق احکام مندرج قانون مدنی دربارهٔ مال مشاع

**مادهٔ شصتم:**

هرگاه در این قانون در رابطه به تقسیم دارائی شرکت احکامی موجود نباشد احکام مربوط به تقسیم مال مشاع مندرج قانون مدنی رعایت می شود.

## څلورم فصل
## عام تضامني شرکت

### د شرکت جوړېدل
**یوشپېتمه ماده:**
هغه اشخاص چې عام تضامني شرکت جوړوي، مکلف دی، د شرکت له جوړولو وروسته د یوې میاشتې په ترڅ کې د شراکت د عقد یو نقل (په هغهٔ ځای کې چې د شرکت مرکز پکې واقع دی) ثبت او اعلان کړی.

### د نوې څانګې جوړول
**دوه شپېتمه ماده:**
که چېرې عام تضامني شرکت د خپلې سوداګرۍ د ثبت د دفتر له حوزې څخه بهر څانګه جوړوي، مکلف دی د شراکت د عقد نقل د نوي ثبت په دفتر کې هم ثبت کړی.

### په شرکت کې بدلونونه
**دري شپېتمه ماده:**
که چېرې په تضامني شرکت کې له ثبت او اعلان وروسته په عنوان، استوګنځي، موضوع یا د لاسلیک په واک لرونکو شریکانو کې بدلونونه رامنځته شي یا ځینې

## فصل چهارم
## شرکت تضامنی عام

### تأسیس شرکت
**مادهٔ شصت ویکم:**
اشخاصی‌که شرکت تضامنی عام را تأسیس می نمایند ،مکلف اند در خلال یکماه بعد از تأسیس شرکت یك نقل عقد شراکت را (در محلی که مرکز شرکت در آن واقع است) ثبت و اعلان نمایند.

### تأسیس شعبهٔ جدید
**مادهٔ شصت ودوم:**
هرگاه شرکت تضامنی عام خارج از حوزهٔ دفترثبت تجارت خود ، شعبهٔ را تأسیس می‌کند ، مکلف است نقل عقد شراکت را در دفتر ثبت جدید نیزبه ثبت برساند.

### تغییرات درشرکت
**مادهٔ شصت وسوم:**
هرگاه در شرکت تضامنی بعد از ثبت و اعلان، در عنوان، اقامتگاه، موضوع یا شرکای حایز صلاحیت امضأ ، تغییراتی رونما گردد یا بعضی از شرکاء از شرکت

شریکان له شرکت څخه ووزي یا ځیني نور شریکان پکې شامل شي یا د شرکت پانګه زیاته یا کمه شي یا د ټاکلې مودی له تېرېدو دمخه، شرکت منحل یایې له تېرېدو وروسته تمدید شي یا له بل شرکت سره ملحق شي، ددی خصوصیاتو په هکله د شرکت لخوا هغه ژمنلیک چې د ټولو شریکانو لاسلیک پکې شوی وي، ترتیببږي.دغه ژمنلیک په اړوند دفتر کې ثبتېږي او نور بدلونونه هم پکې ثبتېدی شي.

## د خصوصیاتو نه استعمال

### څلور شپېتمه ماده:

هغه خصوصیات چې د یو شپېتمې مادی د حکم پر موجب ثبت او اعلان یا ددی قانون د دوه شپېتمې او دري شپېتمې مادی د حکمونو مطابق یې ثبت لازمېږي، له ثبت دمخه، نشي کېدای دغه خصوصیات د ثالثو اشخاصو پر ضد استعمال شي او ددی قانون د یو شپېتمې مادی د حکم له مخې له اعلان دمخه د ثالثو اشخاصو پر ضد نشي استعمالېدی، خو دا چې ثالث شخص له هغو حقایقو څخه چې ثبت یې لازم دی، دمخه خبرتیا

خارج یا بعضی شرکای دیگر در آن شامل یا سرمایهٔ شرکت تزئید و یا تنقیص شود یا قبل از انقضای مدت معینه، شرکت منحل و یا بعد از انقضای آن، تمدید گردد و یا با شرکت دیگری ملحق شود، راجع به این خصوصیات از طرف شرکت تعهد نامه یی که به امضای تمام شرکاء رسیده باشد، ترتیب می گردد. این تعهد نامه در دفتر مربوط ثبت گردیده و تغییرات دیگرنیز در آن ثبت شده می‌تواند.

## عدم استعمال خصوصیات

### مادهٔ شصت وچهارم:

خصوصیاتی‌که به موجب حکم مادهٔ شصت ویکم ثبت و اعلان یا مطابق احکام مواد شصت ودوم و شصت وسوم این قانون ثبت آن لازم می گردد، قبل از ثبت، نمیتوان این خصوصیات را بر علیه اشخاص ثالث استعمال نمود و به تأسی از حکم مادهٔ شصت ویکم این قانون قبل از اعلان برعلیه اشخاص ثالث استعمال شده نمیتواند، مگراینکه شخص ثالث از حقایقی که ثبت آن لازم است، قبلاً آگاهی داشته باشد.

ولـري. پـه هغـهٔ صـورت کـې چـې د هغو له ثبت او اعلان دمخه، د عـام تـضامني شـرکت پـه نـوم معـاملې سـرته رسـېدلې وي، شـرکت د ثـالثو اشخاصـو پـه وړانـدی مـسئول دی. کـه چېرې د شرکت د ثبت او اعـلان مراتب د قـانون د حکمونـو مطابق د شریکانو لخوا پـه پـام کـې نیـول شـوی نـه وي او شریکان د شرکت لـه وجود څخه انکـار وکړي، ثالث اشخاص کولای شي پـه هر ډول بینــې (دلیــل) او قرائنــو ســره د شرکت وجود په اثبات ورسوي.

## د شـرکت پـه نـوم د معـاملو سـرته رسول

**پنځه شپېتمه ماده:**

کـه چېـرې د عـام تـضامني شـرکت ثبت او اعلان، د هغې مودی په ترڅ کـې چـې ددی قـانون پـه یوشـپېتمه ماده کې تصریح شوېده یـا لـه هغـې وروسـته صـورت نـه وي مونـدلی او وروسته هغه معاملې چې د انحلال تر ثبت پورې د شرکت پـه نـوم اجـراء کېږي، د ثالثو اشخاصو حقوقـو تـه زیـان (خلـل) نـه رسـوي، خـودا چـې ثالث اشخاص د شرکت د انحلال له موضوع څخه خبروي.

در صــورتی کــه قبــل از ثبــت و اعـــلان آن، معـــاملاتی بنـــام شـــرکت تـــضامنی عـــام انجـــام پذیرفتـــه باشـــد، شـــرکت در مقابـل اشـخاص ثالـث مـسئول اســـت. هرگـــاه مراتـــب ثبـــت و اعلان شرکت طبق احکـام قـانون از طـرف شـرکاء رعایـت نگردیـده باشــد و شــرکأ از وجــود شــرکت انکــار ورزنــد، اشــخاص ثالــث میتواننـد بـا هـر نـوع بینـه و قـرائن وجود شرکت را به اثبات برسانند.

## انجـــام معـــاملات بـــه نام شرکت

**مادهٔ شصت وپنجم:**

هرگـــاه ثبـــت و اعـــلان شـــرکت تـــضامنی عـــام، در خـلال مدتیکـه در مـادهٔ شـصت ویکـم ایـن قـانون تـصریح شـده یـا بعـــدازآن، صـــورت نگرفتـــه باشـــد و بعـــداً معاملاتیکـــه الی ثبت انحلال بنام شـرکت اجـراء مـیشـود، بحقـوق اشـخاص ثالـث خلـل وارد نمـی سـازد، مگراینکـه اشخاص ثالث از موضوع انحـلال شرکت آگاهی داشته باشند.

**د شریکانو تر منځ مناسبات**
**شپږشپېتمه ماده:**
د عام تضامني شرکت د شریکانو تر منځ مناسبات، د شراکت د عقد په واسطه تنظیمېږي، د شراکت د عقد شرطونه کېدای شي په لیکلې توګه د قرارداد په سند یا یې د متمم په ډول درج شي.
په هغهٔ صورت کې چې هېڅ ډول شرطونه د شراکت په عقد کې تصریح شوی نه وي، ددی قانون حکمونه د تطبیق وړ دی.

**د شرکت د چارو د اداري سپارل**
**اووه شپېتمه ماده:**
شریکان کولای شي د عام تضامني شرکت د ورځنیو چارو اداره له شریکانو څخه یوهٔ یا څو یا ټولو یا له شرکت څخه بهر بل شخص ته وسپاري، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.
هغه شخص چې دغه واک ترلاسه کوي د مدیر په نوم یادیږي.

**د مدیر عزل**
**اته شپېتمه ماده:**
که چېرې د مدیر اداری واک د عام تضامني شرکت د عقد په موجب

**مناسبات بین شرکأ**
**مادۀ شصت وششم:**
مناسبات میان شرکای شرکت تضامنی عام توسط عقد شراکت تنظیم می‌گردد. شرایط عقد شراکت می‌تواند بشکل کتبی در سند قرارداد یا متمم آن درج گردد.
در صورتی‌که هیچ نوع شرایطی در عقد شراکت تصریح نگردیده باشد، احکام این قانون قابل تطبیق می‌باشد.

**تفویض ادارۀ امور شرکت**
**مادۀ شصت وهفتم:**
شرکاء میتوانند ادارۀ امور یومیۀ شرکت تضامنی عام را به اکثریت آراء به یك یا چند یا تمام شرکاء یا خارج از شرکت به شخص دیگری تفویض نمایند، مگراینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد.
شخصی که این صلاحیت را کسب می‌کند بنام مدیر یاد می‌شود.

**سبکدوشی مدیر**
**مادۀ شصت وهشتم:**
هرگاه صلاحیت اداری مدیر به موجب عقد شرکت تضامنی عام

وټاکل شي، شریکان کولای شي په عقد کې له درج شوو شرطونو سره په مطابقت کې یا د ټولو شریکانو د رأیو د اکثریت په اتفاق، د مدیر یا مدیرانو واک محدود یا هغوی له دندی څخه لرې کړي.

که چېرې مدیر په سپارل شوو دندو کې اهمال او غفلت وکړي یا د عام تضامني شرکت د چارو په اداري قادر نه وي، له شریکانو څخه د یوۀ یا له یوۀ څخه د زیاتو د غوښتنې له امله دی، د دلیلونو په وړاندې کولو سره د اکثریت په تصویب له دندی څخه لرې شي. که چېرې دشریکانو شکایت د نورو شریکانو لخوا د مستندو دلیلونو د وړاندې کېدو باوجود و نه منل شي، کولای شي موضوع محکمې ته احاله کړي.

**د شرکت د اداري د ورځنیو چارو او سترو او مهمو مسئلو په هکله د تصمیم نیول**

**نهه شپېتمه ماده:**

هغه عادي چارې او معاملې چې سرته رسول یې د عام تضامني شرکت د مقصدونو او موخو لپاره اغېزمنې دی، د عام تضامني

تعیین گردد، شرکاء می‌توانند در مطابقت با شرایط مندرج در عقد یا به اتفاق اکثریت آرای تمام شرکاء، صلاحیت مدیر یا مدیران را محدود یا آنها را از وظیفه سبکدوش نمایند.

هرگاه مدیر در وظایف محوله اهمال و غفلت نماید یا قادر به ادارۀ امور شرکت تضامنی عام نباشد، بالاثر تقاضای یک و یا بیشتر از یکی از شرکاء، با ارایۀ دلایل به تصویب اکثریت از وظیفه منفصل شود. هرگاه شکایت شرکاء از طرف سایر شرکاء با وجود ارایۀ دلایل مؤجه مورد قبول واقع نشود، می توانند موضوع را به محکمه احاله نمایند.

**اتخاذ تصمیم درمورد امور یومیۀ ادارۀ شرکت و مسایل عمده ومهم**

**مادۀ شصت ونهم:**

امور و معاملات عادی که اجرای آن برای مقاصد و اهداف شرکت تضامنی عام مؤثر است، مربوط امور یومیۀ اداری شرکت

شرکت په ورځنیو اداری چارو پورې اړه مومي، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.
مدیر یا مدیران واک لري څو د دقت او پاملرنې له عین معیار څخه په ګټې اخستنې سره چې د خپلو شخصي معاملو د اړوندو مسئلو په تصمیم نیونه کې یې کاروي، د شرکت د ادارې د ورځنیو چارو په اړوندو مسئلو کې عمل وکړي او تصمیم و نیسي. د شرکت له ورځنیو چارو څخه بهر سترې او مهمې مسئلې لکه د پانګې ورکول، بیه، د شرکت د ټولو غیر منقولو مالونو د سترې برخې لېږدیدل او د شرکت له عادی فعالیتونو څخه بهر نورې مسئلې د شریکانو د رأیو د اکثریت پر بنسټ تصمیم نیول کېږي، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

**د شریک د پور (استقراض) ورکړه**

**اویایمه ماده:**

که چېرې شریک له عام تضامني شرکت څخه استقراض کړی یا یې د شرکت په نوم مبلغ لاسته راوړې وي (په هغهٔ صورت کې چې پر

تضامنی عام می‌گردد، مگراینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد.
مدیر یا مدیران صلاحیت دارند تا با استفاده از عین معیار دقت و توجه، که در تصمیم گیری مسایل مربوط به معاملات شخصی خود شان بکار میبرند، درمسایل مربوط به امور یومیهٔ ادارهٔ شرکت عمل نموده و تصمیم اتخاذ نمایند. مسایل عمده و مهم خارج از امور یومیهٔ شرکت از قبیل پرداخت سرمایه، قیمت، انتقال بخش عمدهٔ تمام اموال غیرمنقول شرکت و سایر مسایل خارج از فعالیتهای عادی شرکت، به اساس اکثریت آرای شرکاء تصمیم گرفته می شود.مگراینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد.

**پرداخت استقراض شریك**

**مادهٔ هفتادم:**

هرگاه شریك از شرکت تضامنی عام استقراض نموده یا مبلغی را بنام شرکت بدست آورده باشد (در صورتی‌که برخلاف آن در عقد

خلاف یې په عقد کې تصریح شوی نه وي) او هغه په ټاکلي وخت تضامني شرکت ته ورنکړي او تسلیم یې نکړي، مکلف دی د اصل پیسو برسېره د ځنډ د مودې تکتانه هم ورکړي.

**د ونډې لېږدیدل**

**یو اویایمه ماده:**

له شریکانو څخه هېڅ یو نشي کولای د نورو شریکانو د رأیو د اتفاق له لاسته راوړو پرته خپله ونډه له شرکت څخه بهر شخص ته قسماً یا کلاً ولېږدوي، د خلاف په صورت کې که لدی عمل څخه شریکانو یا ثالث شخص ته زیان رسېدلي وي، له هغهٔ څخه راپیدا شوی زیانونه، یوازې د ونډې د لېږدوونکي په غاړه دی، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

**د شریک په توګه د بل شخص نه منل**

**دوه اویایمه ماده:**

هغه شخص چې د عام تضامني شرکت د ادارې واک لري، نشي کولای د شریکانو د رأیو د اتفاق له لاسته راوړو پرته، په شرکت کې بل شخص د شریک په توګه و مني یا

تصریح نگردیده باشد) و آنرا در زمان معین به شرکت تضامنی تأدیه و تسلیم ننماید، مکلف است بر علاوه تأدیه اصل پول، تکتانه زمان تأخیر را نیز بپردازد.

**انتقال سهم**

**مادهٔ هفتادویکم:**

هیچ یک از شرکاء نمی تواند بدون کسب اتفاق آرای شرکای دیگر سهم خود را به شخص خارج از شرکت قسماً یا کلاً منتقل سازد در صورت خلاف اگرخساره از این عمل بالای شرکاء یا شخصی ثالث وارد شده باشد خسارات وارده ناشی از آن تنها بدوش انتقال دهنده سهم می‌باشد. مگراینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد.

**عدم پذیرش شخص دیگر بحیث شریك**

**مادهٔ هفتادودوم:**

شخصیکه صلاحیت ادارهٔ شرکت تضامنی عام را دارد، نمی‌تواند بدون کسب اتفاق آرای شرکاء، شخص دیگری را بصفت شریك در شرکت بپذیرد

یې په خپل عوض د شرکت په اداره کې و ټاکي.

**د ټکتانې ګټه**

**دري اویایمه ماده:**

د شراکت په عقد کې شرکت ته د ورکړل شوې پانګې په وړاندې د ټکتانې ګټه، اټکل کېدی شي.

**معلوماتو ته د شرکت د شریک یا مدیر لاس رسی**

**څلور اویایمه ماده:**

شریکان او مدیر د شرکت په چارو او مالي وضعیت پورې اړوندو معلوماتو ته د لاس رسۍ حق لري او کولای شي هغه د شرکت د اداري د چارو د پر مخبیولو لپاره تر ګټې اخستنې لاندې و نیسي.

د شرکت اداره کولای شي هغۀ شریک یا مدیر ته د معلوماتو له ورکولو څخه چې ددی ګمان موجود وي چې دغه معلومات د شرکت د ویجاړولو لپاره کاروي، ډډه وکړي.

د معلوماتو لاسته راوړل یا د هغو له وړاندې کولو څخه ډډه کول، د شراکت په عقد کې ذکر کېږي، خو د شراکت عقد نشي کولای دغه حق په غیر موئجه توګه له منځه یوسي

یا به عوض خود در ادارهٔ شرکت تعیین نماید.

**مفاد تکتانه**

**مادهٔ هفتادو سوم:**

در عقد شراکت، مفاد تکتانه در مقابل سرمایهٔ تأدیه شده به شرکت، پیش بینی شده می‌تواند.

**دسترسی شریك یا مدیر شرکت به معلومات**

**مادهٔ هفتادوچهارم:**

شرکاء ومدیر حق دسترسی به معلومات مربوط به امور شرکت و وضعیت مالی آن را دارا می باشد ومی‌تواند آنرا جهت پیشبرد امور ادارهٔ شرکت مورد استفاده قرار دهد.

ادارهٔ شرکت می‌تواند از دادن معلومات به شریك یا مدیریکه ظن آن وجود داشته باشد که این معلومات را به مقصد تخریب شرکت به کار می برد، امتناع ورزد.

کسب حصول معلومات یا امتناع از ارایهٔ آن در عقد شراکت ذکر می‌گردد ،ولی عقد شراکت نمی تواند این حق را بطور غیرمؤجه از بین برده

یا یې محدود کړي.

**د شرکت د ورځنیو چارو په هکله تصمیمونه**

**پنځه اویایمه ماده:**

دشراکت دعقد تعدیلول د شریکانو د رأیو په اتفاق او د شرکت د ورځنیو چارو د عادی بهیر په هکله تصمیمونه د شریکانو د رأیو په اکثریت سره صورت مومي، خودا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

**د شرکت د ګټې او ضرر د بڼې (صورت) ترتیبول**

**شپږ اویایمه ماده:**

شریکان یا مدیر (په هغهٔ صورت کې چې دنده مدیر ته سپارل شوې وي)مکلف دی څو د هر مالي کال په پای کې، د بیلانس پر بنسټ د عام تضامني شرکت د ګټې او زیان بڼه ترتیب او د هغې مطابق د هر شریک ونډه و ټاکي.

د شرکت له انحلال دمخه د یوې برخې یا ټولې ونډې د وېش په هکله تصمیم، د شریکانو د رأیو د اتفاق پر بنسټ نیول کېږي، خودا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

یا محدود سازد.

**تصامیم درمورد امور یومیهٔ شرکت**

**مادهٔ هفتادو پنجم:**

تعدیل عقد شراکت به اتفاق آرای شرکاء، و تصامیم در مورد جریان عادی امور یومیهٔ شرکت به اکثریت آرای شرکاء صورت می‌گیرد، مگر اینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد.

**ترتیب صورت نفع وضرر شرکت**

**مادهٔ هفتادوششم:**

شرکاء یا مدیر (در صورتی‌که وظیفه به مدیر سپرده شده باشد) مکلف اند تا در ختم هر سال مالی به اساس بیلانس، صورت نفع و ضرر شرکت تضامنی عام را ترتیب و مطابق آن سهم هر شریك را تعیین نمایند.

تصمیم در مورد تقسیم یك بخش یا تمام سهم قبل از انحلال شرکت، به اساس اتفاق آرای شرکاء اتخاذ می‌گردد، مگراینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد.

**د زیان د جبران په ورکړه کې د شریک نه مجبورول**

**اووه اویایمه ماده:**

شریک د شرکت تر انحلال پورې د هغې ونډې په بشپړولو نشي مکلف کېدی چې د پانګې له زیانونو څخه په هغهٔ پورې اړه مومي، خو د شریکانو د پانګې د زیانونو مقدار د راتلونکی کال له ګټې څخه بشپړېدی شي، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي.

**د شریک د ورته سوداګریزو معاملو اجراء او په بل شرکت کې د مسئول غړي په توګه د هغهٔ شاملېدل**

**اته اویایمه ماده:**

(۱) شریک نشي کولای د عام تضامني شرکت چې دی یې غړی دی د سوداګریزې معاملې له ډول څخه جلا معامله د نورو شریکانو د رأیو له اتفاق پرته په خپل یا د بل شخص په نوم اجراء کړي، خو دا چې د شراکت په عقد یا دی قانون کې بل ډول تصریح شوی وي. په هغهٔ صورت کې چې د یوهٔ نوي جوړ شوی عام تضامني شرکت شریکان خبر شي چې یو له

**عدم وادار نمودن شریك درتأدیه جبران خساره**

**مادهٔ هفتادوهفتم:**

شریك را نمی‌توان الی انحلال شرکت مکلف به اکمال سهمی نمود که ازخسارات سرمایه به او تعلق می‌گیرد،ولی مقدار خسارات سرمایهٔ شرکاء از مفاد سال بعدی تکمیل شده می‌تواند، مگراینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد.

**اجرای معاملات مشابهٔ تجارتی شریك وشمولیت آن به حیث عضو مسئول درشرکت دیگر**

**مادهٔ هفتادوهشتم:**

(۱)شریك نمی‌تواند معاملهٔ جداگانه را از نوع معاملهٔ تجارتی شرکت تضامنی عام که عضو آن است، بدون اتفاق آرای سایر شرکاء، بنام خود یا شخص دیگری اجرا کند، مگراینکه درعقد شراکت یا این قانون طور دیگری تصریح شده باشد. در صورتی‌که شرکای یك شرکت تضامنی عام جدیدالتأسیس اطلاع یابند که یکی از شرکاء در

شـریکانو څخـه پـه شـرکت کـې د شـاملېدو پـه وخـت کـې، پـه بـل شرکت کې د مسئول غـړي په توګه ګـډون لـري، پـدی حالـت کـې کـه شریکان له بل شرکت څخه د هغهٔ د غړیتـوب د رابطـې د پـرې کولـو پـه هکلـه صـراحتاً اعتـراض و نلـري، داسـې ګڼـل کېـږي چـې پـه عـام تـضامني شـرکت کـې د هغـهٔ ګـډون منل شوی دی.

(۲) که چېرې شریکان په بل شرکت کې د شریک د ګډون د خبر لـه ترلاسه کولو یا د هغهٔ د معاملو له سرته رسولو څخه شپږمیاشـــتې وروســـته اعتـــراض ونکـــړی،د هغـــو د اعتـــراض حـــق ساقطېږي، خـو حق لـري ددی قـانون د څلـورم فـصل د حکمونـو مطـابق، لـه محکمې څخه د عام تضامني شرکت د انحلال غوښتونکي شي.

**د شرکت موجودیت**

**نهه اویایمه ماده:**

عـــام تـــضامني شـــرکت د ثبـــت او اعـلان یـا پـه ثبـت کـې د هـر ډول وروسـتي بـدلون لـه نېټې څخـه، د حقوقي شخصیت لرونکی ګرځي.

حین شمولیت به شرکت، منحیث عـضو مـسئول درشـرکت دیگـری شـــــمولیت دارد، درایـــــــن حالـــت اگـــر شـــرکاً صـــراحتاً راجـع بـه قطـع رابطـه عـضویت او از شـــرکت دیگـــر اعتـــراض نداشـــته باشـــد چنـــین پنداشـــته مـــی‌شـــود کـــه اشـــتراك او در شرکت تضامنی عام مورد قبول واقع شده است.

(۲) هرگـاه شـرکاء بعـد از حـصول اطـــلاع ازمـــشارکت شـــریك در شرکت دیگر و یا انجام معـاملات او بعـــد از مـــرور شـــش مـــاه اعتـراض ننماینـد، حـق اعتـراض شان ساقط می‌شود، اما حق دارند از محکمـــه خواســـتار انحـــلال شرکت تضامنی عام مطابق احکـام فصل چهارم این قانون گردند.

**موجودیت شرکت**

**مادهٔ هفتادونهم:**

شرکت تضامنی عام از تـاریخ ثبت و اعلان یا هر نوع تغییر بعدی در ثبـت حـــایز شخـصیت حکمـی می‌گردد.

## له ثالثو اشخاصو سره د شریکانو مناسبات

**اتیایمه ماده:**

له ثالثو اشخاصو سره د شریکانو مناسبات ددی قانون د حکمونو تابع دی، خوداچې دشراکت په عقد کې یې خلاف تصریح شوی وي.

## د استازي په واسطه د معاملو سرته رسول

**یو اتیایمه ماده:**

شریک، مدیر یا هغهٔ شخص چې له تضامني شرکت څخه په استازیتوب ټاکل شوی دی د خپل سپارل شوي واک له په پام کې نیولو سره کولای شي ټولې حقوقي معاملې د شرکت په نوم لاسلیک کړي او شرکت د هغو په تطبیق ملزم کړي. د تضامني شرکت استازي کولای شي، سوداګریزې چارې د قانون د حکمونو مطابق اداره کړي. پدې صورت کې استازي مکلف دی په ښه نیت او وفادارۍ سره عمل وکړي.

شریکان کولای شي له عام تضامني شرکت څخه په استازیتوب هغه معاملې چې په قراردادکې یې ژمنه کړې، سرته و رسوي او تضامني

## مناسبات شرکاء با اشخاص ثالث

**مادهٔ هشتادم:**

مناسبات شرکاء با اشخاص ثالث تابع احکام این قانون می‌باشد، مگر اینکه درعقد شراکت خلاف آن تصریح شده باشد.

## انجام معاملات توسط نماینده

**مادهٔ هشتادویکم:**

شریك، مدیر و یاشخصی که به نمایندگی از شرکت تضامنی عام تعیین شده اند با نظرداشت صلاحیت مفوضهٔ شان میتوانند تمام معاملات حقوقی را بنام شرکت به امضاء رسانیده و شرکت را ملزم به تطبیق آن نمایند. نمایندگان شرکت های تضامنی می‌توانند، امور تجارتی را مطابق احکام قانون اداره نمایند. در این صورت نمایندگان مکلف اند با حسن نیت و وفاداری عمل نمایند.

شرکاء می توانند به نمایندگی از شرکت تضامنی عام معاملاتی را که در قرارداد تعهد نموده انجام وشرکت تضامنی را در

شرکت پدی برخه کې ملزم کړی.

**د شریکانو مسئولیت**

**دوه اتیایمه ماده:**

عام شریکان د عام تضامني شرکت له دیونو او ژمنو څخه په ټولیزه او انفرادی توګه مسئول دی.

**د دعوي د اقامه کېدلو ډول**

**دري اتیایمه ماده:**

که چېرې د دعوي اقامه د شرکت په دین یا ژمنو پورې مرتبطه وي، د دعوي اقامه لومړی پخپله د عام تضامني شرکت پر ضد صورت مومي. په هغهٔ صورت کې چې د دعوي اقامه د شرکت پر ضد ممکنه نه وي یا شرکت منحل شوی وي، د شریکانو پر ضد هم دعوي اقامه کېدلی شي. پدی صورت کې محکمه کولای شي د دائنینو د غوښتنې پر بنسټ د وړاندی شوو دلیلونو په استناد حکم وکړی چې د عام تضامني شرکت شتمني او معاملې دی د حساب تر تصفیې پورې د محکمې تر څارنې لاندی راشي.

زمینه ملزم سازند.

**مسئولیت شرکاء**

**مادهٔ هشتاد ودوم:**

شرکای عام از دیون و تعهدات شرکت تضامنی عام بطور جمعی و انفرادی مسئول می‌باشند.

**طرز اقامهٔ دعوی**

**مادهٔ هشتادوسوم:**

هرگاه اقامهٔ دعوی به دین و تعهدات شرکت مرتبط باشد ، اقامهٔ دعوی اولاً برعلیه خود شرکت تضامنی عام صورت می‌گیرد. درصورتی‌که اقامهٔ دعوی بر علیه شرکت ممکن نبوده و یا شرکت منحل شده باشد، بر علیه شرکاء هم اقامهٔ دعوی صورت گرفته می‌تواند. دراین صورت محکمه می‌تواند به اساس تقاضای دائنین به استناد دلایل ارأیه شده حکم نماید که دارایی ومعاملات شرکت تضامنی عام الی تصفیهٔ حساب تحت مراقبت محکمه قرارگیرد.

**د محکمو د پرېکړې تطبيق**

**څلور اتيايمه ماده:**

هغه پرېکړه چې د محکمې لخوا د شرکت د فعاليتونو په هکله صادره شوې وي، پر عامو تضامني شريکانو باندې د تطبيق وړ ده.

**دائنينو ته د حقوقو ورکړه**

**پنځه اتيا يمه ماده:**

د عام تضامني شرکت د تصفيې په صورت کې، د شرکت دائنين دشرکت له شتمنۍ څخه دخپلو حقوقو په اخستلو کې د شريکانو د شخصي دائنينو په نسبت مقدم دي.

**د شرکت د دائنينوطلباتوته د محکمې حکم**

**شپږاتيايمه ماده:**

د عام تضامني شرکت افلاس د شريکانو د افلاس موجب نه ګڼل کېږي. که چېرې د مفلس شرکت شتمني د شرکت د دائنينو د طلباتو بسنه (کفايت) و نکړي، دائنين کولای شي د خپلو طلباتو پاتي له شريکانو څخه و غواړي، خو که د شريکانو شتمني هم د دائنينو د طلباتو کفايت و نکړي،

**تطبیق فیصلهٔ محاکم**

**مادهٔ هشتادوچهارم:**

فیصله ای که از طرف محکمه در خصوص فعالیت‌های شرکت صادر شده باشد، بالای شرکای تضامنی عام قابل تطبیق می‌باشد.

**تأدیه حقوق به دائنین**

**مادهٔ هشتادوپنجم:**

در صورت تصفیهٔ شرکت تضامنی عام، دائنین شرکت در اخذ حقوق خود از دارایی شرکت نظر به دائنین شخصی شرکاء مقدم می باشند.

**حکم محکمه به طلبات دائنین شرکت**

**مادهٔ هشتادوششم:**

افلاس شرکت تضامنی عام موجب افلاس شرکاء محسوب نمی‌شود. هرگاه دارایی شرکت مفلس، طلبات دائنین شرکت را کفایت نکند، دائنین می‌توانند باقی طلبات خود را از شرکأ مطالبه نمایند، ولی در صورتی‌که دارایی شرکأ نیز طلبات دائنین را کفایت

محکمه کولای شي د شریکانو پر افلاس حکم صادر کړی.

**له اړوندی پانګې څخه د شریکانو ګټه نه اخستل**

**اووه اتیا یمه ماده:**

لـه افـلاس سـره مخـامخ د عـام تـضامني شـرکت شـریکان، نـشي کـولای د خپلـې پـانګې لـه بابتـه د شـرکت لـه شـتمنۍ څخـه ګټـه واخلي، خو کولای شي نور طلبات د شرکت د دائنینو په شان وغواړي.

**د دین د طلب نه مجرایي**

**اته اتیایمه ماده:**

د عـام تـضامني شـرکت مـدیون شـخص نـشي کـولای خپـل دیـن لـه هغـۀ طلـب سره چې لـه شریکانو څخه پر یوۀ باندی یې لـري مجراء کـړی. همدارنګـه یـو شـریک نـشي کولای خپل دین چې د عام تضامني شرکت په وړاندی یې لري له هغـۀ طلب سره چې د شرکت پر مدیون باندی یې لري، مجراء کړی، خو که د عـام تـضامني شـرکت دایـن ددی قـــانون د دري اتیـــــایمې او شپږاتیایمې مادی د حکم پر موجب لـه شـرکت څخـه د طلـب پـه ترلاسـه کولـو بریـالی نـشي او شریکانو تـه

نکنـد محکمـه مـی‌توانـد حکـم بـر افلاس شرکاء را صادر نماید.

**عـدم اسـتفادۀ شـرکاء ازسـرمایۀ مربوط**

**مادۀ هشتادوهفتم:**

شـرکای شـرکت تـضامنی عـام مواجـه بـه افـلاس، نمـی‌تواننـد از بابـت سـرمایۀ خـود از دارایـی شـرکت استفـــــاده کننـد، ولـی می‌توانند طلبات دیگری را مثـل دائنین شرکت مطالبه نمایند.

**عدم مجرائی طلب دین**

**مادۀ هشتادوهشتم:**

شـخص مـدیون شـرکت تـضامنی عام نمیتواند دین خود را با طلبی کـه بـالای یکـی از شـرکاء دارد، مجـرا کنـد. همچنـان یکـی از شرکاء نمی‌تواند دین خود را که در نزد شرکت تضامنی عام دارد، با طلبی که در نزد مدیون شرکت دارا اســـت، مجـــرا نمایـــد، ولـــي دایـــن شـــرکت تـــضامنی عـــام اگـــر بـــه موجـــب احکـــام مـواد هشتادوسوم وهشتادوششم ایـــن قـــانون از شـــرکت بـــه استحـصال طلـب موفـق نگـردد و بـــه شـــرکاء مراجعـــت کنـــد،

مراجعت وکړی، هغه شریک چې د داین د مطالبې اړخ واقع کېږي، که له نوموړي داین څخه طلب لري، پدی صورت کې یې دین د شرکت په وړاندی د هغهٔ مدیون ته د شریک په مقابل کې حساب او مجراکېږي.

شریکی که طرف مطالبهٔ داین واقع میشود، اگر از داین مذکور طلبی داشته باشد، دراین صورت دین او در مقابل شرکت به مدیونش در برابر شریك محسوب و مجرا می شود.

### د شرکت د دوام موده

**نهه اتیایمه ماده:**

د عام تضامني شرکت د دوام موده د شریکانو تر مړینې یا د حکمي شخصیت لرونکی شرکت تر انحلاله پورې معتبره ګڼل کېږي، خو دا چې د شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي. معهذا هغه عام تضامني شرکت چې د دوام موده یې غیر محدوده وي او د سوداګریزو فعالیتونو ماهیت یې د شرکت د محدودیدو باعث شي، پدی صورت کې د شرکت د فعالیت دوام د هغهٔ په بشپړېدو سره منقضي کېږي.

### مدت دوام شرکت

**مادهٔ هشتادونهم:**

مدت دوام شرکت تضامنی عام، الی وفات شرکاء یا انحلال شرکت دارای شخصیت حکمی، معتبر شمرده میشود، مگراینکه در عقد شراکت طور دیگری تصریح شده باشد. معهذا شرکت تضامنی عامی که مدت دوام آن غیر محدود بوده و ماهیت فعالیت های تجارتی آن باعث محدود نمودن شرکت گردد، دراین صورت دوام فعالیت شرکت با اکمال آن منقضی می گردد.

### د شرکت انحلال

**نوي یمه ماده:**

عام تضامني شرکت ددی قانون په دري پنځوسمه ماده کې د درج شوی حکم مطابق، منحل کېږي.

### انحلال شرکت

**مادهٔ نودم:**

شرکت تضامنی عام مطابق حکم مندرج مادهٔ پنجاه وسوم این قانون منحل می گردد.

**د اعتبار وړ شراکت عقد**

**یو نوي یمه ماده:**

که چېرې د عام تضامني شراکت په عقد کې داسې شرط وي چې د انحلال د موجب یو یا څو ټاکلي علتونه بې اغېزې وګڼي، د شراکت عقد د اعتبار وړ دی. که چېرې نوموړی شرط د انحلال ټول علتونه او اسباب بې اغېزې ګڼلي وي، پدی صورت کې شرط بې اعتباره دی.

**د شرکت له انحلال څخه د دائنینو خبرول**

**دوه نوي یمه ماده:**

د عام تضامني شرکت له انحلا ل وروسته، شرکت باید خپل انحلال په خپل موجودیت کې د یوۀ بدلون په توګه ثبت کړی او د شرکت د انحلال په اړه د هغو دائنینو او نورو اړخونو د خبرتیا لپاره چې له هغۀ سره معامله لري مقتضي اقدامات وکړی.

لدی وروسته عام تضامني شرکت ددی قانون د حکمونو مطابق د شرکت تصفیه پیلوي، د انحلال په وخت کې د شراکت ټول موجود عقد یا د انحلال له ثبت دمخه عقد

**عقد شراکت مدار اعتبار**

**مادۀ نود ویکم:**

هرگاه درعقد شراکت تضامنی عام شرطی باشد که یك یا چند علل معین موجب انحلال را بی اثر بدانند، عقد شراکت مدار اعتبار می‌باشد. هرگاه شرط مذکورتمام علل و اسباب انحلال را بی اثر دانسته باشد، دراین صورت شرط فاقد اعتبار می‌باشد.

**مطلع ساختن دائنین از انحلال شرکت**

**مادۀ نودودوم:**

بعد از انحلال شرکت تضامنی عام، شرکت باید انحلا ل خویش را منحیث یك تغییر در موجودیت اش ثبت نموده و اقدامات مقتضی را برای مطلع ساختن دائنین و سایر جوانب که با آن معامله دارد، مبنی بر انحلال شرکت اتخاذ نماید.

بعد از آن شرکت تضامنی عام تصفیۀ شرکت را مطابق احکام این قانون آغاز می نماید. کلیه عقدشراکت موجوده در زمان انحلال یا عقود منعقده قبل از

شوی عقدونه او د ثالثو اشخاصو خبرتیاوې معتبر پاتې کېږي او پر عام تضامني شرکت او شریکانو باندی، ددی قانون د حکمونو له مخې الزام آور دی.

**د شرکت له انحلال څخه د شریکانو خبرول**

**دري نوي یمه ماده:**

که چېرې عام تضامني شرکت د غیر محدودی (نه ټاکلې) مودی لپاره جوړ شوی وي، شریک یا شریکان کولای شي د شرکت د مالي کال له پایته رسېدو لږترلږه شپږمیاشتې دمخه، نور شریکان د لیکلې خبرتیا په استولو سره، د عام تضامني شرکت د انحلال په اړه له خپل تصمیم څخه خبر کړي.

**د محکمې د حکم پر بنا د شرکت د انحلال حالات**

**څلور نوي یمه ماده:**

په هغو تضامني شرکتونو کې چې د دوام موده یې محدوده یا غیر محدوده وي، له شریکانو څخه د یوهٔ د غوښتنې پربنسټ، محکمه کولای شي له لاندی حالاتو څخه په یوهٔ کې د شرکت پر انحلا ل حکم صادر کړي:

ثبت انحلال و اطلاعیه های اشخاص ثالث، معتبر باقی مانده و بالای شرکت تضامنی عام و شرکای آن به تأسی ازاحکام این قانون الزام آور می باشد.

**مطلع ساختن شرکاء ازانحلال شرکت**

**مادهٔ نودوسوم:**

هرگاه شرکت تضامنی عام برای مدت غیر محدود (غیر معین) تأسیس شده باشد، شریک یا شرکاء مي‌توانند حداقل شش ماه قبل از ختم سال مالی شرکت، شرکای دیگر را با ارسال اطلاعیهٔ کتبی از تصمیم خویش مبنی بر انحلال شرکت تضامنی عام مطلع سازند.

**حالات انحلال شرکت مبنی بر حکم محکمه**

هرگاه شریك خاص ، سهم خویش را درشرکت تضامنی خاص، بدون اجازۀ سایر شرکاء کلاً یا قسماً به شخص دیگری واگذارنماید ، شریك جدید صلاحیت بررسی و دخالت در امورشرکت تضامنی

واک نلري.

**دخاص شریک مسئولیت**

**یوسلو شپږ شپېتمه ماده :**

هغه خاص شریک چې نوم یې دخاص تضامني شرکت په عنوان کې درج وي، دثالثو اشخاصو په وړاندی غیر محدود مسئولیت لري.

**دشرکت د معاملو دسرته رسولو لپاره دخاص شریک توظیفول**

**یوسلو اووه شپېتمه ماده:**

دخاصو تضامني شرکتونو د ادارې او استازیتوب مسئولیت دهغو شریکانو په غاړه دی، چې دغیر محدود مسئولیت لرونکی وي، ددی واک حدود دهغو تقنیني سندونو دحکمونو تابع دی چې دعامو تضامني شرکتونو په هکله دتطبیق وړ دی.

دټاکلو معاملو دسرته رسولو لپاره دخاص شریک توظیفول دهغهٔ په خپله موافقه دشرکت دمدیر یا مدیرانو لخوا صورت موندلی شي، خو داچې دخاص تضامني شرکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي، پدی صورت کې یوهٔ خاص شریک ته له سپارل شوو معاملو

خاص را ندارد.

**مسئولیت شريك خاص**

**مادهٔ یکصدوشصت وششم:**

شريك خاصی که اسم آن درعنوان شرکت تضامنی خاص درج باشد ، در مقابل اشخاص ثالث مسئولیت غیر محدود دارد.

**توظیف شريك خاص جهت انجام معاملات شرکت**

**مادهٔ یکصدوشصت وهفتم:**

مسئولیت اداره و نمایندگی شرکت های تضامنی خاص بر عهدهٔ شرکایی می باشد که دارای مسئوولیت غیر محدود باشند، حدود این صلاحیت تابع احکام اسناد تقنینی است که در مورد شرکتهای تضامنی عام قابل تطبیق می‌باشد.

توظیف شريك خاص برای انجام معاملات معین به موافقت خود وی ازطرف مدیر یا مدیران شرکت صورت گرفته می‌تواند ، مگر اینکه در عقد شرکت تضامنی خاص طور دیگری تصریح شده باشد ، دراین صورت مسئولیت ناشی از معاملات سپرده شده به

ځخــه راپیــدا شــوی مــسئولیت، شرکت تـه متوجه کېږي. که چېرې خـاص شریک دسپارل شوې دندی لـه حدودو څخـه تجاوز وکړی، یا دواک له سپارلو پرته عمل وکړي، کوم مسئولیت چې دهغهٔ له عمل څخه راپیدا کېږي، په خپله هغهٔ ته متوجه دی.

**د مشورې وړاندی کول، د شرکت د چارو د تدقیق او کنترول واک**

**یوسلو اته شپېتمه ماده:**

ددی قانون دیوسلو نهه پنځوسمې مـادی دحکم لـه پـه پـام کـې نیولـو سره دنظر او مشورې وړاندی کول، دخـاص تـضامني شـرکت دچـارو دتـدقیق او کنتـرول واک، دقـانون دحکمونـو مطـابق دمـامورینو پـه نـصب اوعـزل کـې ونـډه اخـستل او دفرعـي چـارو دسرته رسولو لپـاره، د خـاص تـضامني شـرکت پـه دننـه کـې استخدام خاصـو شـریکانو تـه دغیـر محـدود مـسئولیت دمنځتـه راتلـو موجب نه ګرځي.

**د شـرکت د دائنینـو پـه وړانـدی د خاصو شریکانو مسئولیت**

**یوسلو نهه شپېتمه ماده:**

خاص شریکان له ژمنه شوو مبـالغو

شریك خاص، متوجه شرکت می گــردد. هرگــاه شــریك خــاص از حــدود وظیفــهٔ محولــه تجــاوز نمایــد، یــا بــدون تفــویض صلاحیت عمل کند، مسئولیتی کــه ازعمــل وی ناشــی می گردد، متوجه خود وی می باشد.

**ارایهٔ مشوره، صلاحیت تدقیق و کنترول امور شرکت**

**مادهٔ یکصدوشصت وهشتم:**

با رعایت حکم ماده یکصد و پنجاه ونهم ایـن قـانون، ارایـهٔ نظـر و مــشوره، صــلاحیت تــدقیق و کنتــرول امورشــرکت تــضامنی خاص، سهمگیری درنصب و عزل مـامورین طبـق احکـام قـانون و اســتخدام درداخــل شــرکت تــضامنی خــاص بــرای انجــام امــورفرعی، موجــب ایجــاد مــسئولیت غیــر محــدود بــرای شــرکای خــاص نمی گردد.

**مسئولیت شرکای خاص در مقابل دائنین شرکت**

**مادهٔ یکصدو شصت ونهم:**

شرکای خاص از مبالغ تعهد شده

ثخه ثومره چې د هغوی په غاړه پاتې وي، دشرکت د دائنینو په وړاندې دشرکت د انحلال تر وخته مسئول دی یاپه هغه موده کې چې موضوع تر اجراآتو لاندې وي دائنین خاصو شریکانو ته دمراجعې حق نلري.
دشرکت دانحلال په صورت کې، دائنین دخاص تضامني شرکت دټولې شتمنۍ دمطالبې دحق لرونکی دی.

**دشرکت د دائنینو د طلباتو ترجیح**

**یوسلو اویایمه ماده:**

دخاص تضامني شرکت دانحلال په صورت کې، دشرکت د دائنینو طلبات، دشخصي دائنینو پرطلباتو مقدم دی.

**له شخصي دائنینو سره دشرکت د دائنینو دحقوقو برابري**

**یوسلو یو اویایمه ماده:**

که چېرې دشرکت شتمني د دائنینو دطلباتو بسنه (کفایت) ونکړی، دائنین کولای شي خپل پاتې طلبات دعامو شریکانو له شخصي شتمنۍ څخه وغواړي، پدی حالت کې دشرکت دائنین دعامو شریکانو له شخصي دائنینو سره برابر حقوق لري.

به اندازهٔ که در ذمت آنها باقی باشد در مقابل دائنین شرکت، تا زمانی انحلال شرکت مسئول می‌باشند یا در مدتی که موضوع تحت اجراآت قرار داشته باشد دائنین حق مراجعه را به شرکای خاص ندارند. در صورت انحلال شرکت، داینین حق مطالبهٔ کلیه دارایی شرکت تضامنی خاص را دارا می‌باشند.

**ترجیح طلبات دائنین شرکت**

**مادهٔ یکصدو هفتادم:**

درصورت انحلال شرکت تضامنی خاص ،طلبات دائنین شرکت بر طلبات دائنین شخصی مقدم می باشد.

**تساوی حقوق دائنین شرکت بادائنین شخصی**

**مادهٔ یکصدوهفتاد ویکم:**

هرگاه دارایی شرکت طلبات دائنین را تکافو نکند، دائنین می توانند متباقی طلبات خود را از دارایی شخصی شرکای عام تقاضا نمایند، دراین حالت دائنین شرکت با دائنین شخصی شرکای عام حقوق مساوی دارند.

**د ژمنه شوې پانګې غوښتنه**

**يو سلو دوه اويايمه ماده:**

په هغو حالاتو کې چې دخاص تضامني شرکت شتمني دشرکت د ديونو کفايت ونکړی، شرکت کولای شي له خپل خاص شريک څخه د ژمنه شوې ونډې چې ورکړې يې نده، ورکول وغواړي. پدې صورت کې دخاص تضامني شرکت ديون دخاصو شريکانو له شخصي ديونو سره دبرابر موقف لرونکی دی .

**د خاصو تضامني شرکتونو انحلال اوتصفيه**

**يوسلو دري اويايمه ماده:**

د عامو تضامني شرکتونو په انحلال او تصفيې پورې اړوند حکمونه د خاصو تضامني شرکتونو په هکله هم د تطبيق وړ دي.

**د شرکت دائنين**

**يوسلو څلور اويايمه ماده:**

په هغۀ صورت کې چې دخاص تضامني شرکت له دائنينو څخه يو دنوموړي شرکت له شريکانو څخه ديوۀ مديون وي اوخاص شريک لا دخاص تضامني شرکت په وړاندې خپلې مالي

**مطالبۀ سرمايۀ تعهد شده**

**مادۀ يکصدوهفتاد ودوم:**

درحالاتی‌که دارايی شرکت تضامنی خاص ديون شرکت را تکافو نکند، شرکت می‌تواند از شريك خاص خود پرداخت سهم تعهد شده را که تأديه ننموده است، مطالبه نمايد. در اين صورت، ديون شرکت تضامنی خاص با ديون شخصی شرکای خاص دارای موقف مساوی می‌باشد.

**انحلال و تصفيۀ شرکت های تضامنی خاص**

**مادۀ يکصدوهفتادوسوم:**

احکام مربوط به انحلال و تصفيۀ شرکت های تضامنی عام در مورد شرکتهای تضامنی خاص نيز قابل تطبيق می باشد.

**دائنين شرکت**

**مادۀ يکصدوهفتاد وچهارم:**

در صورتی‌که يکی از دائنين شرکت تضامنی خاص مديون يکی از شرکای شرکت مذکور باشد و شريك خاص هنوز تعهدات مالی خود را در برابرشرکت تضامنی خاص ادا نکرده

ژمنې پوره کړې نه وي، پدې صورت دخاص شریک دین د داین په وړاندې دمحاسبې وړ دی .

## شپږم فصل
## دکار تضامني شرکت

**له شریکانو څخه دکار دسرته رسولو او د اجرت د ورکړې غوښتنه**

**یو سلو پنځه اویایمه ماده :**

له شریکانو څخه هر یو دکار له تضامني شرکت څخه په استازیتوب دکار په منلو کې یو دبل وکیل ګڼل کېږي. دکار خاوند له هر شریک څخه دکار سرته رسول او بالمقابل له شریکانو څخه هر یو کولای شي دکار له خاوند څخه د کار اجرت وغواړي که چېرې د کار خاوند اجرت له شریکانو څخه یوهٔ ته ورکړي، دغه ورکړه ټولو شریکانو ته داجرت ورکړه ګڼل کېږي.

**نورو اشخاصو ته دکار محولول**

**یوسلو شپږ اویایمه ماده:**

شریک کولای شي دخپلې غاړې کار نورو شریکانو یا نورو اشخاصو ته محول کړي، خو داچې دکار دتضامني شراکت په عقد کې بل ډول تصریح شوی وي، یا دکار

باشد ، در این صورت دین شریك خاص در برابر داین قابل محاسبه می باشد .

## فصل ششم
## شرکت تضامنی کار

**مطالبهٔ انجام کار و پرداخت اجرت از شرکاء**

**مادهٔ یکصدوهفتادوپنجم:**

هریك از شرکاء درقبول کار به نمایندگی از شرکت تضامنی کار، وکیل یکدیگر پنداشته می‌شود. صاحب کار، انجام کار را از هریك از شرکاء و بالمقابل هریك از شرکاء می‌توانند اجرت کار را از صاحب کار مطالبه نمایند.هرگاه صاحب کار اجرت را به یکی ازشرکاء بپردازد ، این پرداخت، برای تمامی شرکاء پرداخت اجرت تلقی میگردد .

**محول نمودن کار به سایر اشخاص**

**مادهٔ یکصدوهفتادوششم:**

شریك می‌تواند کار ذمت خویش را به شرکای دیگر یا سائر اشخاص محول سازد ، مگر اینکه در عقد شراکت تضامنی کار، طور دیگری تصریح گردیده باشد

دخاوند شریکانو ته ویلی وي چې کار دی دټاکلي شریک لخوا سرته ورسېږي.

**د سرته رسېدلي کار د ګټې وېش**

**یوسلو اووه اویایمه ماده:**

ګټه دشریکانو ترمنځ هغسې وېشل کېږي چې پرې موافقه شوې وي. دشریکانو ترمنځ دګټې په وېش کې دهر شریک په واسطه دسرته رسېدلي کار اندازه اوهغه اجرت چې هریوۀ ته ورکول کېږي، شرط اېښودل کېدی شي.

**دکار داجراء تضمین**

**یوسلو اته اویایمه ماده:**

شریک دکار داجراء دتضمین په صورت کې دګټې دیوې برخې مستحق ګڼل کېږي، که څه هم چې هغۀ پخپله څه کار سرته نه وي رسولی.

**په کار پورې د اړوند زیان جبران**

**یوسلو نهه اویایمه ماده:**

که چېرې دکار موضوع ته دیوۀ یا له یوۀ څخه د زیاتو شریکانو لخوا زیان ورسېږي، دکار خاوند کولای شي هغوی دهغۀ زیان جبران ته چې ورته اووښتی دی، مکلف کړي. دشریکانو لخوا دزیان جبران دکار

یا صاحب کار به شرکاء اظهار کرده باشد که کار ازطرف شریك معین انجام گردد.

**توزیع مفاد کار انجام شده**

**مادۀ یکصدوهفتادوهفتم:**

مفاد میان شرکاء طوری تقسیم می‌شود که به آن موافقه به عمل آمده باشد. در توزیع مفاد میان شرکاء اندازۀ کار انجام شده توسط هر شریك واجرتی که به هریك پرداخته می‌شود، شرط گذاشته شده می‌تواند.

**تضمین اجرای کار**

**مادۀ یکصدوهفتادوهشتم:**

شریك در صورت تضمین اجرای کار مستحق بخشی از مفاد شناخته می‌شود، گرچه خود وی کاری را انجام نداده باشد.

**پرداخت جبران خسارۀ مرتبط به کار**

**مادۀ یکصدوهفتادونهم:**

هرگاه به موضوع کارتوسط یك یا بیش از یك شریك صدمه وارد شود، صاحب کارمی‌تواند آنان را به جبران خساره ای که به وی عاید گردیده، مکلف سازد. جبران خساره توسط شرکاء بر طبق

دتضامني شراکت دعقد د شرایطو مطابق صورت مومي. دکار دتضامني شراکت دعقد دنه موجودیت په صورت کې، دشریکانو لخوا د تاوان ورکول، دهغوی له ونډې سره متناسب، دکار دتضامني شرکت له ګټې څخه صورت مومي، که چېرې زیان دیوهٔ یاله یوهٔ څخه دزیاتو شریکانو له عمل څخه د راپیدا شوی څرګند تقصیر له امله منځته راغلي وي، په هغهٔ صورت کې اووښتی زیان دهغو شریکانو په واسطه چې ددغهٔ ډول تقصیر مرتکب شوی وي، ورکول کېږي.

**دکار دځای او وسایلو برابرول**

**یوسلو اتیایمه ماده:**

دکار په تضامني شرکت کې یو شمېر شریکان کولای شي دکار دځای برابرول اونور شریکان دکار دتیاکلو وسایلو برابرول اودهغهٔ سرته رسول په غاړه واخلي.

شرایط عقد شراکت تضامنی کار، صورت می گیرد. درصورت عدم موجودیت عقد شراکت تضامنی کار، پرداخت خساره بوسیله شرکاء متناسب به سهم آنها از مفاد شرکت تضامنی کار صورت می گیرد، هرگاه خسارات به اثر تقصیر آشکار ناشی ازعمل یك یا بیش از یك شریك بوجود آمده باشد، درآنصورت خسارهٔ عایده توسط شرکایی که مرتکب چنان تقصیر شده باشند، پرداخته می شود.

**تهیهٔ محل کار و وسایل**

**مادهٔ یکصدو هشتادم:**

در شرکت تضامنی کار عده ای از شرکاء می‌توانند تهیهٔ محل کار و سایر شرکاء تهیهٔ وسایل معین کار و انجام آنرا بعهده بگیرند.

## اووم فصل
## متفرقه حکمونه

**د فعالیت دوام**
**یوسلو یو اتیایمه ماده:**
(۱) هغه تضامني شرکتونه چې ددی قانون له انفاذ دمخه یې له نورو دولتي واکمنو مراجعو څخه د فعالیت جواز اخستی اوهغهٔ یې دسوداګریزو سندونو او علامو په دفتر کې ثبت کړی وي، ددی قانون په نافذېدو سره یې، قانوني موجودیت دوام مومي اولدی وروسته ددی قانون دحکمونو تابع دی.
(۲) هغه تضامني شرکت چې لدی قانون سره په نه مطابقت کې جوړ شوی دی، تضامني شرکت نه ګڼل کېږي.

**دمالیاتي وجیبو ادا کول**
**یوسلو دوه اتیایمه ماده:**
پدی قانون کې درج شوی تضامني شرکتونه او شریکان یې مکلف دی د اړوندو نافذو قوانینو دحکمونو مطابق خپلې مالیاتي او تأدیاتي وجیبې اداء کړی.

## فصل هفتم
## احکام متفرقه

**ادامهٔ فعالیت**
**مادهٔ یکصدوهشتاد ویکم:**
(۱)شرکت های تضامنی که قبل ازانفاذ این قانون، ازسائر مراجع ذیصلاح دولتی جواز فعالیت اخذ وآنرا ثبت دفتر اسناد وعلایم تجارتی نموده باشند، با انفاذ این قانون،موجودیت قانونی شان ادامه یافته و بعد از این تابع احکام این قانون می‌باشند.
(۲)شرکت تضامنی ای که در عدم مطابقت با این قانون تشکیل گردیده باشد، شرکت تضامنی شمرده نمی‌شود.

**ادای وجایب مالیاتی**
**مادهٔ یکصدو هشتاد ودوم :**
شرکتهای تضامنی مندرج این قانون وشرکای آن مکلف اند طبق احکام قوانین نافذهٔ مربوط وجایب مالیاتی وتأدیاتی خویش را ادا نمایند.

**دمقررو، کړنلارو او لایحو وضع کول**
**یوسلو دري اتیایمه ماده:**
دسوداګرۍ وزارت کولای شي ددی قانون دحکمونو د ښه تطبیق په منظور مقررې وړاندیز او اړوندی کړنلارې او لایحې وضع کړي.

**دانفاذ نېټه**
**یوسلو څلور اتیایمه ماده:**
دغه قانون دتوشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دی خپور شي، په نافذېدو سره یې د ۱۳۳۶کال د تلې د میاشتې په (۸۹) ګڼه رسمي جریده کې خپاره شوی، دافغانستان دسوداګرۍ په اصولنامه کې درج په تضامني شرکتونو پورې اړوند حکمونه اود ۱۳۵۵/۱۰/۱۵ نېټې په مدني قانون کې اړوند حکمونه او د نورو قوانینو له حکمونو څخه هر حکم چې ددی قانون د حکمونو له یوه حکم سره متناقض وي، لغو ګڼل کیږي.

**وضع مقرره ها، طرزالعمل ها ولوایح**
**مادۀ یکصدو هشتاد وسوم:**
وزارت تجارت می‌تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون مقرره ها راپیشنهاد و طرزالعمل ها و لوایح مربوط را وضع نماید.

**تاریخ انفاذ**
**مادۀ یکصدوهشتاد وچهارم:**
این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن احکام مربوط به شرکت های تضامنی مندرج در اصولنامه تجارت افغانستان منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۸۹) میزان سال ۱۳۳۶ و احکام مربوط درقانون مدنی مؤرخ ۱۵ /۱۰/ ۱۳۵۵ وهر حکم از احکام سایر قوانین که متناقض با حکم از احکام این قانون باشد، ملغی شناخته می‌شود.

# قانون میانجیگری (مصالحه) تجارتی

**د افغانستان اسلامي جمهوريت**

**ګڼه: (۱۶۸۳۷)**

**نېټه: ۱۳۸۵/۱۰/۲۸**

**د عدليې وزير محترم سرور دانش!**

د سوداګريز منځګړيتوب (مصالحې) قانون چې د وزيرانو شوري د **۱۳۸۵/۱۰/۲۵** نېټې د (**۳۵**) ګڼې مصوبې پر بنسټ په (**۳**) فصلونو او (**۲۵**) مادو کې تصويب او زمونږ لخوا د **۱۳۸۵/۱۰/۲۷** نېټې د (**۹۸**) ګڼې تقنيني فرمان په توګه توشيح شوې دی، تاسې ته درواستول شو څوېې په رسمي جريده کې به خپرولو اقدام وکړې.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي**

**جمهوريت رئيس**

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**شماره: (۱۶۸۳۷)**

**تاریخ: ۱۳۸۵/۱۰/۲۸**

**محترم سرور دانش وزیر عدلیه!**

قانون میانجیگری (مصالحه) تجارتی که به اساس مصوبهٔ شماره (**۳۵**) مؤرخ **۱۳۸۵/۱۰/۲۵** شورای وزیران به داخل (**۳**) فصل و (**۲۵**) ماده تصویب و از جانب ما به حیث فرمان تقنینی شماره (**۹۸**) مؤرخ **۱۳۸۵/۱۰/۲۷** توشیح گردیده است، به شما ارسال شد تا به نشر آن در جریدهٔ رسمی اقدام نمائید.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی**

**افغانستان**

## د سوداګریز منځګړیتوب (مصالحه) د قانون د توشېح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۹۸)

نېټه: ۱۳۸۵/۱۰/۲۷

**لومړۍ ماده:**
د افغانستان د اساسي د (۷۹) مادې د حکم پربنسټ، د سوداګریز منځګړیتوب (مصالحې) قانون چې د وزیرانو د شوري د ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ نېټې د (۳۵) ګڼې مصوبې پر بنسټ په (۳) فصلونو او (۲۵) مادو کې تصویب شوې، د تقنیني فرمان په توګه توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**
د افغانستان د اسلامي جمهوریت د عدلیې وزیر او په پارلماني چاروکي د دولت وزیر مؤظف دي، دغه قانون د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړیدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې ملي شوري ته وړاندې کړي.

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح قانون میانجیگری (مصالحه) تجارتی

شماره: (۹۸)

تاریخ: ۱۳۸۵/۱۰/۲۷

**ماده اول:**
بتأسی از حکم مادهٔ (۷۹) قانون اساسی افغانستان قانون میانجیگری (مصالحه) تجارتی را که به اساس مصوبهٔ شماره (۳۵) مؤرخ ۱۳۸۵/۱۰/۲۵ شورای وزیران به داخل (۳) فصل و (۲۵) ماده تصویب گردیده است، به حیث فرمان تقنینی توشیح می‌دارم.

**مادهٔ دوم:**
وزیر عدلیهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و وزیر دولت امور پارلمانی مؤظف است این قانون را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسهٔ شورای ملی به شورای ملی تقدیم نماید.

**درېیمه ماده:**
دغــه تقنینــي فرمــان د توشــېح لــه نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي**

**جمهوریت رئیس**

**ماده سوم:**
این فرمان تقنینی از تـاریخ توشـیح نافــذ و در جریــدۀ رســمی نــشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د سودا ګریز منځګړیتوب (مصالحې) قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**موخه**

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون د منځګړیتوب (مصالحې) له لارې د سوداګریزې شخړې چټک، عادلانه او بې پلوه حل او فصل ته د اړخونو د هڅونې او پدې برخه او نورو اړوندو چارو کې د آسانتیاوو د برابرولو په منظور، وضع شوی دی.

**اصطلاحګانې**

**دوه یمه ماده :**

لاندې اصطلاحګانې پدې قانون کې دغه معنا وې لري :

۱- منځګړی : له یوه یا زیاتو حقیقي اشخاصو څخه عبارت دي چې د اړخونو د موافقې پر بنسټ، د اړوندې شخړې د حل او فصل په غرض ټاکل کېږي .

۲- منځګړیتوب (مصالحه) : له هغې لازم الاجراء عملیې څخه عبارت ده چې د هغې پر بنسټ منځګړی د اړخونو دغوښتنلیک

## قانون میانجیگری (مصالحه) تجارتی
## فصل اول
## احکام عمومی

**هدف**

**مادۀ اول:**

این قانون به منظور تشویق طرفین منازعۀ تجارتی به حل و فصل سریع، عادلانه و بیطرفانه ازطریق میانجیگری (مصالحه)، فراهم آوری تسهیلات در زمینه و سایرامور مربوط به آن، وضع گردیده است.

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می‌نماید:

۱- میانجی: عبارت از یک شخص حقیقی یا بیشتر ازآن است که به اساس توافق طرفین، غرض حل و فصل منازعه مربوط تعیین می گردند.

۲- میانجیگری (مصالحه) : عبارت از عملیۀ لازم الاجرای است که به تأسی از آن میانجی به اساس درخواست و توافق طرفین ،

اوتوافق په اساس، د اقتصادي او سوداګریزو شخړو د چټک او عادلانه حل او فصل په منظور، بې پلوه خدمتونه سر ته رسوي.

۳- سوداګریزه معامله: د سوداګریز او اقتصادي ماهیت لرونکې ټول هغه مناسبات پکې شامل دي چې د قرار داد پر بنسټ یا پرته له هغۀ باندي استوار وي.

۴- محکمه: د افغانستان له واکمنې سوداګریزې محکمې څخه عبارت ده.

**د شخړې د حل دلارې نه تحمیلول**

**درېیمه ماده:**

منځګړې نشي کولای د شخړې وړاندیز شوې حل لاره، پر اړخونو باندی تحمیل کړي.

**له تطبیق څخه انصراف**

**څلورمه ماده:**

اړخونه کولای شي د دی قانون د حکمونو له تطبیق څخه پر انصراف باندی موافقه وکړي.

**د تطبیق ساحه**

**پنځمه ماده:**

د دی قانون حکمونه د شخړې پر ټولو اړخونو باندی د تطبیق وړ

خدمات بیطرفانه را بمنظور حل و فصل سریع و عادلانه منازعات اقتصادی و تجارتی انجام می‌دهد.

۳- معاملهٔ تجارتی: شامل کلیه مناسبات دارای ماهیت تجارتی و اقتصادی می‌باشد که به اساس قرارداد یا غیر آن استوار باشد.

۴- محکمه: عبارت از محکمهٔ ذیصلاح تجارتی افغانستان می‌باشد.

**عدم تحمیل راه حل منازعه**

**مادهٔ سوم:**

میانجی نمی تواند راه حل پیشنهاد شده منازعه را بالای طرفین تحمیل نماید.

**انصراف از تطبیق**

**مادهٔ چهارم:**

طرفین می‌توانند به انصراف از تطبیق احکام این قانون موافقه نمایند.

**ساحهٔ تطبیق**

**مادهٔ پنجم:**

احکام این قانون بالای تمام طرفین منازعه قابل تطبیق

دی، خو دا چې موافقه د دی قانون په ځلورمه ماده کې د درج شوی حکم مطابق ، صورت موندلی وي.

**د نه تطبیق حالتونه**

**شپږمه ماده :**

که چیرې منځګړی د محکمې یا حکمیت لخوا وټاکل شي ، د دی قانون حکمونه د تطبیق وړ ندی .

بوده، مگراینکه موافقه طبق حکم مندرج مادۀ چهارم این قانون صورت گرفته باشد.

**حالات عدم تطبیق**

**مادۀ ششم:**

هرگاه میانجی ازطرف محکمه یا حکمیت تعیین گردد، احکام این قانون قابل تطبیق نمی‌باشد.

## دوه یم فصل
## د منځګړیتوب ډول

## فصل دوم
## طرز میانجیگری

**د منځګړیتوب پیلول**

**اوومه ماده :**

دشخړې د حل او فصل په هکله د منځګړیتوب عملیه له هغې نېټې څخه پیل کیږي چې د شخړې اړخونه په هغې کې پر حضور او ګډون باندی موافقه کوي .

**آغاز میانجیگری**

**مادۀ هفتم:**

عملیۀ میانجیگری در مورد حل و فصل منازعه از تاریخ آغاز می‌گردد که طرفین منازعه به حضور و شرکت در آن توافق می‌نمایند.

**د بلنې ردیدل**

**اتمه ماده :**

که چیرې د شخړې له اړخونو څخه یو د بلن لیک د استولو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترځ یا هغې مودی کې چې پکې ټاکل شوې ده، د مصالحې په اړه د بلن لیک منل

**رد دعوت**

**مادۀ هشتم:**

هرگاه یکی از طرفین منازعه در خلال (۳۰) روز از تاریخ ارسال دعوت نامه یا مدتی که در آن معین شده است ، قبولی دعوتنامه را مبنی بر مصالحه

تر لاسه نکړی ، مصالحې ته بلنه رد شوې ګڼل کېږي .

**د منځګړیتوب اجراء**

**نهمه ماده :**

(۱) د شخړې اړخونه کولای شي د منځګړیتوب د څرنګوالی په هکله بل ډول موافقه وکړی .

(۲) منځګړی کولای شي د منځګړیتوب د اجراء د څرنګوالی په هکله د شخړې د اړخونو موافقې ته د نه لاس رسۍ په صورت کې، عملیه د قضیې د اوضاع او شرایطو، د اړخونو د غوښتنو او د شخړې د چټک حل له پام کې نیولو سره په هغهٔ ډول چې مناسب یې ګڼي ، سرته ورسوي.

**د منځګړي کتنه (ملاقات)**

**لسمه ماده :**

منځګړی کولای شي له اړخونو سره یو ځای یا په جلا توګه کتنه وکړی یا ورسره تماس برقرار کړی .

دریافت ننماید ، دعوت به مصالحه ردشده تلقی می گردد .

**اجرای میانجیگری**

**مادهٔ نهم:**

(۱) طرفین منازعه میتوانند درمورد نحوهٔ میانجیگری طور دیگری توافق نمایند .

(۲) میانجی می‌تواند در صورت عدم دستیابی به توافق طرفین منازعه در مورد نحوهٔ اجرای میانجیگری ، عملیهٔ را با نظر داشت اوضاع و شرایط قضیه، خواست های طرفین و حل سریع منازعه به نحویکه مناسب داند ، انجام دهد .

**ملاقات میانجی**

**مادهٔ دهم:**

میانجی می‌تواند با طرفین یکجا یا طور جداگانه ملاقات یا تماس برقرار نماید .

**د طرحې وړاندې کول**

**یوولسمه ماده :**

منځګړې کولای شي د منځګړیتوب د عملیې په هر یوه پړاو کې خپلې طرحې ، اړخونو ته د شخړې د حل او فصل لپاره وړاندې کړي.

**منصفانه چلند**

**دوو لسمه ماده:**

منځګړې مکلف دی په هر حالت یا له اړخونو سره د منځګړیتوب د عملیې د اجراء په وخت کې منصفانه چلند وکړي.

**د مدرکونو نه راټولول**

**دیارلسمه ماده :**

منځګړې، اړخونه او نور هغه اشخاص چې په یو ډول نه یو ډول د منځګړیتوب په عملیه کې دخیل وي، نشي کولای، د حکمیت او قضایي څېړنې په بهیر کې، په لاندې مواردو کې مدرکونه برابر او د شاهد په توګه شهادت اداء کړي :

۱- د منځګړیتوب په عملیه کې د داخلېدو په منظور د یوه اړخ لخوا بلنه یا پدې عملیه کې برخې اخیستنې ته د بل لوري لېوالتیا .

۲- د شخړې د ممکنه حل او فصل

**ارائه طرح**

**مادۀ یازدهم:**

میانجی می‌تواند در هر یك از مراحل عملیۀ میانجیگری، طرح های خود را برای حل و فصل منازعه به طرفین ارائه نماید.

**برخوردمنصفانه**

**مادۀ دوازدهم:**

میانجی مکلف است در هر حالت یا حین اجرای عملیۀ میانجیگری با طرفین ، برخورد منصفانه نماید.

**عدم جمع آوری مدارك**

**مادۀ سیزدهم:**

میانجی، طرفین و سایر اشخاصی که به نحوی از انحاء درعملیۀ میانجیگری دخیل باشند، نمی توانند در روند حکمیت و رسیدگی قضایی در موارد ذیل، مدارك را فراهم آوری و منحیث شاهد ادای شهادت نماید:

۱-دعوت ازجانب یکی از طرفین، به منظور دخیل شدن در عملیۀ میانجیگری ویاتمایل طرف دیگر به سهمگیری در این عملیه.

۲- اظهار نظر یا ارایۀ پیشنهاد

پــه اړه د منځګړیتــوب د یــوې اړخ لخــوا د نظــر یــا وړانــدیز وړانــدی کول.
۳- هغه اظهارات یا اعترافونه چې د اړخونــو لخــوا د منځګړیتــوب د عملیې په ترڅ کې صورت موندلی وي .
۴- هغه وړاندیزونه چې د منځګړي لخوا وړاندی شوی وي .
۵- د شخړې د حل او فصل لپاره د هغـې وړانـدیز د منلـو پـه اړه چـې د منځګړي لخوا وړاندی شوی وي ، د یوې اړخ لېوالتیا .
۶- هغــه ســند چــې یــواځې د منځګړیتوب د عملیې په منظور ، ترتیب شوی وي .

**د حکم نه ښکاره کول**

**څوارلسمه ماده :**

د حکمیت بـورډ ، محکمـه یـا نـور دولتــي واکمــن مقامــات نــشي کولای، د دی قـانون د یـو ویشتمې مــادی پــه حکــم کــې د درج شــوو معلومــاتو د ښـکاره کولــو حکــم صـادر کـړی . کـه چېـرې نومـوړي معلومـــات د دی قـــانون پـــه یوویـشتمه مـاده کـې د درج شـوی حکــم مغــایر د مــدرک پــه توګــه

توسط یکی از طرفین میانجیگری در رابطـه بـه حـل و فـصل ممکنـه منازعه.
۳- اظهــارات یــا اعترافــاتی کــه توســط طــرفین در خــلال عملیــۀ میـــانجیگری صـــورت گرفتـــه باشد.
۴- پیـــشنهاداتی کـــه توســـط میانجی ارائه شده باشد.
۵- تمایل یکی از طرفین مبنی بر پـذیرش پیـشنهادیکه بـرای حـل و فصل منازعه توسط میانجی ارائـه شده باشد.
۶- سـندی کـه صـرف بـه منظـور عملیــۀ میــانجیگری ترتیــب شــده باشد .

**عدم افشای حکم**

**مادۀ چهاردهم:**

بـورد حکمیـت، محکمـه یـا سـایر مقامــات ذیــصلاح دولتــی نمــی تواننـد ، حکـم افـشای معلومـات منـدرج حکـم مـادۀ بیـست و یکـم ایـــن قـــانون را صـــادر نمایـــد. هرگـاه معلومـات متـذکره مغـایر حکـم منـدرج مـادۀ بیـست و یکـم ایـــن قـــانون بـــه حیـــث مـــدرک ارائـــه گـــردد ، ایـــن مـــدارک

ورانــدی شــي، دغــه مدرکونــه د اعتبار وړ ندی ، خو دا چې د دغو معلوماتو افشاء کېدل ، د شخړې د حـل او فـصل د موافقــه لیـک د تطبیق په منظور ، لاژم وي .

**د مدرکونو منل**

**پنځلسمه ماده :**

د دی قانون په یو ویشتمه ماده کې د درج شـوی حکـم لـه پـه پـام کـې نیولـو سـره، هغـه مدرکونـه چـې د حکمیت، قضايي څېړنې او په نورو ورته تګلارو کې د منلو وړ وي ، د منځګړیتوب په عملیه کې هم منـل کېدی شي .

**د منځګړیتوب د عملیې پای**

**شپاړسمه ماده :**

منځګړیتوب په لاندی حالاتو کې د عقد یا اعلانېدو له نېټې څخه پـای ته رسېږي:

۱- د اړخونو لخوا د شخړې د حل او فـصل د موافقـه لیـک د عقـد یـا لاسلیک په صورت کې .

۲- پــه هغــۀ صــورت کــې چــې منځګــړی اعــلام کــړی چــې د منځګړیتــوب پــه عملیــه کــې تــر دی زیــات هانــد د توجیــه وړ ندی .

قابــل اعتبــار نمــی باشــد ، مگراینکــه افــشای معلومــات مــذکور بــه منظــور تطبیــق موافقتنامـۀ حـل و فـصل منازعـه، لازم باشد .

**پذیرش مدارك**

**مادۀ پانزدهم:**

بانظرداشـت حکـم منـدرج مـادۀ بیست و یکم این قانون ، مدارکی کـه در رونـد حکمیـت ،رسـیدگی قضایی و روند های مشابه دیگری قابـل پـذیرش باشـد ، در عملیـۀ میــانجیگری نیــز پذیرفتــه شــده می‌تواند .

**ختم عملیۀ میانجیگری**

**مادۀ شانزدهم:**

میــانجیگری در حــالات ذیــل از تـاریخ عقـد یـا اعـلام خاتمـه می یابد :

۱- در صـورت عقـد یـا امـضای موافقتنامـۀ حـل و فـصل منازعـه توسط طرفین.

۲- در صورتی‌که میـانجی اعـلام نمایــد کــه مــساعی در عملیــۀ میــانجیگری بیــشتر از ایــن قابــل توجیــه نمی باشد.

۳- په هغهٔ صورت کې چې اړخونه، د منځګړیتوب د عملیې پای ته رسېدل منځګړي ته اعلام کړي .
۴- په هغهٔ صورت کې چې یو له اړخونو څخه بل اړخ یا اړخونو او منځګړي ته د منځګړیتوب د عملیې پای ته رسېدل اعلام کړي .

## دریم فصل
## متفرقه حکمونه

**دحکم په توګه د منځګړي نقش**
**اووه لسمه ماده :**
منځګړی نشي کولای په هغه شخړه کې چې پخوا یا اوس د منځګړیتوب په هکله د بحث موضوع ده ، یا په کومه بله شخړه کې چې له عین قرارداد یا له نومورو شخړو سره په تړاو کې له حقوقي رابطي څخه را ولاړه شوې وي ، د حکم په توګه عمل وکړي ، خو دا چې اړخونو پدې برخه کې موافقه کړې وي .

**د تعلیق موده**
**اتلسمه ماده :**
د شخړې د حل او فصل په هکله د وخت تېرېدل ، د منځګړیتوب د

۳- در صورتی که طرفین، ختم عملیهٔ میانجیگری را به میانجی اعلام نمایند .
۴- در صورتی که یکی ازطرفین به طرف یا طرف های دیگر و میانجی ختم عملیهٔ میانجیگری را اعلام نماید .

## فصل سوم
## احکام متفرقه

**نقش میانجی به حیث حکم**
**مادهٔ هفدهم:**
میانجی نمی تواند در منازعه ای که قبلاً یا فعلاً موضوع مورد بحث میانجیگری بوده ، یا در منازعهٔ دیگری که از عین قرارداد یا رابطهٔ حقوقی مرتبط به منازعات متذکره ناشی شده باشد، منحیث حکم عمل نماید ، مگراینکه طرفین در زمینه موافقه نموده باشند.

**مدت تعلیق**
**مادهٔ هجدهم:**
مرور زمان در مورد حل و فصل منازعه ، از تاریخ آ غاز عملیهٔ

عملیې د پیل له نېټې څخه د تعلیق په حالت کې قرار نیسي .
په هغهٔ صورت کې چې د منځګړیتوب عملیه، دحل او فصل موافقې ته له رسېدو پرته پای ته ورسېږي، د وخت د تېرېدو موده له همدغې نېټې څخه بیا پیل کېږي .

**د منځګړي پېژندګلوی**

**نولسمه ماده :**

د منځګړي په توګه ورپېژندل شوی شخص مکلف دی له انتصاب د مخه یا وروسته یا د منځګړیتوب د عملیې په بهیر کې د خپل شخصیت او په ځان پورې د نورو اړوندو حالاتو په هکله چې د هغهٔ د خپلواکۍ (استقلالیت) او بې پلوۍ په برخه کې د شک او تردید د له منځه تلو موجب کېږي، د شخړې اړخونو ته لازم معلومات وړاندې کړي ، خو دا چې د مخه یې د دهٔ لخوا خبرتیا ترلاسه کړې وي.

**د معلوماتو افشاء کول**

**شلمه ماده :**

په هغهٔ صورت کې چې منځګړی د یوهٔ اړخ لخوا د شخړې په هکله معلومات ترلاسه کړی ، کولای شي هغه د منځګړیتوب په عملیه کې

میانجیگری به حالت تعلیق قرار می گیرد .
درصورتی که عملیهٔ میانجیگری بدون دستیابی به موافقه حل و فصل خاتمه یابد ، مدت مرور زمان از همین تاریخ مجدداً آغاز می گردد .

**معرفی میانجی**

**مادهٔ نزدهم:**

شخص معرفی شده به حیث میانجی مکلف است قبل از انتصاب یا بعد از آن یا در جریان عملیهٔ میانجیگری راجع به شخصیت و سایر احوال مربوط به خود که موجب از بین رفتن شك و تردید در مورد استقلالیت و بی طرفی اش می گردد ، به طرفین منازعه معلومات لازم ارائه نماید ، مگراینکه قبلاً در مورد از جانب وی اطلاع یافته باشند .

**افشای معلومات**

**مادهٔ بیستم:**

درصورتی که میانجی توسط یکی از طرفین در مورد منازعه معلومات دریافت نماید ، میتواند آنرا به هر یك از طرف دیگرذیدخل

هر یوهٔ بل اړوند اړخ ته څرګند کړي، خو دا چې د محرمیت په ساتنې یې تاکید شوی وي .

**د معلوماتو محرمیت**

**یو ویشتمه ماده :**

د منځګړیتوب په عملیې پورې اړوند ټول معلومات ، د هغو حالاتو په استثنې چې ښکاره کول د دی قانون د حکمونو مطابق د شخړې د حل او فصل د موافقه لیک د تطبیق په منظور لازم وګڼل شي ، په محرم ډول ساتل کیږي خو دا چې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

**حکمیت بهیر یا قضایي څیړنې باندی توافق ته لاس اچول**

**دوه ویشتمه ماده :**

که چیرې اړخونو پر منځګړیتوب باندی موافقه کړې وي او د ټاکلې وخت مودی په ترخ کې یایې تر هغهٔ وخته چې یوه ټاکلې پیښه ، د یوې شخړې په هکله د حکمیت او قضایي څیړنې بهیر منځته راوړي، د منځګړیتوب د عملیې د نه پیلیدو په اړه خپله موافقه په څرګنده توګه ښودلې وي، نوموړې موافقه لیک د حکمیت د بورد یا

در عملیهٔ میانجیگری آشکار نماید ، مگراینکه به حفظ محرمیت آن تاکید شده باشد .

**محرمیت معلومات**

**مادهٔ بیست ویکم:**

تمام معلومات مربوط به عملیه ای میانجیگری به استثنای حالاتیکه افشای آن مطابق احکام این قانون یا بمنظور تطبیق موافقتنامهٔ حل و فصل منازعه لازم دانسته شود ، طور محرم نگهداری می گردد ، مگراینکه طرفین طوردیگری موافقه نموده باشند .

**توافق به روند حکمیت یا رسیدگی قضایی**

**مادهٔ بیست و دوم :**

هرگاه طرفین روی میانجیگری توافق و صریحاً موافقه خویش را مبنی بر عدم آغاز عملیهٔ میانجیگری در خلال مدت زمان معین یا تا زمانیکه یك رویداد معین روند حکمیت و رسیدگی قضایی را در مورد یك منازعه بمیان میاورد ، ابراز نموده باشند ، موافقتنامهٔ مذکور ازطرف بورد حکمیت یا محکمه الی

محکمې لخوا د هغۀ دشرایطو تر پلي کېدو پورې د اعتبار وړ دی ، خو دا چې د اړخونو حقوق له تلف کېدو سره مخامخ وي. دغه پېښه د منځګړيتوب د موافقه لیک د پای ته رسېدو په توګه نه ګڼل کېږي .

**د موافقه لیک تطبیق**

**درویشتمه ماده :**

که چېرې اړخونه ، د شخړې د حل او فصل موافقه لیک عقد او لاسلیک کړی ، دغه موافقه لیک عیناً د نورو سوداګریزو او اقتصادی موافقه لیکونو په څېر د تطبیق وړ دی.

**د مقررې او کړنلارو وضع کول**

**څلېریشتمه ماده :**

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت کولای شي ، د دی قانون دحکمونو د ښه تطبیق په منظور ، مقررې وړاندیز او لایحې او کړنلارې وضع او تصویب کړی .

**د انفاذ نېټه**

**پنځه ویشتمه ماده :**

دغه قانون د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دی خپور شي.

تحقق شرایط آن مدار اعتبار میباشد ، مگر اینکه حقوق طرفین به اتلاف مواجه باشد. این رویداد به مثابۀ ختم موافقتنامۀ میانجیگری تلقی نمیشود .

**تطبیق موافقتنامه**

**مادۀ بیست و سوم :**

هرگاه طرفین ، موافقتنامۀ حل و فصل منازعه را عقد و امضاء نمایند ، این موافقتنامه عیناً مانند سایر موافقتنامه های تجارتی و اقتصادی قابل تطبیق میباشد .

**وضع مقرره و طرزالعمل ها**

**مادۀ بیست و چهارم :**

وزارت تجارت و صنایع میتواند به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون، مقرره ها را پیشنهاد و لوایح و طرزالعمل ها را وضع و تصویب نماید .

**تاریخ انفاذ**

**مادۀ بیست و پنجم :**

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد .

# قانون حکمیت تجارتی

**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**ګڼه: (۱۶۸۳۵)**

**نېټه: ۱۳۸۵/۱۰/۲۸**

**د عدلیې وزیر محترم سرور دانش!**

د سوداګریز حکمیت قانون چې د وزیرانو د شوري **۱۳۸۵/۱۰/۲۵** نېټې د (**۳۵**)ګڼې مصوبې پربنسټ په (۹) فصلونو او (۶۰) مادو کې تصویب شوی او زموږ له لوري د **۱۳۸۵/۱۰/۲۷** نېټې د (**۹۵**) ګڼې تقنیني فرمان په توګه توشېح شوی دی، تاسو ته در واستول شو څو یې په رسمي جریده کې په خپرولو اقدام وکړئ.

**حامد کرزی**

**دافغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**جمهوری اسلامی افغانستان**

**شماره: (۱۶۸۳۵)**

**تاریخ: ۱۳۸۵/۱۰/۲۸**

**محترم سرور دانش وزیر عدلیه!**

قانون حکمیت تجارتی را که به اساس مصوبهٔ شماره (**۳۵**) مؤرخ **۱۳۸۵/۱۰/۲۵** شورای وزیران بداخل (۹) فصل و (۶۰) ماده تصویب گردیده و از جانب ما به حیث فرمان تقنینی شماره (**۹۵**) مؤرخ **۱۳۸۵/۱۰/۲۷** توشیح گردیده است، بشما ارسال شد تا به نشر آن در جریدهٔ رسمی اقدام نمائید.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## دسو دا ګریز حکمیت د قانون د توشیح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (**۹۵**)
نېټه: **۱۳۸۵/۱۰/۲۷**

**لومړۍ ماده:**
دافغانستان د اساسي قانون د (**۷۹**) مادې د حکم له مخې د سوداګریز حکمیت قانون چې د وزیرانو د شوري د **۱۳۸۵/۱۰/۲۵** نېټې د (**۳۵**) ګڼې مصوبې پربنسټ په (۹) فصلونو او (۶۰) مادو کې تصویب شوی دی، د تقنیني فرمان په توګه توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**
دا.ا.ج عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه قانون د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځوپه ترځ کې ملي شوري ته وړاندې کړي.

**دریمه ماده:**
دغه تقنیني فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح قانون حکمیت تجارتی

شماره: (**۹۵**)
تاریخ: **۱۳۸۵/۱۰/۲۷**

**مادۀ اول:**
به تأسی از حکم مادۀ (**۷۹**) قانون اساسی افغانستان قانون حکمیت تجارتی را که به اساس مصوبۀ شماره (**۳۵**) مؤرخ **۱۳۸۵/۱۰/۲۵** شورای وزیران بداخل (۹) فصل و (۶۰) ماده تصویب گردیده است، به حیث فرمان تقنینی توشیح می‌دارم.

**مادۀ دوم:**
وزیر عدلیه ج.ا.ا و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند این قانون را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی به شورای ملی تقدیم نماید.

**ماده سوم:**
این فرمان تقنینی از تاریخ توشیح ناقذ ودر جریدۀ رسمی نشر

کې دې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## دسوداګریزحکمیت قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**موخه**

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون دسوداګریز اواقتصادی حکمیت په هکله دافغانستان او نورو دولتونو ترمنځ دعقد شوو موافقه لیکونو له په پام کې نیولو سره،دحکمیت له لارې د سودا ګریزو او اقتصادی شخړو دچټک، عادلانه او بې پلوه حل اوفصل داسانولو او هڅونې اوپه هغوپورې د اړوند چارو دتنظیم په منظور، وضع شوی دی.

**اصطلاحګانې**

**دوه یمه ماده :**

پدی قانون کې لاندی اصطلاحګانې دغه مفاهیم افاده کوي:

۱- حکم:هغه شخص دی چې په سوداګریزو شخړو کې دحکمیت دنده په غاړه لري.

۲- حکمیت:هغه لازم الاجراء عملیه ده چې پربنسټ یې حکم یا حکمان یادحکمیت اداره د اړخونو دغوښتنې او موافقې یادمحکمې

## قانون حکمیت تجارتی
## فصل اول
## احکام عمومی

**هدف**

**مادۀ اول:**

این قانون به منظور تسهیل و تشویق حل و فصل سریع، عادلانه و بیطرفانۀ منازعات تجارتی واقتصادی از طریق حکمیت بانظرداشت موافقتنامه های منعقده میان افغانستان و سایر دول در مورد حکمیت تجارتی و اقتصادی و تنظیم امور مربوط به آن، وضع گردیده است.

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می‌نماید:

۱-حکم: شخص است که وظیفۀ حکمیت را در منازعات تجارتی به عهده دارد.

۲-حکمیت: عملیۀ لازم الاجرایی است که به اساس آن حکم یا حکم ها یا ادارۀ حکمیت بالاثر تقاضا و توافق طرفین یا قرار محکمه ،

دقرارله مخې داقتصادی او سوداګریزو معاملو له قرارداد څخه د راپیدا شوو شخړو دچټک او عادلانه حل اوفصل په منظور، بې پلوه خد متونه سرته رسوي.

۳- دحکمیت موافقه لیک: حکم، حکمانویادحکمیت بورډته له قرارداد یا پرته له هغۀ څخه د راپیدا شوو شخړو دبشپړې یا یوې برخې د احالې په اړه، د اړخونو (په ماده واره توګه یا له هغې پرته) لیکلی موافقه لیک دی.

۴- دحکمیت قرار: هغه وروستی تصمیم دی چې دحکم، حکمانو یا دحکمیت د بورډ یا محکمې لخوا دشخړې دحل اوفصل په هکله نیول کیږي.

۵- سوداګریزه معامله: دسوداګریز او اقتصادی ماهیت لرونکو مناسباتو ټولې مسئلې دی چې دقرارداد یا له هغۀ پرته، پربنسټ ولاړې وي.

۶- محکمه: دافغانستان واکمنه سوداګریزه محکمه ده.

۷- دمرکزي ثبت دفتر: هغه اداره ده چې په حکمیت پورې اړوند سندونه پکې ثبت اوساتل کیږي.

خدمات بیطرفانه را به منظور حل و فصل سریع و عادلانۀ منازعات ناشی از قرارداد معاملات اقتصادی و تجارتی، انجام می‌دهند.

۳- موافقتنامۀ حکمیت: موافقتنامۀ کتبی طرفین (طور ماده وار یا غیر آن) مبنی بر احالۀ کلی یا قسمی منازعات ناشی از قرارداد یا غیر آن به حکم، حکم ها یا بورد حکمیت می‌باشد.

۴- قرارحکمیت: تصمیم نهایی است که ازطرف حکم، حکم ها یا بورد حکمیت یا محکمه در مورد حل وفصل منازعه اتخاذ می گردد.

۵- معاملۀ تجارتی: کلیه مسایل شامل مناسبات دارای ماهیت تجارتی و اقتصادی که به اساس قرارداد یا غیر آن استوار باشد.

۶- محکمه: محکمۀ ذیصلاح تجارتی افغانستان می‌باشد.

۷- دفتر ثبت مرکزی: اداره ای است که اسناد مربوط حکمیت درآن ثبت و نگهداری می گردد.

**دحکمیت ډول**

**درېیمه ماده :**

(۱) حکمیت په دوو(نړیوالې او کورنۍ) طریقو صورت موندلی شي.

(۲) حکمیت په لاندی حالاتو کې نړیوال ګڼل کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې په قراردادکې تصریح شوی وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې سوداګریزې اواقتصادی معاملې دځوهېوادونو ترمنځ وي اوپه قرارداد کې تصریح شوې نه وي.

(۳) په قراردادکې دنه درج په صورت کې،دهغهٔ هېواد دحکمیت قانون چې اړخونه پکې سوداګریزې معاملې سرته رسوي، تطبیقېږي.

(۴) هغه احوال چې د دی مادی په (۱) فقره کې اټکل شوی نه وي، کورنی حکمیت ګڼل کېږي.

**دتطبیق ساحه**

**څلورمه ماده :**

(۱)ددی قانون حکمونه یوازې په هغوحالاتوکې دتطبیق وړ دی چې دحکمیت ځای افغانستان وي. ددی قانون په یولسمه ماده کې

**طرز حکمیت**

**مادهٔ سوم:**

(۱) حکمیت به دو طریقه(بین المللی و داخلی) صورت گرفته می‌تواند.

(۲) حکمیت در حالات ذیل بین المللی دانسته می‌شود:

۱- درصورتی‌که درقرارداد تصریح شده باشد.

۲- درصورتی‌که معاملات تجارتی واقتصادی بین چند کشور بوده و درقرارداد تصریح نشده باشد.

(۳) در صورت عدم درج در قرارداد، قانون حکمیت کشوریکه، در آن طرفین، معاملات تجارتی را انجام می‌دهند، تطبیق می‌گردد.

(۴) احوالی‌که در فقرهٔ (۱) این ماده پیش بینی نگردیده باشد، حکمیت داخلی دانسته می‌شود.

**ساحهٔ تطبیق**

**مادهٔ چهارم:**

(۱)احکام این قانون صرف درحالاتی قابل تطبیق است که محل حکمیت افغانستان باشد.حکم مندرج مادهٔ یازدهم

درج شوی حکم او په اووم فصل کې د شاملو مادو حکمونه لدی حکم څخه مستثني دی.
(۲)ددی قانون حکمونه دهغو مشخصو شخړوپه هکله چې دحکمیت تابع نه دی یا یې حل اوفصل د نورو تقنیني سندونو پربنسټ تنظیم شوی وي، دتطبیق وړندی.

**مستقیمې خبرې اترې**

**پنځمه ماده :**

ددی قانون حکمونه، دمستقیمو خبرو اترو، منځګړیتوب یا دسوداګریزو او اقتصادی شخړو حل اوفصل ته د ورته لارو چارو له لارې،دحکمیت د اړخونو داقتصادی اوسوداګریزوشخړو دحل اوفصل خنډنه کېږي.

**دلیکلومراسلو ترلاسه کول**

**شپږمه ماده :**

لیکلې مراسلې په هغهٔ صورت کې ترلاسه شوې ګڼل کېږي چې شخصاً مرسل الیه ته وسپارل شي یا د راجستري پست یاهغو وسایلو په واسطه چې دهغو دتسلیمولو اهتمام یې ښودلی وي اوپه افغانستان کې د مرسل الیه د

این قانون و احکام مواد شامل فصل هفتم از این حکم مستثنی اند.
(۲)احکام این قانون در مورد منازعات مشخصی که تابع حکمیت نبوده یا حل و فصل آن به اساس سایر اسناد تقنینی تنظیم گردیده باشد، قابل تطبیق نیست.

**مذاکرهٔ مستقیم**

**مادهٔ پنجم:**

احکام این قانون مانع حل و فصل منازعات اقتصادی وتجارتی طرفین حکمیت، ازطریق مذاکرات مستقیم، میانجیگری یا شیوه های شبیه حل و فصل منازعات تجارتی و اقتصادی نمی گردد.

**دریافت مراسلات کتبی**

**مادهٔ ششم:**

مراسلات کتبی درصورتی دریافت شده تلقی می گردد که شخصاً به مرسل الیه سپرده شود یا توسط پست راجستری یا سایر وسایلی که اهتمام تسلیمی آن را نشان داده و به آدرس راجستر شدهٔ محل تجارت مرسل

سوداګرۍ دځای راجستر شوی آدرس ته ورتسلیم شي. پدی صورت کې مراسلې دهغو دتسلیمۍ په ورځ ،ترلاسه شوې ګڼل کېږي،خوداچې بل ډول یې موافقه کړې وي. دغه حکم یوازې پرهغومراسلو تطبیقېږي چې دحکمیت دڅېړنې (رسیدګۍ) په هکله وي.

## حکمیت ته رسیدګي

**اوومه ماده :**

حکمیت دقضیې درسیدګۍ له ورځې څخه پیل کېږي. حکم اړخونوته دځواب د وړاندې کولو لپاره موده ټاکي ، که چېرې اړخ د ټاکلې مودې په ترڅ کې خپل سندونه وړاندې نکړی، داسې ګڼل کېږي چې دخپل اعتراض له حق څخه یې صرف نظر کړی دی.

## دحکمیت پهچاروکې نهلاسوهنه

**اتمه ماده :**

محکمه یا دولتي اداري نشي کولای،پدی قانون کې د درج شوی حکمیت په چارو کې لاسوهنه وکړی،خوداچې پدی قانون کې بل ډول تصریح شوی وي..

الیه در افغانستان تسلیم داده شود. در این صورت مراسلات در روز تسلیمی آن دریافت شده پنداشته میشود ، مگراینکه طوردیگری موافقه نموده باشند. این حکم صرف برمراسلاتی تطبیق میگردد که درمورد رسیدگی حکمیت باشد.

## رسیدگی به حکمیت

**مادۀ هفتم:**

حکمیت از روز رسیدگی قضیه آغاز میگردد. حکم برای طرفین مدت را غرض ارایۀ جواب تعیین مینماید. هرگاه طرف در خلال مدت معینه اسناد خود را ارائه ننماید ، چنین پنداشته میشود که از حق اعتراض خود صرف نظر نموده است.

## عدم مداخله در امور حکمیت

**مادۀ هشتم:**

محکمه یا ادارات دولتی نمیتوانند در امور حکمیت مندرج این قانون مداخله نمایند ، مگراینکه دراین قانون طور دیگری تصریح شده باشد.

**دحکمیت دقرارونو توحید**

**نهمه ماده :**

(۱)حکم،حکمان یا دحکمیت بورډ کولای شي د اغېزمنتیا د زیاتولو او دشخړو له متعارض حل اوفصل څخه د ډډې کولو په منظور، دحکمیت څېړنې توحید او دعین شخړې یا شخړو د اړخونو موافقه ترلاسه کړی.

(۲)که چېرې محکمه تشخیص کړی چې دڅېړنې توحیداو د عین شخړې یا شخړو د اړخونو یووالی ، دحکمیت دقرارونو داغېزمنتوب دښه والی یایې دیوخپلوالی سبب کېږي،پدی صورت کې کولای شي دعین شخړې یا شخړو د اړخونو دغوښتنې له مخې دحکمیت دڅېړنې په توحید حکم وکړی.

**دحکمیت دقرارونو ساتل**

**لسمه ماده :**

(۱)دحکم،حکمانو یا دحکمیت دبورډ اجراآت اوصادرشوی قرارونه یې په محرمه توګه ساتل کېږي، خوداچې اړخونو پدی برخه کې بل ډول موافقه کړې وي.

(۲)محکمه دعین شخړې یا شخړو د اړخونو دغوښتنې له مخې،

**توحید قرارهای حکمیت**

**مادۀ نهم:**

(۱)حکم ،حکم ها یا بورد حکمیت می‌تواند بمنظور افزایش موثریت و اجتناب از حل و فصل متعارض منازعات، رسیدگی های حکمیت را توحید و موافقۀ طرف های عین منازعه یا منازعات را حاصل نماید.

(۲)هرگاه محکمه تشخیص نماید که توحید رسیدگی و اتحاد طرف های عین منازعه یا منازعات سبب بهبود موثریت یا یکسان بودن قرار های حکمیت می‌گردد، دراین صورت میتواند بالاثر درخواست طرفین عین منازعه یا منازعات به توحید رسیدگی حکمیت، حکم نماید.

**حفظ قرار های حکمیت**

**مادۀ دهم:**

(۱)اجراآت حکم، حکم ها یا بورد حکمیت و قرارهای صادرۀ آنهاطور محرم حفظ میگردد، مگراینکه طرفین درزمینه طور دیگری موافقه نموده باشند.

(۲)محکمه بالاثر درخواست طرف های عین منازعه یا

دحکمیـــت د بـــورډ داجراآتـــو او صـــادرو شـــووقرارونو دمحرمیـــت دتأمينولولپـــاره ، لازم تدبيرونـــه نیسي.

**پلټنه**

**یوولسمه ماده :**

حکـــم ،حکمـــان یـــا دحکمیـــت بورډ ،دشـــخړوحل اوفـــصل تـــه دڅېړنې(رسیدگی)،څېړنې ته لـه نـه اقدام یا دحکمیت د قرار صادرولو ته له اقدام نه کولو څخه،تر پوښتنې لاندی نشي نیول کېدی،خوداچې له اړخونوڅخه دیوۀ د ادعا لـه مخې پدی اړه چې څېړنـې تـه پـه اقـدام، څېړنـې یاد قرار دصادرېدو نـه اقـدام دنفـوذ دکـارولو، دګټوتـضاد یـا ارتشاء له امله صورت موندلی وي.

**دفعالیت ډول**

**دوولسمه ماده :**

(۱) حکم،حکمان یا دحکمیت بورډ کـولای شـي د اړونـدو قوانینـو دحکمونـو مطابق، دسوداګریزو او اقتصادی شخړو دحل دخدمتونو د اجـراء پـه منظور،دسـهامي یـا تضامني شرکت په توګه رامنځته او دمرکـزي ثبـت پـه دفتـر کـې ثبـت شي.حکم بایـد لږترلږۀ دحقوقـو یـا

منازعـات، جهت تـأمین محرمیت اجـراآت بـورد حکمیت و قرارهـای صـادره، تـدابیر لازم را اتخـاذ مـی نمایـد.

**بازرسی**

**مادۀ یازدهم:**

حکم، حکم ها یا بـورد حکمیت از رسـیدگی حـل وفـصل منازعـات، عدم اقدام به رسیدگی و یا صدور قـرار حکمیـت، مـورد بـازپرس قرارگرفتـه نمـی‌توانند ،مگراینکـه بالاثر ادعای یکی از طرفین مبنی براینکه اقدام بـه رسـیدگی ، عـدم اقدام بـه رسـیدگی یـا صـدور قـرار ناشـی از اعـــمال نفـوذ ، تـضاد منـــافع یـــا ارتـــشاء صـــورت گرفتـه باشد.

**طرز فعالیت**

**مادۀ دوازدهم:**

(۱)حکم ،حکم ها یا بورد حکمیت می‌توانند بمنظـور اجـرای خـدمات حـــل منازعـــات تجـــارتی و اقتصادی منحیث شـرکت سـهامی یا تضامنی، مطابق احکام قـوانین مربـوط، ایجـاد و دردفتـر ثبـت مرکزی ثبت گـردد. حکم بایـد حـد اقل دیپلوم پوهنځی های حقوق یـا

شرعیاتو د پوهنځیو دیپلوم ولري.
دمرکزي ثبت دفتر،دحکم دنوم دثبت له بشپړېدو وروسته،د حقوقویاشرعیاتوله پوهنځیو څخه دحکمانودهریوهٔ د فراغت د دیپلوم دثبوت یا وړاندی کولو یا دا چې نوموړی دحکمانو دیوې ټولنې فعال غړی دی، په شمول د اړوندو تجربو اوتحصیلاتو سوابق ، پداسې ډول چې په عامه توګه دلاس رسي وړ وي،د(حکمانو) ترعنوان لاندی په خپلو دوسیو کې ساتي. هرشخص ازادانه کولای شي دکار دعادی وختونو په بهیر کې دغه دوسیې وڅېړي. د مرکزي ثبت په دفتر کې دنوم دثبتونې په بشپړېدو سره،حکم کولای شي خپل دحکمیت شغل اعلان او خپور کړي.

(۲) اړخونه دحکم،حکمانو یا دحکمیت دبورډ (کورنی وي یا بهرنی حکم) په ټاکلو کې آزاد دی.

(۳) حکم،حکمان یا دحکمیت بورډ اویا دسوداګری خونې اوهغوته ورته کولای شي دحکمیت انجمنونه جوړ کړي.

شرعیات را داشته باشد.
دفتر ثبت مرکزی بعد از تکمیل ثبت نام حکم، سوابق تجارب و تحصیلات مربوط هریك از حکم ها را به شمول ثبوت یا ارایهٔ دیپلوم فراغت از پوهنځی های حقوق یا شرعیات یا اینکه موصوف عضو فعال یکی از انجمن های حکم ها می‌باشد، طوریکه بصورت عام قابل دسترسی باشد در دوسیه های خود تحت عنوان (حکم ها) نگهداری می‌نمایند. هرشخص آزادانه می‌تواند درجریان اوقات عادی کار این دوسیه ها را بررسی نماید. با اکمال ثبت نام در دفتر ثبت مرکزی،حکم می‌تواند شغل حکمیت خود را اعلان و انتشار نماید.

(۲) طرفین در انتخاب حکم، حکم ها یا بورد حکمیت (اعم ازحکم داخلی یا خارجی) آزاد می‌باشند.

(۳) حکم، حکم ها یابورد حکمیت ویا اتاق های تجارت و امثال آنها می‌توانند انجمن های حکمیت را ایجاد نمایند.

(۴) دافغانستان دحکمیت انجمنونه کولای شي دحکمیت له بهرنیو او نړیوالو انجمنونو سره خپلې اړیکې تأمین کړي.

## دوه یم فصل
## دحکمیت موافقه لیک

**دحکمانو موافقه**

**دیارلسمه ماده :**

د اړخونو ترمنځ دحکمیت موافقه په لیکلي توګه صورت مومي.

دحکمیت موافقه په لاندی حالاتو کې لیکلې ګڼل کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې موافقه لیک په سند کې درج او اړخونو هغه لاسلیک کړې وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې توافق په لیکونو او نورو لیکلو مراسلو کې (دالکترونیک پست په شمول) درج او ثبت شوی توافق منعکس کړي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې موافقه لیکونه د ادعا یا دفاعیې په مبادله کې اظهاراوپه هغوکې له اړخونو څخه یود موافقت د موجودیت ادعا وکړي او بل اړخ

(۴) انجمن‌های حکمیت افغانستان می‌توانند با انجمن های حکمیت خارجی و بین المللی روابط خویش راتأمین نماید.

## فصل دوم
## موافقتنامۀ حکمیت

**موافقۀ حکم ها**

**مادۀ سیزدهم:**

موافقۀ حکمیت بین طرفین طور کتبی صورت می گیرد.

موافقۀ حکمیت در حالات ذیل کتبی پنداشته می‌شود:

۱- درصورتی‌که موافقه نامه در سند درج و طرفین آنرا امضا نموده باشند.

۲- درصورتی‌که توافق درنامه ها و سایر مراسلات کتبی (بشمول پست الکترونیك) درج و توافق ثبت شده را منعکس نماید.

۳- درصورتی‌که موافقه نامه ها درمبادلۀ ادعاء یا دفاعیه اظهار و در آن یکی از طرفین، موجودیت موافقت را ادعا و طرف دیگر آنرا رد

هغه رد نکړي.

**په قراردادکې دحکمیت درجول**

**څوارلسمه ماده :**

که چېرې په قرارداد کې دحکمیت په هکله کوم حکم یا شرط درج شي، پرحکمیت باندې موافقه منعکسوي،پدې شرط چې قرارداد په لیکلې توګه عقد شوی وی.

**دمحکمې لخوا دحکمیت دموضوع څېړل**

**پنځلسمه ماده :**

(۱) په هغهٔ صورت کې چې په محکمه کې اقامه شوې دعوي دحکمیت د موافقه لیک تابع وي، محکمه کولای شي ، ددی قانون له حکمونو سره دهغې دمطابقت د موندلو په صورت کې، دارخونو دغوښتنې له مخې دعوي دلومړنیو اظهاراتو له اقامې دمخه ،حکمیت ته راجع کړي.

(۲)که چېرې ددی مادی په (۱) فقره کې درج شوې دعوي په محکمه کې اقامه خو حل اوفصل شوې نه وي، حکم، حکمان یا دحکمیت بورډ کولای شي قضیه وڅېړي او قرار صادر کړي. پدی صورت کې محکمه خپل اجراآت ،

ننماید.

**درج حکمیت در قرارداد**

**مادهٔ چهاردهم:**

هرگاه درقرارداد ،حکمی یا شرطی درمورد حکمیت درج گردد، موافقه به حکمیت را منعکس میسازد، مشروط براینکه قرارداد طورکتبی عقد گردیده باشد.

**رسیدگی محکمه به موضوع حکمیت**

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱)درصورتی‌که دعوی اقامه شده در محکمه تابع موافقتنامهٔ حکمیت باشد، محکمه می‌تواند درصورت دریافت مطابقت آن با احکام این قانون، بالاثر درخواست طرفین، دعوی را قبل از اقامهٔ نخستین اظهارات ،به حکمیت را جع سازد.

(۲)هرگاه دعوی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده درمحکمه اقامه ولی حل و فصل نشده باشد، حکم، حکم ها یا بورد حکمیت می‌توانند، قضیه را رسیدگی و قرار صادر نمایند. دراین صورت محکمه اجراآت خود را

دحکمیت دڅېړنې ترپاي ته رسېدو پورې ځنډوي.

(۳)په هغهٔ صورت کې چې قضیه دحکم، حکمانو یادحکمیت د بورډ ترڅېړنې لاندې وي، محکمه کولای شي له اړخونوڅخه دیوهٔ د غوښتنې لـه مخـې داحتیـاطي تـدبیرونو د نیولو په اړه قرارصادر کړي.

**سوداګریزحکمیت ته دشخړې احاله**

**شپاړسمه ماده :**

اړخونـه کـولای شـي دحکمیـت دمخکني شرط یا موافقه لیک د نه موجودیـت پـه صـورت کـې ، دحکمیـت لـه لارې دشـخړې دحـل اوفصل په اړه خپله لیکلې موافقه چې د لاندې مطالبو لرونکې وي، د سوداګریزحکمیت دفترتـه وړانـدې کړي:

۱-دشـــخړې د اړخونـــو یـــا یې د واکمنـو اسـتازو نـوم او آدرس ، دکارځای یا پستي آدرس.

۲-دشـــخړې دموضـــوع (طلـــب اودهغـه دمقدار) دخرنګوالی شرح او پـه پـام کـې دزیـان دجبـران غوښتنه.

۳-دهغهٔ قراردادیادول چې شخړه ورڅخـه راپیـدا یـاورپورې مربوطـه

الی ختم رسیدگی حکمیت معطل قرار می‌دهد.

(۳)درصـورتی‌کـه قـضیه تحـت رسیدگی حکم،حکم ها یا بـورد حکمیت قرارداشته باشد، محکمه می‌تواند بالاثر درخواست یکی از طرفین قرار مبنی بر اتخاذ تدابیر احتیاطی را صادر نماید.

**احالهٔ منازعه به حکمیت تجارتی**

**مادهٔشانزدهم:**

طـرفین مـی‌تواننـد درصـورت عـدم موجودیـت شـرط یـا موافقتنامهٔ قبلی حکمیت ،موافقهٔ کتبـی خـویش را مبنـی بـر حـل و فـصل منازعـه ازطریـق حکمیـت کـه حـاوی مطالـب ذیـل باشـد، بـه دفتـر حکمیـت تجـارتی ارائـه نماید:

۱-نـام و آدرس، محـل کـار یـا آدرس پستی طرفین منازعه و یا نمایندهٔ با صلاحیت آنها.

۲- شـرح چگـونگی موضـوع منازعـه (طلـب و مقـدار آن) و تقـاضای جبران خسـارهٔ مـورد نظر.

۳- ذکر قراردادیکه، منـازعه از آن ناشـی و یـا بـه آن مربـوط مـی

وي.
۴-دحکم یا دموافقه شوو حکمانو دشمېرياډول،دهغوی له بشپړشهرت سره.

## درېيم فصل
## دحکمیت بورډ

**دحکمیت دبورډ ترکیب**
**اووه لسمه ماده :**
اړخونه کولای شي دحکمانو شمېر وټاکي.دنه ټاکلو په صورت کې حکم یوتن وي.
که چېرې دشخړې یولوری دولت وي، پدی صورت کې دحکمانو شمېر له دریو تنو څخه لږ کېدی نشي.

**دحکمیت په بهیرکې دتابعیت خنډ**
**اتلسمه ماده :**
دشخص تابعیت دحکمیت ددندی د سرته رسولو خنډ نه کېږي، خودا چې د اړخونو په موافقه لیک کې بل ډول تصریح شوی وي.

**دحکم دټاکلو ډول**
**نولسمه ماده :**
(۱)که چېرې اړخونو دحکم یا

باشد.
۴-ذکر حکم یا تعدادی حکم های توافق شده با شهرت مکمل آنها.

## فصل سوم
## بورد حکمیت

**ترکیب بورد حکمیت**
**مادۀ هفدهم:**
طرفین می‌توانند تعداد حکم ها را تعیین نمایند. درصورت عدم تعیین، حکم یکنفر می باشد.
هرگاه یکی از طرفین منازعه دولت باشد، دراینصورت تعداد حکم ها از سه نفر کمتر بوده نمی تواند.

**مانع تابعیت در روند حکمیت**
**مادۀ هجدهم:**
تابعیت شخص مانع انجام وظیفه حکمیت نمی گردد، مگراینکه درموافقتنامۀ طرفین ،طوردیگری تصریح شده باشد.

**طرزتعیین حکم**
**مادۀ نزدهم:**
(۱)هرگاه طرفین بر طرز تعیین

حکمانو د ټاکلو پرډول موافقه نه وي کړې،حکم یا حکمان په لاندې توګه ټاکل کېږي:

۱-په هغهٔ صورت کې چې دشخړې دڅېړنې لپاره درې حکمان لازم وي،له اړخونوڅخه یوهریو،یو حکم ټاکي، پدې صورت کې، دوه ټاکل شوی حکمان درېیم حکم ټاکي.که چېرې له اړخونوڅخه هریود مقابل لوري دغوښتنلیک له نېټې څخه د (۳۰)ورځو په ترڅ کې ونشي کړی چې حکم وټاکي یا په هغهٔ صورت کې چې دوه حکمان، درېیم حکم د دوه یم حکم دټاکلو له نېټې څخه د(۳۰) ورځو په ترڅ کې ونه ټاکي، محکمه له اړخونو څخه د یوهٔ د غوښتنلیک له نېټې وروسته د (۳۰) ورځوپه ترڅ کې حکم ټاکي.

۲-که چېرې شخړه د یوهٔ حکم په واسطه حل اوفصل شي او اړخونه ونشي کړی چې پدې هکله موافقې ته ورسېږي، پدې صورت کې محکمه له اړخونوڅخه د یوهٔ د غوښتنلیک له نېټې څخه د(۳۰) ورځو په ترڅ کې حکم ټاکي.

(۲) که چېرې اړخونو دحکمانو دټاکلوپه ډول موافقه کړې وي،

حکم یا حکم ها موافقه ننموده باشند، حکم یا حکم ها طور ذیل تعیین میگردند:

۱-درصورتی‌که برای رسیدگی منازعه سه حکم لازم باشد،هریك از طرفین یك،یك حکم را تعیین می‌نماید، دراین صورت دو حکم تعیین شده حکم سوم را تعیین می‌کنند. هرگاه هریك از طرفین در خلال (۳۰) روز ازتاریخ درخواست طرف مقابل نتوانند حکم را تعیین نمایند یا درصورتی‌که دوحکم، حکم سوم را درخلال (۳۰) روز از تاریخ تعیین حکم دوم، انتخاب ننمایند، محکمه حکم را در خلال (۳۰) روز بعد از تاریخ درخواست یکی از طرفین تعیین می‌کند.

۲-هرگاه منازعه توسط یك حکم حل و فصل شود و طرفین نتوانند در مورد به موافقه برسند، در این صورت محکمه درخلال (۳۰) روز از تاریخ درخواست یکی از طرفین، حکم را تعیین می‌نماید.

(۲)هرگاه طرفین به طرز تعیین حکم ها موافقه نموده

خولــه اړخونوڅخــه یودحکمــانو دټــاکلودکړ نــلارې مطــابق عمــل ونکـړی یااړخونـه یاحکمـان ونـشي کــړی دکــړنلارې مطابق،متوقعــه موافقې تـه ورسـېږي یـا دحکمیت د دفتـر پـه شـمول ثالـث شـخص هغـه وجیبې چې د یادی شوې کړنلارې مطـابق هغـوی تـه سـپارل شـوی، ونـشي کـړی سرته ورسـوي، پـدی صـورت کـې لـه اړخونوڅخـه هـر یوکـولای شـي لـه محکمـې څخـه د لازمـو تـدبیرونو نیـول وغـواړي، خـو داچې په موافقه لیک کې بل ډول تصریح شوی وي.

(۳)که چېرې حکم ددی مادی په (۱ او۲) فقـره کـې دمحکمـې لخـوا و ټاکل شي، پدی صورت کې دحکم دغــوره کېدوشــرایط د اړخونــو د موافقه لیک مطابق پـه لاندی توګـه په پام کې نیول کېږي:

۱-لـه اړونـد قـانون څخـه دحکـم خبرتیـا او د لازمـو سـوداګریزو او اقتصادی تجربو لرل.

۲-خپلواکتوب او ناپلوي.

۳-داړخونولــه تابعیــت څخــه دمتفاوت تابعیت لرل.

(۴)ددی مادی په (۱ او۲) فقره کې

باشـند، ولـی یکـی از طرفین طبـق طرزالعمـل تعیـین حکـم هـا عمـل ننمایـد، یـا طـرفین، یـاحکم هـا نتوانند طبق طرزالعمل، به موافقۀ متوقعه نایل شوند یا شخص ثالث بـشمول دفاترحکمیـت وجـایبی را که طبق طرزالعمل متذکره بـه آنـان محـول شـده اسـت ،نتواننـد انجـام دهنـد، درایــن صــورت هریــك از طرفین می‌تواند از محکمـه اتخـاذ تـدابیر لازم را درخواسـت نمایـد، مگــر اینکــه درموافقتنامــه طــور دیگــری تــصریح شــده باشد.

(۳)هرگـاه حکـم درحـالات منـدرج فقـرات (۱ و۲) ایـن مـاده از طـرف محکمــه تعیــین گــردد، دراینصورت شرایط انتخاب حکـم طبـق موافقتنامـۀ طـرفین حـسب ذیل رعایت می‌گردد:

۱-آگــاهی حکــم از قــانون مربــوط و داشــتن تجــارب لازم تجارتی واقتصادی.

۲-استقلالیت و بیطرفی.

۳-داشـتن تابعیـت متفـاوت از تابعیت طرفین.

(۴)قــرار محکمــه درخــصوص

د درج شوو موضوعګانو په هکله د محکمې قرار د اعتراض وړ ندی.

**دحکم ورپېژندل**

**شلمه ماده :**

دحکم په توګه معرفی شوی شخص مکلف دی له انتصاب دمخه یا وروسته یا دحکمیت په بهیر کې دخپل شخصیت او په ځان پورې د نورو اړوندو احوالو په هکله چې دخپلواکتوب او ناپلوی په هکله یې دشک او تردید دله منځه تلو موجب کېږي، دشخړې اړخونو ته لاژم معلومات وړاندی کړی، خو داچې دمخه یې پدی هکله دهغهٔ لخوا معلومات ترلاسه کړی وي.

**دحکم ردیدل**

**یوویشتمه ماده:**

(۱) حکم په هغهٔ صورت کې رد یا داعتراض وړګرځي چې خپلواکتوب اوناپلوي یې ترشک اوتردید لاندی راشي یا د اړخونو دتوافق د اهلیت نه لرونکی وي.

(۲)هیڅ یو له اړخونوڅخه نشي کولای هغه حکم ئې چې ټاکلی یا یې په ټاکلو موافقه کړې وي، تراعتراض لاندی ونیسي، خوداچې

موضوعات مندرج فقرات (۱ و ۲) این ماده قابل اعتراض نمی باشد.

**معرفی حکم**

**مادهٔ بیستم:**

شخص معرفی شده به حیث حکم مکلف است قبل از انتصاب یا بعد از آن یا درجریان روند حکمیت راجع به شخصیت و سایر احوال مربوط به خود که موجب از بین رفتن شك و تردید درمورد استقلالیت و بی طرفی اش میگردد، به طرفین منازعه معلومات لاژم ارائه نماید، مگراینکه قبلاً درمورد از جانب وی اطلاع یافته باشند.

**رد حکم**

**مادهٔ بیست ویکم:**

(۱)حکم درصورتی مورد رد یا اعتراض قرارگرفته می‌تواند که بیطرفی و استقلالیت وی تحت شك و تردید واقع شود، یا فاقد اهلیت توافق طرفین باشد.

(۲)هیچ یك از طرفین نمی توانند حکمی را که تعیین یا به تعیین آن موافقه نموده ،مورد اعتراض قرار دهد، مگراینکه طرف

ملــزم لــوری دحکــم دتهــاکلو تــر وروسته مودی پورې دهغهٔ د اهلیت د نه لرلو په هکله خبرتیاوومومي.
(۳)اړخونـه کـولای شـي ددی قـانون دڅلېرېشتمې مادی دحکم له په پام کـې نیولـو سـره،دحکم پرضـد د رد یـا اعتـراض دکـړنلارې پـه هکلـه ، موافقه وکړی.

**دحکـم د رد پــه هکلــه دحکمیــت دبورډ تصمیم**

**دوه ویشتمه ماده:**

کــه چېــرې اړخونــو دحکــم پرضــد داعتــراض د کــړنلارې پــه هکلــه مخکـې موافقـه کـړې نـه وي،پـدی صورت کې هغه لوری چې دحکم د رد غوښـتونکی وي، کـولای شـي د(**۱۵**) ورځــو پــه تــرڅ کـــې ، دحکمیت دبورډ دترکیب په هکله دخبرتیـا لـه ترلاسـه کولـو یـا ددی قـانون پـه درویـشتمه مـاده کـې د درج شووشرایطو په هکله دخبرتیا له ترلاسه کولو ،لیکلی لیک دحکم د رد د دلیلونــو پــه یــادولو ســره دحکمیــت بــورډ تــه واســتوي او دحکمیت بـورډ دنومـوړي اعتـراض په هکله تصمیم ونیسي، خودا چې داعتراض وړ حکم، له خپلې دندی

ملزم الی زمان بعد از تعیین حکم در مــورد فاقــد اهلیــت بــودن آن آگاهی یابند.
(۳)طرفین می‌توانند با نظرداشت حکــم مــادۀ بیــست وچهــارم ایـن قـانون در مـورد طرزالعمل رد یـا اعتـراض برعلیـه حکم، موافقه نمایند.

**تصمیم بورد حکمیت در مورد رد حکم**

**مادۀ بیست و دوم:**

هرگـاه طـرفین درمـورد طرزالعمـل اعتراض برعلیه حکم قبلاً موافقه نکـرده باشـند، درایــن صــورت طرفــی کــه خواهــان رد حکــم باشـد، مـی‌توانـد در خـلا ل (**۱۵**) روز از حــصول اطــلاع در مــورد ترکیب بـورد حکمیت و یا حصول اطـلاع در مـورد شـرایط منـدرج مادۀ بیست وسوم این قانون، نامهٔ کتبـی را بـا ذکـر دلایـل رد حکـم بـه بـورد حکمیـت ارسـال و بـورد حکمیـــت در مـــورد اعتـــراض متـذکره تـصمیم اتخـاذ نمایـد، مگراینکـــــه حکـــــم مـــــورد اعتــــراض، از ســــمت خــــود اســـتعفاء نمایـــد و یـــا طـــرف

څخه استعفي وکړي یابل لوری دحکم د رد په اعتراض،موافقه وکړي..

**دحکم د رد په هکله دمحکمې تصمیم**

**درویشتمه ماده:**

که چېرې دحکم پرضد اعتراض دکړنلارې مطابق ، داړخونو دتوافق وړ یا ددې قانون د دوه ویشتمې مادې دحکم مطابق وارد نه وي ، پدې صورت کې اعتراض کوونکی لوری کولای شي د اعتراض د رد په اړه د حکمیت د بورډ دتصمیم په هکله دخبرتیا له ترلاسه کولو وروسته ،د(۳۰) ورځو په ترځ کې، داعتراض په اړه دتصمیم د نیولو لپاره ،محکمې ته مراجعه وکړي. دمحکمې قرار د اعتراض وړ نه دی، خود قرار د صادرېدو تروخته، داعتراض لاندې دحکمیت بورډ یا حکم کولای شي دحکمیت څېړنې ته دوام ورکړي اوخپل قرار صادر کړي.

**دحکم دماموریت پای**

**څلېریشتمه ماده:**

(۱)دشخړې اړخونه په لاندې حالاتوکې کولای شي دحکم،

دیگر به اعتراض رد حکم، موافقه نماید.

**تصمیم محکمه در مورد رد حکم**

**مادۀ بیست و سوم:**

هرگاه اعتراض برعلیه حکم طبق طرزالعمل، مورد توافق طرفین یا طبق حکم مادۀ بیست و دوم این قانون وارد نباشد، دراین صورت طرف اعتراض کننده می‌تواند بعد از دریافت اطلاعیه درمورد تصمیم بورد حکمیت مبنی بر رد اعتراض، درخلال (۳۰)روز جهت اتخاذ تصمیم پیرامون اعتراض، به محکمه مراجعه نماید. قرارمحکمه قابل اعتراض نبوده ولی الی زمان صدور قرار، بورد حکمیت یا حکم مورد اعتراض می‌تواند رسیدگی حکمیت را ادامه داده و قرار خود را صادر نماید.

**ختم ماموریت حکم**

**مادۀ بیست و چهارم:**

(۱)طرفین منازعه در حالات ذیل می‌توانند به ختم

حکمانو یا دحکمیت د بورډ د دندی په پای ته رسېدوموافقه وکړی:
۱-دحکمیت له اجراء کولو څخه دحکم د ډډې کولوپه صورت کې.
۲-دحکمیت د اجراء د نه توانېدنې په صورت کې.
۳-د وفات یا استعفي په صورت کې.
۴- دحکمیت په اجراء کې غیرموجه ځنډونه.
(۲)که چېرې دسپارل شوو دندوپه اجراء یا سرته رسولو کې د غیرموجه ځنډ په اړه ، د حکم یا حکمانو د نه توانېدنې په هکله داړخونو ترمنځ اختلاف رامنځته شي، پدی صورت کې هر اړخ کولای شي له محکمې څخه دحکم یاحکمانو د دندی پای ته رسېدل وغواړي،پدی برخه کې د محکمې قرارقطعي دی.
(۳) که چېرې حکم یا حکمان له خپلې دندی څخه استعفي وکړی یا یو اړخ دهغهٔ د دندی په پای ته رسېدو موافقه وکړی، پدی صورت کې په راوروسته دندو کې دحکم یا حکمانو پرتوانېدنې اغېزه نشي کولی.

وظیفهٔ حکم، حکم ها یا بوردحکمیت توافق نمایند:
۱-درصورت امتناع حکم از اجرای حکمیت.
۲-درصورت عدم توانایی اجرای حکمیت.
۳- درصورت وفات یا استعفاء.
۴- تاخیر غیر موجه دراجرای حکمیت.
(۲) هرگاه راجع به عدم توانایی حکم یاحکمین در مورد اجراء یا تاخیر غیر موجه در انجام وظایف محوله، بین طرفین اختلاف بروزنماید ، دراین صورت هر یك ازطرفین می‌توانند ختم وظیفهٔ حکم یا حکم ها را از محکمه درخواست نمایند. قرار محکمه در زمینه قطعی می‌باشد.
(۳) هرگاه حکم یا حکم ها از سمت خود استعفا و یا یکی از طرفین به ختم وظیفهٔ وی موافقه نماید ، دراین صورت برتوانایی حکم یا حکم ها در وظایف بعدی تاثیر وارد کرده نمی تواند.

(۴) که چېرې دحکمیت په بورډ کې دحکم یا حکمانو دندې پای ته ورسېږي، پدې صورت کې ځای نیوونکی حکم، ددمخني حکم پرتهاکلو باندې د نافذو قواعدو مطابق منصوبېږي.

(۴) هرگاه وظایف حکم یا حکم ها در بورد حکمیت خاتمه یابد درایـن صورت حکم جانشین، طبق قواعد نافذ بر تعیین حکم قبلی، منصوب می گردد.

## څلورم فصل
## دحکمیت د بورډ واکونه

## فصل چهارم
## صلاحیت بورد حکمیت

**دحکمیت د بورډ واکونه**
**پنځه ویشتمه ماده:**
(۱) دحکمیت بورډ د لاندې واکونو لرونکی دی:
۱- په خپل واک کې د ټولو شاملو شخړو حل اوفصل کول.
۲- دحکمیت د موافقه لیک د موجودیت یایې د اعتبار په هکله د اعتراضونو څېړل.
(۲) که چېرې دحکمیت په قرارداد کې کوم حکم یاشرط اټکل شوی وي، دجلاموافقه لیک په توګه ګڼل کېږي او په هغهٔ صورت کې چې دحکمیت بورډ د قرارداد د باطلېدو او لغوه کېدو تصمیم ونیسي، دغه تصمیم په قرارداد کې درج شوی حکم یا شرط له

**صلاحیت های بورد حکمیت**
**مادهٔ بیست و پنجم:**
(۱) بورد حکمیت دارای صلاحیت های ذیل می‌باشد:
۱- حل وفصل تمام منازعات شامل صلاحیت خویش.
۲- رسیدگی به اعتراضات درمورد موجودیت موافقتنامهٔ حکمیت یا اعتبار آن.
(۲) هرگاه حکمی یا شرطی در قرارداد حکمیت پیش بینی شده باشد، به حیث موافقتنامهٔ جداگانه پنداشته شده و درصورتی که بورد حکمیت به بطلان و الغای قرارداد تصمیم اتخاذ نماید، این تصمیم حکم یا شرط مندرج قرارداد، حکمیت را ازاعتبار

اعتباره نشي غورځولی.

**دحکمیت دبورډ د واک د رد ادعا**

**شپږویشتمه ماده:**

اړخونه کولای شي دحکمیت د بورډ د رد یا دنه واک ادعا د دفاعیې له وړاندې کولو دمخه د حکمیت بورډ ته اقامه کړي. لاندې حالات لدې حکم څخه مستثني دي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې هریو له اړخونوڅخه دحکم یا حکمانو یا دحکمیت د بورډ په غوره کولو یا ټاکلو کې ګډون ولري اودهغو د واک د رد غوښتنه وکړي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې یوله اړخونوڅخه، له خپل واک څخه دحکمیت د بورډ دعدول ادعا دهغې ادعا دڅېړنې په وخت کې چې په هکله ئې عدول صورت موندلی دی، اقامه کړي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې یوله اړخونوڅخه په حکمیت کې دڅېړنې دځنډ ادعا وکړي اودحکمیت بورډ پدې برخه کې دهغهٔ ادعا موجه وګڼي.

**دحکمیت دبورډ تصمیم**

**اووه ویشتمه ماده:**

دحکمیت بورډ کولای شي ددی

ساقط ساخته نمی تواند.

**ادعای رد صلاحیت بورد حکمیت**

**مادهٔ بیست وششم:**

طرفین می‌توانند ادعای رد یا عدم صلاحیت بورد حکمیت را قبل از تقدیم دفاعیه به بورد حکمیت اقامه نمایند. حالات ذیل ازاین حکم مستثنی است:

۱- درصورتی‌که هر یك از طرفین در انتخاب یا تعیین حکم ،حکم ها یا بورد حکمیت اشتراك داشته باشند و رد صلاحیت آنها را درخواست نمایند.

۲- در صورتی‌که هر یك از طرفین ،ادعای عدول بوردحکمیت را از صلاحیت آن حین رسیدگی موضوع که در موردآن عدول صورت گرفته ، اقامه نماید.

۳- درصورتی‌که یکی از طرفین ادعای تاخیر دررسیدگی حکمیت را نماید و بورد حکمیت ادعای وی را در مورد مؤجه بداند.

**تصمیم بورد حکمیت**

**مادهٔ بیست وهفتم:**

بورد حکمیت می‌تواند حین

قانون په دوه څلوېښتمه ماده کې د درج شوو دعواوو د اقامې یا دقضیې په هکله د قرار دصادرېدو په ترڅ کې ، تصمیم ونیسي.

**دمحکمې دقرارصادرېدل**

**اته ویشتمه ماده:**

که چېرې دحکمیت بورډ دهغې شخړې د رامنځته کېدو په وخت کې چې څېړل یې دهغهٔ واک دی، تصمیم ونیسي ،پدی صورت کې هریو اړخ کولای شي دخبرتیا له ترلاسه کولو وروسته، د(۳۰)ورځو په ترڅ کې پدی هکله محکمې ته مراجعه وکړي او دقرار دصادرېدو غوښتونکی شي، دمحکمې قرارد اعتراض وړ ندی.

که چېرې محکمې پدی هکله قرارصادرکړی نه وي، دحکمیت بورډ کولای شي څېړنې ته دوام ورکړي او خپل قرارصادرکړي.

**د احتیاطي تدبیرونو نیول**

**نهه ویشتمه ماده :**

(۱) دحکمیت بورډ کولای شي دهریوهٔ اړخونو څخه دغوښتنلیک له مخې، دڅېړنې په بهیرکې دمدعي بها دساتنې لپاره، ثالث شخص ته دهغودسپارلو یادسریع

اقامهٔ دعاوی مندرج مادهٔ چهل ودوم این قانون یا حین صدور قرار در مورد قضیه، تصمیم اتخاذ نماید.

**صدور قرار محکمه**

**مادهٔ بیست وهشتم:**

هرگاه بورد حکمیت حین بروز منازعه که رسیدگی آن در حیطهٔ صلاحیت اش قرار دارد، تصمیم اتخاذ نماید، دراین صورت هریك از طرفین می‌توانند بعد از دریافت اطلاعیه درخلال (۳۰) روز در مورد به محکمه مراجعه و خواهان صدور قرار گردند، قرارمحکمه قابل اعتراض نمی‌باشد.

هرگاه محکمه درمورد قرارصادر ننموده باشد، بورد حکمیت می‌تواند به رسیدگی ادامه داده و قرار خودرا صادر نماید.

**اتخاذ تدابیر احتیاطی**

**مادهٔ بیست ونهم:**

(۱) بورد حکمیت میتواند بالاثر درخواست هریك از طرفین، درجریان رسیدگی جهت حفاظت مدعی بها بشمول سپردن آنها به شخص ثالث یا فروش اموال

الفساد مالونو دپلورنې په شمول، احتياطي تدبيرونه ونيسي اومؤقت قرار صادر کړی، خوداچې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.
(۲) دحکميت بورډ کولای شي ، ددی مادی په(۱)فقره کې د درج شوو احتياطي تدبيرونو د لګښتونو جبران له اړخونو څخه وغواړي.
(۳) له محکمې څخه د احتياطي تدبيرونو دنيولو دقرار دصادرو لولپاره له اړخونوڅخه دهريوۀ غوښتنليک، دحکميت دموافقه ليک نقض يا له هغۀ څخه تېرېدل انصراف نه ګڼل کېږي.

سريع الفساد، تدابير احتياطی لازم را اتخاذ و قرار موقت را صادرنمايد ،مگراينکه طرفين طورديگری موافقه نموده باشند.
(۲) بورد حکميت می‌تواند جبران مصارف تدابير احتياطی مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را ازطرفين درخواست نمايد.
(۳) درخواست هريکی از طرفين، جهت صدور قرار اتخاذ تدابير احتياطی از محکمه، نقض موافقتنامه حکميت و انصراف ازآن پنداشته نمی شود.

## پنځم فصل
## دحکميت دځېړنې اجراء

**منصفانه چلند**
**ديرشمه ماده :**
دحکميت بورډ مکلف دی دشخړې دڅېړنې په وخت کې له اړخونو سره منصفانه اومساويانه چلند وکړی اوهر يوۀ ته د دليلونو او مدرکونو د وړاندی کولو لپاره ، لازم فرصت ورکړی.

## فصل پنجم
## اجرای رسيدگی حکميت

**برخورد منصفانه**
**مادۀ سی ام:**
بورد حکميت مکلف است حين رسيدگی منازعه با طرفين، برخورد منصفانه ومساويانه نموده و به هريك از آنها جهت ارائۀ دلايل و مدارك، فرصت لازم را فراهم نمايد.

**دکړنلارې مطابق اجراآت**

**یو دیرشمه ماده :**

(۱) اړخونه کولای شي ددی قانون دحکمونو له په پام کې نیولو سره، دحکمیت د بورږ دځېړنې د اجراء پرکړنلارې موافقه وکړی.

(۲) که چېرې اړخونو دحکمیت د بورږ دځېړنې د اجراء پرکړنلارې موافقه نه وي کړې یا ونشي کړی پرهغې باندی موافقه وکړی، دحکمیت بورږ کولای شي،ددی قانون دحکمونو مطابق،دمنلو وړ والی، مربوط والی او داثباتیه مدرکونو داهمیت او دمدرکونو وړاندی کولو ته د اړخونو دمکلفولو په هکله دتصمیم دنیولو په شمول د مجازاتو د وضع کولو له لارې حکمیت په مناسبه توګه سرته ورسوي.

**دحکمیت د دفترټاکل**

**دوه دیرشمه ماده :**

که چېرې اړخونو دحکمیت دفتر چې حکمیت یې ترقیمومیت لاندی صورت مومي،مشخص کړی نه وي یا ونکړی شي په هغهٔ باندی موافقه وکړی، پدی صورت کې دحکمیت دفتر دمحکمې په واسطه

**اجراآت طبق طرز العمل**

**مادهٔ سی و یکم:**

(۱)طرفین می‌توانند با رعایت احکام این قانون بر طرزالعمل اجرای رسیدگی بورد حکمیت موافقه نمایند.

(۲)هرگاه طرفین به طرزالعمل اجرای رسیدگی بورد حکمیت موافقه ننموده باشند یا نتوانند بر آن موافقه نمایند، بورد حکمیت می‌تواند طبق احکام این قانون، حکمیت را طور مناسب به شمول اتخاذ تصامیم در مورد قابل قبول بودن، مرتبط بودن و اهمیت مدارك اثباتیه و مکلف ساختن طرفین منازعه به ارایهٔ مدارك، از طریق وضع مجازات انجام دهد.

**تعیین دفتر حکمیت**

**مادهٔ سی و دوم:**

هرگاه طرفین، دفترحکمیت را که حکمیت تحت قیمومیت آن صورت می‌گیرد، مشخص ننموده یا نتوانند به آن موافقه نمایند، دراین صورت دفترحکمیت توسط محکمه

ټاکل کېږي اودغه پرېکړه داعتراض وړنده.هغه حالات چې اړخونو موافقه کړې وي چې حکمیت دی دحکمیت د دفتر ترقیمومیت لاندی صورت ونه مومي، لدی حکم څخه مستثني دی.

**دحکمیت دځای ټاکل**

**دري دیرشمه ماده:**

(۱) اړخونه کولای شي دحکمیت د ځای په هکله موافقه وکړی، دنه موافقې په صورت کې ،دحکمیت ځای اړخونو ته د رسېدو د آسانتیا په شمول دقضیې دحالاتوله په پام کې نیولو سره، دحکمیت دبورډ په واسطه ټاکل کېږي.

(۲)دحکمیت بورډ کولای شي د بورډ دغړوترمنځ دمشورې، دشاهدانود اظهاراتود اورېدو، داهل خبره وو لخوا دنظر دڅرګندولو یا د اړخونو دحضور یا دسندونو، مالونو او نورو شتمنیو دپلټنې او کتنې لپاره په هرځای کې چې مناسب یې وګڼې ،غونډه جوړه کړی،خوداچې اړخونوبل ډول موافقه کړې وي.

(۳) دحکمیت بورډ مکلف دی دسندونو،مالونو او نورو شتمنیو

تعیین و این فیصله قابل اعتراض نمی باشد. حالاتیکه طرفین موافقه نموده باشند که حکمیت تحت قیمومیت دفترحکمیت صورت نگیرد، از این حکم مستثنی است.

**تعیین محل حکمیت**

**مادۀ سی و سوم:**

(۱)طرفین می‌توانند در مورد محل حکمیت موافقه نمایند، درصورت عدم توافق، محل حکمیت توسط بورد حکمیت با نظرداشت حالات قضیه، بشمول سهولت رسیدگی به طرفین تعیین می گردد.

(۲)بورد حکمیت می‌تواند جهت مشوره میان اعضای بورد، استماع اظهارات شهود، ابراز نظر از طرف اهل خبره یا حضور طرفین یا تفتیش ومعاینه اسناد، اموال و سایردارایی ها، هرمحلی را که مناسب تشخیص دهند، تدویر جلسه نمایند، مگراینکه طرفین طور دیگری موافقه نموده باشند.

(۳) بورد حکمیت مکلف است جهت استماع و جلسات بورد

دپلټنې اوکتنې په منظورد بورډ اوریدو اوغوندېو لپاره یوه موده وټاکي او اړخونه خبرکړي.

**دحکمیت دڅېړنې پیل**

**څلوردیرشمه ماده:**

د اړوندي شخړې په برخه کې دحکمیت څېړنه له هغې نېټې څخه پیل کېږي چې مدعي علیه دحکمیت په اړه غوښتنلیک ترلاسه کړي،خوداچې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

**دحکمیت په بهیر کې له ژبوڅخه ګټه اخستل**

**پنځه دیرشمه ماده:**

اړخونه کولای شي دحکمیت په څېړنه کې دګټې اخستنې په وړ ژبې یا ژبو باندې موافقه وکړي. دنه موافقې په صورت کې دحکمیت بورډ، په څېړنه کې د ګټې اخیستنې وړ ژبه یا ژبې ټاکي.د اړخونو لیکلي بیانونه، د اظهاراتواورېدل او د قرار صادرېدل، دبورډ تصمیم یا نورې ابلاغیې په ټاکل شوې ژبه صورت مومي، خودا چې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

دحکمیت بورډ کولای شي د

بمنظور تفتیش و معاینهٔ اسناد، اموال و سایر دارایی ها، مدتی را تعیین و طرفین را مطلع سازد.

**آغاز رسیدگی به حکمیت**

**مادهٔ سی و چهارم:**

رسیدگی حکمیت درخصوص منازعهٔ مربوط، ازتاریخ آغاز می گردد که مدعی علیه درخواست مبنی بر حکمیت را دریافت نماید، مگراینکه طرفین طور دیگری موافقه نموده باشند.

**استفاده از زبان ها درروند حکمیت**

**مادهٔ سی و پنجم:**

طرفین می‌توانند بر زبان یا زبان های مورد استفاده دررسیدگی حکمیت موافقه نمایند. درصورت عدم موافقه، بورد حکمیت زبان یا زبان های مورد استفاده در رسیدگی را تعیین می‌کنند. بیانات کتبی طرفین، استماع اظهارات و صدور قرار، تصمیم یا سایر ابلاغیه های بورد، به زبان تعیین شده صورت می گیرد، مگراینکه طرفین طور دیگری موافقه نموده باشند.

بورد حکمیت می‌تواند درمورد

مستندو مدرکونو دژباړې په هکله د اړخونو په موافقه شوې ژبه یا ژبو یا دحکمیت د بورډ لخوا په ټاکل شووژبوپه هکله، تصمیم ونیسي.

**د ادعـا او دفـاعیې د دلیلونـو وړاندی کول**

**شپږ دیرشمه ماده:**

که چېرې اړخونوپه بل ډول د ادعا یا د دفاعیې د دلیلونو دترتیب په هکله موافقه کړې نه وي، د ادعا یا دفاعیې د دلیلونو وړاندی کول، د اړخونو ترمنځ د موافقه شوې مودې په ترڅ کې یا د ځېړنې له غونډې څخه وروسته د(۱۵) ورځو په ترڅ کې دلاندی مراتبوله په پام کې نیولوسره صورت مومي:

۱-مدعي مکلف دی، داختلاف وړ موضوعګانو او دزیان دغوښتل شوی جبران، د ادعا دلیلونه شرح کړی.

۲- مدعي علیه مکلف دی خپله دفاعیه د اختلاف وړ موضوعګانو او دزیان دغوښتل شوی جبران په برخه کې څرګند او دادعا د دفع دلیلونه توضیح کړی.

۳- اړخونه کولای شي په قضیې پورې تړول اړوند سندونه له خپلو

ترجمۀ مدارك مستند به زبان یا زبان های مورد توافق طرفین یا زبان های تعیین شده توسط بورد حکمیت، تصمیم اتخاذ نماید.

**ارایـۀ دلایـل ادعـا و دفاعیه**

**مادۀ سی و ششم:**

هرگاه طرفین طور دیگری در مورد ترتیب دلایل ادعا یا دفاعیه موافقه نکرده باشند ،ارایۀ دلایل ادعا یا دفاعیه در خلال مدت توافق شده بین طرفین یا در خلال (۱۵) روز بعد از جلسۀ رسیدگی، بارعایت مراتب ذیل صورت می گیرد:

۱-مدعی مکلف است دلایل ادعای موضوعات مورد اختلاف و جبران خسارۀ درخواست شده راشرح دهد.

۲- مدعی علیه مکلف است دفاعیه خود را در خصوص موضوعات مورد اختلاف و جبران خسارۀ مطالبه شده، ابراز و دلایل دفع ادعا را توضیح دهد.

۳- طرفین می‌توانند تمام اسناد مربوط به قضیه را توأم با

لیکلواظهاراتوسره یوځای دحکمیت بورډ ته وړاندې کړي.

**د دفاعیې اصلاح اوبشپړول**

**اووه دیرشمه ماده:**

هریوله اړخونوڅخه کولای شي دخپلې دعوي یا دفاعیې صورت دحکمیت دڅېړنې په بهیرکې اصلاح یا بشپړه کړي،خوداچې دحکمیت بورډ دروڼوالی (شفافیت) اوله غیر مؤجهې نېټې څخه دمخنیوي په منظور، دهغو اصلاح کول مناسب ونه ګڼې او یا داچې هغه دحکمیت د موافقه لیک پرخلاف تشخیص کړي.

**دغونډو دجوړېدو خبرتیا**

**اته دیرشمه ماده:**

(۱) دحکمیت بورډ کولای شي د اړخونو د موافقه لیک مطابق، دشفاهي غونډو د جوړېدو او نورو مواردو په هکله تصمیم ونیسي اودڅېړنې دغونډې له جوړېدو لږترلږه (۳۰)ورځې دمخه یې خبرتیا په لیکلې توګه اړخونوته واستوي.

(۲) دحکمیت بورډ کولای شي، له اړخونوڅخه دیوه د غوښتنلیک له مخې شفاهي څېړنه ، دحکمیت

اظهارات کتبی خود به بورد حکمیت ارائه نمایند.

**اصلاح وتکمیل دفاعیه**

**مادهٔ سی و هفتم:**

هریکی از طرفین می‌توانند صورت دفاع یا دفاعیه خودرا در جریان رسیدگی حکمیت اصلاح یا تکمیل نمایند، مگراینکه بورد حکمیت به منظور شفافیت و جلوگیری از تاریخ غیر موجه ، اصلاحات آنرا مناسب ندانسته و یا اینکه آنرا برخلاف موافقتنامهٔ حکمیت تشخیص دهد.

**اطلاعیهٔ تدویر جلسات**

**مادهٔ سی و هشتم:**

(۱) بورد حکمیت می‌تواند طبق موافقتنامهٔ طرفین، در مورد تدویر جلسات شفاهی و سایر موارد تصمیم اتخاذ نموده و حد اقل (۳۰) روز قبل از تدویر جلسهٔ رسیدگی، اطلاعیهٔ آنرا طور کتبی به طرفین ارسال نماید.

(۲) بورد حکمیت می‌تواند بالاثر درخواست یکی از طرفین، رسیدگی شفاهی را درمراحل

د اجراء په مناسبو پړاوونوکې سرته ورسوي،خوداچې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

**دمعلوماتو راټولول**

**نهه دیرشمه ماده:**

دحکمیت بورډ مکلف دی رپوټونه، سندونه او نور معلومات چې له اړخونوڅخه دیوۀ په واسطه هغۀ ته وړاندې شوی وي، مقابل اړخ ته ابلاغ اوداهل خبره رپوټ یا اثباتیه مدرکونه چې دتصمیم په نیولو کې پرې اتکاء کېږي، اړخونوته واستوي.

**حکمیت ته دوام ورکول**

**څلوېښتمه ماده:**

(۱) دحکمیت بورډ کولای شي حالاتوته په پام سره، دحکمیت څېړنې ته دوام ورکړي اودبررسۍ وړ مدرکونو پربنسټ ،خپل قرارصادر کړي،خوداچې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

(۲) که چېرې مدعي ونکړی شي خپله صورت دعوي ددې قانون دڅلورپنځوسمې مادې په (۱)جزء کې د درج شوې حکم مطابق ، وړاندې کړي، پدې صورت کې دحکمیت بورډ کولای شي دڅېړنې

مناسب اجرای حکمیت، انجام دهد ، مگرانیکه طرفین طور دیگری موافقه نموده باشند.

**جمع آوری معلومات**

**مادۀ سی ونهم:**

بورد حکمیت مکلف است گزارشات، اسناد و سایر معلوماتیکه توسط یکی از طرفین به آن ارائه شده باشد ، به طرف مقابل ابلاغ و گزارش اهل خبره یا مدارك اثباتیه را که در اتخاذ تصمیم به آن اتکا می‌گردد ، به طرفین ارسال نماید.

**ادامه به حکمیت**

**مادۀ چهلم:**

(۱) بورد حکمیت می‌تواند با نظرداشت حالات، رسیدگی به حکمیت را ادامه دهد و به اساس مدارك مورد بررسی،قرار خود را صادر نماید ، مگراینکه طرفین طور دیگری موافقه نموده باشند.

(۲) هرگاه مدعی نتواند صورت دعوی خود را طبق حکم مندرج جزء(۱) مادۀ پنجاه و چهارم این قانون ارائه نماید ، در این صورت بورد حکمیت می‌تواند قرار

د پاي ته رسېدو په اړه قرار صادر کړي.
(۳)که چېرې مدعي عليه ونکړي شي خپله صورت دفاع ددې قانون د څلورپنځوسمې مادې په (۲) جزء کې د درج شوي حکم مطابق ، وړاندې کړي، پدې صورت کې دحکميت بورډ کولای شي څېړنې ته دوام ورکړي اومدعي عليه ته د دفاعيې د وړاندې کولو لپاره موده وټاکي.
(۴)که چېرې يوله اړخونوڅخه ونکړي شي دڅېړنې په غونډه کې حضور ومومي يا لازم سندونه او مدرکونه وړاندې کړي، پدې صورت کې دحکميت بورډ کولای شي دحکميت څېړنې ته دوام ورکړي اودڅېړنې وړ مدرکونو پربنسټ ، خپل قرار صادر کړي.

## دمتخصص ټاکل

### يوڅلوېښتمه ماده:

(۱) دحکميت بورډ کولای شي يو يا له يوڅخه زيات متخصصين دهغو شخړو په هکله چې د بورډ ترڅېړنې لاندې نيول کېږي د رپوټ د وړاندې کولو لپاره توظيف کړي، خوداچې اړخونو بل ډول موافقه

مبنی بر ختم رسیدگی راصادر نماید.
(۳) هرگاه مدعی علیه نتواند صورت دفاعیه خود را طبق حکم مندرج جزء( ۲ ) مادۀ پنجاه و چهارم این قانون ارائه نماید ، دراین صورت بورد حکمیت میتواند به رسیدگی ادامه داده و مدتی را غرض ارایۀ دفاعیه به مدعی علیه تعیین نماید.
(۴) هرگاه یکی از طرفین نتواند درجلسۀ رسیدگی حضور یابد و یا اسناد و مدارك لازم را ارائه نماید ، دراین صورت بورد حکمیت می‌تواند رسیدگی به حکمیت را ادامه داده و به اساس مدارك مورد بررسی، قرار خویش را صادرنماید.

## تعیین متخصص

### مادۀ چهل ویکم:

(۱) بورد حکمیت می‌تواند یك یا بیش از یك متخصص را جهت ارایۀ گزارش، درمورد منازعاتیکه تحت رسیدگی بورد قرار می‌گیرد ، توظیف نماید ، مگراینکه طرفین طور دیگری

کړې وي.
(۲) دحکمیت بورډ کولای شي دارخونوله هریوۀ څخه وغواړي څو اړوند معلومات متخصص ته وړاندې اوسندونه، مالونه او نوره شتمني دپلټنې اوکتنې لپاره متخصص ته برابر کړي.
(۳) متخصص مکلف دی دڅېړنې په غونډه کې د خپل لیکلي یا شفاهي رپوټ له وړاندې کولو وروسته،له اړخونوڅخه دیوۀ دغوښتنې یا د بورډ د لزوم دید له مخې، دڅېړنې په غونډه کې ګډون وکړي.

**د سندونو غوښتنه**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

دحکمیت بورډ یا هریوله اړخونو څخه د اړتیا په صورت کې کولای شي له محکمې یا نورو مراجعو څخه اړوند سندونه او مدارک وغواړي.

موافقه نموده باشند.
(۲) بورد حکمیت می‌تواند از هریکی از طرفین درخواست نماید تا معلومات مربوط را به متخصص ارایۀ و اسناد، اموال یا سایر دارایی ها را جهت تفتیش و معاینه به متخصص فراهم نماید.
(۳) متخصص مکلف است بعد از ارایۀ گزارش شفاهی یا کتبی خود درجلسۀ رسیدگی، درصورت درخواست یکی از طرفین یا لزوم دید بورد، درجلسۀ رسیدگی اشتراك نماید.

**درخواست اسناد**

**مادۀ چهل ودوم:**

بورد حکمیت یا هریك از طرفین درصورت ضرورت می‌توانند از محکمه یاسایر مراجع اسناد و مدارك مربوط رادرخواست نمایند.

## شپږم فصل
## دحکمیت د قرار صادرېدل او دڅېړنې پای

**دتطبیق وړ قانون**

**دري څلوېښتمه ماده:**

(۱) دحکمیت بورډ دشخړې په هکله ، د اړخونو لخوا دمشخص شوی قانون دحکمونو مطابق ، تصمیم نیسي.

(۲) د اړخونو لخوا د قانون دنه ټاکلو په صورت کې او پداسې حالت کې چې په قوانینوکې تنازع وجود ولري ، دحکمیت بورډ کولای شي، پرشخړې باندی دتطبیق وړ قانون، وټاکي.

**د منځګړي په توګه د حکم نه ټاکل**

**څلور څلوېښتمه ماده:**

که چېرې دقضیې اړخونه له حکم څخه وغواړي څو د متنازع فیه قضیې د حل اوفصل په برخه کې د منځګړي دنده اجراء کړي، حکم نشي کولای دغه دنده سرته ورسوي، پدی صورت کې اړخونه کولای شي، بل شخص دمنځګړي په توګه وټاکي.

## فصل ششم
## صدور قرار حکمیت و خاتمۀ رسیدگی

**قانون قابل تطبیق**

**مادۀ چهل و سوم:**

(۱)بورد حکمیت درمورد منازعه، طبق احکام قانون مشخص شده توسط طرفین، تصمیم اتخاذ می‌نماید.

(۲)درصورت عدم تعیین قانون از جانب طرفین و در حالتیکه تنازع درقوانین وجود داشته باشد، بورد حکمیت می‌تواند قانون قابل تطبیق برمنازعه را تعیین نماید.

**عدم تعیین حکم منحیث میانجی**

**مادۀ چهل وچهارم:**

هرگاه طرفین قضیه، ازحکم مطالبه نماید تا درقسمت حل وفصل قضیه متنازع فیه وظیفۀ میانجی را اجرا نماید، حکم نمی تواند این وظیفه را انجام دهد، دراین صورت طرفین می‌توانند شخص دیگری را به حیث میانجی تعیین نمایند.

**د تصمیم دنیولو ډول**

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

هغه شخړه چې له یوۀ څخه د زیاتو حکمانو په واسطه ترڅېړنې لاندی نیول کېږي، دهغې په هکله تصمیم ، دغړو د اکثریت رأیو پربنسټ نیول کېږي، خوداچې اړخونو بل ډول موافقه کړې وي.

دحکمیت دڅېړنې کړنلاره د بورډ د رئیس لخوا ټاکل کېږي، پدی شرط چې اړخونویا دحکمیت د بورډ نوروغړو له هغې سره موافقه کړې وي.

**دحکمیت قرار**

**شپږڅلوېښتمه ماده:**

(۱)که چېرې اړخونه دحکمیت د څېړنې په ترڅ کې ، شخړه پخپله حل اوفصل کړی، د حکمیت بورډ څېړنه پاي ته رسوي او داړخونو دغوښتنې او دبورډ د موافقې په صورت کې ، توافق دحکمیت د قرار په توگه ثبتوي.

(۲) ددی مادی په (۱) فقره کې درج شوی قرار، ددی قانون په اته څلوېښتمه ماده کې د درج شوی حکم مطابق ترتیب او صادرېږي او دحکمیت د نورو قرارونو دعین

**طرز اتخاذ تصمیم**

**مادۀ چهل و پنجم:**

منازعه ایکه توسط بیش از یك حکم مورد رسیدگی قرار می‌گیرد ، تصمیم در مورد آن به اساس اکثریت آرای اعضا اتخاذ می‌گردد ، مگراین‌که طرفین طور دیگر موافقه نموده باشند .

طرزالعمل رسیدگی حکمیت ازطرف رئیس بورد تعیین میگردد ، مشروط براینکه طرفین یا سایر اعضای بورد حکمیت، به آن موافقه نموده باشند .

**قرار حکمیت**

**مادۀ چهل و ششم:**

(۱) هرگاه طرفین درخلال رسیدگی حکمیت، منازعه را خود حل و فصل نمایند ، بورد حکمیت رسیدگی را خاتمه و درصورت درخواست طرفین و موافقۀ بورد ، توافق را به حیث قرار حکمیت ثبت می‌نمایند .

(۲) قرار مندرج فقرۀ (۱) این ماده طبق حکم مندرج مادۀ چهل و هشتم این قانون ترتیب و صادر گردیده و دارای عین اعتبار سایر قرارهای

اعتبار لرونکی دی.

**دحکمیت د قرار مندرجات**

**اووه څلویښتمه ماده:**

(۱) دحکمیت قرار د لاندی مطالبو لرونکی وي:

۱- د قرار لیکلي بڼه اودحکم یا حکمانو په واسطه یې لاسلیک کېدل، دحکمیت دڅېړنې په ترڅ کې چې پکې له یوۀ څخه زیات حکمان حکمیت کوي، دحکمیت د بورډ د غړو د اکثریت لاسلیک کافي دی، پدی شرط چې د غیرموجودو لاسلیکونو دلیل ذکر شي.

۲- دهغو دلیلونو یا دول چې قرار یې پربنا ولاړ دی، خوداچې اړخونو د دلیلونو پرنه وړاندی کولو موافقه کړې وي یا داچې قرار ددی قانون د اووه څلوېښتمې مادی له مخې، دتوافق له امله صورت موندلی وي.

۳- دحکمیت د قرار د صادرېدو نېټه اوځای.

(۲) دحکمیت د بورډ ددندی دڅېړنې بهیر، په متنازع فیه قضیه کې د قرار له صادرېدو وروسته پای ته رسېږي.

حکمیت می‌باشد.

**مندرجات قرار حکمیت**

**مادۀ چهل و هفتم:**

(۱) قرارحکمیت حاوی مطالب ذیل می‌باشد:

۱- کتبی بودن قرار وامضاء آن توسط حکم یا حکم ها، حین رسیدگی حکمیت که بیش از یك حکم در آن حکمیت می‌نماید، امضای اکثریت اعضای بورد حکمیت کافی است، مشروط براینکه دلیل امضا های غیر موجود ذکر شود.

۲- ذکر دلایلی که قرار بر آن مبتنی است، مگراینکه طرفین برعدم ارایۀ دلایل موافقه نموده باشند، یا اینکه قرار به تأسی از حکم مادۀ چهل وهفتم این قانون، بالاثر توافق صورت گرفته باشد.

۳- تاریخ و محل صدور قرار حکمیت.

(۲) روند رسیدگی به وظیفۀ بورد حکمیت، بعد از صدور قرار درقضیه متنازع فیه خاتمه می یابد.

(۳) ددی مـادی پـه (۱) فقـره کـې درج شـوی قـرار د اړخونـو پـه شمېر ترتیبېږي او یـو یونقـل یـې هغـو تـه سپارل کېږی اوبـل یـې دحکمیت د بورډ پـه دفتر کې ساتل کېږي.

**د حکمیت د څېړنې د بهیر پای**

**اته څلوېښتمه ماده:**

دحکمیت بورډ کولای شي په لاندی حالاتو کې د حکمیت دڅېړنې پای اعلام کړی:

۱- په هغهٔ صورت کې چې مدعي له خپلې ادعا څخه انصراف وکړی، خـوداچې مـدعي علیـه دمـدعي پرضـد متقابلـه ادعـاء ولـري، یـا مـدعي علیـه دمـدعي لـه لـوري د ادعـا د انـصراف پرضـد، اعتـراض ولـري اودحکمیـت بـورډ دمـدعي علیـه قـانوني او مـؤجهې ګټـې دشـخړې پـه وروسـتي حل او فـصل کې وموم‌ي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې اړخونـه د څېړنـې پرپـاي تـه رسـېدو موافقـه وکړی.

۳- پـه هغـهٔ صـورت کـې چـې دحکمیـت بـورډ ومـومي چـې دڅېړنـې دوام د نـورو مؤجهـو دلیلونـو لـه مخـې غیرضـروري او

(۳) قرارمندرج فقرهٔ (۱) این مـاده به تعداد طرفین ترتیب و یك، یك نقل آن به آنها سپرده شده و نقل دیگـر آن بـه دفتـر بـورد حکمیـت حفظ می‌گردد.

**ختم روند رسیدگی حکمیت**

**مادهٔ چهل و هشتم:**

بـورد حکمیـت مـی‌توانـد درحـالات ذیـل خـتم رسـیدگی حکمیـت را اعلام نماید:

۱- درصورتی‌که مدعی از ادعـای خـود انـصراف نمایـد، مگراینکـه مدعی علیه برعلیه مدعی ادعـای متقابـل داشته باشد، یـا مـدعی علیه برعلیه انصراف ادعا ازطرف مـدعی، اعتـراض داشـته باشـد وبـورد حکمیـت منـافع قـانونی وموجـه مـدعی علیـه را در حـل وفـصل نهـایی منازعـه دریافـت نماید.

۲- درصـــورتی‌کـــه طـــرفین براختتـــام رســـیدگی توافـــق نمایند.

۳- درصـورتی‌کـه بـورد حکمیـت دریابـد کـه ادامـهٔ رسـیدگی بنابرسـایر دلایـل موجـــه، غیـر ضـــروری و غیـــر ممکـــن

غیر ممکن وي.

**دتېروتنو اصلاح**

**نهه څلوېښتمه ماده:**

له اړخونوڅخه هريوکولای شي، د حکميت د قرار د ترلاسه کولو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې يا په بله موده کې چې د اړخونو د موافقې وړ وي، مقابل اړخ ته دخبرتيا په استولو سره دحکميت له بورډ څخه وغواړي ځوحسابي، انشايي او طباعتي تېروتنې يا ورته تېروتنې په قرار کې اصلاح يا د قرارمشخص ټکي څرګندېدونکې ځنې برخې وړاندې کړي، په هغهٔ صورت کې چې دحکميت بورډ نوموړي غوښتنه مؤجه وګڼي، مکلف دی د تېروتنې تصحيح يا دقرار د توضيح وړاندې کول، دغوښتنليک د ترلاسه کولو له نېټې څخه د(۳۰) ورځو په ترڅ کې سرته ورسوي. توضيح،د قراريوه برخه جوړوي.

دحکميت بورډ کولای شي پورته يادې شوې تېروتنې په خپله اصلاح کړي.

باشـد.

**اصلاح اشتباهات**

**مادۀ چهل ونهم:**

هريك از طرفين ميتوانند در خلال (۳۰) روز ازتاريخ دريافت قرار حکميت يا درمدت ديگری که مورد توافق طرفين باشد، با ارسال اطلاعيه به طرف مقابل از بورد حکميت درخواست نمايد تا اشتباهات حسابی، انشايی و طباعتی يا اشتباهات مشابه در قرار را اصلاح يا توضيح نکات مشخص يا بخش هايی از قرار را ارائه نمايد، درصورتيکه بوردحکميت در خواست متذکره را موجه پندارد، مکلف است تصحيح اشتباه يا ارايۀ توضيح قرار را درخلال (۳۰) روز ازتاريخ دريافت درخواست، انجام دهد. توضيح، قسمتی از قرار را احتوا می‌نمايد.

بورد حکميت می تواند اشتباهات فوق الذکر را خود اصلاح نمايد.

**دبشپړتیايي قرار صادرېدل**

**پنځوسمه ماده:**

لـه اړخونوڅخـه هریوکـولای شـي مقابل لوري ته دخبرتیا په استولو سره ، دحکمیت د قـرار دترلاسـه کولولـه نېټې څخه د(۳۰) ورځوپـه ترڅ کې، دحکمیت لـه بورډ څخه غوښـتنه وکـړي څوبـل قـرار (بشپړتیایي قرار) دهغو ادعاګانو په هکله چې دځېړنې په غونډه کې وړاندې شوې خوپه قرار کې حذف شوې دي، صـادر کـړي. پـه هغـهٔ صـورت کـې چـې دحکمیت بـورډ نومـوړې غوښـتنلیک مؤجه وګڼي، مکلف دی،د بشپړتیايي قرار په هکله ، دغوښتنلیک د ترلاسه کولو له نېټې څخه د(۶۰) ورځو په ترڅ کې ، تصمیم ونیسي.

**د مودې تمدیدېدل**

**یو پنځوسمه ماده:**

دحکمیـت بـورډ کـولای شـي هغـه موده چې په ترڅ کې يې ددې قانون د (۵۰ او ۵۱) مـادې دحکمونـو مطابق، اصلاح او توضیح صورت مـومي يـا بـشپړتیايي قـرار صـادرېږي، دمناسب وخت مـودې لپاره تمدید کړي.

**صدور قرار تکمیلی**

**مادۀ پنجاهم:**

هریکـی از طـرفین مـی‌توانـد بـا ارسـال اطلاعیـه بـه طـرف مقابـل، درخـلال (۳۰) روز از تـاریخ دریافـت قـرار حکمیـت، ازبـورد حکمیت درخواست بـه عمـل آورد تـا قـرار دیگـر(قـرار تکمیلـی) را درمـورد ادعـا هـایی کـه در جلسه رسیدگی ارائـه ولـی در قـرار حـذف شـده اسـت، صـادر نماید. درصورتی‌که بورد حکمیت درخواسـت متـذکره را موجـه پنـدارد، بـورد مکلـف اسـت در مـورد قـرار تکمیلـی در خـلال (۶۰) روز ازتـاریخ دریافـت درخواسـت، تـصمیم اتخاذ نماید.

**تمدید میعاد**

**مادۀ پنجاه و یکم:**

بـورد حکمیـت مـی‌توانـد میعـاد را کـه در خـلال آن مطـابق احکـام مـواد (۵۰ و ۵۱) ایـن قـانون اصـلاح و توضـیح صورت می‌گیـرد یـا قـرار تکمیلـی صادر می‌گردد، برای مدت زمان مناسب تمدید نماید.

**د اته څلوېښتمې مادې په پام کې نیول**

**دوه پنځوسمه ماده:**

دحکمیت بورډ مکلف دی د قرار د اصلاح او توضیح یا دبشپړتیایي قرار د صادرېدو په ترڅ کې ، ددې قانون په اته څلوېښتمه ماده کې درج شوی حکم په پام کې ونیسي.

### اووم فصل
### پرقرار باندې اعتراض

**دحکمیت د قرارفسخ**

**دري پنځوسمه ماده:**

محکمه کولای شي دحکمیت د قرار دفسخې په اړه له اړخونوڅخه د یوهٔ د اعتراض یا غوښتنې په صورت کې په لاندې حالاتو کې دحکمیت قرار فسخ کړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې دموافقه لیک له عاقدینوڅخه یو د دې قانون په څوارلسمه ماده کې د درج شوی حکمیت، د حقوقي اهلیت نه لرونکی وګڼي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې دحکمیت موافقه لیک ، دحکمیت اړخونه د شخړې دحل په هکله هغهٔ

**رعایت مادهٔ چهل و هشتم**

**مادهٔ پنجاه و دوم:**

بورد حکمیت مکلف است حین اصلاح و توضیح قرار و یا اصدار قرار تکمیلی، حکم مندرج مادهٔ چهل وهشتم این قانون را رعایت نماید.

### فصل هفتم
### اعتراض به قرار

**فسخ قرار حکمیت**

**مادهٔ پنجاه و سوم:**

محکمه می‌تواند درصورت اعتراض یا درخواست یکی از طرفین مبنی بر فسخ قرارحکمیت،در حالات ذیل قرار حکمیت را فسخ نماید:

۱- درصورتی‌که یکی از عاقدین موافقتنامه، حکمیت مندرج مادهٔ چهاردهم این قانون را فاقد اهلیت حقوقی بداند.

۲- درصورتی‌که موافقتنامهٔ حکمیت، طرفین حکمیت را درمورد حل منازعه به قانون

قانون ته موکول کړی وي چې د افغانستان د قوانینو مطابق، نوموړی قانون له اعتباره لوېدلی وي.

۳-په هغه صورت کې چې متقاضي اړخونوته دحکم دتاکلو یا دحکمیت دخبرېدنې په هکله لازمه خبرتیا ورکړل شوې نه وي یا ددې قانون دحکمونو مطابق، مدعي دخپلې ادعا په وړاندې کولو باندې قادر نه وي.

۴- د دې قانون دحکمونومطابق دبډې (رشوت) یادحکم د تراغېزې لاندې راوستلو یا یې له اړخونوڅخه دیوۀ له شاهدانو سره د مادي ګټې د تضاد یا دحکمیت د موضوع د په وخت نه خبرېدلو په صورت کې.

۵- په هغه صورت کې چې دشخړې په هکله هغه قرار صادر شوی وي چې دحکمیت په موافقه لیک کې په پام کې نیول شوی نه وي یا یې دتطبیق په ساحه کې واقع نه وي یا پرهغو موضوعګانو باندې د تصمیم لرونکی وي چې حکمیت ته د وړاندې کولو وړ موضوعګانو له دایرې څخه

موکول ساخته باشد که قانون مذکور برطبق قوانین افغانستان، فاقد اعتبار باشد.

۳-درصورتی‌که به طرفین متقاضی در مورد تعیین حکم یا رسیدگی حکمیت اطلاع لازم داده نشده باشد یا طبق احکام این قانون مدعی به ارائه ادعای خود قادر نباشد.

۴- درصورت رشوه یا تحت تاثیر قرار دادن حکم یا تضاد منفعت مادی وی با یکی از طرفین، شهود یا عدم رسیدگی به موقع موضوع حکمیت، طبق احکام این قانون.

۵- درصورتی‌که قرار درمورد منازعه صادر شده باشد که در موافقتنامۀ حکمیت در نظرگرفته نشده یا درساحۀ تطبیق آن واقع نباشد و یا حاوی تصامیم برموضوعاتی باشد که خارج از دایرۀ موضوعات قابل ارائه به حکمیت،

بهرپاتې وي.
که چېرې دحکمیت له ساحې څخه پربهرموضوعګانو باندی تصمیم، دحکمیت په ساحه کې پرشاملو موضوعګانو ،له تصمیم څخه تفکیک شي، پدی صورت کې یوازې د قرار هغه برخه چې دحکمیت له ساحې څخه پربهرموضوعګانو باندی وي، د اجراء وړ نده.
۶- په هغهٔ صورت کې چې دحکمیت د بورډ ترکیب یا دحکمیت کړنلاره د اړخونو له موافقه لیک سره مطابقت ونلري یاد اړخونو موافقه لیک ددی قانون دحکمونوله یوهٔ حکم سره چې پر اړخونو د تطبیق وړدی، مغایرت ولري.
۷-که چېرې دحکمیت موضوع د افغانستان د قوانینو مطابق د حکمیت له لارې دحل اوفصل وړ نه وي یا دحکمیت قرار د افغانستان د عامه پالیسۍ مغایر وي.

**دفسخ دغوښتنې میعاد**
**څلور پنځوسمه ماده:**
اړخونه کولای شي دحکمیت د قرار له صادرېدو وروسته ، د درېو

قرار داشته باشد.
هرگاه تصامیم برموضوعات خارج از ساحهٔ حکمیت از تصامیم بر موضوعات شامل در ساحهٔ حکمیت تفکیک شده بتواند، دراین صورت صرف آن بخشی از قرار که حاوی تصامیم برموضوعات خارج از ساحهٔ حکمیت باشد، غیر قابل اجرا است.
۶- درصورتی‌که ترکیب بورد حکمیت یا طرزالعمل حکمیت با موافقتنامهٔ طرفین مطابقت نداشته باشد، یا موافقتنامهٔ طرفین با حکمی از احکام این قانون که برطرفین قابل تطبیق است، مغایرت داشته باشد.
۷- هرگاه موضوع حکمیت طبق قوانین افغانستان از طریق حکمیت، قابل حل و فصل نبوده یا قرار حکمیت مغایر پالیسی عامه افغانستان باشد.

**میعاد درخواست فسخ**
**مادهٔ پنجاه و چهارم:**
طرفین می‌توانند بعد ازصدور قرار حکمیت، در خلال سه ماه

میاشتو په ترڅ کې دهغهٔ دفسخې غوښتنه محکمې ته وړاندی کړی.

**دبورډ بیا څېړنه**
**پنځه پنځوسمه ماده:**
محکمه کولای شي دحکمیت د قرار دفسخې په صورت کې، له اړخونوڅخه دیوهٔ دغوښتنې له امله یا دلزوم له مخې، د حکمیت بورډ ته لازم فرصت برابرکړی څو دحکمیت څېړل بیا پیل یا نور هغه اقدامات چې دحکمیت د قرارد فسخ د له منځه تلو سبب کېږي، وکړی.

## اتم فصل
## دحکمیت دقرار تطبیقول

**دحکمیت دقرارتطبیقول اوردول**
**شپږ پنځوسمه ماده:**
(۱)دحکمیت قرارپرته لدی چې په کوم هېواد کې صادر شوی دی ، دتطبیق وړ دی.
(۲)دحکمیت قرار په لاندی حالاتو کې ردیدی شي:
۱-په هغهٔ صورت کې چې د حکمیت د موافقه لیک له اړخونو څخه یو، داهلیت نه لرونکی وي.
۲-په هغهٔ صورت کې چې

درخواست فسخ آنرا به محکمه ارائه نمایند.

**رسیدگی مجدد بورد**
**مادهٔ پنجاه و پنجم:**
محکمه می‌تواند درصورت فسخ قرار حکمیت، بالاثردرخواست یکی از طرفین یا حسب لزوم، فرصت مناسب را به بورد حکمیت فراهم نماید تا رسیدگی حکمیت را مجدداً آغاز یا سایر اقداماتی راکه سبب امحای فسخ قرار حکمیت می‌گردد، اتخاذ نماید.

## فصل هشتم
## تطبیق قرار حکمیت

**تطبیق و رد قرار حکمیت**
**مادهٔ پنجاه و ششم:**
(۱)قرارحکمیت صرف نظرازینکه در کدام کشور صادر شده است، قابل تطبیق می‌باشد.
(۲)قرار حکمیت در حالات ذیل رد شده می‌تواند:
۱-درصورتی‌که یکی از طرفین موافقتنامهٔ حکمیت، فاقد اهلیت باشد.
۲-درصورتی‌که قرارحکمیت

دحکمیت قراردهغهٔ قانون پرموجب چې د اړخونو لخوا په موافقه لیک کې مشخص شوی دی، صادر شوی نه وي.

۳–په هغهٔ صورت کې چې دحکمیت قراردهغهٔ قانون پرموجب صادر شوی وي چې نوموړی قانون له اعتباره لوېدلی وي.

۴–په هغهٔ صورت کې چې قرار دهغهٔ اړخ پرضد صادر شوی وي چې دحکم دټاکلو یا دحکمیت د څېړنې په هکله ورته لازمه خبرتیا ورکړل شوې نه وي یا ددی قانون دحکمونو مطابق د دفاعیې په وړاندی کولو قادر نه وي.

۵–په هغهٔ صورت کې چې قرار دهغې شخړې په هکله صادرشوی وي چې دحکمیت په موافقه لیک کې له هغې څخه تصریح شوې نه وي یا یې دتطبیق په ساحه کې واقع نه وي یا پرهغوموضوعګانو دتصمیم د نیولو لرونکی وي چې د حکمیت د واک له ساحې څخه بهر وي.

په هغهٔ صورت کې چې دتصمیم نیول دحکمیت له ساحې څخه پربهرموضوعګانو ، دحکمیت په

به موجب قانونی که توسط طرفین در موافقتنامه مشخص شده است، صادر نگردیده باشد.

۳–درصورتی‌که قرار حکمیت به موجب قانونی صادر شده باشد که قانون مذکورفاقد اعتبارباشد.

۴–درصورتی‌که قرار برعلیه طرفی صادر شده باشد که درمورد تعیین حکم یا رسیدگی حکمیت به وی اطلاع لازم داده نشده یا طبق احکام این قانون به ارایهٔ دفاعیه قادر نباشد.

۵–درصورتی‌که قرار درمورد منازعه صادر شده باشد که در موافقتنامه حکمیت از آن تصریح نگردیده یا در ساحهٔ تطبیق آن واقع نباشد و یا حاوی اتخاذ تصامیم بر موضوعاتی بوده که خارج از صلاحیت حکمیت قرارداشته باشد.

درصورتی‌که اتخاذ تصامیم بر موضوعات خارج از ساحهٔ حکمیت از اتخاذ تصامیم

ساحه کې پرشاملو موضوعګانو دتصمیم له نیولو څخه تفکیک کړل شي، پدی حالت کې یوازې دقرار هغه برخه چې دحکمیت لپاره پر وړاندی شوو موضوعګانو دتصمیم لرونکې ده ، دتطبیق وړ ده.

۶-که چېرې دحکمیت د بورډ ترکیب یا دحکمیت کړنلاره د اړخونو له موافقه لیک سره مطابقت ونلري یا دحکمیت دموافقه لیک دنه موجودیت په صورت کې ، دحکمیت د بورډ ترکیب یا دحکمیت کړنلاره دهغۀ هېواد له قانون سره چې حکمیت پکې صورت موندلی دی، مطابقت ونلري.

۷-په هغۀ صورت کې چې دحکمیت قرار صادر خو تطبیق شوی نه وي اودهغۀ هېواد چې قرار یې دقانون پرموجب صادر شوی وي،دمحکمې په واسطه تعلیق یا لغوه شوی وي.

۸-په هغۀ صورت کې چې دحکمیت موضوع، دافغانستان د قوانینوپرموجب دحکمیت له لارې دحل اوفصل وړنه وي اویا

برموضوعات شامل درساحۀ حکمیت تفکیك شده بتواند ، دراین حالت صرف آن بخشی از قرار که حاوی تصامیم برموضوعات ارائه شده برای حکمیت است،قابل تطبیق می‌باشد.

۶-هرگاه ترکیب بورد حکمیت یا طرزالعمل حکمیت با موافقتنامۀ حکمیت طرفین،مطابقت نداشته و یا درصورت عدم موجودیت موافقتنامۀ حکمیت، ترکیب بورد حکمیت یا طرزالعمل حکمیت با قانون کشوریکه حکمیت در آن صورت گرفته است، مطابقت نداشته باشد.

۷-درصورتی‌که قرار حکمیت صادر ولی تطبیق نگردیده و توسط محکمۀ کشوریکه قرار به موجب قانون آن صادر گردیده، تعلیق یا لغو شده باشد.

۸-درصورتی‌که موضوع حکمیت،به موجب قوانین افغانستان ازطریق حکمیت قابل حل و فصل نبوده و یا تطبیق قرار

دحکمیت دقرار تطبیقېدل، دافغانستان دنافذوقوانینو او مقرراتو مغایر وي.

**داصل سند وړاندی کول**

**اووه پنځوسمه ماده:**

هغه اړخ چې دحکمیت د قرار دتطبیق غوښتنه ولري، مکلف دی دقرار اصلي اوتصدیق شوی سند یایې مصدقه نقل دحکمیت له اصل موافقه لیک یا یې له مصدقه نقل اودافغانستان په یوه ژبه له تصدیق شوې ژباړې سره یوځای ، وړاندی کړی.

**د تضمین وړاندی کول**

**اته پنځوسمه ماده:**

په هغهٔ صورت کې چې دحکمیت دقرار دلغوې یاتعلیق په اړه غوښتنه، یوې محکمې ته وړاندی او په بله محکمه کې دنوموړي قرار دتطبیق په اړه غوښتنې صورت موندلی وي، پدی حالت کې لومړۍ محکمه کولای شي خپل قرار وځنډوي اودهغهٔ اړخ چې د قرار تطبیقېدل غواړي، دغوښتنې پربنسټ مقابل اړخ دتضمین په وړاندی کولو مکلف کړی.

حکمیت، مغایر قوانین و مقررات نافذهٔ افغانستان باشد.

**ارایهٔ اصل سند**

**مادهٔ پنجاه وهفتم:**

طرفیکه درخواست تطبیق قرار حکمیت را داشته باشد، مکلف است سند اصلی و تصدیق شدهٔ قرار یا نقل مصدقهٔ آن را معهٔ اصل یانقل مصدقهٔ موافقتنامهٔ حکمیت و ترجمهٔ تصدیق شدهٔ آنرا به یکی از لسان های رسمی افغانستان ارائه نماید.

**ارایهٔ تضمین**

**مادهٔ پنجاه و هشتم:**

درصورتی‌که درخواست مبنی بر الغا یا تعلیق قرار حکمیت به یك محکمه ارائه و درمحکمهٔ دیگر درخواست مبنی بر تطبیق قرار متذکره صورت گرفته باشد، دراین حالت محکمهٔ اولی می‌تواند قرار خود را تعویق و به اساس درخواست طرفی که تطبیق قرار را درخواست می‌کند، طرف مقابل را مکلف به ارایهٔ تضمین نماید.

## نهم فصل
## وروستني حکمونه

**دمقررو او کړنلارو وضع کېدل**
**نهه پنځوسمه ماده:**
د سوداګرۍ او صنایعو وزارت کولای شي، د دې قانون دلاښه تطبیق په منظور مقررې وړاندیز او لایحې او کړنلارې وضع اوتصویب کړي.

**د انفاذ نېټه**
**شپېتمه ماده:**
دغه قانون د توشیح له نېټې څخه نافذ دی اوپه رسمي جریده کې دی خپور شي.په نافذېدو سره یې د ۱۳۷۴ کال په (۷۷۹) ګڼه رسمي جریده کې خپوره شوې دتجارتي حکمیت مقرره او نور مغایر حکمونه لغو ګڼل کېږي.

## فصل نهم
## احکام نهایی

**وضع مقرره و طرز العمل ها**
**مادۀ پنجاه ونهم:**
وزارت تجارت و صنایع می‌تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون، مقرره ها را پیشنهاد و لوایح و طرزالعمل ها را وضع و تصویب نماید.

**تاریخ انفاذ**
**مادۀ شصتم:**
این قانون از تاریخ توشیح نافذ و درجریدۀ رسمی نشر گردد. با انفاذ آن، مقررۀ حکمیت تجارتی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۷۷۹) سال ۱۳۷۴ وسایر احکام مغایر آن ملغی شمرده می‌شود.

# قانون سرمایه گذاری خصوصی

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**د عدلیې وزیر محترم سرور دانش!**

د خصوصي پانګې اچونې قانون چې په (۹) فصلونو او (۳۳) مادو کې د وزیرانو د عالي مجلس لخوا تصویب او د **۱۳۸۴/۹/۱۵** نېټې د (**۱۰۵**) ګڼې فرمان په ذریعه زموږ له لوري توشېح شوی دی، تاسوته در واستول سو چې په رسمي جریده کې یې په خپرولو اقدام وکړئ.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**محترم سرور دانش وزیر عدلیه!**

قانون سرمایه گذاری خصوصی که از طرف مجلس عالی وزراء به داخل (۹) فصل و (۳۳) ماده تصویب و از جانب ما ذریعهٔ فرمان شماره (**۱۰۵**) مؤرخ **۱۳۸۴/۹/۱۵** توشیح گردیده است، به شما ارسال شد، به نشر آن در جریدهٔ رسمی اقدام نمائید.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## د خصوصي پانگې اچونې د قانون د انفاذ په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

**گڼه:** (۱۰۵)

**نېټه:** ۱۳۸۴/۹/۱۵

**لومړۍ ماده:**

د خصوصي پانگې اچونې قانون چې په (۹) فصلونو او (۳۳) مادو کې د وزیرانو شورې د ۱۳۸۴/۸/۳۰ نېټې د (۳۱) گڼې مصوبې پربنسټ تصویب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ اوپه رسمي جریده کې دې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد انفاذ قانون سرمایه گذاری خصوصی

**شماره:** (۱۰۵)

**تاریخ:** ۱۳۸۴/۹/۱۵

**ماده اول:**

قانون سرمایه گذاری خصوصی را که به اساس مصوبأ شماره (۳۱) مؤرخ ۱۳۸۴/۸/۳۰ شورای وزیران به داخل (۹) فصل و (۳۳) ماده تصویب گردیده، توشیح می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## دخصوصي پانګې اچونې قانون
## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړی ماده:**

دغه قانون د افغانستان داساسي قانون دلسمې مادی دحکم له مخې، دبازار داقتصاد دنظام پربنسټ د خصوصي پانګو اچونو او تشبثاتو دهڅونې ، ملاتړ او مصئونیت اود هغهٔ د اړوندو چارو دتنظیم په منظور،وضع شوی دی.

**د قانون موخه**

**دوه یمه ماده:**

ددغهٔ قانون موخې دهېوادپه اقتصادی ډګرکې دکورنیواو بهرنیو خصوصي پانګواچونو د برخې (نقش) له جوړولو اودقانوني نظم له لوړولو سره دهغهٔ د اداری جوړښت څخه عبارت دی چې داقتصادی هڅونې، ودی او پرمختیا ، دبوختېدو (اشتغال) د زمینې دبرابرولو، دتولید او صادراتي عوایدو دزیاتېدو، د تکنالوژۍ دلېږدیدو اودخلکو د ژوندانه دسطح د لوړولو اوعامه

## قانون سرمایه گذاری خصوصی
## فصل اول
## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول :**

این قانون به تأسی از حکم مادهٔ دهم قانون اساسی افغانستان به منظور تشویق، حمایت ومصؤنیت سرمایه گذاری ها وتشبثات خصوصی مبتنی بر نظام اقتصاد بازار وتنظیم امور مربوط آن وضع گردیده است .

**هدف قانون**

**مادهٔ دوم :**

اهداف این قانون عبارت از ارتقای نقش سرمایه گذاری های خصوصی داخلی وخارجی در عرصهٔ اقتصادی کشور و ایجاد نظم قانونی با ساختار اداری آن می باشد که موجب ترغیب، حمایت و مصؤنیت سرمایه گذاران خصوصی داخلی و خارجی غرض رشد و انکشاف اقتصادی، فراهم ساختن زمینهٔ اشتغال ، افزایش تولید

سوکالۍ په غرض دکورنیو او بهرنیو خصوصي پانګواچوونکو د هڅونې ملاتړاومصئونیت موجب شي.

**اصطلاحګانې**

**درېیمه ماده:**

لاندې اصطلاحګانې پدې قانون کې د لاندنیو مفاهیمو لرونکې دي:

۱- پانګه ایزه شتمني: د تجهیزاتو او ماشین آلاتو په شمول ټولې موجودې منقولې اوغیرمنقولې شتمنۍ دهغو په غیرمقید ډول سره دي.

۲- کمېسیون: ددې قانون په شپږمه ماده کې درج دپانګې اچونې عالي کمېسیون دی.

۳- بهرنۍ پانګه اچونه: هغه پانګه اچونه ده چې د آزادې تبادلې وړ اسعارو په ډول یاد غیرنغدې برخې اخیستنې په ډول دبهرنې تبعه لخوا له بهرڅخه هېواد ته رالېږدیږي.

۴- بهرنی پانګه اچوونکی: هغه بهرنی تبعه دی چې بهرنۍ پانګه اچونه یې دهېواد په دننه کې په کار اچولې وي.

۵- بهرنی پور (قرضه): هرډول

وعواید صادراتی، انتقال تکنالوژی، بهبود وارتقای سطح زندگی مردم و رفاه عامه گردد.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون دارای مفاهیم ذیل می‌باشند:

۱- دارائی سرمایوی: کلیه سرمایه ودارائی های منقول وغیر منقول موجود به شمول تجهیزات وماشین آلات طور غیر مقید آن می‌باشد.

۲- کمیسیون: کمیسیون عالی سرمایه گذاری مندرج مادۀ ششم این قانون مي‌باشد.

۳- سرمایه گذاری خارجی: سرمایه گذاری است که به شکل اسعار قابل تبادلۀ آزاد یا به شکل سهمگیری غیر نقدی توسط شخص خارجی از خارج به کشور منتقل می گردد.

۴- سرمایه گذار خارجی: شخص خارجی می باشد که سرمایه گذاری خارجی را در داخل کشور به کار انداخته باشد.

۵- قرضۀ خارجی: انواع قرضه،

پور ،دپورونډه،د پور سندونه یا بل هرډول هغه پور دی چې دبهرني شخص په واسطه د آزادی تبادلې په وړ اسعاروباندی دمنظور شوی تشبث دسوداګریزفعالیت دپرمخبیولو دتأمین په منظور ، هغهٔ ته ورکړل شوی وي.

۶- شخص : عبارت دی له :

- داخلي حقیقی شخص : هغه شخص دی چې دنافذه قوانینو دحکمونومطابق یې پېژندګلوي (هویت) تثبیت شوې وي.

-داخلي حکمي شخص:دمؤسسې، شرکت،انحصاري مالکیت، محدودالمسئولیت شرکت، مؤقت مشارکت، مؤقتي پانګې اچونې ، خاص یاعام سهامي شرکت اواتحادی یا بلې هرډول انتفاعي مؤسسې په ډول شخص دی چې دنافذه قوانینودحکمونومطابق تأسیس شوی وي.

- بهرنی حقیقي شخص : هغه شخص دی چې له افغاني تابعیت پرته تابعیت ولري.

- بهرنی حکمي شخص : هغه شخص دی چې حقوقي شخصیت یې دهېواد له قوانینو پرته قوانینو

سهمیهٔ قرضه، اسناد قرضه یا هر نوع قرضهٔ دیگری است که توسط شخص خارجی به اسعار قابل تبادلهٔ آزاد به منظور تأمین پیشبرد فعالیت تجارتی تشبث منظور شده به آن داده شده باشد .

۶- شخص : عبارت است از :

- شخص حقیقی داخلی : شخصی است که مطابق احکام قوانین نافذه، هویت آن تثبیت گردیده باشد .

- شخص حکمی داخلی : شخصی است به شکل مؤسسه ، شرکت ، مالکیت انحصاری، شرکت محدودالمسئولیت ، مشارکت مؤقت ، سرمایه گذاری مؤقت ، شرکت سهامی خاص یا عام و اتحادیه یا هر نوع مؤسسهٔ دیگر انتفاعی که مطابق احکام قوانین نافذه تأسیس گردیده باشد .

- شخص حقیقی خارجی : شخصی است که تابعیت غیر از تابعیت افغانی را داشته باشد .

- شخص حکمی خارجی: شخصی است که شخصیت حقوقی وی درچهار چوب قوانینی غیر از

په چوکاټ کې مشخص شوی وي.
۷- بنسټیزتأسیسات: هغه وسایل او تجهیزات یا خدمتونه دي چې دعامې یا دخلکو دیوې برخې دسوکالۍ په غرض برابر او ترګټې اخیستنې لاندې نیول شوی وي او په غیرمقیده ډول لاندې موارد پکې شامل دي:
-د تولید او دانرژۍ دلېږد تجهیزات.
- د اوبورسولواود اوبودتصفیې تجهیزات .
-دفاضله موادواودهغودتصفیې تجهیزات.
- دخاوروخځلودتصفیې تجهیزات او دهغو ددفع کولو آسانتیاوې .
- دهوايي ډګرونو تأسیسات او تجهیزات او د روغتیایي او زده کړه ایز سکتور آسانتیاوې.
- مخابراتي تجهیزات او خپرنیزې آسانتیاوې.
- نور هغه تجهیزات او خدمتونه چې ددی قانون د حکمونو مطابق د واکمنو مقامونو په واسطه دبنسټیزو تأسیساتو په توګه مشخصېږي.
۸-پانګه اچونه : هغه غیرنغدی

قوانین کشور مشخص شده باشد.
۷- تأسیسات زیربنائی : وسایل و تجهیزات یا خدماتی است که غرض رفاه عامه یا بخشی از مردم تهیه ومورد استفاده قرار گرفته و طور غیر مقید شامل موارد ذیل می‌باشد :
- تجهیزات تولید و انتقال انرژی .
- تجهیزات آبرسانی وتصفیهٔ آب .
-تجهیزات مواد فاضله وتصفیهٔ آن.
- تجهیزات تصفیهٔ زباله وتسهیلات دفع آن .
- تأسیسات و تجهیزات میدان های هوائی و تسهیلات سکتور صحی وآموزشی .
- تجهیزات مخابراتی و تسهیلات نشراتی .
- سایر تجهیزات وخدماتی که مطابق احکام این قانون به عنوان تأسیسات زیر بنائی توسط مقامات ذیصلاح مشخص می گردد .
۸- سرمایه گذاری : اسعار

**۶-** اجباري جواز (لایسنس) : هغه لیکلی سند دی چې د ثبت د دفتر لخوا صادر او پربنسټ یې بل شخص، اختراع یا اکتشاف د هغهٔ د انحصاري حق د مالک له موافقې پرته، تر ګټې اخیستنې لاندې نیسي.

**انحصاري حق**

**څلورمه ماده:**

اختراع یا اکتشاف د هغه د مخترع یا مکتشف انحصاري حق دی او تر ملاتړ لاندې نیول کېږي، پدې شرط چې د دی قانون د حکمونو مطابق، ثبت شوی وي.

**د قانون تطبیقوونکی**

**پنځمه ماده:**

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت، د دی قانون اصلي تطبیقوونکې مرجع ده .

**۵-** صنعت: فعالیت اقتصادی بشری است که بالاثر آن مواد طبیعی به تولید اجناس وخدمات تبدیل می گردد.

**۶-** جواز اجباری (لایسنس) : سندی کتبی است که از طرف دفتر ثبت صادر و به اساس آن شخص دیگر، اختراع یا اکتشاف را بدون موافقهٔ مالك حق انحصاری آن ، مورد استفاده قرار می دهد .

**حق انحصاری**

**مادهٔ چهارم :**

اختراع یا اکتشا ف، حق انحصاری مخترع یا مکتشف آن بوده ومورد حمایت قرار می گیرد ، مشروط بر اینکه مطابق احکام این قانون به ثبت رسیده باشد.

**تطبیق کنندهٔ قانون**

**مادهٔ پنجم:**

وزارت تجارت وصنایع مرجع اصلی تطبیق کنندهٔ این قانون می باشد.

## دوه یم فصل
## داختراعاتو او اکتشافاتو ثبت

### د ثبت شرایط

**شپږمه ماده:**

(۱) مخترع، مکتشف یا دهغوی قانوني وکیل کولی شي دخپلې اختراع او اکتشاف د ثبت غوښتنلیک د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د فکري ملکیتونو دفتر ته وړاندې کړي.

(۲) مخترع، مکتشف یا د هغوی قانوني وکیل مکلف دی، د ثبت د غوښتنلیک له تأیید وروسته، یو څه پیسې د حق الثبت په نوم، د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحویل کړي. دغه مبلغ د استرداد وړ ندی.

### نه ثبتېدل

**اوومه ماده:**

لاندې اختراعګانې یا اکتشافات د ثبت وړ ندي:

۱- مالي نقشه.

۲- داختراع یا اکتشاف تکمیلي اختراع یا اکتشاف چې د عفت، عامه نظم منافي یا د روغتیا یا د ژوند د چاپېریال ساتنې مخالف

## فصل دوم
## ثبت اختراعات واکتشافات

### شرایط ثبت

**مادهٔ ششم:**

(۱) مخترع، مکتشف یا وکیل قانونی آنها می تواند، درخواست ثبت اختراع و اکتشاف خویش را به دفترملکیت های فکری وزارت تجارت وصنایع ارأیه نماید.

(۲) مخترع ، مکتشف یا وکیل قانونی آنها مکلف است، بعد ازتائید درخواست ثبت، مبلغی را به عنوان حق الثبت به حساب واردات دولت تحویل بانك نماید. این مبلغ قابل استرداد نمی باشد.

### عدم ثبت

**مادهٔ هفتم :**

اختراعات و اکتشافات ذیل قابل ثبت نمی باشد:

۱- نقشهٔ مالی.

۲- اختراع یا اکتشاف تکمیلی اختراع یا اکتشاف، که منافی عفت، نظم عامه یا مخالف حفظ الصحه یا محیط زیست

وي.
۳- د درملو فورمولونه.

**د ثبت غوښتنلیک**

**اتمه ماده:**

(۱) د اختراع یا اکتشاف دثبت غوښتنلیک لاندی ټکي لري:

۱- د مخترع، مکتشف یا دهغوی د قانوني وکیل بشپړ شهرت، تابعیت، شغل او آدرس.

۲- د اختراع یا اکتشاف د موضوع لنډیز.

۳- د اختراع یا اکتشاف د فورمې د اعتبار مودی ته په پام سره د غوښتنلیک د اعتبار د مودی یادول.

۴- په بهر کې داختراع یا اکتشاف د ثبت د نېټې، د صادرېدو د ځای او ګڼې یادول، په هغهٔ صورت کې چې د هغې اختراع یا اکتشاف لپاره له افغانستان څخه په بهر کې، د ثبت فورمه صادره شوې وي.

۵- دهغهٔ شخص بشپړ شهرت او آدرس چې په افغانستان کې مېشت دی او په هغې اختراع او اکتشاف پورې چې د ثبتېدو غوښتنلیک یې وړاندی شوی دی،

باشد.
۳- فورمول های ادویه جات.

**درخواست ثبت**

**مادۀ هشتم :**

(۱) درخواست ثبت اختراع یا اکتشاف حاوی نکات ذیل میباشد :

۱- شهرت مکمله، تابعیت، شغل وآدرس مخترع ، مکتشف یا نمایندۀ قانونی آنها.

۲- خلاصۀ موضوع اختراع یا اکتشاف .

۳- ذکر مدت اعتبار درخواست بانظرداشت میعاد اعتبار فورمۀ اختراع یا اکتشاف.

۴- ذکر تاریخ، محل صدور وشمارۀ ثبت اختراع یا اکتشاف درخارج درصورتی که برای آن اختراع یا اکتشاف در خارج ازافغانستان فورمۀ ثبت، صادر شده باشد.

۵- شهرت مکمله وآدرس شخص که مقیم افغانستان بوده وجهت دریافت کلیه اطلاعات مربوط به اختراع یا اکتشاف که درخواست ثبت آن

د ټولو اړوندو اطلاعاتو د ترلاسه کېدو لپاره، واک ولري.
(۲) د ثبت غوښتنلیک، د هېواد په یوه رسمي ژبه وړاندې کېږي او د لاسلیک او نېټې لرونکی وي.

**د ثبت د غوښتنلیک ضمیمې**

**نهمه ماده:**

د ثبت غوښتنلیک لاندې ضمیمې لري:
۱- د اختراع یا اکتشاف تشریح په دریو نقلونو کې.
۲- د اختراع یا اکتشاف پر تشریح باندې د پوهېدو لپاره سندونه یا نقشې په دریو نقلونو کې.
۳- دحق الثبت د ورکړې په اړه، د فکري ملکیتونو د دفتر د ثبت سند.
۴- وکالت لیک، په هغهٔ صورت کې چې د ثبت غوښتنلیک، د هغوی د قانوني استازي په واسطه وړاندې شوی وي.

**د غوښتنلیک څېړل**

**لسمه ماده:**

(۱) اړوند دفتر، د غوښتنلیک له ترلاسه کولو وروسته، دهغهٔ د سندونو سموالی (صحت)، د دې قانون په شلېریشتمه ماده کې درج

ارائه گردیده، صلاحیت داشته باشد.
(۲) درخواست ثبت به یکی از زبانهای رسمی کشور ارأیه ودارای امضاء وتاریخ می باشد.

**ضمایم درخواست ثبت**

**مادهٔ نهم:**

درخواست ثبت حاوی ضمایم ذیل می باشد:
۱- تشریح اختراع یا اکتشاف در سه نقل.
۲- اسناد یا نقشه ها جهت فهم تشریح اختراع یا اکتشاف در سه نقل.
۳- سند ثبت دفتر ملکیت های فکری، مبنی برپرداخت حق الثبت.
۴- وکالت نامه، درصورتی که درخواست ثبت توسط نمایندهٔ قانونی آنها ارائه شده باشد.

**بررسی درخواست**

**مادهٔ دهم:**

(۱) دفتر مربوط، بعد از دریافت درخواست، صحت اسناد آنرا بانظرداشت حکم مندرج مادهٔ بیست

شوی حکم ته په پام سره، څېړي، کاپي يې د دفتر له لاسليک او مهر وروسته، دهغۀ د رسېدو د نېټې، ساعت، ورځې، مياشتې او کال په قيدولو سره په تورو باندی په شرحې سره، غوښتنليک ورکوونکي ته مستردوي.
(۲) د ثبت دفتر مکلف دی، د غوښتنليک اود هغۀ د ضميمو د رسېدو له نېټې څخه، د پنځلسو ورځو مودی په ترڅ کې، له اړوند قانون او مقررې سره د هغو مطابقت وڅېړي، تصميم ونيسي، که چېرې نيمګړتياوې پکې وليدل شي، موضوع دی په ليکلې توګه غوښتنليک ورکوونکي ته خبر ورکړي.
(۳) که چېرې غوښتنليک ورکوونکی، افغاني تبعه وي، مکلف دی، د دوو مياشتو مودی په دننه کې او که بهرنی تبعه وي، د شپږو مياشتو مودی په ترڅ کې دی د هغۀ د نيمګړتياوو د لرې کولو لپاره تصميم ونيسي، د دلايلو د وړاندی کولو په صورت کې، دغه موده د يوې بلې دورې لپاره اوږديدی شي.

و چهارم این قانون بررسی نموده، کاپی آنرا بعد از امضاء ومهر دفتر با قید تاریخ، ساعت، روز، ماه وسال وصول آن با شرح حروف به درخواست دهنده، مسترد می نماید.
(۲) دفتر ثبت مکلف است، از تاریخ وصول درخواست وضمایم آن درخلال مدت پانزده روز، مطابقت آنرا با قانون ومقررۀ مربوط بررسی نموده ، تصمیم اتخاذ نماید، هرگاه نواقص در آن بملاحظه رسد ، موضوع را کتباً به درخواست دهنده اطلاع دهد.
(۳) هرگاه درخواست دهنده، تبعۀ افغانی باشد، مکلف است، در خلال مدت دو ماه واگر تبعۀ خارجی باشد، در خلال مدت شش ماه جهت رفع نواقص آن تصمیم اتخاذ نماید، درصورت ارایۀ دلایل، این مدت برای یك دورۀ دیگر تمدید شده می تواند.

(۴) کــه چېــرې غوښــتنليک ورکــوونکي، د دی مــادی پــه (۲) فقره کې په درج شوې موده کې د نيمگړتيــاوو لــرې کولــو تــه اقــدام ونکــړی، اړونـد دفتـر د دلايلـو پـه وړاندی کولـو سره هغـه مستردوي او موضـــوع پـــه ليکلـــي توگـــه غوښــتنليک ورکونکــو تــه خبــر ورکــوي. پــدی صــورت کــې غوښتنليک ورکوونکي کولی شي، د دی مـادی پـه (۲) فقـره کـې درج شوی حکـم تـه پـه پـام سره واکمنې محکمې ته مراجعه وکړی.

**داختراع يا اکتشاف ثبتېدل**

**يوولسمه ماده:**

(۱) اختـــراع يـــا اکتـــشاف لانـــدی ټکـــو تـــه پـــه پـــام سره ثبتېږي:

۱- د غوښتنليک د ثبت شمېره .

۲- د غوښتنليک د دوسيې شمېره.

۳- د غوښــتنليک د رسېدو نېټـه د ساعت، ورځې، مياشتې او کـال پـه يادولو سره.

۴- د مختــرع يــا مکتــشف يــا د هغــوی د قــانوني اســتازي بــشپړ شهرت او آدرس.

۵- د اختراع يا اکتشاف موضـوع.

(۴) هرگــاه درخواســت دهنــدگان درميعـــاد منـــدرج فقـــرۀ (۲) ايــن مــاده بــه رفــع نــواقص اقــدام نــه ننماينــد، دفتــر مربــوط بـــا ارايـــۀ دلايـــل آنـــرا مـــسترد وموضـــوع را کتبـــاً بـــه درخواست دهنـدگان اطـلاع مـی دهـد. در ايـن صـورت درخواست دهندگان می توانند، بانظرداشت حکـــم منـــدرج فقـــرۀ (۲) ايـــن مـــاده بـــه محکمـــۀ ذيـــصلاح مراجعـــه نمايند.

**ثبت اختراع يا اکتشاف**

**مادۀ يازدهم:**

(۱) اختـــراع يـــا اکتـــشاف بانظرداشــت نکــات ذيــل بــه ثبت می رسد:

۱- شمارۀ ثبت درخواست.

۲- شمارۀ دوسيۀ درخواست.

۳- تـاريخ وصـول درخواسـت بـا ذکـــر ســـاعت، روز، مـــاه وسال.

۴- شـــهرت مکملـــه وآدرس مختــرع، مکتــشف يــا نماينــدۀ قانونی آنها.

۵- موضوع اختـراع يا اکتشـاف.

۶- د اختراع یا اکتشاف د فورمې د اعتبار موده.
۷- په بهر کې داختراع یا اکتشاف د فورمې د ثبت شمېره او د اعتبار موده.
۸- د اختراع یا اکتشاف د ثبت نېټه.
۹- د دفتر د مسئول لاسلیک .
۱۰- د مخترع یا مکتشف یا دهغوی د قانوني استازي لاسلیک.
(۲) په اختراع یا اکتشاف کې هر ډول بدلون او بشپړتیا ، د هغهٔ کلي یا قسمي پرېښودل یا لېږدیدل، د دی مادی په (۱) فقره کې د درج شوی حکم له په پام کې نیولو سره هم، په اړوند دفتر کې ثبتېږي.

**دثبت شوې اختراع یا اکتشاف فورمه**

**دوولسمه ماده:**

(۱) د اختراع یا اکتشاف فورمه چې لاندی ټکي لري، د هغې له ثبت وروسته مخترع، مکتشف یا دهغوی قانوني استازي ته ورلاندی کېږي:
۱- داختراع یا اکتشاف نېټه.
۲- د اختراع یا اکتشاف د ثبت

۶- مدت اعتبار فورمهٔ اختراع یا اکتشاف.
۷- شماره ثبت ومدت اعتبار فورمهٔ اختراع یا اکتشاف درخارج.
۸- تاریخ ثبت اختراع یا اکتشاف.
۹- امضای مسئول دفتر.
۱۰- امضای مخترع، مکتشف یا نمایندهٔ قانونی آنها .
(۲) هرنوع تغییر وتکمیل در اختراع یا اکتشاف، واگذاری یا انتقال کلی یا قسمی آن با رعایت حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده نیز دردفتر مربوط به ثبت می رسد .

**فورمهٔ اختراع یا اکتشاف ثبت شده**

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) فورمهٔ اختراع یا اکتشاف، بعد از ثبت آن به مخترع، مکتشف یا نمایندهٔ قانونی آنها که دارای نکات ذیل می باشد ، ارائه می گردد:
۱- تاریخ اختراع یا اکتشاف .
۲- شماره و تاریخ ثبت اختراع

شمېره او نېټه.
۳- د مختـرع یـا مکتـشف د دوسيې شمېره.
۴- د اختراع یا اکتشاف موضوع.
۵- د غوښتنلیک د تسلیمولو نېټه.
۶- د مخترع، مکتشف یا دهغوی د قـانوني اسـتازي بـشپړ شـهرت او آدرس.
۷- د اختراع یا اکتشاف د فـورمې د اعتبار موده.
۸- له افغانستان څخه په بهر کې د اختراع یا اکتشاف د ثبت شمېره او د اعتبار موده.
۹- د دفتـر د مـسئول لاسـلیک.
۱۰- داختـراع یـا اکتـشاف د فورمې د صادرېدو شمېره او نېټه.
(۲) د اختراع یا اکتشاف د تشریح د لنډیز او اړوندو نقشو نقل مهر او د اختـراع یـا اکتـشاف لـه فـورمې سره ضمیمه کېږي.

**د فورمې د اعتبار موده**
**دیارلسمه ماده:**
(۱) د اختراع یا اکتشاف د فـورمې د اعتبـار مـوده، د مختـرع یـا مکتـشف د غوښـتنې لـه مخـې تـر (۲۰) کلونو پورې وي.
(۲) مختـرع، مکتـشف یـا دهغـوی

یا اکتشاف .
۳- شـمارهٔ دوسـیهٔ مختـرع یـا مکتشف.
۴- موضـوع اختـراع یـا اکتـشاف.
۵- تـاریخ تـسلیمی درخواسـت.
۶- شـهرت مکملـه وآدرس مختـرع، مکتـشف یـا نماینـدهٔ قانونی آنها .
۷- مدت اعتبار فورمهٔ اختـراع یا اکتشاف .
۸- شـمارهٔ ثبـت ومـدت اعتبـار اختـراع یـا اکتـشاف درخـارج از افغانستان.
۹- امـضای مـسئول دفتـر.
۱۰- شماره وتاریخ صدور فورمهٔ اختراع یا اکتشاف.
(۲) نقل خلاصهٔ تشریح اختـراع یا اکتشاف ونقشه هـای مربـوط مهـر و بـه فورمـهٔ اختـراع یـا اکتـشاف ضم می گردد.

**میعاد اعتبار فورمه**
**مادهٔ سیزدهم :**
(۱) میعاد اعتبار فورمهٔ اختراع یا اکتشاف، حسب تقاضای مختـرع یـا مکتـشف الـی (۲۰) سـال می باشد.
(۲) مختـرع ، مکتـشف یـا وکیـل

قانوني استازی، د دی مادی په (۱) فقره کې په درج شوې موده کې، له خپلې اختراع یا اکتشاف څخه د ګټې اخیستنې، تولید یا پلورلو انحصاري حق لري.

**داختراع یا اکتشاف خپرېدل**

**څوارلسمه ماده:**

اړوند دفتر مکلف دی، د اختراع یا اکتشاف له ثبت وروسته، زیات نه زیات د یوې میاشتې په ترڅ کې هغه خبرتیا چې لاندې ټکي پکې شامل وي، د مخترع یا مکتشف په لګښت، په رسمي جریده کې خپره کړي:

۱- د اختراع یا اکتشاف موضوع.

۲- د مخترع یا مکتشف بشپړ شهرت او آدرس.

۳- د اختراع یا اکتشاف د ثبت شمېره.

۴- د اختراع یا اکتشاف د فورمې داعتبار موده.

قانونی آنها درمیعاد مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، حق انحصاری استفاده، تولید و یا فروش اختراع یا اکتشاف خویشرا دارا می باشد.

**نشراختراع یااکتشاف**

**مادهٔ چهاردهم:**

دفتر مربوط مکلف است، بعد از ثبت اختراع یا اکتشاف، حد اکثر در خلال مدت یک ماه اطلاعیهٔ راکه شامل نکات ذیل می باشد، به مصرف مخترع یا مکتشف، درجریدهٔ رسمی به نشر برساند:

۱- موضوع اختراع یا اکتشاف.

۲- شهرت مکمله وآدرس مخترع یا مکتشف.

۳- شمارهٔ ثبت اختراع یا اکتشاف .

۴- مدت اعتبار فورمهٔ اختراع یا اکتشاف .

**داختراع یا اکتشاف د ثبت پرعلیه د ادعا حق**

**پنځلسمه ماده:**

د دی قانون په شپږمه ماده کې درج شوی د اختراع یا اکتشاف ثبت، د اختراع یا اکتشاف او د هغو د مثالونو د نوي والی، حقیقي والی، د ګټې اخستنې د وړتیا والی په اړه، د واکمنې محکمې په وړاندی، د ذینفعو اشخاصو د ادعا خنډ کېدی نشي.

**نوې اختراع یا اکتشاف**

**شپاړسمه ماده:**

هر ډول اختراع یا اکتشاف یا د موجودی اختراع یا اکتشاف بشپړېدل چې دثبت د غوښتنلیک له نېټې د مخه، په افغانستان یا له هغۀ څخه په بهر کې په ټولیزو رسنیو کې خپارۀ یا تر ګټې اخیستنې لاندی نیول شوی وي، نوې اختراع یا اکتشاف ګڼل کېږي.

**د اختراع یا اکتشاف د حق لېږدیدل**

**اووه لسمه ماده:**

(۱) مخترع یا مکتشف کولی شي،

**حق ادعا علیه ثبت اختراع یا اکتشاف**

**مادۀ پانزدهم:**

ثبت اختراع یا اکتشاف مندرج مادۀ ششم این قانون مانع ادعای اشخاص ذینفع مبنی بر جدید بودن، حقیقی بودن، قابل استفاده بودن اختراع یا اکتشاف وامثال آن، به پیشگاه محکمۀ با صلاحیت شده نمی تواند.

**اختراع یا اکتشاف جدید**

**مادۀ شانزدهم :**

هر نوع اختراع یا اکتشاف یا تکمیل اختراع یا اکتشاف موجودی که قبل از تاریخ درخواست ثبت ، در افغانستان یا خارج از آن در رسانه های همگانی نشر و یا مورد استفاده قرار گرفته باشد ، اختراع یا اکتشاف جدید محسوب می گردد .

**انتقال حق اختراع یا اکتشاف**

**مادۀ هفدهم :**

(۱) مخترع یا مکتشف می

د خپلې اختراع یا اکتشاف انحصاري حق، چې په افغانستان کې ثبت شوی وي د دی قانون له حکمونو سره سم په کلي یا قسمي توگه بل شخص ته ولېږدوي.

(۲) که چېرې د اختراع یا اکتشاف فورمه د وراثت له لارې ولېږدول شي، نوی مالک، په هغهٔ صورت کې کولی شي دهغې له حقوقو څخه ددی قانون دحکمونو مطابق برخمن شي چې هغه مجدداً ثبت کړی، دفتر، یاد شوی ثبت په اختراع یا اکتشاف پورې په اړونده صفحه کې درج اوپه رسمي جریده کې خپروي.

(۳) که چېرې اختراع یا اکتشاف، د دی قانون د حکمونو مطابق، لېږدول شوی وي، د بیا ثبت غوښتنلیک، د لاندی ټکو لرونکی وي:

۱- په افغانستان کې د د مخه ثبت شمېره.

۲- د منتقل الیه بشپړ شهرت او آدرس او تابعیت.

۳- په افغانستان کې د هغوی د قانوني استازي بشپړ شهرت او

تواند، حق انحصاری اختراع یا اکتشاف خویشرا که در افغانستان به ثبت رسیده باشد، طبق احکام این قانون طورکلی یا قسمی به شخص دیگری انتقال دهد.

(۲) هرگاه فورمهٔ اختراع یا اکتشاف ازطریق وراثت منتقل گردد، مالك جدید، درصورتی می تواند از حقوق آن طبق احکام این قانون مستفید گردد که مجدداً آنرا به ثبت برساند، دفتر، ثبت متذکره رادرصفحهٔ مربوط اختراع یا اکتشاف درج ودرجریدهٔ رسمی نشر می نماید.

(۳) هرگاه اختراع یا اکتشاف مطابق احکام این قانون انتقال گردیده باشد، درخواست ثبت مجدد، حاوی نکات ذیل می باشد:

۱- شمارهٔ ثبت قبلی در افغانستان.

۲- شهرت مکمله و آدرس وتابعیت منتقل الیه.

۳- شهرت مکمله وآدرس نمایندهٔ قانونی آنها در

آدرس.

(۴) که چېرې د اختراع یا اکتشاف لېږد، له بهر څخه صورت موندلی وي، سیمه ییز دفتر، یاد شوی لېږد ثبتوي، د غه سند د لېږدیدنې د سند په توګه منل کېږي.

**له اختراع یا اکتشاف څخه د ګټې اخیستنې داجازه لیک تسلیمي**

**اتلسمه ماده:**

اړوند دفتر، د ثبت د غوښتنلیک له غورونې او څېړنې او د دی قانون او اړوندی مقررې له حکمونو سره د هغهٔ له مطابقت څخه د ډاډ له تر لاسه کولو وروسته، د هغهٔ په ثبتولو اقدام کوي، د مخترع یا مکتشف، د هغهٔ د ګټه اخیستونکي د نوم، د اختراع یا اکتشاف د ثبت د شمېرې او د اجازه لیک د مندرجاتو دلنډیز لرونکی معلومات خپروي او سند یې منتقل الیه ته ورتسلیموي.

**د اصلي اختراع یا اکتشاف په عوض دتکمیلي اختراع یا اکتشاف ګټه اخیستنه**

**نولسمه ماده:**

که چېرې د تکمیلي اختراع یا اکتشاف غوښتنلیک ورکوونکی،

افغانستان.

(۴) هرگاه انتقال اختراع یا اکتشاف ازخارج صورت گرفته باشد، دفتر محل، انتقال متذکره را ثبت نموده، این سند به حیث سند انتقال پذیرفته می‌شود.

**تسلیمی اجازه نامهٔ استفاده ازاختراع یااکتشاف**

**مادهٔ هجدهم:**

دفتر مربوط، بعد از غور ورسیدگی درخواست ثبت وکسب اطمینان از مطابقت آن با احکام این قانون ومقررهٔ مربوط، به ثبت آن اقدام نموده، معلومات حاوی نام مخترع یا مکتشف، استفاده کنندهٔ آن، شمارهٔ ثبت اختراع یا اکتشاف وخلاصهٔ مندرجات اجازه نامه را به نشر رسانیده وسند آن را به منتقل الیه تسلیم می نماید.

**استفادهٔ اختراع یا اکتشاف تکمیلی به عوض اختراع یا اکتشاف اصلی**

**مادهٔ نزدهم:**

هرگاه درخواست دهندهٔ اختراع یا اکتشاف تکمیلی، غیر از مخترع

له مخترع یا مکتشف پرته، بل شخص وي، نشي کولی د تکمیلي اختراع یا اکتشاف فورمه له اصلي اختراع یا اکتشاف څخه د ګټې اخیستنې لپاره، ثبت کړي.

**ثالثو اشخاصو ته لېږدیدل**

**شلمه ماده:**

د مخترع یا مکتشف انحصاري حق چې د رسمي سند پربنسټ لېږدیدلی دی، په اړوند دفتر کې ثبتېږي، پرته لدی ثالث شخص ته د اعتبار وړ ندی.

**د ثبت سندونو ته مراجعه**

**یوویشتمه ماده:**

هر شخص کولای شي په اختراع یا اکتشاف یا د هغو په لېږدیدو او یا پرېښودو پورې د اړوندو مصدقه سندونو نقل، له ثبت وروسته، د ټاکلو پیسو د ورکړې په بدل کې لاسته راوړي.

**په اختراع یا اکتشاف کې د بدلون ثبتول**

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) مخترع، مکتشف یا دهغوی قانوني استازی کولی شي، د خپلې اختراع یا اکتشاف د فورمې

یا مکتشف، شخص دیگری باشد، نمی تواند فورمهٔ اختراع یا اکتشاف تکمیلی را جهت استفاده از اختراع یا اکتشاف اصلی به ثبت برساند.

**انتقال به اشخاص ثالث**

**مادهٔ بیستم:**

حق انحصاری مخترع یا مکتشف که به اساس سند رسمی انتقال گردیده، در دفتر مربوط به ثبت می رسد، در غیر آن به شخص ثالث قابل اعتبار نمی باشد.

**مراجعه به اسناد ثبت**

**مادهٔ بیست ویکم:**

هرشخص می تواند ، نقل مصدقهٔ اسناد مربوط به اختراع یا اکتشاف یا انتقال و یا واگذاری آنرا بعد از ثبت، در بدل پرداخت مبلغ معینه بدست آورد.

**ثبت تغییردراختراع یا اکتشاف**

**مادهٔ بیست ودوم:**

(۱) مخترع ، مکتشف یا نمایندهٔ قانونی آنها می تواند ، تغییر را درمیعاد اعتبار فورمهٔ اختراع یا

د اعتبار په موده کې بدلون راوړي او مکلف دی هغه ددی قانون د حکمونو مطابق، د ټاکلي حق الثبت په ورکړې سره ثبت کړي.
(۲) په افغانستان کې د مخترع یا مکتشف د استازي د بشپړ شهرت، آدرس او تابعیت بدلون جواز نلري، خو دا چې ثبت شوی وي.
د منځته راغلو بدلونونو ثبتول د مخترع، مکتشف یا د هغوی د قانوني استازي د لیکلي غوښتنلیک پربنسټ په دریو نقلونو کې ترتیب او د دی قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.

## د اختراع یا اکتشاف اصلي موضوع

**درویشتمه ماده:**

که چېرې اختراع یا اکتشاف دمخه، له افغانستان څخه په بهر کې ثبت شوی وي، مخترع، مکتشف یا دهغوی قانوني استازی کولی شي د اصلي اختراع یا اکتشاف اود هغو د تکمیلي اختراع يااکتشاف د فورمې پربنسټ، دواحد ثبت غوښتنلیک، اړوند دفتر ته وړاندی کړي.

اکتشاف خویش وارد نماید ومکلف است آنرا مطابق احکام این قانون با پرداخت حق الثبت معینه به ثبت برساند.
(۲) تغییر شهرت مکمله، آدرس وتابعیت نمایندۀ مخترع یا مکتشف در افغانستان جواز ندارد، مگر اینکه به ثبت رسیده باشد.
ثبت تغییرات وارده به اساس درخواست کتبی مخترع، مکتشف یا نمایندۀ قانونی آنها در سه نقل ترتیب ومطابق احکام این قانون صورت می گیرد.

## موضوع اصلی اختراع یا اکتشاف

**مادۀ بیست و سوم:**

هرگاه اختراع یا اکتشاف قبلاً در خارج ازافغانستان به ثبت رسیده باشد، مخترع، مکتشف یا نمایندۀ قانونی آنها می تواند بر اساس فورمۀ اختراع یا اکتشاف اصلی واختراع یا اکتشاف تکمیلی آن، درخواست ثبت واحد را به دفتر مربوط ارأیه نماید.

**د اختراع یا اکتشاف تشریح**

**څلېریشتمه ماده:**

(۱) د اختراع یا اکتشاف تشریح، د دی قانون په درویشتمه ماده کې د درج شوی حکم په رعایتېدو سره له غوښتنلیک سره ضمیمه وي او د هېواد په یوه رسمي ژبه برابره او په پای کې یې د اختراع یا اکتشاف لنډیز او د هغو د ګټې اخستنې ډول اضافه کېږي.

که چېرې د اختراع یا اکتشاف تشریح، د هېواد په رسمي ژبو شوني نه وي، بشپړه تشریح یې په انګلیسي ژبه ترتیب او لنډیز یې په یوه رسمي ژبه، ضمیمه کېږي.

(۲) د اختراع یا اکتشاف تشریح دی لوستې او داسې تنظیم شي چې مسلکي یا فني شخص د هغې په کتنې سره، د هغې نویوالی درک کړی، د اختراع یا اکتشاف تشریح له ګل او تراش څخه خلاصه وي او د هغې د کرښو ترمنځ د کلیمو لیکل ممنوع دی.

(۳) د اختراع یا اکتشاف د تشریح صفحې، د مخترع، مکتشف یا د هغوی د قانوني استازي لخوا

**تشریح اختراع یا اکتشاف**

**مادهٔ بیست وچهارم:**

(۱) تشریح اختراع یا اکتشاف با رعایت حکم مندرج مادهٔ بیست وسوم این قانون ضمیمهٔ درخواست بوده و به یکی از زبانهای رسمی کشور تهیه ودر آخر آن خلاصهٔ اختراع یا اکتشاف ونحوهٔ استفادهٔ آن اضافه می گردد.

هرگاه تشریح اختراع یا اکتشاف به زبانهای رسمی کشورمیسر نباشد، تشریح کامل آن به زبان انگلیسی ترتیب وخلاصهٔ آن به یکی از زبانهای رسمی، ضمیمه می گردد.

(۲) تشریح اختراع یا اکتشاف خوانا و طوری تنظیم گردد که شخص مسلکی یا فنی با مطالعهٔ آن بتواند، تازه گی آنرا درك نماید. تشریح اختراع یا اکتشاف عاری ازگل وتراش بوده ونوشتهٔ کلمات دربین سطور آن ممنوع است.

(۳) صفحات تشریح اختراع یا اکتشاف از طرف مخترع، مکتشف یا نمایندهٔ قانونی

لاسلیک او په نښنه کېږي، تر هرې جملې لاندې کرښه ایستل کېږي او په پای کې یې د جملو شمېر تاکل کېږي.

(۴) د اختراع یا اکتشاف یا د هغو دضمیمو تشریح، نقشې اونور سندونه دی، د یوۀ (A- ۴)ستندرد کاغذ د پاڼې پرمخ پداسې ډول برابر شي چې شا یې سپینه اودمخترع یامکتشف یا د هغوی دقانوني استازي لاسلیک یا مهر ولري.

(۵) د اختراع یا اکتشاف د تشریح صفحې ګنډل شوې اوپر له پسې ګڼه لري او نقشې هم د نقشې د برابرولو دمخصوص کاغذ پرمخ برابرې ګنډل شوې او پرله پسې ګڼه لري.

## درېیم فصل
## په اختراع یا اکتشاف کې بدلون یا بشپړتیا

### بدلون یا بشپړتیا

**پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) هر هغه بدلون یا بشپړتیا چې په اختراع یا اکتشاف کې د اختراع یا اکتشاف د فورمې د اعتبار په موده کې صورت

آنها امضاء و نشانی گردیده و زیر هر جمله خط کشیده وتعداد جملات در آخر آن معین گردد.

(۴) تشریح اختراع یا اکتشاف وضمایم آن ، نقشه ها وسایر اسناد ، در یك صفحه کاغذ ستندرد (A-۴) به نحوی تهیه گردد ، که عقب آن سفید ودارای امضاء یا مهرمخترع، مکتشف یا نمایندۀ قانونی آنها باشد.

(۵) صفحات تشریح اختراع یا اکتشاف، دوخته شده ودارای شمارۀ مسلسل بوده ونقشه ها نیز روی کاغذ مخصوص نقشه تهیه، دوخته شده و دارای شمارۀ مسلسل باشد.

## فصل سوم
## تغییر یا تکمیل در اختراع یا اکتشاف

### تغییریا تکمیل

**مادۀ بیست وپنجم:**

(۱) هر تغییر یا تکمیلی که در اختراع یا اکتشاف در میعاد اعتبار فورمۀ اختراع یا اکتشاف صورت می گیرد ،

مومي، د دی قانون د لسمې اوڅلېریشتمې مادی د حکمونو تابع دی.

(۲) د اختراع یا اکتشاف د بدلون یا بشپړتیا لپاره، د اختراع یا اکتشاف فورمه د اصلي فورمې په بشپړتیا کې صادرېږي، د تکمیلي اختراع فورمه د اصلي فورمې د اړکل شوو موادو د حکمونو تابع ده، خو د تکمیلي فورمې داعتبار موده د اصلي فورمې داعتبار له مودی څخه زیاتېدی نشي.

**د تکمیلي فورمې په عوض داصلي فورمې غوښتنه**

**شپږویشتمه ماده:**

که چېرې د اختراع یا اکتشاف د فورمې مالک د بدلون یا بشپړتیا لپاره، د تکمیلي فورمې په عوض، جلا اصلي فورمه وړاندې کړي، د دی قانون د حکمونو مطابق، د حق الثبت او نورو ټاکلو لګښتونو په ورکړه، مکلف دی.

تابع احکام مواد دهم و بیست وچهارم این قانون می باشد.

(۲) برای تغییر یا تکمیل اختراع یا اکتشاف ، فورمۀ اختراع یا اکتشاف در تکمیل فورمۀ اصلی صادر می گردد ، فورمۀ اختراع تکمیلی تابع احکام مواد پیشبینی شدۀ فورمه اصلی بوده، ولی مدت اعتبار فورمۀ تکمیلی از مدت اعتبار فورمۀ اصلی بیشتر بوده نمی تواند.

**تقاضای فورمۀ اصلی به عوض فورمۀ تکمیلی**

**مادۀ بیست وششم :**

هرگاه مالك فورمۀ اختراع یا اکتشاف جهت تغییر یا تکمیل، به عوض فورمۀ تکمیلی، فورمۀ اصلی جداگانه را ارائه نماید ، مطابق احکام این قانون مکلف به پرداخت حق الثبت وسایر مصارف معینه، می باشد.

**د لېږدېدنې سندونه او د هغو ضميمې**

**اووه ويشتمه ماده:**

د لېږديدنې سندونه، وکالت ليک او د اختراع او اکتشاف د ثبت فورمه، له غوښتنليک سره ضميمه کېږي. د اختراع يا اکتشاف فورمه د لېږد له ثبت وروسته، د هغې مالک ته مسترد يږي.

**د غوښتنليک او د هغهٔ د ضميمو رد**

**اته ويشتمه ماده:**

کـه چېرې د اختـراع يـا اکتـشاف د ثبت غوښتنليک رد شي، لاندې سندونه هم له هغهٔ سره ضميمه کېږي:

۱- دهغهٔ تصميم اصل يا نقل چې د ثبت غوښتنليک يې پرموجب رد شوی دی.

۲- هغه اعتراضونه چې د ثبت غوښتنليک ورکوونکي، د هغهٔ د رد په اړه وړاندې کړيدي.

۳- وکالت ليک، په هغهٔ صورت کې چې غوښتنليک د مخترع يا مکتشف دقانوني استازي په واسطه، وړاندې شوی وي.

**اسناد انتقال و ضمايم آن**

**مادهٔ بيست وهفتم :**

اسنادانتقال، وکالت نامه وفورمهٔ ثبت اختراع يا اکتشاف ، به درخواست ضميمه می شود. فورمهٔ اختراع يا اکتشاف بعد از ثبت انتقال به مالك آن مسترد می گردد.

**رد درخواست و ضمايم آن**

**مادهٔ بيست وهشتم :**

هرگاه درخواست ثبت اختراع يا اکتشاف رد گردد، اسناد ذيل نيزبه آن ضميمه می گردد:

۱- اصل يا نقل تصميمی که درخواست ثبت به موجب آن رد گرديده .

۲- اعتراضات که درخواست دهندهٔ ثبت، مبنی به رد آن ارائه نموده .

۳- وکالت نامه، درصورتی که درخواست توسط نمايندهٔ قانونی مخترع يا مکتشف، ارائه شده باشد.

## څلورم فصل
## د بهرنیو اشخاصو د اختراع یا اکتشاف ثبتېدل

**د ثبت شرایط**

**نهه ویشتمه ماده:**

بهرنـــی مختـــرع یـــا مکتـــشف کـــولای شـــي، د خپلـــې اختـــراع یـا اکتـشاف د پـاتې مـودی لپـاره، د دی قـانون د حکمونـو مطـابق، د ثبـت غوښـتنلیک پـه افغانـستان کـې وړانـدی کـړی، پـدی شـرط چې د هغـۀ د اختـراع یا اکتـشاف د فـورمې مـوده، د هغـۀ پـه متبـوع هېـواد کـې تېـره شـوې نـه وي. کـه چېـرې اختـراع یـا اکتـشاف د بـل شـخص یـا مؤسـسې لخـوا پـه افغانـستان کـې د ثبـت لـه غوښتنلیک دمخه په کلي یا جزئي توګه تر ګټې اخیستنې لاندی نیول شوی وي او یا ئې د ګټې اخیستنې زمینه برابره شوې وي، مختـرع یا مکتشف نشي کولی، د شخص یا مؤسسې لـه اقـدام څخـه مخنیـوی وکړی.

## فصل چهارم
## ثبت اختراع یا اکتشاف اشخاص خارجی

**شرایط ثبت**

**مادۀ بیست ونهم:**

مختـرع یـا مکتـشف خـارجی می توانـد، بـرای مـدت باقیمانـدۀ اختـراع یـا اکتـشاف خـویش طبـق احکـام ایـن قـانون، درخواســـت ثبـــت را در افغانستان ارائه نماید، مشروط بـر اینکـه میعـاد فورمۀ اختـراع یا اکتـشاف آن در کـشور متبـوع اش منقـضی نگردیـده باشـد. هرگـاه اختـراع یـا اکتـشاف از طـرف شـخص یا مؤسسۀ دیگر قبـل از درخواسـت ثبـت در افغانستان طورکلی یا جزئی مورد اسـتفاده قـرار گرفتـه ویـا زمینـۀ اسـتفاده آن آمـاده شـده باشـد، مختـرع یـا مکتـشف نمی توانـد، از اقـدام شـخص یـا مؤسـسه جلـوگیری نماید.

**آدرس**

**دیرشمه ماده:**

(۱) که چېرې د اختراع یا اکتشاف د ثبت غوښتنلیک ورکوونکی شخص په افغانستان کې مېشت نه وي، مکلف دی په افغانستان کې خپل مشخص آدرس وټاکي یا بل واکمن شخص چې د افغانستان تبعه وي، په اختراع یا اکتشاف پورې د اړوندو اطلاعاتو او سندونو د وړاندی کولو لپاره، معرفي کړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی حکم، د اختراع یا اکتشاف د فورمې پر اعتراض کوونکي شخص باندې هم د تطبیق وړ دی.

**د لېږدېدنې یا پرېښودنې د حق ثبتېدل**

**یودیرشمه ماده:**

(۱) که چېرې د اختراع یا اکتشاف د انحصاري حق لېږد اخیستونکی، بهرنی شخص وي یا هغه حقیقي یا حکمي اشخاص چې د پرېښودنې له لارې یا د قانون په حکم، حق له لېږد اخیستونکي

**آدرس**

**مادۀ سی ام:**

(۱) هرگاه شخص درخواست دهندۀ ثبت اختراع یا اکتشاف در افغانستان مقیم نباشد ، مکلف است آدرس مشخص خود را در افغانستان تعیین ویا شخص باصلاحیت دیگری را که تبعۀ افغانستان باشد ، جهت ارایۀ اطلاعات واسناد مربوط به اختراع یا اکتشاف، معرفی نماید .

(۲) حکم مندرج فقره (۱) این ماده بالای شخص اعتراض کنندۀ فورمه اختراع یا اکتشاف نیز قابل تطبیق می باشد .

**ثبت حق انتقال یا واگذاری**

**مادۀ سی و یکم:**

(۱) هرگاه انتقال گیرنده حق انحصاری اختراع یا اکتشاف شخص خارجی باشد یا اشخاص حقیقی یا حکمی که از طریق واگذاری، یا به حکم قانون، حق را از انتقال گیرنده حاصل می

ثخه ترلاسه کوي، د مالک یا د انحصاري جواز لرونکی په توګه، کولی شي دبهرنۍ اختراع یا اکتشاف دانحصاري حق ثبتېدل په افغانستان کې وغواړي. د ثبت غوښتنلیک، د اختراع یا اکتشاف د انحصاري حق له ورکولو وروسته، د دوو کلونو مودی په ترڅ کې، اصلي هېواد ته وړاندی کېږي.

(۲) د دی مادی په (۱) فقره کې درج شوی د ثبت غوښتنلیک لاندی ټکي لري:

۱- دغوښتنلیک ورکوونکي بشپړ شهرت او ادرس.

۲- د اختراع یا اکتشاف موضوع.

۳- د دمخه ثبت شمېره او نېټه.

۴- د هغهٔ هېواد نوم چې اختراع یا اکتشاف د مخه په هغهٔ ځای کې ثبت شوی وي.

**د اختراع یا اکتشاف د انحصاري حق څېړل**

**دوه دیرشمه ماده:**

د اختراع یا اکتشاف انحصاري حق چې ثبت یې غوښتل کېږي، له څېړنې پرته د غوښتنلیک

نماید، منحیث مالك یا دارنده جواز انحصاری، می تواند ثبت حق انحصاری اختراع یا اکتشاف خارجی را در افغانستان درخواست نماید. درخواست ثبت در خلال مدت دوسال بعد از اعطای حق انحصاری اختراع یا اکتشاف به کشور اصلی، ارائه می گردد.

(۲) درخواست ثبت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده حاوی نکات ذیل می باشد:

۱- شهرت مکمله وآدرس درخواست دهنده.

۲- موضوع اختراع یا اکتشاف.

۳- شماره وتاریخ ثبت قبلی.

۴- نام کشوریکه اختراع یا اکتشاف قبلاً در آنجا به ثبت رسیده باشد.

**بررسی حق انحصاری اختراع یا اکتشاف**

**مادهٔ سی و دوم :**

حق انحصاری اختراع یا اکتشاف که ثبت آن درخواست می گردد، بدون بازرسی به

ورکوونکي په مسئولیت او نه تضمین، د دی په تصریح سره چې له څېړنې پرته ثبت شوی دی، ثبتېږي، پدی شرط چې د ثالثو اشخاصو د حقوقو د تحدید موجب نشي.

**داختراع یا اکتشاف د انحصاري حق تصدیق**

**دري دیرشمه ماده:**

(۱) د ثبت غوښتنلیک ورکوونکی، د ثبت شوې اختراع یا اکتشاف د انحصاري حق مالک ګڼل کېږي، خو دا چې د انحصاري حق مالکیت، د دی قانون د حکمونو مطابق بل شخص ته پرېښودل شوی یا لېږدول شوی وي یا د محکمې د حکم پربنسټ تشخیص شي چې مالک له غوښتنلیک ورکوونکي پرته، بل شخص دی.

(۲) د دی مادی په (۱) فقره کې د درج شوی انحصاري حق مالک، له ثبت وروسته، لاندی انحصاري حقوق هم لري:

۱- که چېرې داختراع یا اکتشاف د انحصاري حق موضوع، تولید وي، د هغو استعمال، وړاندی کول، پلورل او واردول ممنوع دی،

مسئولیت درخواست دهنده وعدم تضمین با تصریح اینکه بدون بازرسی ثبت گردیده است، ثبت می گردد مشروط براینکه موجب تحدید حقوق اشخاص ثالث نگردد.

**تصدیق حق انحصاری اختراع یا اکتشاف**

**مادهٔ سی و سوم :**

(۱) درخواست دهندهٔ ثبت ، مالك حق انحصاری اختراع یا اکتشاف ثبت شده محسوب می گردد ، مگر اینکه مالکیت حق انحصاری ، طبق احکام این قانون به شخص دیگری واگذار یا انتقال یافته ویا به اساس حکم محکمه تشخیص گردد که مالك، بغیر از درخواست دهنده شخص دیگری می باشد.

(۲) مالك حق انحصاری مندرج فقرهٔ (۱) این ماده بعد از ثبت، دارای حقوق انحصاری ذیل نیز می باشد:

۱- هرگاه موضوع حق انحصاری اختراع یا اکتشاف ، تولید باشد ، استعمال، عرضه، فروش و توريد آن ممنوع

خو دا چې د هغهٔ د مالک دمخه موافقه په لیکلې توګه، اخیستل شوې وي.
۲- که چېرې د اختراع یا اکتشاف د انحصاري حق موضوع، تګلاره یا کړنلاره وي، د هغو استعمال، وړاندی کول، پلورل او واردول ممنوع دی، خو دا چې د هغهٔ د مالک دمخه موافقه په لیکلې توګه اخیستل شوې وي.
(۳) د الوتکو، ځمکنیو وسایطو یا د هغو نورو هېوادونو د کښتیو له پرزو څخه ګټه اخیستنه، چې په لنډ مهاله یا تصادفي توګه د افغانستان فضایي یا د اوبو (دریایي) قلمرو ته داخلېږي د دی مادی په (۲) فقره کې له درج شوی حکم څخه مستثني ده.

**د حقوقو پیل او استمرار**
**څلور دیرشمه ماده:**
د دی قانون د دري دیرشمې مادی په (۲) فقره کې درج شوی حقوق، په افغانستان کې د اختراع یا اکتشاف د انحصاري حق د ثبت د غوښتنلیک د وړاندی کولو له نېټې څخه پیل او د اختراع یا اکتشاف داصلي انحصاري حق د ثبت له

می باشد، مگر اینکه موافقهٔ قبلی مالك آن کتباً کسب گردیده باشد.
۲- هرگاه موضوع حق انحصاری اختراع یا اکتشاف، روش یا طرز العمل باشد، استعمال، عرضه، فروش یا تورید آن ممنوع می باشد، مگر اینکه موافقهٔ قبلی مالك آن کتباً کسب گردیده باشد.
(۳) استفاده از پرزه جات طیارات، وسایط زمینی یا کشتی های سایر کشورهای که مؤقتاً یا حسب تصادف داخل قلمرو فضائی یا دریائی افغانستان می شوند، از حکم مندرج فقرهٔ (۲) این ماده مستثنی اند.

**آغاز واستمرار حقوق**
**مادهٔ سی و چهارم:**
حقوق مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ سی و سوم این قانون از تاریخ ارایهٔ درخواست ثبت حق انحصاری اختراع یا اکتشاف درافغانستان آغاز و الی مدت بیست سال از تاریخ ثبت حق انحصاری

نېټې څخه تر شلو کلونو مودې پورې، د اعتبار وړ دی.

**کاري شرایط**

**پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) که چېرې ثبت شوې اختراع یا اکتشاف په خپل ځای (محل) کې د هغهٔ د کار له ډول سره یا افغانستان ته د هغهٔ په واردیدو سره په کلي یا قسمي توګه تر ګټې اخیستنې لاندې ونه نیول شي، اړوند دفتر کولی شي دثبت د غوښتنلیک د وړاندې کولو له نېټې څخه د څلورو کلونو مودې په تېرېدو یا د ثبت له نېټې څخه د درېو کلونو مودې په تېرېدو سره، اجباري جواز صادر کړي.

(۲) اجباري جواز د لاندې شرایطو له په پام کې نیولو سره، صادرېږي:

۱-دجواز داستعمال دحدودو ټاکل.

۲- د هغې مودې ټاکل چې د جواز لرونکی دهغې په ترڅ کې د ثبت شوې اختراع یا اکتشاف په ګټې اخیستنې پیل کوي.

۳- دانحصاري حق مالک ته د ورکړې وړ مبلغ ټاکل او د هغهٔ د ورکړې شرایط.

اصلی اختراع یا اکتشاف، قابل اعتبار می باشد.

**شرایط کاری**

**مادهٔ سی و پنجم :**

(۱) هرگاه اختراع یا اکتشاف ثبت شده با طرز کار آن در محل یا با توريد آن در افغانستان بطور کلی یا قسمی مورد بهره برداری قرار نگیرد، دفتر مربوط می تواند بعد از انقضای مدت چهار سال از تاریخ ارایهٔ درخواست ثبت یا انقضای مدت سه سال از تاریخ ثبت، جواز اجباری را صادر نماید.

(۲) جواز اجباری با رعایت شرایط ذیل صادر می گردد:

۱- تعیین حدود استعمال جواز.

۲- تعیین مدت که دارندهٔ جواز در خلال آن به بهره برداری اختراع یا اکتشاف ثبت شده آغاز نماید.

۳- تعیین مبلغ قابل پرداخت به مالك حق انحصاری وشرایط پرداخت آن.

(۳) که چېرې د اختراع یا اکتشاف د انحصاري حق مالک، اړونـد دفتر، په افغانستان کې لـه ثبت شوې اختراع یا اکتشاف څخه د نه ګټې اخیستنې یا غیر کافي ګټې اخیستنې په اړه د دلایلو په وړاندې کولو سره، متقاعد کړي، پدې صورت کې اجباري جواز نه صادرېږي.

(۴) د اجباري جواز ګټه اخیستونکی په افغانستان کې له ثبت شوې اختراع یا اکتشاف څخه دجواز د شرایطو مطابق، دګټې اخیستنې حق لري.

(۵) د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوی اجباري جواز د ټاکلي فیس په بدل کې ورکول کېږي.

**د غوښتنلیک ضمیمه**

**شپږ دیرشمه ماده:**

د اختراع یا اکتشاف د انحصاري حق او په هغهٔ پورې د اړوندو مشخصاتو مصدقه نقل، د دې قانون په نهمه ماده کې د درج شوی حکم له په پام کې نیولو سره دثبت له غوښتنلیک سره ضمیمه کېږي، که چېرې مصدقه نقل په بهرنۍ ژبه وي، دهېواد په یوه

(۳) هرگاه مالك حق انحصاری اختراع یا اکتشاف ، دفتر مربوط را با ارایهٔ دلایل مبنی برعدم بهره برداری یا بهره برداری غیر مکفی اختراع یا اکتشاف ثبت شده در افغانستان متقاعد سازد، در این صورت جواز اجباری صادر نمی گردد.

(۴) استفاده کنندهٔ جواز اجباری، حق بهره برداری از اختراع یا اکتشاف ثبت شده را در افغانستان طبق شرایط جواز دارا می باشد .

(۵) جواز اجباری مندرج فقرهٔ (۲) این ماده در بدل فیس معین صادر می گردد.

**ضمیمهٔ درخواست**

**مادهٔ سی و ششم:**

نقل مصدقهٔ حق انحصاری اختراع یا اکتشاف ومشخصات مربوط به آن با رعایت حکم مندرج مادهٔ نهم این قانون به درخواست ثبت ضمیمه می گردد، هرگاه نقل مصدقه به لسان خارجی باشد ترجمهٔ دقیق آن به یکی از زبان

رسمي ژبه د هغهٔ دقیقه ژباړه له تصدیق وروسته هم ضمیمه کېږي.

**د غوښتنلیک خپرېدل**

**اووه دیرشمه ماده:**

اړوند دفتر مکلف دی، د بهرنۍ اختراع د انحصاري حق د ثبت د غوښتنلیک له تأیید وروسته، په انحصاري حق پورې اړوند معلومات، دهغهٔ له ثبت دمخه په رسنیو کې خپارهٔ کړي.

## پنځم فصل
## قضايي تصمیمونه

**اعتراض**

**اته دیرشمه ماده:**

د اختراع یا اکتشاف د ثبت د غوښتنلیک په هکله دمالکیت د حق په اړه اعتراض هغه وخت منل کېږي چې معترض په خپل نوم د اختراع یا اکتشاف ثبت، د دی قانون د حکمونو مطابق، هم وغواړي.

**د اعتراض څېړل**

**نهه دیرشمه ماده:**

که چېرې د اختراع یا

های رسمی کشور بعد از تصدیق نیز ضمیمه می گردد.

**نشر درخواست**

**مادهٔ سی و هفتم:**

دفتر مربوط مکلف است، بعد از تأیید درخواست ثبت حق انحصاری اختراع خارجی، معلومات مربوط به حق انحصاری را قبل از ثبت آن در رسانه ها به نشر برساند.

## فصل پنجم
## تصامیم قضائی

**اعتراض**

**مادهٔسی وهشتم :**

اعتراض مبنی برحق مالکیت درمورد در خواست ثبت اختراع یا اکتشاف زمانی پذیرفته می شود که معترض، ثبت اختراع یا اکتشاف را بنام خود مطابق احکام این قانون نیزدرخواست نماید.

**رسیدگی به اعتراض**

**مادهٔ سی ونهم:**

هرگاه اعتراض درمورد

اکتشاف د فورمې په هکله اعتراض له ثبت دمخه یا له هغهٔ وروسته صورت وموومي، اعتراض کوونکی مکلف دی، تاکلی مبلغ چې اندازه یې د واکمنې محکمې لخوا مشخصېږي، دتضمین په عنوان په مخصوص حساب کې، بانک ته تحویل او سند یې د اعتراض له غوښتنلیک سره ضمیمه کړي.
که چېرې معترض خپل حق ثابت نکړی شي، اووښتی زیان د تضمین له مبلغ څخه جبران او پرته لدی د محکمې د حکم پربنسټ د مقابل اړخ د ټول زیان د جبران په ورکولو مکلف دی. که چېرې اعتراض ثابت شي، معترض د اووښتي زیان د جبران مستحق دی.

### له ثبت دمخه اعتراض

**څلوېښتمه ماده:**

(۱) په هغې اختراع یا اکتشاف پورې اړوند اعتراض چې ثبت شوی ندی، د لاندی ټکو له په پام کې نیولو سره په لیکلې توګه، اړوند دفتر ته وړاندی کېږي:

فورمهٔ اختراع یا اکتشاف قبل از ثبت یا بعد از آن صورت گیرد، اعتراض کننده مکلف است، مبلغ معین را به عنوان تضمین به حساب مخصوص که اندازهٔ آن از طرف محکمهٔ ذیصلاح مشخص می گردد، تحویل بانك نموده وسند آنرا ضم درخواست اعتراض نماید.
هرگاه معترض، حق خود را ثابت کرده نتواند، خسارهٔ وارده از مبلغ تضمین جبران و در غیر آن به اساس حکم محکمه مکلف به پرداخت کل جبران خسارهٔ جانب مقابل می باشد. هرگاه اعتراض ثابت گردد، معترض مستحق جبران خسارهٔ وارده می باشد .

### اعتراض قبل از ثبت

**مادهٔ چهلم:**

(۱) اعتراض مربوط به اختراع یا اکتشاف که ثبت نگردیده، بانظرداشت نکات ذیل طور کتبی به دفتر مربوط ، ارائه می گردد:

۱- په هېواد کې دمعترض بشپړ شهرت او آدرس.
۲- د هغو دلایلو او مدارکو یادول چې معترض د هغو پربنسټ، ځان مستحق ګڼي.
۳- د هغو سندونو نقل چې د معترض ادعا په اثبات رسوي.
(۲) اړوند دفتر مکلف دی، د اعتراض په وړاندی هغه رسید چې د اعتراض د رسېدو د نېټې لرونکی وي، معترض ته وړاندی کړي.

**له ثبت وروسته اعتراض**

**یوڅلوېښتمه ماده:**

د هغې ثبت شوي اختراع یا اکتشاف د فورمې د ابطال په اړه غوښتنلیک چې لاندی ضمیمې لري، اړوند دفتر ته وړاندی کېږي:
۱- د هغې اختراع یا اکتشاف د فورمې په اړه چې ابطا ل یې غوښتل کېږي، د دفتر مصدقه سند.
۲- د معترض د ادعا د مثبته سندونو اصل یا نقل.
۳- وکالت لیک، په هغهٔ صورت کې چې صورت دعوي د مخترع یا مکتشف د قانوني استازي

۱- شهرت مکمله و آدرس معترض درکشور.
۲- ذکر دلایل ومدارك که معترض به استناد آن، خود را مستحق می داند .
۳- نقل اسناد که ادعای معترض را به اثبات می رساند .
(۲) دفتر مربوط مکلف است، در مقابل اعتراض ، رسیدی که حاوی تاریخ وصول اعتراض می باشد ، به معترض ارأیه نماید.

**اعتراض بعد از ثبت**

**مادۀ چهل و یکم :**

درخواست مبنی بر ابطال فورمۀ اختراع یا اکتشاف ثبت شدۀ که حاوی ضمایم ذیل می باشد ، به دفتر مربوط ارأیه می گردد:
۱- سند مصدقۀ دفتر، مبنی بر فورمۀ اختراع یا اکتشاف که ابطا ل آن تقاضا می گردد.
۲- اصل یا نقل اسناد مثبتۀ ادعای معترض .
۳- وکالت نامه ، درصورتی که صورت دعوی از طرف نمایندۀ قانونی مخترع یا مکتشف

لخوا، وړاندی شوې وي.

**د اعتراض ابلاغ**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

(۱) اړونـد دفتـر مکلـف دی، د اعتراض د رسېدو له نېټې څخه، زیات نه زیات د (۱۰) ورځو مودی په ترڅ کې هغه د ثبت د غوښتنلیک ورکـوونکي یـا دهغـهٔ د قـانوني اسـتازي پـه آدرس ابـلاغ کـړی، کـه چېـرې اعتـراض ثابت شـي، د اختـراع یـا اکتـشاف د ثبـت غوښتنلیک ردیږي.

(۲) د دی مادی په (۱) فقره کې په درج شـوی حالـت کـې، کـه چېـرې اختـراع یـا اکتـشاف دمخـه ثبـت شـوی وي، پـدی صـورت کـې، د دمخـه ثبـت باطـل او اختـراع یـا اکتشاف د معترض په نوم ثبتېږي.

**د رد ځواب**

**دري څلوېښتمه ماده:**

(۱) کـه چېـرې د ثبـت غوښـتنلیک ورکـوونکی، دمعتـرض اعتـراض موجـه وګڼـي، موضـوع پـه لیکلـې توګـه معتـرض تـه ابـلاغ او د هغـهٔ غوښتنلیک ردیږي.

(۲) که چېرې د ادعـا وړ اختـراع یا اکتشاف دمخه ثبت شوی نه وي، د

ارأیه شده باشد.

**ابلاغ اعتراض**

**مادهٔ چهل و دوم :**

(۱) دفتـر مربـوط مکلـف اسـت، از تـاریخ وصـول اعتـراض ، حداکثر درخـلال مـدت (۱۰) روز آنـرا بـه آدرس درخواسـت دهنـدهٔ ثبـت یـا نماینـدهٔ قـانونی آن ابـلاغ نمایـد ، هرگـاه اعتـراض ثابـت گـردد ، درخواسـت ثبـت اختـراع یـا اکتـشاف رد می گردد.

(۲) در حالت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، هرگاه اختراع یا اکتشاف قـبلاً ثبـت گردیـده باشـد ، درایـن صـورت، ثبـت قبلـی باطـل و اختراع یا اکتشاف بنام معترض ثبت می گردد.

**جواب رد**

**مادهٔ چهل وسوم:**

(۱) هرگاه درخواست دهندهٔ ثبت، اعتـراض معتـرض را مؤجـه دانـد ، موضـوع را کتباً به معترض ابلاغ و درخواست وی رد می گردد.

(۲) هرگـاه اختـراع یـا اکتـشاف مـورد ادعـا قـبلاً بـه ثبـت

غوښتنلیک له په پام کې نیولو سره، د دی قانون په څلوېښتمه ماده کې د درج شوی حکم مطابق چې د اعتراض په وخت کې یې وړاندی کړی، د هغهٔ په ثبت لاس پورې کېږي.

(۳) که چېرې د ادعا وړ اختراع یا اکتشاف دمخه ثبت شوی وي، پدی صورت کې، د دی مادی په (۱) فقره کې د درج شوی حکم مطابق، اجراآت صورت مومي.

د مودی تېرېدل

څلور څلوېښتمه ماده:

(۱) معترض کولای شي، د ثبت د غوښتنلیک ورکوونکي پرخلاف د اعتراض د ابلاغ له نېټې څخه د شپېتو ورځو مودی په ترځ کې، محکمې ته مراجعه وکړی، خو دا چې د دغې مودی له تېرېدو دمخه، د ثبت غوښتنلیک ورکوونکی، د دی قانون په دري څلوېښتمه ماده کې د درج شوی حکم مطابق، دهغهٔ اعتراض ته د رد ځواب وړاندی کړی وي.

(۲) که چېرې معترض د دی مادی په (۱) فقره کې په

نرسیده باشد، بانظرداشت درخواست، مطابق حکم مندرج مادهٔ چهلم این قانون که حین اعتراض ارأیه نموده، به ثبت آن اقدام می گردد.

(۳) هرگاه اختراع یا اکتشاف مورد ادعا قبلاً به ثبت رسیده باشد، درین صورت طبق حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده اجراآت صورت می گیرد.

انقضای مدت

مادهٔ چهل وچهارم:

(۱) معترض می تواند، در خلال مدت شصت روز از تاریخ ابلاغ اعتراض علیه درخواست دهندهٔ ثبت، به محکمه مراجعه نماید، مگر اینکه قبل از انقضای این مدت، درخواست دهندهٔ ثبت طبق حکم مندرج مادهٔ چهل وسوم این قانون به اعتراض وی جواب رد ارائه نموده باشد.

(۲) هرگاه معترض درمیعاد مندرج فقرهٔ (۱) این ماده

درج شوې موده کې محکمې ته مراجعه ونکړی، اړوند دفتر د هغهٔ شخص په غوښتنه چې د اختراع یا اکتشاف د ثبت غوښتنه یې کړېده، دمحکمې تصمیم ته په پام سره، اختراع یا اکتشاف دمعترض الیه په نوم ثبتوي.

پدی صورت کې هغه مبلغ چې د اختراع یا اکتشاف د ثبت لپاره یې ورکړی دی، د دولت د ورداتو په حساب کې، بانک ته تحویلیږي.

## مهلت

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

(۱) که چیرې معترض ونکړی شي، خپل سندونه او مدارک له صورت دعوي سره ضمیمه کړی، محکمه کولی شي، د هغهٔ د غوښتنې پربنسټ له څېړنې وروسته او د لزوم په صورت کې مهلت چې له دریو میاشتو څخه زیات نه وي، هغهٔ ته ورکړی.

(۲) د دی مادی په (۱) فقره کې درج شوی مهلت، د دفاعیه لازمو سندونو د وړاندی کولو لپاره، د ثبت غوښتنلیک ورکوونکي ته هم

به محکمه مراجعه نه نماید، دفتر مربوط به درخواست شخص که در خواست ثبت اختراع یا اکتشاف را نموده، بانظرداشت تصمیم محکمه، اختراع یا اکتشاف را به نام معترض الیه، ثبت می نماید.

درین صورت مبلغی را که جهت ثبت اختراع یا اکتشاف تأدیه نموده، بحساب واردات دولت تحویل بانك می گردد.

## مهلت

**مادهٔ چهل و پنجم :**

(۱) هرگاه معترض نتواند، اسناد ومدارك خود را به صورت دعوی ضمیمه نماید، محکمه می تواند، به اساس تقاضای وی بعد از رسیدگی ودرصورت لزوم مهلت را که بیش از سه ماه نباشد به وی اعطا نماید.

(۲) مهلت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده جهت ارایهٔ اسناد لازم دفاعیه، به درخواست دهندهٔ ثبت نیز اعطاء

ورکول کېدی شي.

**محکمې ته رجوع**

**شپږ څلوېښتمه ماده:**

هرذينفع شخص کولی شي، د اختراع يا اکتشاف د فورمې دبطلان د حکم د صادرېدو غوښتنليک، په لاندی مواردو کې واکمنې محکمې ته وړاندی کړي:

۱- په هغۀ صورت کې چې اختراع يا اکتشاف نوی نه وي.

۲- په هغۀ صورت کې چې داختراع يا اکتشاف فورمه، د دی قانون په اوومه ماده کې د درج شوی حکم مطابق، صادره شوې نه وي.

۳- په هغۀ صورت کې چې د اختراع يا اکتشاف موخه، يوازې علمي څېړنې وي او عملاً دصنعتي، کرنيزو يا خدماتي مقصدونو د ګټې اخيستنې وړ نه وي.

۴- په هغۀ صورت کې چې د اختراع يا اکتشاف د فورمې د صادرېدو له نېټې څخه، پنځه کاله تېر او تر عملي ګټې اخيستنې لاندی نيول شوی نه وي.

شده می تواند.

**رجوع به محکمه**

**مادۀ چهل وششم:**

هرشخص ذينفع می تواند، درخواست صدور حکم بطلان فورمۀ اختراع يا اکتشاف را در موارد آتی به محکمۀ ذيصلاح ارائه نمايد:

۱- درصورتی که اختراع يا اکتشاف جديد نباشد.

۲- درصورتی که فورمۀ اختراع يا اکتشاف مطابق حکم مندرج مادۀ هفتم اين قانون صادر نشده باشد.

۳- درصورتی که هدف اختراع يا اکتشاف صرف تحقيقات علمی بوده وعملاً مورد استفادۀ مقاصد صنعتی، زراعتی ويا خدماتی نباشد.

۴- درصورتی که از تاريخ صدور فورمۀ اختراع يا اکتشاف، پنج سال سپری ومورد استفادۀ عملی قرار نگرفته باشد.

**احتیاطي تدبیرونه**

**اووه څلوېښتمه ماده:**

(۱) معترض کولی شي، دخپلې اختراع یا اکتشاف د انحصاري حق په هکله، په هره موقع کې له واکمنې محکمې څخه د تقلبي یا تقلیدی محصولاتو د ضبط د حکم د صادرېدو یا د تقلبي یا تقلیدی اجناسو د نه تولید، پلورلو یا واردیدو په اړه د مؤقت حکم د صادرېدو غوښتنه وکړي.

(۲) محکمه د مقابل لوري د زیان د جبران په منظور، د محصولاتو د ضبط په هکله یا د اجناسو د نه تولید، پلورلو یا واردیدو په اړه د مؤقت حکم له صادرېدو څخه مخه، معترض د مناسب تضمین په وړاندی کولو مکلفوي.

(۳) کله چېرې معترض د محکمې د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د لسو ورځو مودی په ترڅ کې، دعوي اقامه نکړي، پدی صورت کې معترض مقابل لوري ته د زیان د جبران په ورکولو مکلف دی.

**تدابیر احتیاطی**

**مادۀ چهل و هفتم :**

(۱) معترض می تواند، درمورد حق انحصاری اختراع یا اکتشاف خویش درهر موقع از محکمۀ ذیصلاح صدورحکم ضبط محصولات تقلبی یا تقلیدی یا تقاضای صدور حکم مؤقت مبنی بر عدم تولید، فروش یا ورود اجناس تقلبی یا تقلیدی را نماید.

(۲) محکمه به منظور جبران خسارۀ جانب مقابل ،قبل از صدور حکم مؤقت درمورد ضبط محصولات یا مبنی بر عدم تولید، فروش یا ورود اجناس، معترض را مکلف به ارایۀ تضمین مناسب نماید.

(۳) هرگاه معترض در خلال مدت ده روز از تاریخ صدور حکم محکمه، اقامۀ دعوی نه نماید، در این صورت معترض مکلف به پرداخت جبران خساره به جانب مقابل می باشد .

## شپږم فصل
## نهائي حکمونه

**د حق الثبت اندازه**

**اته څلوېښتمه ماده:**

د ثبت، لېږدیدو یا پرېښودو د حق او د اختراع یا اکتشاف د اجباري جواز د فیس اندازه، په جلا مقرره کې ټاکل کېږي.

**د مقررو اوکړنلارو وضع کېدل**

**نهه څلوېښتمه ماده:**

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت کولی شي، د دی قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور، مقررې له پړاوونو څخه تېرې او لایحې او کړنلارې وضع کړي.

**د انفاذ نېټه**

**پنځوسمه ماده:**

دغه قانون د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

## فصل ششم
## احکام نهائی

**اندازۀ حق الثبت**

**مادۀ چهل وهشتم :**

اندازۀ حق الثبت، انتقال یا واگذاری و فیس جواز اجباری اختراع یا اکتشاف در مقررۀ جداگانه تعیین می گردد.

**وضع مقرره ها وطرزالعمل ها**

**مادۀ چهل ونهم:**

وزارت تجارت وصنایع می تواند، به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون، مقرره ها را طی مراحل و لوایح وطرزالعمل ها را وضع نماید.

**تاریخ انفاذ**

**مادۀ پنجاهم :**

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشرگردد

Aghalibrary.com